# دافغان یاد

۱۳۶۰

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00033287 3

# دافغان یاد

د غلام محی الدین افغان دشپیتم‌تلین
په‌ویاړ د لیکوالو د مقالو مجموعه

خپروونکی

## کابل پوهنتون

دژبو اوادبیاتو پوهنځی

۱۳۶۰

ACKU

# یادښت

د دیارلس سوه شپېتم کال د کب پر نهه ویشتمه د غلام محی الدین افغان د شپېتم تلین نمانځنه یوله هغو فرهنګي هڅو څخه وه چې زموږ د وګړنۍ او وګړواک ګوند او دولت له انقلابي کړنلارې سره سمه د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په ځوښت د کابل او ننګرهار د پوهنتونونو د استادانو او نورو هېوادپالو پوهانو په ونډه اخیستنه ترسره شوه اوله ۱۰ يې سره زموږ په تېرې انقلابي کلیزې کې پر نورو بریو او بریاوو (دست اوردو) یوه بله بنا د نامه هم ورزیاته شوه ·

دا داسې کال و چې د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند تر لارښوونې لاندې د انقلابي پوهانو، څارندویانو او سپاهیانو په مېړانه او سربښندنه زموږ د خاورې، خلکو او انقلاب دښمنان پر له پسې را وپرځول شول او سنګرونه یې یو پر بل پسې ونړېدل او پرځای یې زموږ د دورانساز انقلاب مورچلونه او پېړاخو زیارکښو پرګنو کې د هغه سیاسي او ټولنیزې ستنې نورې هم پسې ټینګې او پخې شوې ·

پدې توګه د نوي ایله بالي پرمختللي افغاني ټولنې د رغاونې له پاره د هېواد رښتینو سرغندویو او زېږندویو ځواکونو ته د لا زیاتو هاند وهڅې لپاره برابره شوه او د ژوند په ټولو برخو کې زموږ د ځارعملي ولسپه ګټه پرکارونه سرته ورسېدل ·

د پلاروطني ملي جبهې او د ګوند سراسري کنفرانس جوړېدنه د تېرکال له هغو سترو پېښو څخه شمېرل کېږي چې د ثور انقلاب او د دغه انقلاب د دویم ړغورنده پشپړتیا یې پرا و د ټولو انساني ارمانونو د رښتینی کولو له پاره یې لاره سمه او سپېڅلې کړه ·

په دې توګه دا کومه هېښنده خبره نه وه چې د غلام محی الدین افغان غوندې د یوه ړغورنده ملي مبارز لیکوال شاعر او ښوونکي شپېته کلن یاد بېرته را تاند شي ·

ACKU

او تلین یې و نیول شي . دی د مشروطه غوښتنې له هغو سپاهیانو څخه وچې
په ژوندونې یې د خاورې د خپلوا کۍ ارمان ترسره شوی او د خپل ښکیلاک ضد
او استبدا د ضد (( ځوان گوند )) وا کمنې یې د سر په سترگو لیدلې وه هغه
د مرگ په وروستیو سلگو کې هم دا سوچ نه شو کولای چې ځلانده (( اما نـــي ))
بیرته د بریښنا پر ك غوندې ژر تیریږي او پرنو رو ستمـــگرا نو به یې د تیر گوټ اگې
امیر ((حبیب اله خان )) له مها له ستر مهال راځي ،دعبدالرحمن لو دین غوندې
ملگري به یې د دار ه مار حبیب اله سقاء او بیا د نادرغوندې د انگریزي لاسکتوي
او لاسپوڅي تگما ر رو رواك د زندیو او زندا نونو ځا ریږي .
خو اوس یې پا که اروا د هغو ټو لو جنگیالو ملگرو له اروا گا نو سره د دغـــــي
او سنې ملی او دیمو کرا تیك پیر د برله پسې کالیزو په ویا ړ اتنو نه اچوي او له همدې
بر که د خپل شپیتم تلین ننداره کوي .
دا څه د پا سه نیمه پیړ ۍ څو هیڅ یوه افغان بچی ته دا کابو ترلاسه شوې نه
وه چې د دا سې تیر و سرتیرو یا دونه او نما نځنه وکړي . د اروا ښا د میرغلام —
محـمـمـدغـبـا ر (( افغا نستان در مسیر تاریخ )) سره له ټو لو نیمگړ تیا وو چې یې
د مشروطه غوښتنې او نورو ملي او دیمو کرا تیکو غورځنگو نو او بیاد غلام محی الدین
افغان غوندې د مخکښو مبارزا نو په باب د نا سمو معلوما تو له پلوه لري.ان د داؤد
خان د نیم بنده جمهوري نظام له پاره هم د سختی وړ نه و او تر ثور انقلاب پورې تر
سا نسو ر لا ندې پا تې شو . ځکه دغه کتاب لږ ترلږ ه د نو رو تاریخو نو پر خلاف
د نو مو ړ و غو رځنگو نو یا دونه کړي او ډیر ترڅه ټو لنیز اقتصادي او سیا سي واقعیتونه
یې راسپړلي دي .
تردغه وخته پورې زمو ږ چاپ شو یو تا ریخو نو د تشو بیبنلیکو نو او نیټه لیکو نو
بڼه درلو د ه هغه هم له ډیر اړ و نو او نیمگړ تیا وو سره ٔ زیا تره بیبنلیکو نکی به دې —
پو هینـــــز آرنه پو هیــــدل چې تاریخ دیاتکیز و اړ پیچونو (تضادونو ) له —
خرگندونې پرته بل څه نه شي کیدای او جوړوونکی یې وگړ نۍ پرگنې دي نه دا او هغه
ټو لواك او اتل .
د نادرشا هي په توره وگړ د ښمنه دوره کې ټول تیر ملي ډغو رنده ځواکو نــــــه
یوا ځې یوه نا مه (( نادر )) کې را مدغم شوي ووهم (( ناجی )) و ، هم (قازي ))
هم (( فا تح )) او هم (( دخپلواکۍ گټندوی )) او که ډیر به له پراختنظرۍ —

کار اخیستل کېده. تو دوه تو رویني څښونکي وروڼه — ((شاه محمود)) او ((شا ولي)) په ورسره هم غاړه کېدل؛ یو به یې د پېښور او بل به یې د کابل فاتح باله !

نو که د کوم رښتیني هیواد پال تاریخپوهاند او لیکوال څرک به هم چېرې لګېده، هره کرښه به ورته د سرو مال په بیه پرېوته او بیا به یې زندان او پهې ګور ځای و. زموږ ملي تاریخ د همداسې سرتېرو او ځان تېرو په کارنامو ډک دی او دادی، نیمه پېړۍ وروسته یې خپلو رښتینو پاته ورو او پېروو وارثانو ته د کښلې او ثبتولو موقع په لاس ورځي. تو زړل شوي تومونه او یادونه یې تلپاتې او جاویدانې کوي او د خپل ویاړلي تاریخ په زرینو پاڼو کې ابدي ځای ورکوي.

اوسني انقلاب یې پښت نه یوازې د همې تشو تاریخي او فرهنګي ویاړونو په توګه د هغوی ښاد نامي او یاد نامې ستاینه او نمانځنه؛ بلکې هغه د خپلو اولس کلنو پاټکیزو او سیاسي مبارزو سرېزې بولي؛ یا په بله وینا خپلې دغه مبارزې د هغو د مبارزو پرمختیا یې او بشپړ تیا یې بنی ګڼي او د نمانځنې سرورته ټینګوي.

مولوي غلام محی الدین افغان زموږ د ښکیلاک ضد او استبداد د ضد ځغرونده ملي مبارز و په ویاړلي تاریخ کې هسکه پوړۍ لري. ده لا په کوچنیوالي کې د میوند د ښمن ماتې سوبې او برې په خپلو سترګو لیدلې وو او له سوبمنو سره یې یو ځای د جلا وطنۍ ترخې شپې ورځې شا ته پرې ایښې وې. دي له نومهالي زده کړي او پخو ازمېښتو سره بېرته هیواد ته راستون شو او په هماغو لومړنیو مبارزو کې یې کارنده برخه اخیستې وه چې د مشروطه غوښتنې ترنامه لاندې په سراجیه پېر کې پیل شوې وې او له ډېرو قربانیو او سر ښندنو سره یې د ځلاند امانیه پېر تر پایه پایښت موندلی و.

دی اورژبی شاعر، لیکوال، ویناوال، ژباړونکی، څېړونکی او ښوونکی و. په پښتو او دري یې لیکې کولې او له اردو یې ژباړنې او له عربي، انګلیسي، سانسکریت او شاستري ژبو څخه یې پوره ګټه اخیسته. یو زړه ور او سرتېرانسان و، نه یې له کوم دښمنه سترګه سوزېده او نه له بهرني بلو سګره، پر خپله خاوره، تا تو بې، غرو تو رغونو، سیندونو او د ښتونو او بیا تر هر څه زیات پر خپلو زیارکښو هیوادوالو مین و. — خپل ټېر لږ څه یې د چاپېر چاپېر څه نه بد لول. پاك سپېڅلي خاما شا یې کالي، پګړۍ او وطنۍ ګا ولې یې د یوه رښتیني ملي مبارز ښکارندوي وو.



ACKU

ده د خپل وخت د یوه پرمختګ مینی هیواد پال روښاند په توګه تل دا هڅه درلوده چې نور پرمختللی څوا کونه سره را غونډ وساتي او د مبارزې سمې سیخې لارې ور وښيي ، د ښوونکي او ښوونځیوالي سپیڅلي دنده یې د هغه ځله پاره زیاته خوښوله چې ور پسې را تلونکي ځوان پښت په هماغه هیواد پالونه وروزي او خپلې روښانه راتلونکې ته یې ورتیر کړي ځکه هغه ته دا ټکي پوره روښانه و چې مبارزه له یوه پښت سره پای ته نه رسي ، بلکې د نورو انسانانو میراث تونو غوندې له یوه پښته بل ته ، له بل نه بل ته او همداسې تر پایه پرمختیا او بشپړتیا مومي .

کومې خیرني ګرویږني چې د دغه فرهنګیالي افغان پر اند وژوند ترسره او چاپ ته وسپارل شوې ، دا یې ډاګه را جوتوي چې د ده فرهنګي او سیاسي مبارزې او هاندو هڅې هر اړخیزې وې ، مګر په وروستي شننه او تحلیل کې په هماغه یوه تا کلي چورلیځ (محور) را چورلیدلې چې هغه یې د هیواد او هیوا د وا لو د پرمختګ ، روښا نتیا ، کاله ، سوکالۍ او جها نې سیالۍ او بیا یې په دغه پلرنی تا تو بی کې د یوې ازا دې ، پتمنې او نیا ومنې تولنې د رغا وني ستر ارمان و .

دغه ارمان یې پر یوې ګروهې (عقیدې) او اند یو هې (ایډیولوژۍ) بدل شوی و . په لوی هند کې یې دانګریزي ضد همسنګرو ازادي غو ښتونکو او بیا یې دلته د ګوډا ګي امیر ضد همسنګرو مشروطه غوښتونکو سر ښند نو ، دار ختنو او ساختنو په زړه کې یو داسې اور بل کړی و چې د ژوند تر وروستیو سلګیو پورې یې خوب ارا م ته نه پریښود او نه یې دعوا نې او مینې سوچ چرتو ته لګه چې ویل به یې :

خوك چې ورك له خپل وطن وي خــــه به خوب کا
ستمګر چې ګلبدن وي خـــــه به خـــوب کـــا
مبتلا چې به شیون وي خـــــه به خـــوب کا

چې فرهاد غږندې کوهکن وي خه به خوب کا
چې په اورکې یې وطن وي خه به خوب کا . . .

یاداچی :

یخ کابل کې مې پر زړه بلــــه لمبه شوه
له فرا قه مې سینه آتشکـــــــده شوه . . .

دژبو او ادبـــیا تو پوهنځی د نوي انقلا ب افغا نستان د دا سې یو مخکښ جنګیالي او فرهنګیالي افغان بچي د یادونې او نما نځنې ویا ړ له تولو پوهنتونې



ACKU

استا دا نو پو ها نو او نو رو پښتنو هيواد وا لو سره ويشي او شريکوي او په کلکه هيلــه لري چې دغه لړ ۍ همدا سې پسې وا خيستل شي او د محمو د طر زي، حبيب اله ـ طر زي، سيد احمد لو د ين عبد الرحمن لود ين ، لعل محمد کابلی ، محمد عثمان پروا نی، جو هر شاه غو ر بندي ، محمد ايوب پو پلزي، ملا محمد سرور الکو زي ، سعد اله الکوزي، عبد القيوم الکو زي، مو لوي عبد الوا سع کند هاري ، مو لوي عبد الرو ف کند هاري، مو لوي صالح محمد کند هاري ، احمد قلی قزلبا ش، غلام محمد ميمنګي، محمد انو ر بسمل ، حافظ ـ عبد القيوم کابلی او مير سيد قا سم خو ندي د آزادي او تر قی د لارې د داسی نو رو ـ تو ريا لا نو او فرهنګيالا نو د يا د ونی او نما نځنی پو هنځو نډي او سيمنارو نه په لا لو ړ ه او ملی کچه د اطلا عا تو او کو لتو ر وزارت د افغا نستان د علو مو اکا ډيمی او نو رو ار ګا نو ند و خا نګو له خوا جو ړ شی او له د ې لارې عوان انقلا بی پښتنــــت نه خپلی تيرې تاريخی او فر هنګی خيرې او ښار و نه وروپيژنی .

هيله د ه دغه افغا نا نيا د تو لو انقلا بی ملګرو او فرهنګپنو هيواد وا لو په زړ ه وـ

ونــــو کی د هنغو تو لو جنګيا لا نو او فرهنګيالا نو ياد را تا ند ګر ې چې زمــو ږ او سنيو انقلا بی بريو له پاره يې پيو ړ ۍ نيمه مخکی لاره اواره کړ ې او زمو ږ د ژغو رند ه ملی او د يمو کرا تيکــو مبارزو تاريخ يرې ويا ړ ې . له د ې کتاب سره د پو ها نو او ــ استا دا نو له ليکنو سر بيره د مشورتی کميسيون په برېکړ ه د وې خا نګړ ې رسا لــــی هم ملی دې چې زمو ږ د اوسنی پښتو اد ب څېړنو اساسی ربړ و له پاره مخــ برېښــــــی .

ور ا ندې د تيرو ملوريار و نو د خوندي سا تنی په لور ( ژو نډي د ې وي هيواد ، هيواد وال او د دوې مخکښ ګو ند او ملی د يمو کرا تيـــــــک انقـــــلاب (

پو هاند د وکتو ر زيار
د ژبو او اد بيا تو پو هنځی مشر

# فهرست


| گڼه | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | بیانیه٬ پوهندوی دوکتور وفایی | لومړی |
| ۲ | د پوهنمل ګلداد وینا | څلورم |
| ۳ | د سلیمان لایق پیغام | اتم |
| ۴ | بیانیه٬ پوهندوی دوکتور اسدالله حبیب | یوولسم |
| ۵ | د پوهنمل دوکتور ګلزار امینی وینا | پنځلسم |
| ۶ | بیانیه٬ عبدالله سپنتګر | اتلسم |
| ۷ | د پوهاند دوکتور زیار وینا | یوویشتم |
| ۸ | د پوهاند محمد رحیم الهام وینا | پنځه ویشتم |

| | | |
|---|---|---|
| ۹ داستاد داوي ليك | | ۱مخ |
| ۱۰ مولوي عبد الواسع قندهاري | پوهاند حبيبی | ۲ |
| ۱۱ جمريانی افغان | پوهاند رشاد | ۱۵ |
| ۱۲ په پښتوکی دنوي شعررابيداکيدل | سليمان لايق | ۲۶ |
| ۱۳ نهضت هاي مترقی افغانستان | پوهاندميرحسين شاه | ۳۷ |
| ۱۴ د پښتو ننني ادب | بريښنا | ۵۴ |
| ۱۵ غلام محی الدين افغان نخستين اعلان ... | پوهنيارکاظم اهنگ | ۱۰۹ |
| ۱۶ نه هيريدونکی سر ی | پوهاند حبيبی | ۱۱۱ |
| ۱۷ په پښتو ادب کی رمان، ناول ، داستان | محمدابراهيم عطايی | ۱۱۴ |
| ۱۸ غلام محی الدين افغان وتاليف کتيب درسی | پوهاند دوکتورجاويد | ۱۳۰ |
| ۱۹ اوسنی ګر نی ادب | ه | ۱۴۳ |
| ۲۰ د پښتوهنري نثر ته يوه کتنه | خير ندوي معتمد | ۱۵۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۱ په پښتو اوسنی ادب کی دکره کتنی ضرورت | پوهاند محمد رحیم الهام | ۱۷۶ مخ |
| ۲۲ په پښتو ادبیاتو کی دادبی توتو ونډه | پوهنمل غمجن | ۱۸۵ |
| ۲۳ اوسنیو ترجمو ته کره کتنه | څیرندوي دوست | ۲۱۱ |
| ۲٤ لنډه کیسه | څیرنوال محمد راتب | ۲۲۱ |
| ۲۵ په سراج الاخبار کی دیوه شعر... | زرین انځور | ۲۳۰ |
| ۲٦ پښتو قوي شعر | پوهنیار لطیف بهاند | ۲۳۸ |
| ۲۷ په اوسنی پښتو شعرکی دروند څپی | څیرنیار واجد | ۲۷٦ |
| ۲۸ د پښتو دمعاصر شعر هنري او... | نظام الدین سلیمان خیل | ۲۸۵ |
| ۲۹ په افغانستان کی اوسنی انقلابی ... | پوهاند دوکتور زیار | ۲۹۱ |
| ۳۰ زیست نامه افغان | ه | ۳۰۰ |

# بیانیهٔ خیر مقدم

## از

## پوهندوی دوکتور عبدالخالق وفایي معاون پوهنځی زبان وادبیات پوهنتون کابل

حضار گرامی
دانشمندان محترم
رفقا و دوستان

نخست از همه تشریف اوري شما را دراین محفل علمی خیرمقدم گفته وصمیمانه ترین شاد باش هاي خودوتمام منسوبین پوهنځی زبان وادبیات پوهنتون کابل را به شما تقدیم میدارم ·

اما زیانیکه سخن ازاین گرامیداشت علمی به زبان می اید خاطر را ضایعه یکی ازبانیان وهمکاران نزدیك این تجلیل وبزرگداشت می ازارد · وان اینکه قبل ازتدویر این سیمینار رئیس دافشعد وکرانماية پوهنتون کابل رفیق دیپلوم انجنیر عزیزالرحمن سعیدي چشم ازجهان پوشید واین مرگ نابه هنگام اونه تنها منسوبین پوهنتون ووزارت تحصیلات عالی ومسلکی بلکه تمام حلقه هاي علمی وفرهنگی کشور را ازرده خاطر ساخت ·

کمیسیون مشورتی سیمینار که شخص رئیس پوهنتون درراس ان کارمیکرد جهت سوګ وماتم وفات ایشان تدویر این محفل را اندکی به تعویق انداخت ورنه قرار بود این محفل علمی روز پنجشنبه ۲۷ حوت دایرگردد ·

من به نمایندگی ازکمیسیون مشورتی سیمینار وپوهنځی زبان وادبیات پوهنتون کابل ضیاع آن خدمتگار صادق پوهنتون وهمکار نزدیك این گرد همایی علمی یك دقیقه را سکوت اعلام میدارم ·

روحش شاد ویادش گرامی باد

دانشمندان محترم !
درآغازسال تعلیمی ۶۰ـ ۱۳۶۱ پوهنتون زیبانیکه جوانان وطن تازه باین مرکز عمده دانش وفرهنگ کشور پانهاده بودند پوهنځی زبان و ادبیات لومړي

پوهنتون کابل به یاد یکی از دشواران فرزانه معلم ادیب، شاعر ونویسنده، وطنپرست ومفکر پښتو ودري متوجه گردید. که از سالیان دراز ترانه های نغز ودلپذیر وسرود های انقلابی ویرا شاگردان دیپارتمنت های مختلف آن پوهنځی می خواندند ودرباره افکاروي از استادان شان می اموختند. روي این اصل ریاست پوهنځی مصمم گردید که شصتمین سالگرد وفات این شخص مبارز و وطنپرست کشور را طی گردهمایی مختصر تجلیل نماید.

پوهنځی زبان وادبیات موضوع را بمقام ریاست پوهنتون پیشنهاد کرد. ومقام پوهنتون بعد از منظوري در زمینه ازکمیسیون محترم تبلیغ وترویج وآموزش کمیته مرکزي حزب دموکراتیک خلق افغانستان طالب هدایت گردید آن مقام محترم نیز باین تجلیل موافقت نشان داد وموضوع شکل رسمی رابخود گرفت.

مقام ریاست پوهنتون جهت تنظیم امورعلمی وطباعتی واجرائیوي این تجلیل کمیسیون مشورتی ایرا تعین کرد که ذوات محترم ذیل درآن عضویت دارند.

۱ـ پوهاند عبدالحی حبیبی
۲ـ پوهاند میرحسین شاه
۳ـ پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار
٤ـ پوهندوي دوکتور عبدالخالق وفایی
۵ـ پوهنمل نور محمد غمجن
٦ـ پوهنیار عنایت رشید
۷ـ پوهیالی عبدالحق داقشمل

کمیسیون مشورتی دراولین جلسه خود تصویب کرد که مجموعه از آثار پراگنده غلام محی الدین افغان را از صفحات سراج الاخبار ترتیب وتدوین وبعد از ملاحظه ومقدمه مقام ریاست پوهنځی زبان وادبیات بدین مناسبت نشر نماید وهم از دانشمندانیکه درمورد صاحب نظر ومطالعه اند کتبًا خواسته شود تا مقالات مفیدي را راجع به عصر، شخصیت، زندگی وآثاروي وادبیات معاصر کشور بنگارند که با بیانات رسمی این احتفال یکجا در مجموعه بنام (دافغان یاد) نشر شود ونیز نشر دورساله باغضام کتاب اخیر تصویب گردد.

دوم

همچنان کمیسیون مشورتی فیصله کرد کدپو هنتون ننگرهار نیز بخاطر وزین نمودن احتفال درین سیمینار شرکت ورزد و مقام محترم پو هنتون ننگرهار این فیصله کمیسیون مشورتی و خواهش پو هنتون کابل رابذیرفته و نشر دو کتاب را بدین مناسبت قبول فرمودند .

کمیسیون مشورتی در یکی از جلسات اخیر خود از مدیریت عمومی ادب شفاهی و فولکلور مرکز تحقیقات علمی زبان و ادبیات اکادمی علوم افغانستان خواست تابدین مناسبت مجموعه از ضروب الامثال پښتو را نشر نماید . انها نیز این خواهش ما پاسخ دادند .

پوهنځی زبان و ادبیات از مقامات محترم پو هنتون های کابل و ننگرهار اکادمی علوم افغانستان ریاست نشرات وزارت دفاع ملی وزارت اطلاعات و کلتور صمیمانه تشکر مینماید که پیشنهادات کمیسیون مشورتی وپوهنځی زبان وادبیات را درمورد تهیه و نشر آثار پذیرفتند .

همچنان زحمات ریاست تأ لیف و ترجمه وزارت تحصیلات عالی و مسلکی قابل ستایش وباد اوری است که در وقت بسیار کم با طبع کتاب (( دغلام محی الدین افغان افکار و آثار )) این محفل را رونق خاصی بخشید . وما امید واریم که با طبع آثار دیگري که دردست چاپ است نیز کمک نمایند با زهم از شما تشکر مینمایم که با اشتراک خود دراین محفل علمی برما منت گذاشتید و مجلس بزرگداشت این شاعر و نویسنده انقلابی و مبارز را شکوهمند ترنمودید .

وحالا از رفیق سرور منگل معین وزارت تحصیلات عالی و مسلکی خواهش مینمایم که با قرائت بیانیه رفیق پوهنمل گلدا د معاون شوراي وزیران ووزیر تحصیلات عالی و مسلکی این محفل علمی را افتتاح نمایند .

تشکر .

# د وزیرانو د شورا د مرستیال او د لوړو او مسلکي تحصیلاتو د وزیر پوهنمل ګلداد افتتاحیه وینا

درنو حاضرینو !

محترمو پوهانو !

ګرانو ملګرو او دوستانو !

خوشحاله یم چې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسي اصولو د ۷ مادې له مخې او د حزب او دولت د کلتوري او فرهنګي پالیسۍ په اساس د هیواد د یوه مبارز شخصیت د پښتو او دري ژبو د شاعر اولیکوال د هیواد د یوه پوه او د ښوونې – روزنې د لومړنی ښوونکي او د هیواد د اوسنی تاریخ د ملي او مترقي غورځنګ د یوه بیا وړي سرلاري د شپیتم تلین د نمانځنې دغه علمي غونډه پرانیځم .

زموږ انقلابي دولت دا هڅه لري چې د خپل هیواد د ورونو قومونو او ملیتونو فرهنګي او کلتوري ویاړونه ویا لی نو په همدې اساس یې د هغوي د فرهنګ د ښو او مترقي خواوو د څېړنې له پاره علمي ایډیولوژۍ په رڼا کې د تحقیق او څېړنې په علمي مراکزو کې پراخ او هر اړخیز کارونه پیل کړي دي زه هیله من یم چې په دې لیاره کې به د هیواد د ټولو محترمو پوهانو به بیا وړې مرسته او ګډون نوره هم مخ پر وړاندې ګامونه اوچت کړي .

د هیواد د ورونو ملیتونو د فرهنګي مفاخرو د ژوندي ساتلو له پاره د ثور د برتمین انقلاب او بیا یې د نوي پښبړ تیایي بریالیتوب وروسته په ملي او بین المللي سویه سیمینارونه د نمانځنې غونډې او علمي کنفرانسونه جوړ کړي او د هرې غونډې سیمینار او کنفرانس په ویاړ د ګوند او دولت له خوا بښتنو سره سم کتابونه رسالې او تحقیقي مقالې د پوهانو له خوا کښل شوي او د دولت په لګښت د هیواد بېلابېلو فرهنګي، کلتوري او علمي موسسو خپرې کړي دي .

ACKU

د ګوند او دولت د همدغو فرهنګي کړنلارو په لړ کې دا دي د سږ کال په وروستيو شپېو کې د هېواد د یوه پل فرهنګيالي او ننګيالي بچي غلام محي الدين افغان شپېتم تلين نمانځل کېږي.

سږ کال چې موږ يې وروستۍ شپې تېروو د هېواد فرهنګ کلتور تاريخ او ادب ته په زړه پورې کارونه وشول او دادي په تېر لږ وخت کې د کابل او ننګرهار پوهنتونونو له خوا د غلام محي الدين افغان د شپېتم تلين دغه درنه علمي غونډه جوړه شوه.

زه هيله لرم همدغه علمي کارونه چې د افغان د شپېتم تلين په وياړ د هېواد د پياوړو او درنو پوهانو او استادانو له خوا شوي د دغه مبارز شخصيت د ژوند بېلابېل اړخونه روښانه کړي. د افغان دغه نمانځنه نه يوازې له دې پلوه ارزښتمنه ده چې موږ د خپل هېواد د تاريخ په دغسې يوه حساسه او انقلابي مرحله کې د همدغه عصر له شرايطو سره سم يو انقلابي شخصيت ونمانځه بلکه له دې پلوه هم د ستاينې او اهميت وړ ده چې د تېرې څېړنې او ګروېږنې په دې برخه کې وشوې نوي مسايل را منځ ته شول د پوهانو له پاره د تحقيق او څېړنې نوې ورونه پرانستل شول او د خپلې ژبې د ليکني پانګې په زياتوب کې يې مهم کارونه سرته ورسول.

غلام محي الدين افغان د هېواد له هغو مترقي ليکوالو او شاعرانو څخه و چې تقريباً ۸۰ کاله د مخه يې د ترقۍ آزادۍ او اجتماعي عدالت د تامين په لاره کې د مبارزې بيرغ را اوچت کړ د نولسو کلو ځوان و ۲ چې د کندهار له علمي او ادبي ماحوله يې د ميوند د وياړ منې جګړې د فاتح محمد ايوب خان غازي د هوا خواهانو په ډله کې خپل هېواد پرېښود او د انګرېزي او فرنګي امپرياليزم له خونړيو منګولو او وحشيانه اعمالو څخه يې د خپل هېواد او حتی شرق د خلاصون او ازادۍ ناره اوچته کړه. افغان د مهاجرت په اوږده موده کې د سياسي او ملي مبارزې تر څنګه د خپلې علمي ذخيرې د زياتون په لياره کې هم ډېر کار وکړ او ډېره برخه يې پر هغې علمي پانګې ورزيات کړل چې د کندهار له علمي ماحوله يې له ځانه سره وړي وو. افغان د زاړه هندوستان په عصري مکتبونو کې د وخت د ښوونې او روزنې له مبتدا ولوړو شونو سره سم نوي علوم زده کړل له اتو ژبو څخه استفاده يې او پر دغو ژبو کې د څه ليکلو او ويلو جوګه شو.



ACKU

افغان دا سې محال بیرته خپل هیواد ته راغی چې د انګریزي استعمـــار
چیا نو او امپریالستا نو ګواښ ګی امیر حبیب الله د کابل پر تخت ناست او په خپلو مزو
او چړچو بوخت و . افغان د یو حساس او دراك شخصیت په توګه د دغه لاسپوڅی
امیر تر ږېږې لاندې د هغه وخت د نورو روښا نفکرا نو په ملتیا د هیواد د بچیانو
په روزنه ادبي زیار او مېڅود او سیا سي مبارزه لاس پورې کړ . د امیر حبیب الـــه
د دوران په مکا تیو کی یې د ښوونې او روزنې وظیفه غوره کړه په سراج الاخبار کـــی
یې خپل مترقی او وطنپرستا نه شعرونه خپاره کړل او د هیواد د فرهنګی ویاړ ونو
په پېژندنه او د درسی کتابو پـــه لیکلو کی یې نه ستړې کیدونکی خدمتونه وکـــړل
د شاهي مستبد او تور وحشیا نه رژیم پرضد یې د مشروطه غوښتونکو د ډلـــی
ملګرتیا وکړه او د دغې ډلې د هغې جرګګۍ غړی شو چې د مشروطه خوا هانـــو
مشر یې عمومي منشی و .

د افغـــــان او دده د نورو ملګرو هڅو اوزیارونو ځای ونیوه او د امیـــر
حبیب الله د پاچهۍ ستمګره دوره پای ته ورسیده اعلیحضرت غازي امان الله خان د ـــ
افغانستان سلطنت ته ورسیده او دده د پاچهۍ په دوران کی د افغان اولـــس
میړ نیو او زمریو بچیانو د انګریز له ظالم او وینې څښونکی امپریالیزم څخه خپله خپلواکی
وګټله او د ازادۍ نوي لمر په شرق کی را وخوت او افغان د خپل آزاد او مستقل
هیواد په غېږ کی په لوړې خوښۍ ژوند کاوه .

په اماني روښا نه دوره کی دده دولتی اوعلمی مسئولیتونه نور هـــم
پسې درانه شول د خپلـــو فرهنګی او ادبي هڅو په څنګ کی د دارالمعلمین او ـــ
ابتدائیه تدریسا تو د مشرۍ چارې هم ورته غاړې وې دده کور او دیره به د پوهانو
اوعالمانو ځای و خلك به پرې را تولیدل او دده له علمی فیضه به یې ګټه موندلـــه
له روښا نفکرو او هیواد پالو ځوانا نو سره به یې د هیواد ترقۍ ابادۍ او د وطن ـــ
د بچیانو د روزنې او د خپل ژبې او ادب د پالنې په باب مشورې او مذاکرې کولـــی
خو اجل دغه هیواد پال افغان ته موقع ورنه کړه او شپیته کاله د مخه یې د
یوې وبا له امله چې په کابل کی پیښه وه له دنیا نه سترګی پټې کړې .

زه د دغه مبارز شاعر او ادیب د علمی ادبي او سیاسی کارنا مو د نما نځنـــی
له امله د کابل او ننګرهار د پوهنتونو نو له هغې څخه مننه کوم او ټولو هغو پوهانو
ته کوروداني وایم چې دغې درنې علمي غونډې د نمانځنې د درښت له پاره یې علمي



ACKU

علمی آثار او مقالی لیکلی دي . ستاسو د لا بریالیتوبونو په هیله خپله وینا په لاندې شعارونو پای ته رسوم :

تل دې وي زموږ د حزب او دولت مترقی فرهنگی هڅی !
بله دې وي د پوهی ډیوه !
تاندې دې وي د حق او عدالت د مبارزینو خاطرې .

په درناوي

پوهنمل گلداد
د وزیرانو د شورا مرستیال او د لوړ او مسلکی
ښوونې وزیر

# د قومونو او قبایلو د چارو د وزیر او د افغانستان د علومو
# د اکاډیمۍ د لوی رئیس سلیمان لایق پیغام

درنو پوهانو :

ښاغلو او محترمو حاضرینو !

خوشحاله یم چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ټولو پوهانو علمي غړو او منسوبینو په نمایندګۍ د غلام محی الدین افغان د شپیتم تلین درنې علمي غونډې ته د دغه پیغام په لیږلو سره خپله علمي او ملي وظیفه تر سره کړم

پښتو ژبې او ادب د پېړیو په اوږدو کښې ډېر ملي مترقي او ادبي اتلان روزلي او دغه ژبه د خپل علمي قدرت لغوي او ادبي پانګې او د دغه میړنو اولس د پراخو پرګنو د اولسي او شفاهي ادب د یوې عظیمې ذخیرې په لرلو سره روزنې او پالنې ته ډېره اړه لري او په هره ساحه کې د پوهانو له پاره د تحقیقاتو د وسیعې ساحې امکانات شته. غلام محی الدین افغان زموږ د معاصر پښتو ادب د ځلاند آسمان هغه ستوري دي چې پښتو شعر ته یې د مضمون له پلوه نوې ساه ورکړه او ډېرې نوې موضوعات چې پخوانو یا بیان کړي نه وو او یا یې د عصر غوښتنه نه وه ــ په خپلو اورنیو شعرونو کې بیان کړل ــ او د سلطنتي استبداد د پرضد ملي او مترقي مبارزه کې یې هم ونډه واخیسته داچې نن د کابل او ننګرهار پوهنتونونو په ګوته د دغه مبارز او علمي شخصیت او ډېر سابقه دار معلم د مړینې شپیتم تلین نمانځي نو د دغې شخصیتونو نمانځنه او د افغانستان د ورونو ملیتونو د فرهنګي میراثونو خوندي ساتنه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د مترقي دولت او انقلابي حزب د رهبرانو له هغې علاقې څخه څرګندونه نیسي چې د خپل وطن او خپلو خلکو سره یې لري .

په داسې حال کې چې زموږ قهرمان خلک او حزب د نړۍ د ټولو ــ امپریالیستي او ارتجاعي قوتونو په راس کې د امریکا د نړۍ خور امپریالیزم د

اتم

د نا اعلام شوي جګړې په مقابل کې له وارد و شو یو اجبیرو با ندو و نو سرېپه کلکه مبارزه بوخت دي خو په دغسی انقلا بی شرایطو کی هم خپل ملی مبارزان او قهرمانان ادبی اتلان او خپل فرهنګ نه هېروي او د دغه فرهنګ د مختلفو اړخونو د خوندي کولو له پاره په بېلا بېلو سو یو کارونه کوي او عمـــلی ګامونه پر مخ بوځي .

د افغا نستان د دموکرا تیک جمهوریت د انقلا بی شوري رئیسه هیئت او نورو لوړو حزبی او دولتي ارګا نونو له خوا د افغا نســـتان د علومو اکاډ مـــی قا نون خپل مراحل تیر کړل او دادي اوس نافذ او مرعی الاجرادي .

د دغه قا نون د صلا حیتونو په چوکاټ کی به د اکاډ می علمی شوري جوړه شی او شوري به د قا نون له حکمونو سره سم د افغا نستان د علومو اکاډ می تـــول تشکیلات له سره نوي کړي او یو نوي هراړ خیز او انقـــلا بی بدلون به د هیواد دغـــه علمی او فرهنګی مرکز په ټولو مو سسا تو کی محسوس شی .

د افغا نستان د علومو اکاډ می خپلو پښتنو یو ها نو او د هیواد و نورو — شریفو عالما نو او استا دا نو ته د شرا فتمندا نه علمی کار او هوسا ژوند او امکا نات برابروي او د دوي لپاره د ژوند په مختلفو سا حوکی اسا نتیا وې پیدا کوي .

د افغانستان د دموکرا تیک جمهوریت د علومو د اکاډ می د قا نون د احکامـــو او موضوعـــه لا یحوا و مقررا تو له مخی به دغـــی موســسی یو هان و کولای شی چی د افغا نستان د دموکرا تیک جمهوریت له اهدا فو سره سم د اجتما عی او طبیعـــی علومو په ځا نګو کی د یوه تنظیم شوي پلان له مخی د هیواد له نورو موسسا تو سره مرسته وکړي د هیواد د اقتصاد په باب نوي څیړنی وشی او خصوصاً د طبیعی ـــ علومو د ځا نګو په پرا خوالی کی به دغه موسسه په وسیع اقدا ما تو لاس پورې کړي .

د افغا نستان د علومو اکاډ می ته د ټولو مترقی او صلح دوستو هیوادو په راس کی شوروي اتحا د د علومو د اکاډ مـــی له خوا د پرا خو او هراړ خیزو مرستو امکا نات میسر دي او دغه موســسه به وکولای شی چی د خپل حزب او دولت له کرښلارو سره سم د ټولی مترقی نړۍ د علمی مرا کزو مـــرستی جلب کړي او د — همغوي له تجربو څخه د خپلی مؤسسی د پیا وړتیا او د خپلو کا رونو د پرمختیا په لاره کی استفاده وکړي .

دغه راز به دغه موســسه د خپلو اهدا فو سره سم او د امکا نا تو په چوکاټ د افغا نستان د ورونو ملیتونو د فرهنګ د تحلولو له پاره یوه د موکرا تیکه فضا —

ډېرا بېره کړي او په دیموکراتیک دولت به د هر قوم او ملیت ژبې او ادب ته دعلم او فرهنګ په بېلا بېلو ساحو کې تګ رو کړي دغسې موسمی د ثور د انقلاب له بریالیتوب او بیا یې د نوې بشپړ تیا یې مرحلې له منځ ته را تلو نه وروسته د ورو نو ملیتونو د ادب او فرهنګ په ساحو کې ډېر کار رو نه کړي او ډېر ادبي او علمي شخصیتونه لکه علي د ابن سینا، میافقیر اله جلال آبادي، شیخ بستان بړیځ او امیرعلی شیرنوا یي د لمانځنو غونډې یې په ملي او بین المللي سویه جوړې کړې دي او دا دي د افغان په شپېتم تلین کې هم د کابل او ننګرهار له پوهنتونونو سره په بېلا بېلو ساحو کې برخه اخلي او په دې مناسبت کتاب خپروي او خپلې خپرونې د دغې علمي غونډې پوهانو ته وړاندې کوي .

زه د افغانستان د علومو د اکاډمي د منسوبینو له خوا ټولو هغو پوهانو ته چې په دې په دې برخه کې یې کارکړي دي کوروداني وایم د کابل او ننګرهار پوهنتونونو هڅې د دغه تلین د لمانځنې له امله ستایم او د دغې علمي غونډې د بریالیتوب هیله لرم او غواړم چې د دغې علمي غونډې او د پوهانو هڅې به دې برخه کې مثمرې وي او زموږ د او سنی ادب ځینې مهم مسایل به حل کړي .

تشکر

سلیمان لایق

دقومونو او قبایلو د چارو وزیر

او د افغانستان د علومو اکاډمي لوی رئیس

## بیانیهٔ پوهندوی اسدالله حبیب رئیس پوهنتون کابل به نمایندگی از اتحادیه نویسندگان و شعرای جمهوری دیموکراتیک افغانستان

دانشمندان گرانقدر محترم !

من با استفاده از این مجمع خبیر برآنم که سخنی کوتاه پیرامون درسهای از میراث گرانبار عصری درمیان آدم که محی الدین افغان این فرهیخته فرزند فرزانهٔ کشورما ازآن مایهٔ پرورش وکمال گرفت وبرآن نقش ویژهٔ خویش راگذاشت یعنی سخنی از فرجامین نیمهٔ سده نزدهم ونیمهٔ آغازین سدهٔ بیستم ، تاریخ وطن ما . چه باور دارم که تنها درپیوستگی بارویداد های زمانش ودر ارتباط با پویهٔ تکاملی تاریخ عصر ش، به شناخت بهتر مطمئن تروسالمتر شخصی چون محی الدین افغان میتوان دست یافت .

در باز پسین سالها ، پژوهندگان تاریخ به فرهنگ ، گاه کاوش درخصلت های رشد فرهنگ نشانه هایی ازچنان کیفتی راد ریافتند که درتاریخ ملیت های خاوریه مشابه بنهاد هاوپایه های شاخص پذیرفته شده بود . ازاینگونه است تعبیر فرهنگ سده های میانه ، انسانی ، روشنگری وغیره . وبحث برآن رفت که آن نشانه های تصادفی ، ضمنی ، جزئی است یاقانونمند ، اصلی وکلی . ادامهٔ جستارکه باجدال سختی نیزهمراه بود جهت مقابل باور بوز قبولیتها راکه فرهنگ هرملت راجداگانه مورد بررسی قرار میداند به اثبات رساند تلاشهای محققان ثابت کردکه درمطالعهٔ تاریخ فرهنگ ملتها بانظرداشت کنارخط های قانونمندی کلی همه جهانی باید ویژگی های رشد فرهنگ هرملت وملیت رابصورت خاص باید مطالعه کرد .

عصرنزد هم درتاریخ کشورما بارشد نسبی بازرگانی وبالندگی تدریجی مناسبات سرمایداری مشخص میشودکه درپایانهای آن تلاش جهت برکرسی نشاندن خواست بورژوازی خاصتاً بورژوازی ملی درعرصهٔ سیاسی وفرهنگی به مشاهده میرسد وهمان است که سخنی ازجنبش مشروط خواهان درپیرامون پیوولسم

سلطنت‌مطلقه درمیان می آید وفرهنگ معارف پروری یاروشنگری که تانیمـــــــهٔ سدهٔ بیستم ادامه می یابد .

فرهنگ روشنگری باتکیه بررشد صنایع ملی ، روش‌علوم مثبته وطبیعی ، آزادکـردن دانشها از زنجـــیر فاناتیـزم ، برترگذاری نقش‌اجتماعی دانش‌وخردآدمـــی وتاکید درج مناسبات‌عاقلانه میان افرادجامعه ، پیکار با پندارهای خرافی گویــا برحصار دیرسالهٔ نظام فیودالی یورش‌را آغازکرد . همه مطالبی ازاین دست کــه درصفحات سراج الاخبار افغانیه انعکاس‌می یافت درواقع فریاد اعتراض‌نمایندگان بورژوازی ملی بودعلیه ارزشهای نظام سالخورده املاکی وفرهنگ این دوره، فرهنگ اعتراض‌پرخاش‌بود برضد کلتور سده های میانـــه .

درفرهنگ دورهٔ روشنگری کشورما اصل نزدیک شدن به توده ها بشکل تاکیـد برپیهای تعمیم سواد ، دموکراتیزه کردن زبان نگارش‌آثار ادبی ، آغازکاوش‌هـــای ابتدایی درادبیات مردم ، توجه به ثبت لهجه ها توسط سروده های شاعـــران ودرسالیهای بعد گزینش قهرمانان آثار ادبی ازمیان طبقات ولایه هایی فرودســت جامعه انعکاس‌یافته اســـــت .

درهمین دوره است که انسان یکباردیگر باهمه شکوهمندی وعظمتش‌محـــــور همه تلاشهای علمی وهنری قرارمی گیرد . وادبیات تعهدی بزرگ دربرابـــــر جامعه می پذیرد . و شعر وطنیه پایه دیگر تعبیر طرزجدید به میان می آیـــد وبه‌نثر هنری حکایتی باتعریف معاصرش‌بذل توجه می گردد .

درکنار این گامهای فراخ پیشروانه طورمثال درپایه گذاری ادبیات وهنر جدیـــد با پاسخگوی نیاز زمان برضد شیوهٔ اندیشندگی دیالکتیک پیشوایان ایـــــن جنبش‌فرهنگی بابرابر نشستن باهمه ارزشهای ادبیات وهنر پیشین کوتاتلاش مـــی ورزیدند که به تعبیر یکی ازاندیشه ورزان بزرگ زمان ماسنگ بنای ادبیـــــات وهنر جدید ، یعنی ادبیات وهنر روشنگری رادرفضای خالی بگذارند .

تنفس‌قطعهٔ (( بگذشت وقت طرزی )) سینهٔ باور های ادبی وهنـــــری

بسیاری ازنماینده گان ادب و هنر این دوره رابرکرده است ودرکنار آن که

بها دادن به عناصر شکلی آثار و -

بدینصورت نفسی کردن اصل وحدت محتوی وشکل درآفرنیش های هنری وادبی

ازشایستگی وارج آثار ادبی این عصربه پیمانهٔ زیادی کاسته است ٠

شناخت زبان گفتاری ونوشتاری وخصوصیت های هرکدام آنها وزبان آثار

ادبی ومسالهٔ ادبیات ملی چنانکه نزدفرهنگیان این دوره مطرح بود انسان رابه

نکته های جدی وشایان توجهی درزمینهٔ بی افگنی هنر وادبیات امروزین آشنا

میسازد وا بهمین نکته ئیکه چون اصل شایان توجه بدان باید اشاره کرد همانا

درک تاثیرمتقابل ادبیات وفرهنگ ملل مختلف است و سودی که ازآن به بارمی آید

ازاین دیدگاه توجه به ترجمهٔ آثار بدیعی چون سیاحت نامه ها ، رمانها

ومطالب اطلاعاتی دوره مسالهٔ مهمی است ٠

دراینجا یادآور باید شدکه اعتقاد مابه آن حقیقت که آثارگذشتگان است نباید

با تقاضای امروز سنجیده و نباید ازدیدگاه اکنون جستجو کرد که چه چیز

ندارند خرشه ناپذیر است واما سخن برسرآن است که درحال کنونی گاهی که

ادبیات وهنر امروزین انقلابی راپایه گذاری میکنیم سزاوار نخواهد بود برعین لغز-

شگاه ها پافیم وعین اشتباهات راازسر بگذارنیم ٠

یادکرد از تلاش های نجیبانه علمی وادبی غلام محی الدین انغان این یکی

ازبناکاران فرهنگ روشنگری درچنان شرایطی صورت می گیرد که تاریخ بروش فرهنگیان

ماوظیفهٔ سنگین پایه گذاری هنر وادبیات وگسترده تر فرهنگ انقلابی راگذاشته است

وهمین اکنون تاکید یک جانبه برمحتوی یا شکل آثار هنری - ادبی ، نفی ادبیات

پیشین یابه تعبیر درستتر نفی پیشینهٔ ادبیات مابصورت کل دربعضی داوری ها

مجال تظاهرمی یابد کم توجهی به ترجمه وانزمندی آن درست یابی فرهنگ

مامشهور است٠

امروز در بناکاری ادبیات ، هنروبسیج فرهنگ انقلابی ، هزاران پرسش ریشه یی

وبااهمیت فراچشم مان قرارداردکه پاسخ آن رامیتوان ازتاریخ کشورخویش گرفته

بنابرآن از سویی اگر یاد نامهٔ بزرگمردانی چون مولوی غلام محی الدین افغـــان گواه ارج نهی ماست به نسل های گذشته وکوشش که آنان در تکامل دانـــش هنر وادبیات مایه خرج داده اند ازدگر سوچه مایه خاطر خواه است که از راه ــ جستن درعمق زمان زندگی ایشان توشه یی برای سفر دشوار امروزین خویـــش نیز فراچنگ آریـــم .

در واپسین سطرهای این عرض مختصر میخواهیم این اقدام مراهمیت پوهنتون کابل و پوهنځی زبان وادبیات را ارج فراوان نهیـــم .

جاودانه گرامی باد یاد مولوی غلام محی الدین افغـــان

وتابناک باد سیمای اوچون مرد نبرد ، دانش وآموزش

خورشسم

# د ننګرهار پوهنتون د رئیس پوهنمل دوکتور ګلزار امیني وینا

## د درنو محترمو پوهانو، استادانو او درنو میلمنو په اجازه !

څرنګه چې د بشر په تاریخ کې هیڅ داسې تاریخي پېښه نشته چې څه ناڅه دې د نورو مسایلو سره کم او زیات ارتباط ونه لري او په تجریدي توګه دې منځ ته راغلې وي نو ځکه چې موږ په شخصیتونو باندې خبرې کوو هرو مرو دې ته اړ کېږو چې لږ تر لږه د ده د دورې څه نا څه اوضاع او عمده عوامل چې د نوموړي شخصیت د رشد او تکامل له پاره یې زمینه برابره کړې ده وڅېړو . د اروا ښاد غلام محی الدین افغان په دوره کې هم عیني داخلي او خارجي عوامل موجود وو چې په ده کې یې د وطن پالنې او د حق په لاره کې د مبارزې ګلک عزم او احساس را ژوندی کړ .

د ده په دوره کې اروپا یې استعمار چیانو په ټول شرق کې یې مسئولیته حکمروایي کوله او زموږ هیواد یې د وحشیانه یرغلونو هدف ګرځولی و .

که څه هم انګرېزي استعمار چیانو د قهرمانو افغانانو څخه زیاتو تاوانونو له خوا سختې ماتې خوړلې وې خو د هڅوې د یرغلونو په نتیجه کې افغانستان ډېر زیان من شوی و . د سردار محمد ایوب خان په ګوندی کې چې غلام محی الدین افغان د خپلې کورنۍ سره په ۱۲۹۸ هـ ق کال کې برطانوي هند ته تللی و په خپل هیواد او برطانوي هند کې یې د متجاوزو یرغلګرو ظلمونه ، قتلونه او ناروا وې لیدلې وې او د پوره احساس لرونکي پښتون په توګه د اروپایي وحشیانو له ظلمونو خبر و . ده چې د خپل وطن او خلکو سره زیاته مینه درلوده ، د دې ظلمونو او بې عدالتیو په نتیجه کې یې د وطن پالنې او پښتونوالۍ احساسات نور هم زیاتېدل .

په داخل کې د امیر عبدالرحمن خان استبداد خپل سرحد ته رسېدلی و ، د شکنجو تورو زندانونو ، غرغره کولو ، سنګسار ، خېټو څېرولو ، سترګو ایستلو او داسې نورو د شکنجو مروج تګلوري وو .

پنځلسم

که څه هم د عبدالرحمن خان په دوره کې تجارت نسبتاً پراختیا وموندله او افغانې تجارتي نماینده ګۍ په پېښور، بخارا او مشهد کې پرانستل شوې مګر افغانستان د خارجي مالونو د خرڅلاو په بازار بدل شو ملي او لاسي صنایع د خارجي مالونو له رقابت څخه ونه ساتل شول او وده یې ونه کړه.

امیر عبدالرحمن خان د بزګرانو او کسبګرو د ډېرې لږې ناراضایتۍ سره په ډېره بې رحمۍ چلند کاوه. ټول پاڅونونه او شورشونه چې یا یې سیاسي او یا یې د ظلم په مقابل کې د عکس العمل جنبه لرله د سلطنت په لمړیو ۱۲ کالونو کې سرکوب کړل چې البته دې وضعې د وطن پالونکو او بادرکه کسانو احساسات لا را و پاروله. کله چې امیر حبیب الله په ۱۹۰۱م کال کې پر تخت کېناست د خاصې اعلامیې په واسطه ټول هغه کسان چې د هېواد څخه د حکومت د ظلم او جبر په اثر تښتېدلي وو وبخښل او غلام محی الدین افغان هم په ۱۳۳۴ هـ ق کې بېرته وطن ته راغې. داسې ویل کېږي چې دې ۱۹ کلن ځې، وچې خپل تاتوبی یې پرېښود او نږدې شپږ ویشت کاله یې په صوبه سرحد او بریطانوي هند کې تېرکړل. ده د نوي او عصري زده کړو په څنګ کې سیاسي مفکوره هم له ځانه سره درلوده. کله چې امیر حبیب الله خان په ۱۹۵۷ م کال د جنورۍ په میاشت کې هند ته سفر وکړ او د یو سلسله لیدنو او کتنو څخه دې نتیجې ته ورسېدو چې افغانستان ځینو اصلاحاتو او ریفورمونو ته ضرورت لري هغه وچې په ځینو اقتصادي او اجتماعي اصلاحاتو لاس پورې کړ او معارف ته یې وده ورکړه. په ۱۹۵۳ م کال کې لمړنی لیسه دارالعلوم حبیبیه په نوم جوړه کړه. پدې لیسه کې تقریباً د ۵۵ تنو داخلي او خارجي استادانو په څنګ کې اروا ښاد غلام محی الدین افغان هم په تدریس بوخت و. د حبیبیې مکتب د اجتماعي دموکراتیکو افکارو د فعالیتونو مرکز وګرځېدو.

کله چې په ۱۳۲۷ هـ ق کال کې مولوي محمد سرور واصف د لمړۍ مشروطه غوښتنې د نهضت د رئیس په توګه په مبارزه لاس پورې کړ نو غلام محی الدین افغان هم د دغې نهضت سره یو ځای شو چې هدف یې یو سلسله سیاسي او اجتماعي ریفورمونه وچې د شاهي مشروطه نظام د استقرار په زینا کې ئې غوښتل.

د ځینو اسنادو له مخې د دې نهضت د غړیو شمېر درې سوو تنو ته رسېد و چې په جلا جلا لسنفري حلقو وېشل شوي و او د هرې حلقې په سر کې یو د ارتباط غړی موجود و. د دوي غوندې سرې وې او هره جلسه به یې د قرآن شریف په قسم سره پیل کوله.

شپارسم

ACKU

که څه هم دمحققانو په آثاروکی دمشروطه غوښتنی دلومړي نهضت گروپ په مختلفو نومونو (اخوان افغان) (جانثاران اسلام) او (مشروطه خواهان) سره یاد شوي دي ،خو ددوي هدف هغه دافغانستان د سیاسي ، اجتماعي ، او اداري وضعی دنسبتاً ښه تنظیم په لاره کی مبارزه وه .

غلام محی الدین افغان چی د پېښور په اسلامیه کالج کی یې تحصیل کړیو او په شوربازارکی د پېښور یا تو په سراي کی مجرد او سیدو . کوته یې د یوې حلقی چی د هم په هغی پورې اړه درلوده دتجمع ځاي وچی هلته به یې په سیاسی مسایلو او دمملکت په اصلاحاتو بحث کاوه په دي حلقه کی مولوي محمدسرور دریئس میرسید قاسم دمنشی په توگه اومحمد حسین هندي مولوي مظفر ، حافظ عبدالقیوم عبدالجلال ، محمدانور بسمل ، پروفیسورغلام محمد ، غلام محی الدین افغان او محمداکبر خان دغړیو په توگه شامل وو .

کله چی امیرحبیب الله خان ته دمشروطه غوښتونکو دگوند او دغړیو راپوروسیدو نو په ۱۹۰۹ م دمارچ په میاشت کی دهغه دانحلال فرمان او دبند او وژلو حکم صادرکړ وچی په نتیجه کی یې یوشمیرکسان اعدام او بندیان شول .

غلام محی الدین افغان دهغوکسانو په جمله کی راځی چی عفوه شول .

خو لما نه څرگندو ونه شوا ي کړاي چی دهیواد دترقی غوښتونکو دلاري مبارزین وو یوي . دوه کاله وروسته یعنی په ۱۹۱۱ کال داکتوبر له میاشتی څخه تر ۱۹۱۹ کال دجنوري ترمیاشتی پوري بلی جریدې د (سراج الاخبارافغانیه) په نوم چی دنشررهبري یې دافغانی مطبوعاتو د پلارمحمود طرزي په غاړه وه په خپریدو پیل وکړ چی د مشروطیت دوهم نهضت یعنی د (افغانی ځوانانو) په تشکیل کی یې مهم رول لوبوو . غلام محی الدین افغان چی داخبارد لیکوالو له جملی څخه و په خپلو دوطن پالنی په اشعارو به یې اخباررنگینه وه غلام محی الدین افغان نه یوازې په سیاسی ساحه کی پیگیري مبارزې کړي وې بلکی دیوه شاعراو لیکوال په توگه یې دمعارف او فرهنگ په برخه کی زیات خدمتونه سرته رسولی دي .

موږ په دې عقیده یو چی محترم محققان لوڅیړونکی به ددغه دوړند اوفعالیت په برخه کی نورهم خپلو څیړنوته دوام ورکړي ترڅو چی دافاضل تو شخصیت افغانی تولنی ته لازیات وروپیژنی .

اوچت دي وي دحقانیت په لاره کی دمبارزې بیرق . په درناوي

اوبلسم

## بیانیهٔ عبدالله سپنتگر منشی ناحیهٔ سوم حزبی

# غلام محی الدین افغان مبارز صدیق مشروطه خواهی

مولوي غلام محی الدین افغان فرزند عبدالرشید دربین سالهاي ۱۲۵۸
۱۳۰۰ هـ میزیست . افغان شاعر ضد استبداد سلطنتی وآزادي دوست بود . وي
درکمال بلوغ درك خویش شاهد یکی ازبزرگترین تجاوزات بیرحمانه بریکرجا-
معه افغان از طرف انگلیسها بوده است . اوکه به زبان هاي پښتو نا رسی ، انگلیس
واردو تسلط وآشنایی داشت وسفرهایی به ممالك همجوار انجام داده وبا
مبارزین آزاد یخواه هند درتماس بود . میدانست که تسلط اهریمن استعماري ـ
انگلیس با سیاست تفرقه بینداز وحکومت کن چی معنا دارد . افغان مانند نیاکان
آزاد یخواه هنر با یکدست قلم وبا دست دیگر شمشیر گرفت ودر جنگ معروف میوند
درجولاي ۱۸۸۰ تحت قیادت محمد ایوب خان درصف مبارزین شجاعانه
شرکت کرد .

تسلط استعمارگران انگلیس استبداد حکومت نور امیر یا عبدالرحمن خان بی
کفایتی ، زور گویی حبیب الله خان روح این شاعر آزادي دوست را شدیداً
میازارد . این روحانی متجدد معلم دانشمند درزمان دست به عصیان
زد که ازجانبی زمان ، زمان نومیدي ها یاس لگام گسیختگی زورمندان ودر
باریان چاکرمنش رواج عوام فریبی ها وروشنفکرکشی بود وازجانب دیگر دهقانان
ودیگر اقشار تحت ستم ملت بدوراستقلال طلبان ومشروطه خواهان ضد استبداد
سلطنتی جمع شده بودند تا آزادي کشوررا بدست آورند وبه زورگویی وغارت گري
خاتمه بخشند .

افغان از استقلال طلبان دلیر ومشروطه خواهان بنام بود. فعالیت سیاسی وي
بعد از سالهاي ۱۹۰ فویتر گشت اوعلناً شعارمیداد که حکومت مطلق العنان
شاهی حبیب الله خان به مشروطه تبدیل گردد استقلال افغانستان حاصل شود و

الـسـم

وتمدن جدید درکشور رشد یا بد بخاطر تحقق این اهداف که سلطنت موروثی پوسیده ازداخل فمیتوا نست آنرا برآورده سازد او با تعدادی از روشنفکران مشروطه خواه ، حزب سري ملی را تشکیل داده اعضای این حزب تا سرحد ترور حبیب الله خان پیش رفتند .

افغان روشنفکر متعهد وسیاستمدار زمان خود بود ومانند ملا محمد سرور خان اعتقاد داشت که :

ترک مال وترک جان ترک سر ــ در ره مشروطه اول منزل است .

اعدام مشروطه خواهان به امر حبیب الله خان وزندانی شدن افغان در روح ــ عصیانگراو تأثیري نکرد وتسلیم نشد .

مولوي علام محی الدین افغان معلم دانشمند انقلابی پرشور و شاعر آگاه بود افغان درترویج وتعمیم معارف سهم بسزاي داشته ومحلات تدریسی او چه دردارالمعلمین وچه درلیسهٔ حبیبیه مرکز تبادل وترویج افکارجدید وهستهٔ تجمع دانشمند آن وقت بود اشعاراو سرشار از روح آزادیخواهی ووطنپرستی است ارزوي او ــ آزادي کشور ازقید تجاوزگران انگریز وتبدیل حکومت مطلق العنان به مشروطه بود روشنفکران آزادي خواه ، همعصراو نیز درتعداد زیادي از کشورها همین عقیده را داشتند . فکر او این است :

| | |
|---|---|
| زره زمادك دي له مينى دوطن | خپل وطن ماته عزيزه ي ترخپل تن |
| چې دچا سره سوداد وطن نوي | سرد ده دي مستحق د بريدن |
| چې به زړه کې يې جنون دوطن نوي | دهمه زړه خداي همیش لري غمجن |
| که څه د پروي په جهان کې عزتونه | په عزت دي په خدمت کې د وطن |

عده یی از نویسندگان ، افغانرا از مردمان سرحدي وپښتون متعصب معرفی کرده اند درحالیکه به صراحت معلوم است که افغان اصلاً از قندهار وانقلابی خواستار وحدت ملی افغانستان بود . وي به جمع اوري اسناد زبان پښتو ورشداین زبان کمك کرده است ولی هیچگونه سندي دردست نیست که نشان دهنده تعصب اودرمقابل زبانهاي دیگر ی بوده باشد . فعالیت وسهم گیري او در تأسیس حزب سري ملی وهمچنان مشروطه خواهان که ازملیت هاي مختلف ساکن وطن محبوب مان افغانستان متشکل بوده گواه امر فوق است .

نولسم

سرزمین محبوب ما زادگاه دانشمندان دلیر و انقلابی بیبیان است که نام -
شان مانند افغان ثبت تاریخ از این کشور ماست . مردم ما بوجود انان افتخار
میکنـــــــــــــــــد .

شلم

# د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د مشر پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار وینا

درنو ښاغلو راغلو!

افغاني ټولنې د ستر بشري تمدن يوه برخه او افغاني تاريخ د درست نړيوال تاريخ د يوه څپرکي په توګه ډيرې ترخې خوږې ښې او بدې سړې اوتودې او غم و ښادي زغملي او په خپل ګوګل کې يې خوندي ساتلي دي. يوخوا ته د چنګيز او انګريز تاړاکونه او فاتارونه او بل خوا ته د هغو پر ضد جګړه ګي زموږ د توريالو او ننګيالو نيکونو د ميړانو او بريو کارنامې او ښاد نامې.

هو! که زموږ ملي تاريخ د هيواد په لوري شاه شجاع او خونړي عبدالرحمن خان ناولي څيري نه دي هيري کړي نو ورسره يې د غازي اکبرخان او سوبمن ايوب خان غوندي د ربښتينو نوميالو بچيانو د زړوري برېښنا هم هماغسې بريښنا ده او غلا نده ساتلې ده او لګيا دي چې همدا اوس د افغان ولس د مرګ و ژوند دغه حساسې او انقلابي شېبې په پوره غور کتيا او دقت کاږي او ثبتوي يې چې يو لورته د غري خواره او سر پخواره نړيوال امپرياليزم او د توري ارتجاع په لمسه او مرسته د بېګناه ځوان انقلابي پښت وينې څښناک ته ملاتړلي په سوومال او پت وناموس يې بلوسي او د هر راز پښتن پرمختګ مخه يې نيسي او بل لورته د دغې تاريخي خاورې د ېړيو بېړيو اسکيرلو او عارفيلو زيار کښو پرګنو د خپل مخکښ ګوند او دولت په هڅونه او لار ښوونه د يوه نيکمرغه نيا ومن او سوله ئيز ژوند له پاره شپه او ورځ پر ځان يوه کړي او د يوې روښانه او علاقدي را تلونکي خواته په ټينګ ايمان او ګروهه چټک او پاخه ګامونه اخلي.

په درنښت

ACKU

راځي چې د خپل دغه ملي تاریخ څوتیرې اړول شوې پا ڼې بیرته را واړ وو او هماغه لومړۍ شپې ورځې له سترګو تېرې کړو چې د همدغې روا نې پېړۍ په سرکې څو سرتېرو رو ښا ندا نو د دغیو ړ والی سلطنت او انګریزي ښکیلاك اوځبېښناك په وړاندې لومړ ۍ ځل په اګا ها نه توګه په ژغو رنده مبارزو لاس پورې کړ او په خپلو سرو وینو یې د نوې ازا د او انقلا بی افغانستان لومړي رنګین انځور ګکیښ · په دې لړ کی د هیواد شاعران او لیکوال تر هرچا زیات خپلې تاریخی استازې (رسالت) ته ځیر شول او لومړي ځل یې خپلې زیږ ونې د سو کاله او آزا د پښتمن ملی ژوند خوا ته را وځکولی نو رزموز ملی ادب هغه زړ ه دود بزه لاربرې ایښی وه او دژغو رنده ملی غو رځنګ یوه څو ځنده در سته شمېر ل کیده · په تیره هغه مهال چې د سراج الا خبا رغو ندې یوې سرکاري مهالنۍ خپرو نې ته یې لا رو موند له اویه دې توګه یې د هغه مهال د یوشمېرښوونځي ترځنګه په ډ له بیزه رو ښا نتیا کې سیده ونډه وا خیستــــه ·

کله چې د اخبار جلوونکی محمود طرزي ته د مو لوي صا لح محمد کندهاري د انګریزي ضد پښتو شعر له خپرونې سره د لا سکوۍ امیر په وسیله د هغو افغان د ښمنو ښکیلا ګرو له خوا وګواښل شونو اخوا د بخوا یې په هما غې یوه بل هیواد پــــال شا عر یعنې سترګی اړ ولی را اړ ولی ترڅو یې د سرا جیه ښوونځي د یوه بل شاعـــر څرك ولګا وه او هغه تشه یې برې ډ که کـــړ ه ·

په هما غو شپو ورځو کی چې د لومړ یو نړ یوالــــی جګړ ې خبـــرونو د سرا ج الا خبار لیکوال او لوستونکی تر بل هر چا زیات د انګریزي ښکیلاکګرو په وړ انـــد ې را پا رولی وو محمود طرزي ته د غلام محی الدین افغان د دغه انګریزي ضد شعر خپرو نه کیدو نی شـــو ه ·

زما زړ ه له وینو ډ کـٔ دیٔ بیقــــــوار
نن ستم د کا فرا نو شو بیشمـــا ر · · · ·

د غلام محی الدین افغان غو ندې د نوي انقلا بی پښتو ادب مخکښ کو مه ناـ څا پی او تصادفي څیره نه وه · ده د میو ند له جنګیا لیو سره یوځاي د ملا لی د ننګ ناري اوریدلی وې او په همدغه ګناه له هغو سره یوځاي جلا وطنـــۍ تـــه اړ وتلی وهلته یې لاس پر لستو نی دخپلــــی خا ورې او پت د تاریخی د ښمـــن ((انګریز)) ترزړ برې لا ندې ډ یر څه زده کړي اوتر لاسه کړي وو چې هغه څنګه د

د وه ویشتم

ACKU

د نورو همسنګرانو له ازمېښتونو سره سنتېز کړي او د هماغه بېلو سکړو او د هغه د لاسکوي او لاسپوڅي امير پر ضد يې وکاروي.

له يوې خوا د نوي محال په زړه کړه د سمبال او له بلې خوا د خپل محال او چاپېريال د ناخوالو په بهير کې د اسې وريت شوي او پوخ شوي وچې د تور او سپين تو پيترين له ورايه کولاي شوه د حق او باطل ترمنځ جګړې چې هغه محال په ملي او جهاني کچه روانه وه د ومره ازمايل او روزلي وچې په ټوبره ماهرانه توګه يې له هېوادپالو درباريانو سره د زغورنده ملي غورځنګ په هغه د روښاندو ملي غوا کونو په يوخوله او لاس کولو کې کارنده او اغېزمنه برخه اخيسته او ورسره يې په ګوډه بيل کړې مبارزه برمخ بېوله ترڅو يې د بري تر بريده ورسوله او د نوي آزاد او خپلواک افغانستان پولادين بنسټ يې کېښود.

د يوه مبارز ژمن (متعهد) ښوونکي شاعر ليکوال په توګه د محي الدين افغان تاريخي شخصيت د روانې پېړۍ له هماغو سرغندو يا نوښته ګر کيزي چې اوسنی انقلابي پښت پرې د زړه له کومې وياړي او نمانځنې ته يې په انقلابي مينه سر ټيټوي.

د کابل پوهنتون او بيا د ژبو او ادبياتو پوهنځي لپاره د استر وياړ دي چې د خپل وګړني ملي او ديموکراټيک ګوند او دولت له پرمختللي فرهنګي کړنلارې سره سم د جنګيالي او فرهنګيالي نه هېرېدونکي افغان ياد را تاندوي او بيا يې د اوسني پرمختللي ټولنوال پښتو ادب د يوه مخکښ او بنسټ اېښودونکي په توګه شپېتم تلين نمانځي.

هيله ده د پښتو ژبې او ادب استادان او شاګردان له دغې نمانځنې څخه په زړه پورې الهام واخلي او هڅه وکړي چې د محي الدين افغان د اند و ژوند (افکار و اثارو) په باب څېړنې د خپلې علمي پرمختيا له پاره پرکار واچوي او خپله پښتني مينه پرې څرګنده کړي. زه د کابل پوهنتون او بيا د ژبو او ادبياتو پوهنځي په استازي د ننګرهار پوهنتون او د هغه د ښوونې روزنې پوهنځي د منني په ترڅ کې دا هم خپله پازه ګڼم له هغو ټولو موسسو او ښاغلو څخه د زړه له کومې مننه وکړم چې د دغه يادګارې غونډې د جوړونې په کار کې يې له خپلې مرستې ډډه نه ده کړې په تېره د قومونو او قبايلو له وزير او د افغانستان د علومو اکاډمۍ له مشر ښاغلي سليمان لايق او د سوداګرۍ له وزير ښاغلي محمد خان جلالر څخه چې زموږ غوښتنې يې په ښېړه توګه ترسره کړې په

درويشتم

به ځا نګړي ډول بیا د پښتو او پوهنې مېنه وړ ي هېواد مل د هغو ټولو ها نــــدو

هڅو مننه او د رڼاوي کوم چې د ا بوه لسیزه پې پې له کومې مادې ګټې د پښتو خپرونو

په برخه کې د ژیواو ادبیا تو له پو هنځي څخه نه دي سپمولي او دا دي خپلــــه

وینا د اروا ښا د غلام محی الدین افغان په دې شعر لنډوم چې درې اویا کالـــــه

د مخه په سراج ا لا خبار کې خپور شوي دي :

کـه څه ډېر دي په جهان کې عزتونـــــه

ډېر عزت دي په خدمت کې د وطـــــــن

او زنې دروند دې د نوي پر مختللی او نیا و مني افغاني ټولنې د

رغا ونې د ځلو ځلو پرمختګښا نو !

پا ینده دې وي زموږ د تېرو سرتېرو جنګیا لیا نو او فرهنګیالانو یاد !

پو ها نددو کتور زیار

# د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د استادانو په نمایندګۍ

## د پوهاند محمد رحیم الهام وینا

د دې پرتمین علمي غونډې د رئیسه هیئت په اجازه

درنو او محترمو ګونډې ملګرو ، او د ولتي مشرانو !

فاضلو استادانو او پوهانو !

پتمنو میلمنو !

ګرانو محصلانو !

انقلابي افغانستان د ثور د ملي او دیموکراتیک انقلاب ، په تیره بیا د هغه له نوي بشپړتیا یي پړاو نه را وروسته ، د یوې نوې عادلانه ټولنې د جوړولو په لور روان دي ، او سره له دې چې زموږ د سپیڅلي انقلاب د ضد کړکیچنو قوتونو داخلي او د سیمې توره ارتجاع ، او امپریالیزم ، په سرکې د امریکا امپریالیزم د ا د سوله — غوښتونکي بشریت او د انسانو د ترقي ، نیکمرغي او ارامۍ دښمن ، زموږ د پرتمین انقلاب او میړني اولس په وړاندې پرمختګ په لاره کې راز راز خنډونه اچوي . زموږ د ټولنیز ژوند دا نه په اقتصادي سیاسي او فرهنګي ساحو کې د نوښت او ترقۍ ځلانده هیڅ نښې نښانې احساس او لمس کېږي .

فرهنګ د ټولنې د ثقافي ارزښتونو او د ټولو پټو او ښکاره وو فکري قوتونو د ذخیرې داسې یو نظام دی چې د تاریخ په بهیرکې وده کوي . فرهنګ د ټولنیزو ارزښتونو د رامنځ ته کولو د پاره د انسان د ابتکاري فعالیت عملیه ، د خلکو ترمنځ د روابطو د ټاکلي او مشخص شکل څرګندونه او د ټولنې د اخلاقي فضا او اقلیم حساس مقیاس او د دغې فضا د تنظیم او سمون اغیزناکه آله ده . ټول هغه مفاهیم او د تلقیاتو طرزونه چې په فرهنګي ارزښتونوکې نغښتي دي ، د مشخصو ټولنو د محصول په توګه ، د تاریخ په بهیرکې تثبیتیږي او په طبقاتي ټولنه کې طبقاتي رنګ او معنا نګرتیا لري . تر هغه وخته پورې چې طبقاتي ټولنه موجوده وي

په نهه ویشتم

ACKU

يعنې د ټولنې اقتصادي، سياسي ټولنيز او فرهنګي اړخونه عادلانه بڼه ونه لري. فرهنګ له طبقاتي بڼې څخه ازاد پاتې نشي، او له طبقاتي ګټو څخه بېرته جلا وده نشي کولای، يعنې له فرهنګي ښېګڼو څخه يوازې هغه طبقه ګټه اخلي چې برخورداره اوسي چې د ولس په پراخو پېړو زړو لويا ر ابسټونکو پرګنو باندې اقتصادي او سياسي سلطه او حکمرواني لري. خود خلکو پرګنې چې ډېره برخه يې د فرهنګي ارزښتونو هستوونکي دي. د فرهنګي ښېګڼو له استفادې څخه محرومې ساتل کېږي. په داسې ټولنو کې فرهنګ تر ډېره روسته پاتې وي او ښکاره ارتجاعي بڼه لري. د ټولنې فرهنګي سطحه ټيټه وي، او سويه يې متعادله، همرنګه او عادلانه نه وي، خو په عادلانه ټولنه کې دغه ټولې نابرابرۍ له منځه ځي.

لوی معاصر مفکر څخه چا پوښتنه وکړه چې مترقي او پرمخ تللی فرهنګ څه دی ؟

هغه ورته په ځواب کې وويل : ( له مترقي فرهنګ څخه زموږ مقصد، د خپل ځان او خپل چاپېريال د ودې پله‌پاره د انسان هڅې او لاسته راوړنې دي. له خپلو غوښتنو او ضرورتونو سره سم د چاپېريال سمون، او په دې پوه ول خپلو استعدادونو ته په آزاده توګه، او په پراخه پيمانه داسې وده ورکول چې انسان رښتيانی، يعنې پرتمين، خلاند او همو نېکمرغه ورتنږدې شي . )

په همدې توګه فرهنګ د انسان د شخصيت د فطري ابتکار رابرسېره کېدل، د هغه د استعدادونو او ټولنيز اهميت څرګندېدنه او د هغه د ښېګڼو او وظايفو ترکيب دی .

مترقي فرهنګ داسې شرايط رامنځ ته کوي . چې هم له فرهنګي ارزښتونو څخه د ټولنې ټول فرې مستفيد شي، او هم انسان په شخصي توګه په ابتکاري فعاليت کې د دغو ارزښتونو په توليد، مبادله او خپرولو کې فعاله ونډه واخلي . د مترقي فرهنګ بنسټيز اصل د انسان په فکري شخصيت کې ابتکاري ماغزو ته وده ورکول دي .

فرهنګ د انسانې ټولنې د غړو مهارتونه، حرفه يي او تخصصي عادتونه، د فکري بنکلا - پوهنيز او اخلاقي تهذيب سويه او پراخوالی، د دوی جهان بينې، له خپلې ټولنې سره د هغوی د روابطو شکلونه احتوا کوي . فرهنګ بايد په ابتکار کې دی، ابتکار د کوم عالم يا هنرمند فعاليت په کومه محدوده، تخصص پورې محدود نه دی، بلکې له شعوري ټولنيز ابتکاري فعاليت څخه په پراخه پيمانه عبارت دی چې د نوې ټولنې د جوړولو له پاره د آزادې په شرايطو کې د پرګنو له خوا ترسره کېږي .

په عادلانه ټولنه کې، د فرهنګي آثارو توليد، د ټاکلو تخصصي کارونو په چوکاټ کې د اختصاص، په وړه فعاليتونو ترسره کول دي . تر څو انسان د هغوی په واسطه خپلې ټولنيزې

هستۍ ته شکل ورکړي. د علمي، ادبي او هنري آثارو د تولید، دغه توجیه چې له انقلابي بنسټیز بدلون سره تعلق نیسي د مترقي فرهنګ محتوا تشکیلوي. له همدې امله فرهنګ د زیارکښانو له ټولنیز، تاریخي او اجتماعي فعالیتونو سره پیوستون لري. د نوي نړۍ له جوړولو سره مستقیماً تعلق نیسي. د پوهنې او روزنې، لارښوونې او ارشاد د ټول نظام او ټولې هغه وسیلې احتواکوي چې فرهنګي ارزښتونه پرګنو ته رسوي. همرنګه کوي یې او د ټولنې غړي له ابتکاریما غړو سره روزي.

ترڅو پورې چې د یوې ټولنې فرهنګ زوړ بدلون و نه مومي. د نوي ټولنې د جوړونې تصور نشي کېدلای. خو د فرهنګ د بدلون تعبیر دې باید د ټول تېر فرهنګ په نفې کولو پاندې ونشي. مترقي فرهنګ له هیڅ نه نه شروع کېږي، بلکه د تېر فرهنګ د ډېرو ښو ـ سپېڅلو، ځلاندو، ارزښتناکو او ګټورو بقا یا ورپاندې چې د استثماري ټولنې په شرایطو کې منع تراغلې وي، وده کوي. د مترقي فرهنګ د ودې له پاره باید د فرهنګي تېر میراث له خزانې څخه هغه برخې خوندي شي او وده ورته ورکړه شي چې د انقلاب مرستند وي او د زیارکښو پرګنو په ګټه وي، او باید هغه برخې د ډېر ښوولو شي چې د انقلاب پرضد او د خلکو په تاوان وي.

دغه اصل د مترقي او پرمخ تللي فرهنګ د محتوا د سمون او تنظیم بنسټ ګڼل کېږي. دغه محتوا په حقیقت کې د نوې ټولنې د ژوندانه او د هغې د ارمانونو څرګندوي وي. د هغې له ایډیولوژۍ او غوښتنو څخه د ومره ډکه وي، چې خلکو ته رښتیانۍ خدمت او د نوې ټولنې په جوړولو او پرمختیا کې ورسره مرسته وکړي.

افغانستان یو لرغونی او کثیر الملیت هېواد دی. د تاریخ په اوږدو کې، او په بېلابېلو اقتصادي، ټولنیز او سیاسي شرایطو کې، د دې هېواد د بېلابېلو ولسونو او ملیتونو له پرګنو څخه د سیاست، فکر، علم، ادب او هنر په څانګو کې داسې نوميالي انسانان راپيدا شوي چې د هېواد او خلکو له پاره یې له ویاړنه ډکې کارنامې سرته رسولې. یا په فکري او د هنر ارزښتناکو تولیداتو یې عمرونه تېرکړي او موږ ته یې راپرې ایښي دي.

دغه رازپخې، پراخې او ګټورې او ډول ډول سودمن او ځلاند علمي، ادبي او هنري آثار او د غه ډول آثارو تولید وونکي، زموږ د اوسني او راتلونکي نوي نسل د پاره داسې یوه لویه پله ایه، ارزښتناکه او رنګارنګه فرهنګي پانګه تشکیلوي چې باید ویې پېژنو. ویې ساتو. ویې پالو او ورته وده ورکړو. ځکه موږ پوهېږو چې د افغانستان په شان د ولسونو او کثیر الملیت هېواد فرهنګ نوې کېدنه، پرمختیا او وده، تر هغه وخته پورې نه شي ممکن کېدای،

اوه ویشتم

چې زموږ د تیر فرهنګ تول ارزښتناک او مترقي مظاهر او ماثر، او د اوسنيو تولو ورونو ملیتونو دغنی او بډا یو فرهنګونو تولی ځلاندې ، ارزښتناکې او مترقي نمونې اوغنمنې سره نږدې ، همرنګه اوخپرې نه شی ۰ اکا هانه اوبلان شوي دې اوروزنې ته یې پاملنه ونه شی ، او د نوي تولنې د نوي فرهنګ دپاره دبنسټ په توګه ورڅخه کار وانه خیستل شي ۰

دافغانستان دخلك د دیموکراتیك ګوند د مرکزي کمیټې داوم پلینم په پریکړه لیك کې دافغانستان د تولو ملیتونو اولږه کیو د فرهنګ آزادې ، برابري او ودې ته پاملرنه شوې ده او په کې ویل شوي دي ۰ ( دثور پرتمین انقلاب زموږ دګرا ن اوخوږیدلی هیواد دنیك مرغی اوترقی په خا طر، په افغانستان کې د تولوهستوګنو ملیتونو اوقومونو دسوکالی اودفرهنګ دغوړیدلو ، اود هیواد د تولو زامنو په خا طر وشو ۰ )

له همدې املهده چې موږ د تیرو زما نو د سیاسی ، فکري، علمی ، ادبی او هنري شخصیتو نو اود دوي دآثارو نما نځنه کوو ۰ د دوي کار نامی ، د دوي افکار، ده وي آثارخلکو ته وربیژنو ۰ د دوي دکتورو اوبا ارزښتو هڅو کړه وړو ، او ابتکاري اوعلمی آثارو قدرکوو چې دخلکو له تولنیز ژوند انه سره، دخلکوله ارمانونو او هیلو سره ارتباط لري اوزموږ د نوې تولنې پرجوړیدو کې زموږ له زیار کښو خلکو سره سر سته کو لی شي ۰

ننهم په دې پرتمینه علمی غونډه کې چې د فرهنګي مرکزکې سره راټول شوي یو چې دګرا ن هیواد افغانستان ، د پښو پخوا نی معلم ، دامپریالیزم د دښمن اودخیل هیوا د دخیل واکې دبیرته ترلاسه کوونکو توریالی مبارز اودخپل وخت داستبداد یاو ارتجاعی مطلقه، سیاسی قدرت دضد قوتونو صمیمی لا رښو د اوملګري او دپښتو خوږ ژبی شاعر اولیکوال غلام محی الدین افغان نما نځنه وکړو ۰ دده پیژند ګلوي، دده دژوندانه ژوند پیښو، افکاراو آ ثار و څیړنه موږ ته د یره ګټوره ثابته شوه او یقین لرو چې د نوي تولنې اونوي فرهنګ په جو ړولو کې زموږ سره او زموږ د نجیبو ا وشر یفو خلکو سره مر سته کولا ی شی ۰

بله دې وي د پو هی پرتمینه د یوه !

# داستاد داوي لیک

ښاغلی محترم پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار صاحب !

السلام وعلیکم ورحمة الله .

ستاسو مبارک مکتوب ۲۸ ـ ۱۱ سنه ۶۰ راورسیدی. ستاسي معلومات صحیح دي . ما د مکتب دورځو څخه د مرحوم مولوي غلام محی الدین افغان د اشنایۍ شرف حاصل کړی و ، د هري جمعي په ورځ دده مرحوم په کورکي موږ اجتماع کوله چي یو تفریحي کلوب و . علاوه پر موسیقي او شطرنج پر وطني مسایلو موهم مذاکره او مشاوره کوله . مرحوم مولوي فتح محمد خان ارسلا او مرحوم عبدالجبار خان ارسلا هم ددې کلوب اعضا وه . رئیس د کلوب مولوي غلام محی الدین مرحوم و ، زه هم عضو وم .

دامان الله شاه د سلطنت په اوایلو کي مرحوم غلام محی الدین خان د کابل دښهر د مکاتب ابتدائیه رئیس مقرر سو ، د پښتو د ترقي کلک طرفدار و . د لوي وبا له امله چي په کابل کې پیدا شوي وه ، مرحوم وفات سو او د کابل په مقبره کې چي شهدا او صالحین نومیږي دفن سو . رحمة الله تعالی

مخلص عبدالهادي داوي

دهم حوت سنه ۱۳۶۰

پوهاند عبدالحی حبیبي

# مولوي عبدالواسع قندهاري

ټبر او کورنۍ: د قندهار د ښار د بامیزو په کوڅه کې د احمدشاه بابا له وخته د ملا بابړ مسه خېل کاکړ کورنۍ اوسېده، چې پخپله ملا بابړ د لوړ ژوب له مسه خېلو څخه د ۱۱۵۰ ق ۱۷۳۷ م په شاوخوا کې ژاړه قندهار ته راغلی و.

دی د قندهار لوی مدرس او د اسلامي علومو استاد و. او د هغه وخت په استادو کې د پوهانو مشر او د ښه علمي مقام او شهرت خاوند ګڼل سوی دی. لکه په یوه زړه شرعي او رسمي قباله کې د مرتضی خان پوپلزي په نامه په رجب ۱۱۹۳ ق د قندهار په شرعي محکمه کې د تیمورشاه د قاضي عبدالرحیم په محضر ثبت سوې او د ښاغلي عزیزالدین تکړه خطاط او هنرمند په درة الزمان کتاب ( ص۳۶۳ ) کې کټ مټ عکاس سوې ده. د ده د نامه سره دغه القاب کښل سوي دي: ( الشاهد بمافیه عالیحضرت فضایل و کمالات پناه ملا بابړ مدرس ) د دې قبالې تړوخته چې د ۱۱۹۳ ق کال د رجب میاشت وه. ملا بابړ په قندهار کې مشهور مدرس او د فضیلت څښتن عالم و. خو د ده د مرګ تاریخ او مدفن تراوسه ماته نه دی معلوم. داسې ښکاري چې د ملا بابړ په ژوندانه کې د ده زوی ملا فیض الله د احمدشاهي سلطنت د پای تخت لوی ملا او د شاه ولي خان صدراعظم د کورنۍ استاد و. او د بامیزو د کوڅې د زړې جامع سره چې په ( بادام خانه ) کې د صدراعظم کور و. هلته د شاه ولي خان د کور د څنګه ده ته د تدریس او هستوګنې لپاره کورونه جوړ سوي وو. چې تراوسه لا هم عیني کورونه پر هغه پخواني حال پاته دي.

ملا فیض الله د عربي، فارسي، پښتو مؤلف، شاعر او تکړه لیکوال و، چې په عربي ئې د منطقو یوه ابتدایي رساله د خپل زوی حبیب الله د زده کړې لپاره تألیف کړې او پر تجوید هم یو کتاب لري. د تحقیق التوبه رساله ئې په عربي کښلې ده چې خطي نسخې ئې د کابل په ملي ارشیف کې خوندي دي. او د ده د پښتو شعر یوه فصیحه او خوږه

ACKU

نمونه لرو . چې لومړی ئې پلاین یوه غزل د پښتانه شعرا د لومړي ټوک په پاڼکی په ۱۳۲۰ ش کال په کابل کی چاپ سوې ده .

فیض الله له تصوفه سره هم څه اړه درلوده او داسې ښکاري چې د میافقیرالله جلال آبادي سره ئې مکاتبه کوله او دغه د تصوف غټ پوهاند خپل یومفصل عربي مکتوب چې دعرفان پرمراتبو باندي یوه رساله ده . ده ده په غوښتنه لیکلی دی چې د میافقیرالله د مکتوباتو په مجموعه کی نمبر ۵۷ له ۲۲۳ مخه تر ۲۵۴ مخه پوري چاپ سوی دی .

د فیض الله اخوند زاده زوی مولوي حبیب الله چې په ((فاضل قند هاري)) مشهوردی په اصول، فقه، حدیث، منطق، هیئت او نجوم، اخلاق او تصوف کی په عربي، فارسي او پښتو ډیرکتابونه تألیف کړي دي . چې یو غټ کتاب یې ریاض المهندسین نومېږي او په دغه کتاب کی ئې د عالي ریاضیاتو لکه اقلیدس، اکر، مثلثات، نجوم، مرایا، ارصاد، زیج، تکسیرمناظر، هیئت او جغرافیاعلمي څیړنې په ښېروروضو کی سره راغونډي کړي دي . او ده ـ تألیفات ترنیمو سو پوري په نقلي او عقلي پوهنو کی رسیږي . وفات یې په قند هار کی په ۱۲۶۳ ق کال و .

د فاضل قند هاري زوی مولوي عبد الرحیم اخوند زاده هم لوی عالم او د کابل په بالاحصار کی د امیرشیرعلي خان د ولیعهد عبد الله جان استاد و . او د ۱۲۹۸ ق د شوال په میاشت چې امیر عبد الرحمن قند هار فتح کی . نوئې مولوي عبد الرحیم په خپله توره د خرقې شریفې د گنبدې په ـ مدخل کی وواژه . خود ده زوی مولوي عبد الرؤف بې کابل ته راوستا او د لته د شاهي مدرسی مدرس او د حضورملا او د قاضیانو ممتحن و . ( تولد قند هار صفر ۱۲۶۷ ق ـ وفات کابل ۱۶ شوال ۱۳۳۴ ق ) .

د مولوي عبد الرؤف تألیفات په دروژبو عربي، فارسي، پښتو ډیر دي، او په ۱۳۲۳ ق کال یې د سراج الاخبار افغانستان په نامه یو انجمن په کابل کی تأسیس کی . چې ډیر روښنفکران او پوهان پکښې وو . او په دغه نامه یې یوه لیمه میاشتېزه جریده هم خپره کړه . چې لومړی ـ شماره ئې په ۱۱ جنوري ۱۹۰۶ م د کابل په ماشین خانه کی چاپ سوې ده .

دغه سراج الاخبارفقط یوه شمار خپور سو . خو د هند پرحاکمو پرنگیانو ښه ونه لگېده او بېرته ئې بندکی . خو چې او ه کاله پس د مرحوم محمود طرزي په همت بیا بېرته ژوندی سو . خو مولوي عبد الرؤف پر پوهانو ډېر گران و، چې محمود طرزي ده د مرگ واقعه د خپل اخبار د پنځم کال په لومړی شماره (۴ سنبله ۱۲۹۴ ش) کی د موت العالم موت العالم ترعنوان

لاندي وليکله ۰ او بيايې په دوهمه شماره (۲۰ سنبله ۱۲۹٤ ش مخ ٦) کې د ده د شرح حال او د علمي شخصيت پرستاينه او د رحلت پرافسوسناکه واقعه د (يک خساره تأسف اور علمي) تر عنوان لاندي دا بيت کښلى و:

ازديده زمانه روانست جوي خون ای دیده زمانه بگوتا چه دیده یی

د قانون د لاري شهيد: په مولوي عبد الروف مشهور زوی مولوي عبد الواسع د ۱۲۹۰ ق کال په شاوخوا کي د قندهار ښار په هغو کوڅو کي زيږيدلى و، چې د ده د پلار او نيکه هستوګنځى و. علمي تحصيلات يې لخپله پلاره څخه کړي، او په اسلامي نقلي اوعقلي علومو کې يوڅو اونقاد استاد او ليکوال و. په عربي او فارسي او پښتو ئې شعروايه. تأليفونه لري. د قران مجود حافظ او د احاديثو او فقه او ادبي او بلاغي علومو اوهم د منطق، هيئت، رياضي، اصول فقه او دعر بي صرف او نحو لوى مدرس او نقاد ښوونکى و. په تدريجي يې خاصه طريقه لرله، او ګڼه وره طريقه د رلوده. د عرعلم لنډ اومهم متون به ئې پخپلو شاګردانو په لږ وخت کې زده کول.

مولوي عبد الواسع د ورو ستني افغانستان يعني د شلمي سدي د لومړي شليزي په فکري او ادبي اوعلمي غورځنګونو کې بشپړه برخه لري.

په دغو وختو کې د ځينو خوانو عالمو او فکورخطيبانو مبلغو ټولګه چې په له قندهاره کابل ته راغى، د دلته په د وطن دوستانو په جرګو کې شامل و. څو چې دلته يوه د له پوهان اود ملت په فکر رد من ځوانانو سره راټول سول او دائې سره وملله، چې د وي به د هيواد سياسي نظام له استبدادي او شخصي پاچهي څخه د ملي حاکميت او مشروطيت پر خوا راار وي.

د مولوي عبد الواسع سياسي عقيده د قرآن اوسنت پربنا داوه، چې په اسلام کې مطلقه او بې واکې غير مشروطه حکمراني نسته او نه اسلامي خلافت ارثي دی، بلکې اولوالامر د لياقت او پوهې اوفقاهت پر اساس ټاکل کيږي. نو ځکه بايد دافغانستان امارت مشروط اومقيد او تر اسلامي قانون لاندي يوي.

پر دغه فکر د هغه وخت روښنفکران لکه مولوي محمد سرور واصف قندهاري، د قندهار کاکا سيد احمد لودين، سعد الله خان د واصف ورور، محمد ايوب خان پوپلزي، جوهر شاه غوربندي، تاج محمد خان بلوڅ، محمد عثمان پرواني، لعل محمد خان کابلي، مير قاسم خان لغماني او نور وطن خواهان هم سر راټول سوي وو، چې دغه حرکت ته موږ لومړی مشروطيت يا ځوان افغان وايو، چې دوی پخپله ځانونه (جان نثاران ملت) بلل او هم له دغو حروفو څخه د ابجد په حساب، د دوی د قرباني د کال ١٣٢٦ ق تاريخ راوزي.

جان نثاران ملت خوداسي نوم دی، چې د دوی له حاله سر ټسم دی. ځکه چې

د ویبخښنی د دغی لاری قربانی پایه سپا ، سنګ کی په توپ والوزول سوه. اوباته یی دامیر د بند پ خانو توروکو تو تــه ورارتا وسول ، چی نورو ملګرو به ئی و یل :
بنا کردن خوش رسم بخاك وخون غلطیدن خدا رحمت کندان عاشقان پاك طینت را
د جان نثاران ملت یغند اکارګ له کی مولوي عبد الواسع اود ده کشر ورور مولوي عبد الرب هــم د جیل توروګورتو وته وسپارل سو، اوهغه زحمتونئی ولیدل ، چی چا به ویل :
بشب نشینی زندانیان بدم حسرت که نقل مجلس شان دانه های زنجیر است .
مولوي عبد الواسع ترد پ ازمینت وروسته هم پخپلو فصیحو اوبلیغو خطبوکی خلکوته اسلامی حقایق څرګند ول اوتل یــی دادعا وه چی : اللهم اصلح الرعاة والرعیــه ...
مولوي د اسلام سیاست اوامارت پهشرح کی د وه کتــابه کښلی دي، چی یوحکمت اسلامی اوبل حکومت اسلامی نومیږي. دلومړي کتاب یومخطی نسخه خوشبختانه دکابل دملی ارشیف په نمبر۲۸ر۷ خوندي ده . دامفید کتاب د ۱۳۳٤ ق د ربیع الثانی په میاشت کی تالیف سویدي اودي وایــی چی : (یك رساله علیحده مسمی بحکومت اسلامی هم تحریر شده است.....)
مګر ددي دوهمی رسالی کومه نسخه ما نه ده لیدلی .
په حکومت اسلامی کی د مؤلف د اتینګه عقیده ده، چی د انسان اوحیوان فرق یوازي په علم اودانش دي ، اود انسان دکورود انئ اود هغی دکرپاصلاح اوخیر ازي هم په یوهی پــور پ اړطري تــود پیغمبرانوبعث اود آسمانی کتابونزول هم دعلم اوحکمت د ښوونی لپاره دي .
دقرانی حکــمت اصول دادي :
۱ــ په انسانی اجتماع کی دامر اوبامور، حاکم اومحکوم تاکنه، چی د هرعلم اوفن غټ اوشبیر پوهاند یعد هغه تق پهسرکــی ګمارل کیږي، اونوربه دد ه پهڅوله کوي .اودیبهی دخیل بشیر علم په رڼاکی لارښونه کوي . دامطلب دحکومت اسلامی په رساله کی شرح سوي دي .
۲ــ په اسلامی مملکتکی به د ښوونی اوروزنی اود نورو صنعتو نو د زد مکړي لاري چارپیلقرآنی لار ښــوونو ســره سمی وي .
۳ــ قرآنی علوم دي دغیرضروري زده کړو څخه رابیلــ سی ، چی د مسلمانانو اوقات په ناضروروچارو کــی ضایع نـــسی .
٤ــ د تولوښوونو اوکمالاتو اوصنعتو اوفنی مما رفونومونه اواصطلاحات دي په قرآنی تعبیرونو او الفاظو معنون کړسی ، څچی د پرزده کوونکو باندي ئی تل قرآنی روحانیت غالب وي .
۰ــ اسلامی ملت په تل د اتحاد اوترقی پرخوا دامرمعروف اونهی منکربه رڼاکی روان وي اودا به دخپلوټولو روحانی اوجسمانی نا روغیو درملګی .

د مولوي‌دعلمی او اسلامی څېړنوپه بله فکرپېلوشه داوه، چې هیڅ ملت بې قانونه ژوند نشي کولای‌او په ځېله د اسلامی مملکت لپاره بوشېېرمترقی قانون دی چې په د هرزمانې انسان هم ځپله دنیا سمولای شي او هم دا خرت ګټه کولای شي ۰

دده دانظرهغه وخت دتطبیق لاره موندله، چې اعلیحضرت امان‌الله خان افغانستا ن مستقل کړ ۰ اومولوي‌صیب لقند هاره په ۱۲۹۹ شمسی کال راوغوښت اوپه وزارت‌عدلیه‌کې ئې د قوانینو په جوړو لو وګمارل ۰

دلته دعثمانی ترکی‌دولت څخه دوه تنه پوهان‌جمال پاشا ( مقتول ۱۳۰۱ ش) او بدر بې- بېګ مړپه کابل‌کی ( ۱۳۰۲ ش) هم‌کابل ته راغلی و، چې دقانونیه تدوین‌کې ئې تجربه اومهارت درلود ۰ اود مولوي‌وظیفه دوي‌په ملګرېکی داوه، چې مدنی اونوي‌قوانین‌د اسلامی شریعت اوحنفی مذهب سره تطبیق کاندي ۰

موږ ګورو، چې تر ۱۲۹۹ ش‌وروسته په امانی دوره کې چې کوم نظامنامی نشرسوي‌دي ۰ دهغو په پای‌کی دخادم‌العلماء محمدعبدالواسع قند هاري‌امضاء ده ۰ په دغه‌سلسله کی دده یولوی علمی کارچی د الازهرعلماء ووهم‌په دریمسترګه ورته کتلی و ۰ د تمسك القضاة امانیه د ووتوکوتاء لیف دي ۰، چې لومړي توك ئې حقوق‌اود وهم‌توك دجزابیان‌دي ۰ دغه د وهم توك پومقدمه اود وه کتابه لري ۰چې لومړي‌کتاب دحد ود وبیانیه خلورو بابوکی‌لري ۰ امادوهم‌کتاب دجناياتو بيا ن دي، په خلوربابه کی ۰چې‌ګرده کتاب په ۱۸٤ مخو او ۱۱۱۳ ماد وکی چاپ سوي اومقدمه ئې داعلیحضرت امان‌الله خان‌په محرمیت د ، او په پای‌کی ئې داسی کښلی دي( المؤلف خادم العلماء محمدعبدالواسع قند هاري عفي عنه سنه ۱۳٤۰ قمري ۰ )

داکتاب ګرده دوه زره جلده دکابل‌په سنګی مطبعه کی په ۱۳۰۰ شمسی چاپ سو، اود ا معلومه نده، چې دکتاب لومړۍبرخه( حقوق ) چاپ‌سو ۰که په ؟ خود وئی معلومه ده ، چې د مرحوم مؤ لف په خط ئې اصله مسود ه دده په کورنۍ کی سته ۰

مؤ لف هیڅ شرعی‌حکم بې له حوالی نه کاږي ، بلکی دحنفی مذهب دمقدمی لومړی ماده د ا سی ده :

حد درلغت بمعنی منع ست ود رشریعت عقوبت مقد ره کهحق خدای تعالی باشد ا نرا حدګویند ۰لهذا قصاص‌حد نیست ۰زیراکه‌حق‌عبد است ونیزتعزیر راحد نمیګویند ۰ زیرا عقوبت مقدره نیست ( هدايه ص ٥ )

دافغانستان‌ملت روزونکی اوخیرغوښتونکی پاچا غازي امان‌الله علیه‌الرحمه دکتاب په سریزه کی داسی لیکلی :



ACKU

((اما بعد : راعی عبدالله وحامی بلاده الغازي امیرامان الله ، پادشاه دولت مستقله اسلامیه خداداد افغانستان ... واضح میدارد که ترقیات دین و دنیای دول و ملل اسلامیه .... مشروط اجرای احکام محکمه قرآنی ومربوط امضای قواعد حقه آسمانی است. بنا برین ... خواستم که درممالک محروسه دولت خداداد مستقله افغانستان حکم غیرخدا نافذ وامری بجز شریعت حاکم نباشد . و چون کتب فقیه این زمان دارای اقوال وروایات بزبان عربی بوده ، استخراج حکم معلوم الصحه هرحادثه ازآنها صعوبتی دارد بکه ازعموم حکام وکارداران دولت بلکه ازخصوص سایرقضاة ومفتیان امید کرده نمیشود ، امرفرمودم تا علمای حضوری روایات صحیحه مذهب مهذب حنفی رامطابق معمول فرصت حال ، یکجا کرده و بزبان فارسی مدون نمایند ، حسب الحکم کتاب تمسک القضاة الامانیه راتدوین ساخته ، کل مسایل وروایات ان بنظر دقت شاهانه ام رسیده حکم فرمودم که قضات محاکم حقوق وجزا وحکام ادارات عدلیه ... درفیصله دعاوي ومرافعات احکام مندرجه کتاب موصوف رامعمول داشته ، ازروایات دیگرکتب و مجموعات صرف نظر نمایند ....(ص ۳)

(پـه دي ډيګرن وس : الغازي امیرامان الله ۱۳۰۱)

مولوي په دغه دوره کی د مکتب حکام نګران او د مکتب دارالقضات الامانیه مشرهم و، اود دغو مکتبو په تدریس ئي لیفاتو کی یی دغه رسالی کبلی او چاپ کړي دي :

۱ـ تفسیروایضاح نود ونه قاعده فقهیه ۱۸۹ ماده ٦٤ مخه دکابل سنګی چاپ ۱۳۰۰ ش

۲ـ کلیات واصطلاحات فقهیه برای نصاب قضات محاکم مرافعه ۳٦ مخه دکابل سنګی چاپ اول جدي ۱۳۰۰ ش.

۳ـ رساله شناخت خدا ۳۰ مخه دالله تعالی داسما لحسنی معانی اوفواید دکابل چاپ ۱۳۰۰ ش.

٤ـ عنوان اساسی دینیات د رمضمون تعلیمی فلسفه اسلامی قرآنی ۸٤ مخه دکابل چاپ ۱۳۰۰ ش

مولوي عبد الواسع د دغو تقنینی او تعلیمی وظایفو وروسته د حینو مغرضوما مورینو د خرابکاری په سبب له عدلی او تعلیمی کاروخخه بیل سو ، او که چی دارګ په برج شمالی کښی پښتو مرکه جوړه سوه (عقرب ۱۳۰۱ ش اکتوبر ۱۹۲۲ م) نو دی ئی په ریاست مقرر سو چی د مرکی د تاسیس لوم ړی اعلان د ده په امضا خپور سو . په دغه ریاست کی د ده سره عبد الرحمن لودین ( د وهم رئیس) لالامحمد زمان خان طرزي محمد الوهاب کاموي ( د انګریزي ترجمان) اوځنی کشران لکه عبد الله افغانی نویس او ملا پاچامیرخوګیانی اوعبد ـ

الخالق واسعی هم ګارګوونکی غړی و .

په دې ریاست کې د د مترنظرلاندې یوازینی پښتواو د پښتو پښتو یکتابونه چاپ سول او یو د پښتو قاموس هم عبد الرحمن لودین وکیښی . چې هغه وخت چاپ نسو . د راورتي پښتوګرامر اومقدمه یې . په فارسي ترجمه سوه .

د ۱۳۰۲ ش کال په ژمي د دولت په تشکیلاتو کې یو د محاکماتو ریاست نوی جوړ سو . چې پهمر یاست ئې مولوي عبد الواسع وټاکل سو . او پرځای ئې عبد الرحمن لودین د پښتو مرکس رئیس مقرر سو .

مولوي به ګله ګله د جمعی په ورځ د کابل د پل خشتي ماجت کې خلکوته تبلیغ کاوه د ۱۳۰۳ ش کال په یوه خطبه کې ده دا خبره وخیږله . چې اولوالامري په لیاقت اولوړ شخصیت پوري اړه لري . د هري پیشي اومسلک اوهرفن اوصنعت ماهر او پوه سړي باید د نوروشروي . چې له ده څخه هغه هنراو پیشه یاصنعت اوحرفت زده کړي . په سیاست اوجهانداری کې هم هغه څوک د مشری اوتقلید وړ دي . چې په دغو اصولو ښه پوهیږي . اوپوره عالم اوماهروي . او اذ اتوسد الامرالی غیراهله فانتظرالساعه . . که کار تا اهل اوناپوه ته وسپارل سي ، پروخ نه ځی ، بلکې وران څنې پیښیږي . . .

خبیثت
ځینونا اهلو اومغرضو د ر بار یانو د اخبره په بد ډول پاچا ته ورسوله . او مولوی ئې وا د کابل د کوتوالی په توقیف خانه کې ئې بند یکی . چې په سله د وه کاله ایله سو او قند هار ته ولاړ . او هلته ئې هم په تدریس اوتبلیغ عمر تیراوه .

کله چې د انګریزانو په لمسون په ۱۳۰۷ ش کال په وطن کې د ارتجاع حرکت د اماني غورځنګ په مقابل کې شروع سو . مولوي د امان الله خان په حمایت کې فتوا صادره کړه او د قند هار ګن علما . ئې په دې قانع کړل . چې د غه فتوا امضا کړي . ځکه چې شرعاً د بچه سقا رژیم یو متغلب او مرتجع اوناهل باغی رژیم و .

د انګریزانو د سیسو پر اماني افغانستان باندې د توري کار وکی . او د امان الله غوندي ترقی غوښتونکی اوغازي پاچا پرځای د بچه سقاو مرتجع ونا بینا حکومت راوستل سو . او کله چې د ۱۳۰۸ ش په تجوزاکی د غی ناپوهی دولی قند هار هم ونیو . نوی مولوي عبد الواسع په دې جرم چې د مملکت لپاره ئې نظامنامې جوړې کړي اوقوانین ئې راایستلی وو . په قند هار کې ونیو او کابل ته ئې راوست . بچه سقاو ورته وویل : چې تا پرما د کفر حکم کړی . د ی . نو ځکه تا وژنم . مولوي په لوړ ږغ جواب ورکی . چې استغفرالله ! زه پراهل قبله د کفر حکم نه کوم . مګرته خوقاطع الطریق یې ، باید لاس و پښه دي شرعاً پرې سي .



ACKU

هغه و · چې د پچه سقاو په امر د کابل په سیاه سنګک د والي علي احمد خان سره یو ځای په توپ کی والوزل سو · نو د ی په دې مملکتکی د نظام او قانون جوړ ولواو یوه مترقي کیسه ورحرکت د لاري شهید ګڼل کیږ ي ·

((علیـه الرحمه وا لــرضـــوا ن ))

د پښتو یو مفکر شاعر: له چی مولوي خپل اجتماعی ، سیاسی او ملی افکار په خپلو فارسی تا لیفونو کی ځای کړ ي او د وطن روښن فکرانو لاز یوونه یی کړ ي د ه ، له همغی د غه خپل اجتماعی عقید ه او فکر په پښتو منظو موکی هم ښکاره کاوه · له چی د مملکت په پخوانو نشراتو کی چی د د ه ځنی شعرونه چاپ سوي هم د ي ·

مګرد ا باید وویل سی ، چی د مولوي منظوما ت د شعرو یلو په نیت نه وو · بلکی د ه پښتو نظمونه د خپلو نظر یاتو او اجتماعی او سیاسی او اصلاحی عقاید و د څرګندونی لپاره استعمالول نو ځکه د د ه پر منظو مو باند ی اجتماعی او اصلاحی رنګ غالب د ی او تبلیغی څنګ ئی ترشاعرانه رنګ ډیر ه ښکاري او د اهغه د فکر مکتب د ی ، چی د د یوه بل معاصر عالم او ادیب عبد الباقی افغان هم په خپل منظوم مثنوي تبیین الواجبات کی پاللی د ی ·

د الاند ي اوږ د ه اجتماعی منظومه ، چی د د ه د فکري سیرا و اجتماعی عقاید ښیی ، تراوسه ند ه نشر سوي · په ۱۳۰۵ ش کال چی د ه د غه منظومه جوړ ه کړ ه ، ما پرد ه د عروض یو کتاب د شاګرد په توګه لوست · د ه خپله مسود ه ما ته راکړ ه ، چی پاک ئی نو یسه کړم ·

د ا مسود ه د د ه په خپل خط ۵۵ کاله زما سره پاته سوه ، او اوس ئی نشر ته سپارم ·

(خد ا رحمت کند این عاشقان پاک طینت را ))

و تعاونوا علی البر والتقـــو ی

| | |
|---|---|
| د هونیا ر سړ ي فطري د اوظیفه د ه | چی خبره د حکمت د د ه غوښتنــه د ه |
| شپه و ورځ ئی د حکمت طلب مطلب | که یوګه د د ي مطلب د ی په طلـــب |
| هر چیري چی (۱) د حکمت خبره نده | هم هغه ځای لپر سړ ی نه پر یونګ |
| فرق پر نسته چی د چا ، یا چا د خولی د ه | چی حکمت و ، د د ه د ین د نیا هوري د ه |
| د د ښمن له خولی کې (۲) خپل مقصد اد ا سی | د ښمنی سی ځنی هیره په خند ا ســـی |
| اوکې (۳) د وست کړ ي بی حکمته حرکت | د وستی کی ګډ نه غواړ ي برکـــت |
| د اخاصه د سړ ي شوب د ه په اجماع | د خلاف په د ي کی نسته هیڅ سمـــاع |

---

(۱) ـ چیری ئی · (۲)(۳) ـ که ئی ·

د دلیل او د برهان احتیاج یې نشته — وجداني ذوق قبلیږي نه په لوستـه
اوکه ستا وجدان ئې نه قبلوي ورور ه ! — پرد مواخله له وجدا نه بیا یې گوره
دا وجدان وجدان چې موږ یې ژبه بولو — په مجمع کې دعوا نا نو ، د ا موږ لو
دا وجدان نه دی خواهش د طبیعت دی — تحریفونه د الفا ظو لوی آفت دی
که وجدان د سړیتوب وای دا خوا هش — اتفاق به وو ، پر حسن او نکو هش
زما مدح په ستاینغوږ هیڅکله نه وو — بد د ټول انسان به بد ، او ښه به ښه وو
د اخلاف بې وجداني دی پیدا کړی — طبیعت د خپل خواهش نو ادا کړی
که سړیتوب اول کار مې د وجدا ن سو — چې وجدان پیدا سو، ټوله کار اسا ن سو
که وجدان وای جنگ به جیړې ورمخکـه — که وجدان وای، خوږ به نه و ستا په ورکه
که وجدان وای ټول حقوق به مواد ا وو — پرد نیا به نه بد ای او نه گد ا وو
که وجدان وای زما وته یو، یو انسا ن — ولي زما کیس کړ با س د ی ستا دا سا ن
که وجدان وای عالم ټوله به یکسان وای — جلوه گر به پرد نیا خو ی دانسان وای
عموم وفاق ، وحدت ، خلت ، رحمت — پر عالم به جلوه گر وو ، نه زحمـت
که وجدان وای ، اسلام کفر به له څه وه — ما وتـا به ټول هغه کول چې ښه وو
که وجدان وای ، نه مرې و ، نه افـا — نه زه تاته وم په عرض او په غرغـا
عالم ټول بې وجداني دی رسوا کړی — هر سړي وجدان په طبع سودا کړی
طبایع چې مختلف دي پیدا سوي — هم هغه دي دعا لم مقتدا سوي
مخامخ په دم قدم کی اختلاف سو — پر عالم چا پېر نزاع سوا و خلاف سو
په علاج د د ې طبعي خلاف کې یاره ! — قوا نین د عدالت را غله سپا ره
چې دانع د طبیعي خلاف سې گوره — وجداني وحدت پیدا کي لور دلوره
اوس معلوم سو، د وجدانه قانون دان دي — بې قانون چې هر سړی دی بې وجدان دی
زه به خپل ظاهر باطن پر قانون عرض کړم — کې قبول کړه ، ذ و وجدانه به عهان فرض کړم
او که ټول قانون غرېبې اوزه د شرق و م — د وجد ان نوم مې حرام ، که ا هل غرق وم

x x x

چیرې تلمه ، چیرته راغلم څه راکېږي — تر خبرې پورې بل خبر یا د یېږي
مطلب دا و چې سړي حکمت طلب دي — سړي نه دي څوک چې نه یې د مطلب دي
حکمتونه د مخلوق هر گوره ډېر دي — تر حساب اوتر کتاب او تر شمار تېر دي
هر سړی مکلف نه دی په د ي وار و — نو به اوس د پېر طلب یو حکمت غوار و

چې منبع د سعادت د هر انسان وي ... نتیجه ئې په معاش معاد یکسان وي
قاصر فکر یې په هره خوا جولان کـــــې ... چې پیدا حکمت د نوع د انسان کـــې
په عالم کې بل شی نه را معلومیـــــږي ... بې له دې چې (تعاون) ئې نوم یادیږي
که ته هم د عقلي فکر اعمال وکــــې (۳) ... تخطئـه زما د قاصر فکر به نـه کـــې
شاو خوا چې سعادات د انسان گوري ... بې بهاد تعاون به ئې نه پلور ي !
تعاون دی چې اساس ئې د معـــاش ... پر عالم کښې په حرفت او صنعت فـاش
تعاون دی چې سری هوا پیما ســو ... تعاون دی چې صانع سړی په هوا ســو
تعاون دی چې اسرار تر ټوله پیدا ســو ... تعاون دی چې ژړاند گل په خندا ســوه
تعاون دی چې مطلوب ئې ټول غالب کړه ... تعاون دی چې مطلوب ئې ټول طالب کړه
الحاصل بې تعاونه د هم جنـــــســو ... هیڅوک هیڅ کولای نس له مــوږ انـــو

داخبره هم تحقیق ده بې لـه شکه
هر انسان به عقیده لري پر کلکـــه

اوس نو ځان ته وایم : تې هم پخوا روه ... (که د پلار به مې وه ژرنده هم په وار وه)
وهرچا ته به مې وار ورکاوه پـــلار ... زما نه ولې سو خطا د ټولو وار
ژرنده ځرخم د یو ځان پرمښتـــــک ... ځکه کې تو کړ تو کړې خپل خښتـــک
نه له کوره نه لګلې پټې غـــوا پړم ... که څوک ږغ را وکې کوڼ سم سرو نغاړم
د خپل خیال اته اوړه مې دي په جوا لکې ... باد په لاس خاوري پر سر یم په هر کال کې
بالا اب د ژرندي ځکه له اوچـــوي ... ځرخ تیار تیر هم پرسپور گلوهم نوي
ته سنگ و بالاسنگ د واړه المـــاس ... او لمر تر ټوله زما د ژرندي په وســواس
ورته پروت په د کلو کلوا بروي ( ٤ ) ... بلې ژرندي له کې وري بد ئې اثــروي
زما نخوت له تعاونه په نفرت دي . ... په کریا به ژرنـده خوښ دا مې فطرت دي
او لمر تر ټولو مې محروم کړه له ده ژرند ي ... په نهنو شپه تیروي وږونه او خونـد ي
په یوه سرې اتې دې هریا کـــړي . ... یک جانه مې بـــو اوز د صف دي د رول .
په نخوت او په غرور د ځان خوشحال یم ... چې د ژرنـده یته وگورم په بل حال بـم
ځکه بیه واله . څه د ول ځغښه کښې ده ! ... څه تاسنگ څه بالاسنگ څه ټکټکې ده !

---

(۳) ـ وکې ـ وکړي . ٤ ـ ابـر : هغه غنم چې ژرنده ته د اوړه کولو لپاره راوړل ســوي وي .



ACKU

څه ښه ښه ئې د خالق ښکلو خيـــــوي    پر پارچاو باندې او به څه ښه شورېـــږي
فکر نسته چې حاصل د ژرندې څه دى ؛    د بهار او شور شورى ئې په څه ښه دى
په مزد ځای کې خوارې دي يا غنـــم    د جوال مزد مې په اتم دى، که لســم
ځي کوم دا د بهارى او ښکتـــه ګ    چې په ټولو ژرنده نه پايې مـوږ ګ

هره ورځ مې تر پرون د ورې لږ يږي
د پرون غرې مې نن ښيتې کيــږي

که چاږ غوږ کړ چې دا ژرنده کړ يا بــه    زه سوتي پرځر خم که رم ئې بې آبـه
ځانځانې موجوده کړي هرسړى ي ده    زه د ځان يم ته د ځان ، دا مومرد ې ده
سرچشمه د سعادت تعاون پــاته    زه وتاته وايم چپ اوته و مـــاته
په سکوت سکوت کې دين دنيا خطا سوه    نه حرفت نه موصنعت نه موعطا ســوه
ملانې اخند ته مه وايه چې بد کـړي    پلانې خان ته به په ځو وايې چې رد کړي
نوي ځوان ګله طاقت لري د پنـــد    زوړ بوډا اخوا رګی څه کوي بې خونـد
لو يه ږ يره له هلکه سره لو يـــږي    پرې ئې زده غبلې بازي ته نه شرميږي
په جنګيود ېڅه کاردى اې بې کــاره !    په ځوانانو ښځومه سي خبر د ا ر ه
اديګانې دې حقداري پر مـــوږ ټولو    که دوي بدګوي موږ ټولېږي(٥) ښه بولو
زوره ورته لاهم ځوک رښتيا وينا کـــي    ليمونې وي مګر ځان په مبتــلا کـــي
صم بکم عمی فهم لايعقـــدون(٦)    ورېږي تږي خوار و زار مطلوب ږبون
حسن وقبح له ماورګ سوه ليونـــی يم    زيانو ګټه راته يوسوه بهولـــی يـــم
تعاون له قبیلی له قومه ورګ ســـو    لو يې ږ يري مګر کار يو د هلاک ســـو
زه ښځله د غفلت په خوب ود ه يـــم    د نخوت شراب مې ځښلي سرګرده يــم
بل ځوک نسته چې ارام مې وېښ کی(٧)    پرتندي مې را پتهٔ د علاج سر ښکـــي
زما خوبولی سراسرګټه د ځا ن    اثر بااواعزه او ټول خپلــــوا ن
وجدان نسته چې معلوم کړي چې زه ځوګ يم    دکم سازد ترانې د پاره کــو ک يم
زما تعطيل غفلت نخوت که څه يوان دي    د عالم عالم مادې معنوي زيان دى
ستا دي زهر سي خوارې اې زما قريبـــه !    چې په ځان د پيعالم کي بې نصيبـه
لو ى د ښمن زما و ځانته يې اې يــاره !    په چم چم دې کړم هلاک زما دلداره !

---

(٥) بې = به ئې . (٦) يعنې کاڼه ګنګ . ړانده دوي لار نه مومي . (٧) کې = کړي .

زه وده یم ته پرما للوري وایس !   زه هلاک ابدي سوم، ته مي ستایې !
که زه ویښ سوم په والله مي دی قسم   چې په اورکې به د چې پښوکې وسوروم
ما به څوک ویښ کې، یارانو الغیاث   فرصت لږ یرتیرسو، ځوانانو الغیاث
څه سوه اهل د حکمت د تعاون   چې خپل ځان یې وي هیرکړي، لاپرون
زما په ویښه کې فدا کې د اخپل ځان   زما په ګټه کې قبول کې (۸) هرڅه زیان
کارخانه د تعاون راته برپا کې (۸)   په برقي قوه ما ویل کې، پیامي ماکې (۸)
پوهنداره ماته راکې راست نمایشه   چې ښکاره کې ماته ځان، بې ارا یشه
د نخوت او د غرور له رنګه پاک   راته و ښیې زما ځان او زما ادراک
کمې ولید مخ په داسې پوهنداره   تجلي به مې ورګوري وارد واره
زه طلب د دې هنداري کړم له تاسې   د بلاله ګوره، ما که څوک و باسي
زه په لمرسم ټول جهان به کړم رڼا   تاریکه به پاته نسي پر دنیا
داهنداره د هرچا په ګورکې سته د ه   مګر داچې په زنګارو اغشته ده
زنګار څه دي ځانځاني خپل مطلبي   زه اخوند، ته سوې اغا، داسوه بې بسې
په قانون د تعاون انساني - - - -   نه اخوند سته، نه اغا، نه ځانځاني
که تا بیه ګول، زه ستا فرمانبرداریم   پخپل سر و مال ولاړ، او فدا کاریم
که ما بدګول ته هیڅ نه یې معذور   څوچې زما بدي له مانه نکړې د ور
ځان و مال او اولاد په ټول زما په تهذیب کې   صدقه کړې، زما به هرڅه په نصیب کې (۹)
که دا پابد تعاون پرعالم خلاصې   بد یې ده چې سرې به ټول خواص سي
تعاون په معظا وو کس اساس د ی .   بیا همت په تعاون کې زموږ په لاس د ی .
هرقدر چې ترقي ده په دنیا کې   تعاون هغه قدر دی په ادا کې

دا ښکاره چې تعاون انساني
هم په دین او دنیا تلري ثاني

نو پښتونه ! دا بخت ته اول وغواړه   زما خوارې ودې وینا ته کښیږده غاړه
زموږ په ګورکې پوهنداره ده زړه   هیڅ زنګار و رته لاړ تلري رڼه
هرشي ښه په کښې معلوم دي په تحقیق   د سبا حال ئې پرون کړی تصدیق
له پلرو را پاته سوې ده له فخره   او س په دوړ و کې پرته، زما په بخره
زما پوازې هیڅ نوه نه په رسیږي   دمړو مړانه غواړي چې جګیږي

(۸) کې = کړي .   (۹) کې = کړې .

راسه کښېنئ زده وپرسر دلوړ چارسو

ټول عالم کښېنئ وګورو له چار سو

پښتو لیکوال بهرابنکاره شي له دورا — نورو ښځه به معلوم شي اشکارا

ګټه، زیان به افتابي شي وجهان ته — هم غالب، مغلوب به ووزي عیان ته

وظیفه دتعاون به وپېژندل ی شي — دانسان افراد به ټول له خوشنماي شي

صلح ګل او ترقي چي څه ممکن وي — دعالم دپاره هرڅه چي محسن وي

داهنداري(۱۰) په رشتیا ووز ته نمائي — هرڅه وايي، دروغ نسته، رشتیا وائي

دا جهان ګرده صدقه تردي هنداره

چي ښکاره به کړي ووږ ته سمه لاره.

((قندهار ۱٦ جدي ۱۳۰۵ ش))

---

(۱)ـ هنداري = هنداره ئي.

پوهاند رشاد

# جمریانی افغان

جمریانی : یوکاسمیر پښتنو کې یوه پښه د جمریانی Jamarani په نامه یادیږي، خو په زیاترو کتابو کې د (زمریانی) په نوم ولیکل شوه او یاسنی پښتانه یې (زمریانی) بولي ۰ کاسي پښتانه د سړبن په تولنیزه توګه له social group کسی د خرښبون په ښاخ کې بیږي (۱) ۰ شیرمحمد ګنډاپور سل کاله پخوا په افغانستان کې د جمریانیو شمیر تقریبا یوزر کوره ښودلی دی او دا یې هم زیاته کړې ده چې جمریانی د توخیو (توخو) ستانه دي ۰ یو برد توخیو په سیمه کې اوس اوله کابله شخه تر کندهاره پورې په زیاترو کلیو (کلو) کې دوه دریې کوره جمریانی میشته دي (۲) ۰ په جمریانیو کې حسین خیل ستانه دي ۰

حسین خیل : په اوومه هجري سده کې د شمیر جمریانی زوی (حسین) لوی بزرګ تیر سوی دی ۰ دی په تورانو غلجیو (هوتک، توخی) کې میشت و ۰ د شیخ متی خلیل رحمت الله علیه (۶۲۲ ـ ۶۸۸ هـ ق) له زوی یوسف ظاهر پیر سره یې مکابره پېښه سوې ده (۳) ۰ للی ترکي د ده له خلیفه ګانو شخه و ۰ (۴)

د حسین نیکه زیارت په (کوندر) کې دی (۵) کوچنیان چې د کوندر پر لاره پر ابس وابس ...

(۱) د خوریه چخچران کې (کاسی دره) د پښتنو تاریخي تاتوبی (کسي غر) د الپشتګین په سرکې (کس ګر) د ابن جغرافیه یی نوموړی چې د کاسي قبیلې لپاره مشره یې اړیکې نه ښکاري ۰ معنی کسانیه کاشمیر (کشمیر) او کاشغر کې هم د غه نوم داخل ګني ۰ (۲) وګ تواریخ خورشید جهان ۲۲۲ مخ د لاهور چاپ ۱۳۱۱ هـ ق ۰ (۳) د یوسف ظاهر پیر زیارت پکلات کې دی ۰ (۴) للی زی ترکي د دغللی نیکه اولاد دی ۰ (۵) کوندر د وازیخوا په شرق کې د وزیرو او منډ وخیلو ترمنځ پروت دی کله چې هر کوچیان تیریږي اسماعیل خان تخت لګوی چې بارس پکوندر کې اړوي ـ له کوندر شخه چې بارس په چهند پې کې اړوي ۰

د ده د اروا خوښنی لپاره یوه سره (قربانی) کوي ــ کوچیان خیل د راتلونکي (بارونه) هم په دغه زیارت کی پریږدي ، هیڅوک غلا نه شي ورپسې اوتر څو چې ئې خپل خاوندان راشي امانت پراته وي ــ ویل کیږي چې د شیخ حسین نیکه (رح) د زیارت له ونو لږ ترلږه څوک لښته هم نه پریکوي .

د دغه حسین نیکه اولاده د حسین خیلو جمریانو په نامه شهرت لري . د لوګرد موسی باباصاحب (فیض محمد) اخوند زاده (۱۳۱۹ هـ ق مړ) حسین خیل جمریانی دي (۶) د ده اولاد مې د لوګر په کوم کلی کی اوس په خوا دغګلی د (قول طغان) په نامه یادیږي ، اوس پس حسین خیل بولی .

زموږ تر بحث لاندي ادیب او مفکر مولوي غلام محی الدین خان افغان (۱۳۳۹ هـ ق مړ ) هم له حسین خیلو جمر یانو څخه دي . (۷)

<u>د مولوي غلام محی الدین افغان روزونکي</u> : د ۱۲۷۹ هـ ق کال شا وخوا وه چې مولوي غلام محی الدین افغان د کندهار په احمد شاهي ښار کی وزیږید ، ده لاکوچنی وچې بې پلاره (یتیم) سو ، روزنه یې مهربان تره (اکا) ته ورتر غاړې سوله او هغه هم د خپل زوی په شان و روزه .

د غلام محی الدین تره په کندهار کی په (بادار) مشهور و ، د چاله خولې چې زه د اروایت لیکم هغه ته نه وه معلومه چې (بادار) د ده اصلی نوم و ، که د وستانوله د رنا ویانازه څخه (بادار) باله ، کله داس هم پیښیږي چې د چا تکیه کلام د هغه خطاب سي ، کیدای سی چې دا به پس تکیه کلام وي .

راویان وایی ــ د ۱۲۷۸ هـ ق کال د لوی اختر د میاشتی په اتمه (۲۷ مې ۱۸۶۳ ع) چې امیر دوست محمد خان په هرات کی مړ و (۸) او سردار شیر علیخان یې پرځای امیر سو ، د ا ر و ا ــ

(۶) فیض محمد اخوند زاده د ملا مخول اخوند زاده زوی مل بار کل اخوند زاده ، لمسی او د ملا اختر اخوند کړوسی د پسوات د باباجی (ملا عبدالغفور اخوند کندهاری ۱۲۹۵ هـ ق مړ) خلیفه و ، د لوګر په (شغلان) نومی ځای کی یې زیارت دی (شغلان) اوس (حاجی خیلو) په نامه یادیږي . روضة المجاهدین (۱۲۹۳ هـ ق تالیف) ذخیرة السعادت ــ معدن الجواهر تحفة الملوک . رد الروافض او خطبات د ده مؤلفات دي . (۷) د پښتانه شعراء په دریم توک (لومړی چاپ ۹۷ ــ د وهم چاپ ۷۷٤ مخ) کی چې د حسین خیل پرځای (حسن خیل) کښلی دی چاپی تیروتنه ده . (۸) د امیر دوست محمد خان د مرګ نیټه د افغانستان د رقرن نوزده په ۴۶ مخ کی (۲۱ ذی الحجه ۱۲۷۸ هـ ق ــ ۹ جون ۱۸۶۲ ع) کښلی ده ، د ښاغلی سید قاسم رشتیاد یته نه د پیام سوی چې د ۱۲۷۸ هـ ق کال د لوی اختر میاشتی بوویشتمه د ۱۸۶۲ ع کال د جون له نولسمی ورځی سره برابریږی او د ۱۲۷۹ هـ ق کال د لوی اختر میاشتی بوویشتمه ورځ د ۱۸۶۳ ع کال د جون له نهمی سره برابره ده ، د محمد محسن د بهر له تاریخی ماده یې څخه هم ۱۲۷۹ اراوزی ــ د محمد محسن تاریخی ماده دا ده :

محسن سوال کرد زپیر خرد که اه
تاریخ فوت این شه غازی جهان ستان گرفت

حور بسرا زجنان نهد را ورد و د رجواب
گفت از (امیر جاهد غازی) توان گرفت

۱۲۸۲ ــ (ج ــ ۳) ــ ۱۲۷۹

ښاد امیر ځلو ښښتمه چې تیره سوه امیر شیرعلیخان له هراته څخه د کابل په نیامت وخوځیدئ او د هرات حکومت یې خپل د وهم زوی محمد یعقوب خان (۱۳۴۴ هق مړ) ته ورکړ. (۹) اوتر ځوچې د ۱۲۸۵ هـ ق کال د بزرګی میاشتې (رجب) په لومړي پوورځو کې امیر شیرعلیخان د وهمه پلاد کابل پر تخت کښینوست (۱۰) سردار محمد یعقوب خان د پلار له خوا د هرات واکمن و. په دغه وخت کې د غلام محی الدین روزونکی اوتره (بادارګند هاري) د نوموړي سردار په دربار کې د پیشخدمت په توګه کارکاوه اوترڅو چې په ۱۲۹۱ هق کال سردار محمد یعقوب خان د پلار له مرله هرات څخه کابل ته تی او هلته د بالاحصار په سراچه کې پنځه کاله بندي کید ي. (۱۱) نوموړي بادار د ده پیشخدمت کی وه.

وایــــی ـ سردار محمد یعقوب خان چې له هراته کابل ته تی. ـ د خپل دربار عمله یې خپل کشر ستي وروور سردار محمد ایوب خان (۱۳۳۲ هـ ق مړ) ته چې د میوند ترغزا (۱۲۹۷ هـ ق) وروسته د ملی قهرمان په توګه په غازي ایوب خان سره مشهور سو پرېښوول (۱۲) بادار هم په دغه عمله کې و. او د سردار محمد ایوب خان د دربار پیشخدمت ســو.

بادار د غازي سردار ایوبخان د دغه خدمت ګزاري تر پایه وپالله یې په مخـــوا وروښو ورځو کې پـس د سردار په خدمت و یار له په بدو او ښیارو ورځو کې یې هم د د ملګري پرې نه ښوول او د وفا پـښت یې وپالـــه.

---

(۹) په بالاحصار کابل (۲ ر ۱۳ ۴ مخ کې محمد یعقوبخان د امیر شیرعلیخان د ربیم زوی بلل سوي دی. (؟) ماتـــه دانه معلوم چې سردار ابراهیم خان تر یعقوب خان مشر دی. (۱۰) د ۱۲۸۳ هـ ق کال پـــه لومړ یوورځو کې د امیر شیرعلیخان مشرور ور محمد افضل خان د کابل پر تخت کښینوست د ه ترمرګ وروسته یې ســکې وروور محمد اعظم خان پاچا سو. په دغه وخت کی یوازی هرات (تر ۱۲۸۵ هـ ق پوري) د امیر شیر- علیخان په لاس کې و. (۱۱) د بالاحصار کابل په ۲ ر ۱ ۱۶ ـ د افغانستان د رقرن نزده په ۱۴۱ ـ د تاریخ مختصر افغانستان په ۲ ر ۱ ۱۶ مخ کی د سردار محمد یعقوب خان د بند موده اته کاله ښوول سو- یــ د ه (( ؟ )) ماته دغه موده ځکه سمه ښــکاري چې د شهزاده عبد الله جان د ولیعهد یاعلان د ـ ۱۲۹۰ هـ ق کال د کوچنی اختر تر لمانځه وروسته سوي دي. سردار محمد یعقوبخان ترد ه اعلان وروستـه د وهمه پلا پلار ته یاغی سو. پلار له هراته کابل ته او غوښت په ۱۲۹۱ هـ ق کال یې زندان ته واچاوه او د ـ ۱۲۹۶ هـ ق کال په لومړ یوورځو کی خوشی سو. په دې حساب نود سردار محمد یعقوب خان د بنـــد موده ترپنځو کالونه اوړي. (۱۲) د سردار محمد یعقوب خان او غازي سردار ایوب خان مور د لالپوري د سعادت خان مومند لوروه. د لالپوري اکبر خان (چې نوروز شاعر یې ستاینی ویلی دي) د دغی ملکــــ ورا ووه. سردار محمد یعقوب خان چې وروسته یا امیر محمد یعقوب خان سو په سرهند کې د ـ حضرت شیخ احمد کابلی ثم السرهندي (۹۷۱ ـ ۱۰۳۴ هق) په زیارت کی ښخ دي. او د میوند د ـ زمري غازي سردار ایوب خان رحمه الله علیه قبر په پېښور کې د سید حبیب نقشبندي (۱۰۹۳ هق مړ) پـــه زیارت کی دي. وایی غازي سردار چې په راولپنډۍ کی مړ کید ه وصیت یې وکړ چې زما مړی د پښتنو پــه سیمه کی ښخ کړئ. زامنــو یې دغه ارمـان ترســره کــــــــــړ.



ACKU

راوي وايي – غازي سردار ايوب خان د ۱۲۹۷ هـ ق کال د برات په مياشت کې له هراته شخه د ميوند ميدان ته راغی او د انګريزانو لښکر ته يې هغه ماتې ورکړله چې د افغانستان تاريخ حق لري په دغه سوبه قرنونه قرنونه وویاړي. غازي سردار د وې هغې د شهيدانو په ښخولو بوخت و. ترڅو چارې يې وروسته کندهار ښار ته راغی او انګريزان يې په احمد شاهي کلاکې کلابند کړل. جنرال رابرټس د انګريزانو يو روند فوج له کابله پسې ور ووست. د روژې په وروستي هفته کې جنګ وسو. د چهل دختران (د ۲ تو) په پيرياني ال او بيا ولي تر جنګونو وروسته غازي سردار ايوب خان د هرات خواته رخه ونيوله.

غازي سردار د ۱۲۹۸ هـ ق کال د برات په مياشت کې بيا د کندهار د نيولو په نيامت له هراته فوجونه راوخوځول. د ګرشك په جنګکې چې د برات پر ووېشتمه د امير عبد الرحمن له طرفدارو فوجونو سره پيښ سو. غازي سردار بري ومونده – کندهار ته راغی او د کندهار اداره يې پخپل لاس کې کړله. امير عبد الرحمن خان له دې وروسته زړورو سپاهيانو سره له کابله پسې ورغی. د کندهار زاړه ښار ته نژدې جنګ وسو. امير عبد الرحمن خان بريالی شو او غازي سردار بيا د هرات لورته روان سو. مګر پر هرات باندې د امير عبد الرحمن په حکم د ميمنې له خوا شخه د سردار عبد القدوس خان (۱۳٤٦ هـ قمر) چې وروسته يې د اعتماد الدوله لقب وموند يرغل کړی او هغه يې د غازي سردار له ګماشتګانو شخه ونيوه (۱۳). غازي سردار مجبور سو د فارس (اوسني ايران) پولې ته واوښت او مشهد ته يې ځان ورساوه. د دربار رسمي پلين هم زيات ورسره وو. (۱٤) په دغو وفادارو درباريانو کې ياد ارهم و ياد ار خپله کورنۍ هم له ځانه سره بوتله او وزموز تر بحث لاندې دي.

---

(۱۳) غازي سردار ايوب خان چې له هراته شخه د غزا په نيامت کندهار ته راروانېدی. د هرات اداره او ساتنه يې خوشدل خان ته پر غاړه ورکړې ته سپارلې وه. خوشدل خان چې وروسته بيا په لوی نايب مشهور سو لوی نايب شاغاسي شير دل خان (۱۲۹۵ هـ قمر) د غلوري خور ۲٦ مشر زوی وو. له خوشدل خان سره د امير محمد يعقوب خان مشر زوی محمد موسی خان هم په هرات کې و. د غازي سردار له ناکامه کولو له پاره انګريزانو له کابل شخه خان آغا يې جمشيد يا رجب انداز خان قبچاق هم هرات ته ليږلی وو. خان آغا يې جمشيد يې د امير محمد يعقوب خان خسر و.

(۱٤) د سردار پير دل خان لمسی د امير افضل خان لور بي بي عايشه د امير شير علي خان ګرانه مسا يته له خپلی لورصاحبو (په ماماجان مشهوره) ارخپلی بلی لور اوزم (سردار محمد هاشم خان شريفي) سره په کندهار کې د غازي سردار ملګري سوي او له هغه پسې سره ايران ته – واوښتله.



ACKU

ادیب اومفکر اتلس کلن غلام محی الدین هم وروسرمو. په دغه وخت کی غلام محی الدین دکبند هارد مدرسو د نصاب زیاتره برخه ویلی وه(۱۵) پر افغانانو باندې دانګریزانو ظلمونو غلام محی الدین ښه دردولی و، اودمهاجرت اومسافرت بدواوتیاروورلمونورهم دانګریزي استعمار پرضد د ده درد اوخښم ورځ په ورځ زیاتاوه.

په فارس کښې: غازي سردار چې فارس ته واوښت، په دغه وخت کی دفارس پاچا ناصرالدین شاه قجر(۱۲٦٤ـ۱۳۱۳ هـ ق) و. دفارس پاچا په اول کی له غازي سردار اوده ځه له ملګروسره ښه دوستانه رویه درلوده. غازي سردار هم له خپلو ملګرو سره هلته اوه کاله پاته سو.

پاې ته دانګریزانو په لمسه اوسیاسي فشاردفارس د دربار وضعه دغازي سرداراوده ځه له ملګرو سره ورځ په ورځ ناوره کېده له څو پی د ۱۳۰٤ هـ ق کال په پای کی (۱۸۸۷ ع) غازي سردار د ځه له ملګرو سره انګریزانو ته په لاس ورکړ او هغو د بغداد له لارې هندوستان ته یوړل(۱٦). غازي سردار اوپرده باندې پراغونبو افغانان تول دپرنګی طاغوتی طاقت ځلی وو. دوي د اسلامي هیوادونو داتفاق، تنظیم اوخپلواکی له پاره په مصراواروپاکښې د علامه سید جمال الدین افغان رحمة الله علیه(۱۲۵٤ـ۱۳۱٤ هـ ق) مدبرانه اودلیرانه مبارز و او په سودانکی دپرنګیانو پرضد دمحمداحمدالمهدي(۱۸٤٤ـ۱۸۸۵ ع) غزا وو ته هوسیدل(۱۷) دعروة الوثقی داخبار خبرونی د دوي د زړو زخمونو ته پنبه کی

---

(۱۵) وګ. دمولوي غلام محی الدین افغان د قبرشخته چی د پښتانه شعرا د دریم ټوک دلومړي چاپ په ۱۰۱ ـ اواود دوهم چاپ په ۷۷٦ مخ کی یې نقل سته. (۱٦) په دغه وخت کی علامه سید جمال الدین افغان(۱۲۵٤ـ۱۳۱٤ هـ ق) دماسکوجریدې د مدیر Katkov په بلنه ماسکو ته تللی و. دماسکوګزټ (د اګست د شلمی سپتامبرد لومړۍ ورځی) په ګېه کی علامه سید جمال الدین افغان د فارس پاچهی په ږې ډیره غندلی وه چی د میوند زمري یې انګریزانو( د ښمنانو) ته په لاس ورکړ او اسلامي همدردي او وفا د ودیې تر پښولاندې کړ. (۱۷) محمد احمد په ۱۸٤٤ ع کال په سودان کی زیږیدلی او هلته لوی سوی دي. زاهد سړی و. خلکو ښه سړی یتوب اوبزرګی معتقده ورته درلوده په ۱۸۸۱ ع کال د سید جمال الدین پټ تلقین د یارپوست چی دمهدي یتوب دعوه وکړي دادعوه چی د شرق په خلکو کی مشهوره کړه سوې وه چی بې لمهدي یخخه څوک دانګریزملانه سی ماتولای. په ۱۸۸٤ ع کال یې دجنرال هکس انګریزفوجونه مات کړل د سودان پایتخت خرطوم یې ترلسومیاشتو کلابندۍ وروسته و نیوي. پسودانکی دانګریزي مصرله خوا مقرره نائب الحکومه ګوردان پاشایې ووازه اوسودان یې دانګریزي مصرله اسارته خلاص کړ. محمداحمد په ۱۸۸۵ ع کال ومړ او په ((ام درمان)) کی خاورو ته وسپارل سو. سودان د محمد احمد مصلحتی مهدي یتوب په برکت تر ۱۸۹۸ عیسوي کاله پوري آزاد و. ځینی کسان له محمداحمد سره د مهدي پیرمعاي( مستمهدي) لیکی.

وې(۱۸) د مهاجرو (پردیسو) افغانانو په مجلسونو کې د غوسیاسي سرګرمیو د غلام محي الدین په تود او ځنوکي د ملیت غوښتنګونه پاڅول او دده په ځوانومغزوکې یې له جهاني سیاست سره ژوره علاقه پیدا کړه له په تیره بیا د ۱۳۰۳ هـ ق کال په پای کې فارس ته د علامه سید جمال ـ الدین افغان ورتګ او د هغه ملګ له پاچا او درباریانو سره د فارس د اصلاحاتو او د اسلامي ملکونو د اتفاق او تنظیم په باب د سید ره یاو یې ساخته خبري د پنځه ویشت کلن غلام ـ محي الدین د سیاسي شعور په ویښتابه اوو دده کې زیاتي اغیزه ناکې ثابتې سولې . راوي وائي :

غلام محي الدین په دغه وخت کې د افغان سید په پیروي ځان ته (افغان) تخلص غوره کړ او په دې پوه سو څوک چې غواړي د سیاست په ډګرکې د خلکو له پاره صادقانه خدمت وکړي باید د افغان سید په څېر دنیا ته هڅ له کړ یو ځخه ځېلې پښې وژغوري د غه پوهه وه چې غلام محي الدین افغان هم په ټول ژوندکې د ځره توب (تجرد) ژمنه وکړه له او د غه ژمنه یې په رشتیا د ژوند تر پایه پورې پاله . پر غلام محي الدین افغان باندې د علامه سید جمال الدین افغان بله اغیزه داوه چې پګړۍ یې د ژوند پرپایه په خوله بد له نه کړله او ځېلې کالې تر هر څه پرګران وو . غلام محي الدین (افغان) د فارس (ایران) د اوو کلنې استوګې په موده کې پر سیاسي تربیت سربیره ځېل شرقي مروج تحصیلات هم بریخ بوتلل او لخوو علومو سره هم څه بلد سو .

<u>په شرقي پنجاب کې</u>: فارس ته د سید جمال الدین د انتباهي تبلیغاتو او فعالیتونو ارسید ل لیوې خوا او د امیر عبدالرحمن خان (۱۲۹۷ ـ ۱۳۱۹ هـ ق) له پاره د عرخ (بغل) د اغزې پیدا کول له بلې خوا څخه د دې سبب سول چې پر ټګیانغازي سردار او د ملګري (چې شمیر یې په لسو کورونو ته رسیدي) د ۱۳۰۵ هـ ق کال په وائلو کې هندوستان ته راولي او د جهیلم او اباسین ترمنځ یې په راولپنډۍ کې په یو پرمد رنا ویمیشته کړي د باجا رکورنه هم د پردیسو په دغه قافله کې شرقي پنجاب ته راغلل او غلام محي الدین (افغان) هم د کورنۍ د یوه غړي په توګه ورسره و (۱۹)

---

(۱۸) عروة الوثقی د هغه عربي اخبار نوم دی چې په پاریس کې به هر پنجشنبه خپرېدی سیاسي مدیر یې سید جمال الدین افغان او لوړ محرر یې د مصر مشهور عالم مفتي محمد عبده و . لومړی ګڼه یې د ۱۳۰۱ هـ ق کال د د . . . ورځې خورېشکو رمه ورځ (۱۳ مارچ ۱۸۸٤ م) خپره سو . د دې اخبار مرام دا و چې مسلمان هیوادونه اتفاق ته راو بلي . استعمار په ظلمونو خلک خبر کړي . د شرق خلک د غفلت له خوبه را وپاخوي او د انګریزي استعمار پر ضد یې متحد یو بارز په صف کې ودروي .

(د عروة الوثقی مقالو پښتو ترجمه قاضي عبداللهاني (۱۲۵۸ ش شهید) او پارسي ترجمه ئې عبدالله سمند رغوریاني کړې ده . دا دواړې ترجمې په ۱۳۵۵ ش کال په کابل کې چاپ سوي دي .

(۱۹) د باداړد وصلهي زامن یا تمسولسو یې عبدالجلال خان و چې د لومړي یو مشروطه غوښتونکو په ډله کې د امیر حبیب الله خان (۱۳۱۹ ـ ۱۳۳۷ هـ ق) په امر په کابل کې بندي سو ـ لږ کاله د شیرپور په زندانکې و د امیر امان الله خان د پاچهي په لومړي یو ورځو کې له بنده خوشي سو . مشر زوی یې عبد ـ الستار خان و چې د هغه زوی عبدالفتاح (صوفي فتو) د کندهار ښار په چارسوکې د بزازۍ دکانکاوه

((افغان)) د شرقي پنجاب د استوګي په لومړنيو کلونو کې د نوو اوزړو د مروجو علومو د ښېوونځي زيات پوست (۲۰) او د منظم تحصيل له اصولو او قواعدو سره يې ځان ښه اشنا کړ. راوي په داهم ويل: ((خان صاحب (غلام محي الدين افغان)) چې په کابل کې معلم و. په رياضي او هندسه کې يې ښه ساري نه درلود.))

<u>د هندوستان هغه وختني سياسي وضعه</u>: کوم وخت چې غلام محي الدين (افغان) دغازي سردار په حمله کې ختيز پنجاب ته بوتلل سو. ځلويښت کاله کېده چې شرقي پنجاب (په ۱۲٦٥ هـ.ق = ۱۸٤۹ع کال) پرنګيانو د رنجيت سنګه (۱۲۱٥ـ۱۲٥٥ هـ.ق) له ميراث خوروخوره نيولی و. او په دغه وخت کې د رنجيت کشرزوي دليپ سنګه د علامه سيد جمال الدين افغان سره په ماسکو کې د انګريزي استعمار پرضد فعاليت کاوه (۲۱) ديرش کاله کېده چې د لندن ګوډاګانو د هندوستان د آزادۍ پاڅون (قيام) په ډېره بېرحمي ځپلی او د ډهلي وروستی تش په نامه کورګاني پاچا بهادرشاه ظفر (۱۲٥۳ـ۱۲۷٤ هـ.ق) يې په مرګون کې ترينګوکالو بند وروسته په خاورو منډلی و.

تردغو پېښو وروسته په هندوستان کې داسې څوک نه و پاته چې د انګريزانو موټ و پېچلاي سي ځکه نو هرانګريز د هندوستان مطلق العنانه پاچا و او هندوستانيانو ته يې د مرييانو په سترګه هم نه کتل. د کانپور د نورالانوار اخبار د ۱۸۸٥ع کال د اګست د لومړۍ ورځې (شوال ـ ۱۳۰۲ هـ.ق) په ګڼه کې ليکلي دي:

((يوکولاګماټ نوي ځاي کې د وه پرنګيان په يوګډ کې سپاره وو. يو هندوستانی سپور په مخه ورغی. سلام يې ونه کړ فاتحو پادارانو ته ښم ورغی له ګوره راکښته سول. هندوستانی سپور يې له اسه راواچاوه په متروکو (قمچينو) يې ووا هه او يوګې بې پر سرور تير کړ له ....))

(۲۰) د کابل پېکاروان وين اخبار (د ۱۳٥۱ ش کال د چونګابره اتلسمه ګڼه) کې چې د روايت په ساده سيد قاسم خان (۲۲ حوت ۱۳٥۷ ش مړ) له خولې د (نهضت مشروطه خواهي يک حرکت ملي وافغاني بود) ترعنوان لاندي کوم مضمون خپور سوي دي په هغه کې ليکلي دي: ((مولوي غلام محي الدين خان قند هاري معلم مکتب حبيبيه... در اسلاميه کالج پشاور تحصيل کرده بود.)) ما ته دا روايت ځکه د تامل وړ ښکاري چې د پېښور اسلاميه کالج په ۱۹۱۳ع (۱۳۳۱ هـ.ق) کال افتتاح سوي دي او په هغه وخت کې مولوي غلام محي الدين افغان په کابل کې اته نه کاله تير کړي وو. بلعه اصلاح ور خبره دا ده چې د روايت په د غلام محمد غبار په (افغانستان در مسير تاريخ) کې غلام محي الدين ((افغان)) د سرحد له پښتنو ښځملي دي او د اسمه نه ده.

(۲۱) رنجيت سنګه چې مړکيد نو د ليپ سنګه يوکلن و. د ليپ سنګه ماسکو جريده ي دلير KashKor په بلنه په دغو ورځو کې ماسکو ته تللی و. په ماسکو کې د انګريزانو قونسل د ۱۸۸۷ع کال د جولاي په دريشتمه په پېترزبورګ کې انګريز سفيرته د ليپ سنګه د ورتګ خبر ورکړ.

ختیز پنجاب ته د غلام محی الدین افغان د رسید لوزمانه له سیاسی لحاظه د هندوستان تر ټولو تیاره دوره وه . فقط دری کاله کیده چی (په ۱۸۸۵ ع کال) اندیین نیشنل کانګرس ـ جوړ سوی او په کال کی یو وار به یی غونډه د ځینو بی اهمیتو تجویزونو له پاره سره راغونډیدل (۲۲). د علی ګړه د اسلامیه کالج د پرانیستلو پنځه کاله کیده او یا نی یی اروابناد سرسید احمد خان (۱۸۹۸ مړ) مجبوراً محکه چی په کله او انګریزان یی پرکښینول او د اد هغه وخت مصلحت یوښ او تقاضا وه . سید سلیمان ندوی لیکلی دی :

((په ۱۸۸۸ ع کال چی یونان له ترکانو سره جنګیدی ، ترکانو بریو موندی ، د هندوستان ـ مسلمانانو چی په دی بری خبر سول خوشالی یی کولی بناد نامی یی ویلی او د خوشالی مجلسونه یی جوړ کړل . اروابناد سرسید احمد خان په دی یرخو ابدیسواو یوخورا سخت مضمون یی خپور کړ . په دی مضمون کی یی زیار ایستلی و ، چی د هندوستان د مسلمانانو زړونه له ترکانو څخه تور کړی . (۲۳) .

د افغانستان هغه وختنی سیاسی وضعه : مولوی غلام محی الدین (افغان) چی څه وخت شرقی پنجاب ته ورسید ی ، اته کاله کیده چی د افغان انګلیس دوهم جنګ خلاص سوی و او د ګندمک د ـ منحوس تړون له مخی (چی د ۱۲۹۶ هق کال د څلورمی خور په څلورمه یا ۲٦ می ۱۸۷۹ ع لاسلیک سوی دی) د کورمی ، پښین او سیوی سیمی انګریزانو له افغانستانه بیلی کړی وی . له امیرعبد ـ الرحمن (۱۲۹۷ ـ ۱۳۱۹ هـ ق) څخه د افغانستان خارجی آزادی پرنګیانو اخیستی وه او د بریتانیایی واسطی یی له هیڅ بهرنی هیواد سره مخبری تړینه سوای کولای . په دننه ملک کی د شینوارو ، منګلو او غلجیو بغاوتونه امیرعبدالرحمن غلی کړی او په دغه وخت کی د خپل تره محمد اعظم خان (۱۲۸٦ هـ ق مړ) له زوی محمد اسحاق خان (۱۳۲٦ هـ ق مړ) سره په جنګ بوخت و .

---

(۲۲) اندیین نیشنل کانګرس په ابتدا کی لعاعتدال پسند وخخه جوړ سو . انتها پسندان هم په ورکو سول اختلافی ترمنځ پیدا سو په ۱۹۱٦ ع کال د دغه اختلاف منځه ولاړ وشا ومشرتوب یی انتها پسندانو ته په لاس ورغی په ۱۹۲۱ ع کال یی د ترکی موالاتی پالیسی غوره کړه او په زرو هندوستانیان زندانونو ته ولاړل وروسته د ګاندهی (کرم چند) په مشرتوب اندیین نیشنل کانګرس عدم تشدد پالیسی غوره کړه له ترڅو یی په ۱۹۴۷ ع کال هندوستان د انګریزانو له منګولو آزاد کړ .

(۲۳) وګ . البصیر ۱۰٦ مخ . علامه سید جمال الدین افغان هم د سرسید احمد په باب ښه نظر نه درلود .

**<u>افغانستان ته راستنیدل</u>:** امیرعبدالرحمن تر یوویشت کالو او څو میاشتو پاچهۍ وروسته د ۱۸۱۹ هـ ق کال د څلورمې خور پنځو لسمه (۳ - اکتوبر ۱۹۰۱ ع) په کابل کې مړ سو او پر ځای یې مشر زوی امیرحبیب الله دافغانستان د پاچهۍ پر تخت کښیناوست .

امیرحبیب الله د خپلې پاچهۍ په لومړي یوکلو کې اعلان وکړ چې زما د پلار د وخت فراریان په هروطن کې چې وي بیرته افغانستان ته راتلای سي . ارواښاد غلام محمد غبار لیکلي دي چې امیرحبیب الله خان د ځینو فراریانو جایدادونه له ضبطه ورخلاص کړل او که بل چا ته د دوی فراري جایداد ورکړ سوی و د هغه بدله یې ورکړله - ځینې فراریان یې په رسمي کارونو کې هم ومنل (۲٤) .

د دغو فراریانو په ډله کې مولوي غلام محی الدین (افغان) هم سره له پنځو ویشتو کالو پردیس څخه تر ۱۳۲٤ هـ ق (۱۹۰٦ ع) کال لږ د مخه دافغانستان پایتخت (کابل) ته راستون سو . دغه وخت د حبیبیه دارالعلوم د جوړېدلو څلورم کال و (۲۵) له نوو علومو او عصري تدریس نظم سره اشنا ښوونکو ته ډېر اړ وه ځکه نو مولوي غلام محی الدین (افغان) هم دستي (فوراً) په حبیبیه دارالعلوم کې معلم وټاکل سو . مولوي غلام محی الدین افغان د شاګردانو پر علمي تربیت سربېره د هغو بدني روزنې ته هم پاملرنه درلوده . دي په خپله په کرکټ کې ښکره لوبغاړی او فوټبال هم کاوه د فوټبال د لوبې اصطلاحات یې ټول پښتو کړي وو او په لوبو به کې یې پښتو اصطلاحات کارول .

**<u>(افغان) او د مشروطه غوښتني تحریک</u>:** حبیبیه دارالعلوم په افغانستان کې د سیاسي مفکورې د رشد او د حزبي تنظیم زانګو ده . په دې دارالعلوم کې کاکا سید احمد خان لودي (په ۱۳۲۱ هـ ق) مولوي محمد سرورخان واصف الکوزي (په ۱۳۲۳ هـ ق) (۲٦) مولوي غلام -

---

(۲٤) وګ - افغانستان د رمسیر تاریخ ۷۰۲ مخ . (۲۵) حبیبیه دارالعلوم چې په ۱۳۲۱ هق - (۱۹۰۳ ع) کال جوړ سو اداري چارې یې د کاکا سید احمد خان لودي پر غاړه وې د کاکا پلار فیض محمد نومېدی چې د امیرشیرعلیخان د خوراګران افسر سردار محمد رفیق خان لودي د تره زوی و . تدریسي چارې د حافظ احمد الدین خان هندوستاني په لاس کې وې چې سرمدرس باله کېده . (وګ - دافغانستان د معارف تاریخ ۲۹ مخ) (۲٦) د مولوي محمد سرورواصف په باب میرسید قاسم خان لیکلي دي : ((مولوي محمد سرورواصف الکوزائي قندهاري سردسته ... عموس همه دسته هاي جمعیت مشروطه خواهان که استادي را ... او مکتب حبیبیه ... چشم ندید ....)) (وګ - جریده کاروان ۱۸ر٤ر۱۳۵۱ ...)

ACKU 33287

محی الدین (افغان)(په ۱۳۲٤ هـ ق) میرسیدقاسم خان دلغمان (په ۱۳۲٥ هـ ق) مولوي محمد مظفرخان مروت بنومحسن (۲۷) مولوي محمدحسین اورمړ جالندهري(۲۸) ۰ دا کتهر غنی پنجابی اود مدوه وروڼه نجفعلی او محمدچراغ غوندي حساس اود راک استادان وو ۰ دوي استعمار او استعمارچیانو ته په بد مسترګه کتل له ظلمه یې کرکه کوله ـ دافغانستان د ـ بشپړي خپلواکۍ دسم اداري نظام (مشروطه شاهی) اوعلمی وتخنیکی ود یاوقوت په هڅه کی وو ۰ داجتماعی دردمښتنان پوراتولید ل ۰ خوکرارکرار یې دیوې سیاسي ډلی بڼه غوره کړله د مشروطه غوښتونکو ډله د ۱۳۲۷ هـ ق کال پطلومړ ي میاشت (۱۹۰۹ ع) کی دپاچا په تهر اخته سوله دغلام محمد غبار په قول اووه تنه اود مولوي محمد حسین په قول نه تنه یې ووژل ـ سوه چی یو په هغوکی نومړي (واصف) و ۰ زیاتره یې بند یان سول خومولوي غلام محی الدین (افغان) ته چا هیڅ ونه ویل ۰ ماد دې سبب له اروانباد عبدالعزیزخان الکوزي څخه (چی په باباجان مشهور و) وپوښتید م ـ باباعبدالعزیزخان له ۱۳۱۲ څخه تر ۱۳۲٥ ش ـ کاله پوري په کابل کی بندي و ۰ دی تربند دمخه نه کاله دطلوع افغان داخبارمدیرپیا په ۱۳۰۹ ش کال په مشورا یې ملي کی دکند هار وکیل و ۰ له وکالته څخه په وزارت خارجه کی دمطبوعاتـــو مدیرســو ۰ باباجان (چی د دغه حزب غړي اود مولوي غلام محی الدین خان (افغان) ـ تیرونی ملګری و) په جواب کی راته وویل : ((حزب فیصله وکړ له چی غړي بایدتول په وسله پټه سی ۰ دحزب ځینو انتها پسند و ځوانانو غوښتل امیرحبیب الله خان له منځه یوسی ۰ مولوي غلام محی الدین افغان دپاچاد وژلو شدید مخالف و کړ د ده دلیل دا وو : په افغانستان کی کی سیاسي شعور وده نه ده کړي ۰ دملیتو نو، قومو نو او حتی قبیلو ترمنځ اتفاق نسته کــه پا چا ووژل سی اړ ود وړ پیښیږ ي او وطن ته پرد ي لاسونه راغزیږ ي ۰

د دولت جاسوسانود احال دامیر ترغوږ ورسولی و ۰ ځکه نو کله چی دپاچاد خشم ټکه پــر مشروطه غوښتونکو پریوتله غلام محی الدین (افغان) ته چا هیڅ هم ونه ویل ۰))

راوي داهم زیاته کړله : د مشروطه غوښتونکو (جان نثاران اسلام) مشراروانباد مولـــوي

---

(۲۷) دافغانستان د رمسیر تاریخ په ۷۱۹ مبخ کی بلوچی خروتی لیکلی دي (؟)

(۲۸) مولوي محمد حسین خــان اورمړ داحد داد خان زوي د جالند هرد شیخ درویش بستی ګلی اوسید ونکی و ۰ ده ځان دپیر روښان له لمسیانو څخه شمیره ۰ دي دخپل مولفات پنځه اویـــــا ښیی لکه : افغان پادشاه، حیات نادر، انقلاب افغانستان، اداره الدار (ترحم) اونور...

محمد سرور واصف الکوزیچی په توپکی و ا لو زول سو. دحزب هغضو پچی لغبنده پاته و و دشطرنج پخامه بعد مولوی غلام محی الدین خان( افغان ) پهتاتوبی کی سره راغونډ یدل ا و دده تا توبی پس دافغان کلوپ په نا مه یاد اوه ( ۲۹ ) .

دغلام محی الدین افغا ن کتب خانه:

( افغان ) پښتنی کتبخانه هم یه خپل تا توبی کی درلوده چی د پر عصری، اوکتبونکنا بو نه پــــکی وو.

را وړ ویـــل :

غلام محی الدین( افغان ) چی د ۱۳۳۹ هـ ق کال دمیاش دمیاشتی په اته ویشتو( ۱۱) اسد ۱۳۰۰ هـ ش) د پیا (کولرا ) په ناروغی په کابل کی مړاویه( جبه ) خاوروته وسپارل ســو د د پقلند رشریه مفکر میراث فقط دغهکتب خانه او د شعرونو یوه مجموعه وه چی هغه هم ملکروته پا ته سوله. کتب خانه د ده تر مرګ وروسته په ملګروکی دملی کتب خا نی په نا مه یادیدله دده په تاتوبی کی تر ډ یره وخته یو ری خوند ی وه او هرچا استفاده مینی کولای سو ه .

د افغا ن دقبر ځلی :

دافغان دقبر سرته یو پخاخه متره ځلی ولاړ د ی ـــ داخلی دافغان دمخلصا نمه خدمتونو په یاد دده ملګرو اهانی ( چندی ) په رویو دان کړیدی او تر او سه یوریډ ملګرو یــــــه زرونوکی دافغان د مینی ، اعتماد، عقیدت اودرنا وی نما یندګی کوی .

( خدای دی دی وبخشی )

---

( ۲۹ ) (افغان ) دژوند تریا یعدکور ځبنتن نمسو . دی مجاهد اوفکر ادیب ـــ دشور بازار دپراچه ګانو ( پهبسوپانو ) دسرای په ځوکرا پس کوټوکی شپاړس کاله ژوند تیرکړ ـــ دده تر مرګ وروسته پس ملګرو ځوکا لـــه دهغو کو تو کرا یــــــــه ادا کوله اودوی دسره راغونډ یدلو ځای وُ. ځوکا له یـــس ملګرو د د ه تلنه هـــم پــه دغـــو کوتو کـــی و نیولـــه .

سلیمان لایق

# په پښتو کې د نوي شعر راپیدا کېدل او د هغه اساسي مضمون

له دېرشو کلو را په دېخوا د افغانستان په پښتو شعر کې د تجدد تمایل ځان څرګند کړ یدی ۰

دغه تمایل د زمان د غوښتنې سره سم ورو ورو او تدریجاً په یو مشخص وده کوونکي جریان بدل شو ۰ اوس دغه جریان یو بېژندل شوی بیا وړي شعري مکتب دی چې د پښتو د زاړه شعر په مقابله او مقایسه کې خپل ادرس ښوولای او د خپل شته والي دفاع کولای شي ۰ په افغاني پښتو شعر کې د تجدد او نوي کېدو ـ بهیر له هغو اقتصادي بر مختګونو او مادي تغییراتو سره بشپړ ارتباط لري چې په وروستیو دېرشو کلونو کې پر له پسې زموږ د خلکو په ژوند کې پېښ شول ۰

همدا راز د دې تغییراتو په اړخ کې د پښتنو او بلوڅو په تول جغرافیایي سیمه کې د استعمار او اجنبي نفوذ سره د ملي آزادۍ بخښونکي غورځنګ نهضت د پښتو د نوي شعر د راپیدا کېدو جریان لا ګړندی کړ ۰ ما تقریباً ۳۰ کاله د مخه د دغه جریان لومړنۍ سګلونه او نمونې وپېژندلې او بیا ورمې راغې چې پښتو شعر د خپل تکامل نوي درشل ته ننوتی دی او نوي ژبه نوي هدفونه او نوي قالبونه په رامنځ ته کړي ۰ ما را وروسته بیا د (( پښتو او نوي شعر )) تر عنوان ـ لاندې یوه مقاله خپره کړه په هغو ورځو کې د هغې زمانې د مطبوعاتو مستقل ریاست له خوا د نویو شعرونو تر عنوان لاندې د منتخبو شعرونو یو کتاب خپور شو د هغې مجموعې وجود په خپله د نوي شعر بر شته کېدو باندې یو عیني ګواه او سند ـ بلل کېدی شو ل ۰

په هغه وخت دغه کتاب د نوي شعر په باره کې د نقد او بحث را منځ ته کول او د پښتو د عنعنوي سنتي شعر له چاپېریال څخه یوې نوې یو ړ ېدته پښه ور اوچتول اسان کړل ۰ د زړو عنعنوي سبکونو طرفدارانو چې د خپلې ارثي ملي محافظه کارۍ په وجه یې د اجتماعي تکامل قانونمندي ـ نه درک کوله او نویو تغییراتو ته یې ـ



ACKU

(سراج الاخبار بزبان فارسی طبع ونشر میشود ۰ چون همواره مساعـی درنشر واشاعت علوم ومعارف است بالسنـه مروجه افغانستان ۰ لهذا ۰ سراج الاخبار افغانیـه

این شماره و شماره های بعد خود را بزبان ملی خود نیز تزیین میدهد اینست که ـ دربن مرتبه بحصول یك قصیده از جانب یکجوان بیدا ردا نشمند هموطن ما جناب صالح محمد خان که یکی از مدرسین مکتب حبیبیه میباشد کامیاب آمده در ذیل به طبع ونشرآن پرداختیم )) د پښتو خپرونې پیل شوې او بیا پرله پسې د مولوي صالح محمد شعرونه نشر شول .

د۱۹۱۴ع کال په پای کې چې انګریزانو د ترکیې د اسلامي هیواد په ضد لښکر کشي کوله د افغانستان ملت یې سخت ویا را وه خو انګریزانو هڅه کوله چې افغانستان بې طرفه پاتې شي او د افغانستان له ترلاس لاندې امیرنه یې د بې طرفۍ ـ تعهد وا خیستې د سراج الاخبار د ۱۲۹۴ کال د حمل د ۲۶ نیټې په ګڼه کې د مولوي صالح محمد د یوه شعرخپرېدلو چې یکې راغلي وو :

| | |
|---|---|
| ته کره د زمکې کــــــــــوره | نظروکــــــــه زما وروره |
| دنیاده پــــــر شور را غلــــــې | توریدلي تعــــــریدلــــي |
| لوي دو ل چې په د نیــــــادي | په یو رپ که په ایشیـــــادي |
| تول په جنګ سره اختـــــــه دي | په ســـــرو وینو آغشته دي |
| انــــــګریزان په ویر اختــــه دي | بې پر مخمې خــــورا خپه دي |
| همت ګوره د ترکا نـــــــــو | د رومیا نو غضشا نیا نو ... |

انګریــــزان تلوسي کړل د افغانستان بې طرفۍ ته یې په شك و کتل لو مړي یې په برتانوي هند کې د اخبارونې ګې د خپریدلو مخه ونیوله او د برتانوي هنـــد فارن سکرتري د صوبه سرحد چیف کمیشنرته ولیکل : (( د کابل د شاهي مدرسې یوه تن صالح محمد نومي په پښتو یو شعرویلی چې خدای المان د برتانیې پـــــه ضد یا خولی خرنګه چې شعر په پښتو دې نو مطلب یې دا دی چې په صوبه سرحـــد کې هم نشر شي نو په برتانوي هند کې د سراج الاخبار د اپریل د ۱۶ ګڼې د خپریدلو مخه ونیسی * ! )) او وروسته یې د انګلیس د (( سی آی ډي )) یعنی د استخبا ـ را تو رئیس ته را یو روکړ او بیا نو د هند وایسرا د افغانستان امیرته یو له سرتکونې ډك لیك ولیکه خو د سراج الاخبار غوسنه ژبه بنده کړي او بیا نو ترلاس لاندي ـ امیرځواب ورکوي چې د سراج الاخبار مدیرته ویل شوي چې یا رووتکی مطالب نشرنه ـ کــــــــړي ۱۰ او همدا وو چې په سراج الاخبار کی د پښتو نشرا تو لومړیه

خبه غلي شوه او څرنګه چې علامه محمود طرزي ته د دې کار دوام د سراج الاخبار په مرګ تمامېده نو ځکه يې مصلحتاً دا کار بل وخت ته پرېښود .

د ۱۲۹۴ لمريز کال په ثور کې سراج الاخبار د پښتو يو بل با درده او هېوادپال همکار وموند، دا ځوان د سراجيه دارالمعلمين مدير غلام محی الدين افغان وُ چې خپلې د وطن د مينې ترانې يې ورته وسپارلې :

زړه زما ډک دی له مينــــــې د وطــــن
خپل وطن ما ته عزيـــــز دی تـــر خپل تـــن

دا سراج الاخبار ته د غلام محی الدين افغان د لومړي سپارل شوي شعر مطلع وه، دده يوه بله د ميزان د ۱۸ په ګڼه کې هم راغلــه :

اميد مه کــــړه چې همېش به يــــې خوشالــه
په دنيا کې دی هر څه لـــــــــــــــره زوال

وروســـــې په بېلا بېلو ګڼو کې د عبدالعلـــي مستغني، عبدالهادي داوي او نورو شعرونه راغلل بيا د دې کال په ژمي کې د انګرېزانو د يا د شوي تهديــد او مخالفت له امله سراج الاخبار پښتو برخه نه درلوده .

د ۱۲۹۵ کال په پسرلي کې يو ځل بيا د مولوي صالح محمد په شعرونو سراج — سراج الاخبار پښتو خپرونې پيل کړې، د همدې کال د قوس د ۱۹ په ګڼه کې د حسيات ملي تر سرليک لاندې د ملا محمد خان عرض بېګی يوه خوږه ملي چاربېته خپره شوه :

افغانستان خلق زمري دي بــــــړي انګار به شـــــی؟
خيال د بدو ورته مه کـــړئ ننګونسا ربه شـــــی؟

په دې توګه علامه طرزي په سراج الاخبار کې يو ځل بيا پښتو خپرونې ورو — ورواج ته ورسولې او بيا يې د خپلې اصلي موخې په لور يون پيل کړ، د غلام محی الدين افغان وطني او ملي شعرونه يې پر له پسې پکې نشر کړل او پښتو خپرونو ته يې پراختيا ورکړه .

د همدې کال د دلوې د پنځم په ګڼه کې محمود طرزي او دده ملګرو يو بل زړوروتوب وکړ او په دا سې وخت کې چې بيا په تنګرهار کې و. د عبدالهادي داوي د ((بلبـــل ګرفتـــار)) شعر يې نشر کړ چې د افغانستان د آزادۍ غوښتنې هيله پکې نغښتې وه . د ۱۲۹۶ کال د جوزا د دوهم په ګڼه کې د ادبيات ملي تر عنوان لاندې دده يو شعر پښتو ژبا ړه چې مولوي صالح محمد په خاص خوږ والي او سلاست کړې وه خپره شوه او د لوی استاد پوهاند حبيبي خبره د ا ژبا ړه دومره مقبوله وه چې په کندهار کې

ACKU

حتی د ښخمنو خولې ته هم ولویده خوله په خوله او روله کېدله او د وطن له مینې نه به یې ژړل . وربسې سراج الاخبار د خپل ژوند تر پایه په د (۱۹۱۸ کال تر پایه) پښتو شعرونه او مقالې نشر کړې او له دې لارې یې د پښتو ننني ادب وروزه (د دې موضوع د تفصیل له پاره وګورئ : پښتو چاپي آثار د ۱۳۵۷ کال چاپ د دکتور روان فرهادي مقاله) .

به زړو کالبونو کې نوي سا :

شعر معمولاً دوې خواوې لري : خوند او رنګ یا مضمون او شکل . د خوند او مضمون په برخه کې یې ښه خیال او د ((شعر د ژوند له پاره)) له مخې له ژوند سره تړلی ګټور خیال غوښتل کېږي او له رنګ یا شکل نه یې ښه ادا، هنري ادا او خوږه او اغېزمنه ادا مطلب ده او د شعر دا جولېزه او ماڼیزه ښکلا له یو بل سره پیوند شوې او غوښتل شوې ده .

په پښتو ادب کې د پښتو بیا وړی هنري شاعر کاظم خان شیدا د شعر دې دوا ړو خواوو ته داسې نغوته کوي :

مضمون د شعر له پیکر دی
رنګین الفاظ یې له زیور دی
ور ته ضرور دي دا دواړه څیزه
پیکر که هر څو د لربا تر دی
(د شیدا دیوان د کابل چاپ)

نو زموږ په نوي ادب کې هم مضمون اساسي غوښتنه ده او زموږ نوي یا ننني ادب دا سې وخت سترګې وغړولې چې زموږ ملي غوښتنې د ملت د سیاسي او بشپړې خپلواکۍ په پوله ولاړې وې او زموږ د دې وخت شاعر رسالت درلود چې دا غوښتنې په خپل شعر کې منعکسې کړي، دوی هم همداسې وکړل او که دا کار یې نه وای کړی نو د دوی شعر به موږ زموږ د ننني ادب پېلامه نه بالله .

دوی د موضوع د اهمیت له مخې لومړی د شعر د مضمون نوي تابه ته لاس اوږد کړ او د خپل دې هدف له پاره یې هماغه زاړه . شعري کالبونه استعمال کړل . په پښتو کې د خدای په فضل شعري کالبونه لکه د عربي او دري غوندې لږ او محدود نه وو او د پښتو کښې او اولسي ادب پهلمنه و بولونه اوږا تړونه درلودل زموږ —

تحول طلبو او ازادي غوښتونکو شاعرانو هم دا کار کاوه او د خپل ملک او ملت د آزادۍ او خپلواکۍ لپاره ئې پر پښتو ادب را وغوړول. په پښتو ادب کې تر ټولو پخوا په سراج الاخبار کې د پښتو ادب راغلی شعرونه زاړه کالونه لري په سراج الاخبار کې لومړي چاپ شوي پښتو شعر د بوللی بیه لري :

دا څه عجب دوران دي

چې راغلی په افغان دي

او دوهم شعر ئې چې استاد عبدالهادي داوي ویلی دي :

اخبار هر ملت ته جانه

ضروري دي واوره ما نه

د هغې زړې وعظیه او نقلیه منثوي په بنهدي چې سوونه کاله پخوا ئې په رشحالبیان اسرارالعارفین او نورو کې نمونې راغلي دي خو خوند ئې بیا دا ښ نه دي او نوي خبري نوي هڅونې او د فکر نوي فتح شوي ملکونه لري .

همدا راز د مولوي صالح محمد هغه اوږده بهتیزه مثنوي چې د انګریزي استعمار پخی مانۍ ته ئې سخت تکان ورکړ د بنې په لحاظ یوه مثنوي وه چې نمونې ئې په پښتو ادب کې زړې دي او لومړنی تر لاسه شوي نمونه ئې د اکبر زمینداوري ده چې رموز الامته را رسیدلی خو د مضمون په لحاظ یوه محمه موضوع را نغښتل شوي او د نړۍ د یو بر لسوي ښکیلاک ګر ځواک په مقابل کې ئې دا زادي او حق سنګر ټینګ کړي دي . همدا د شعر د موخې او هدف اغیزدي چې انګریزي له خپل ټول قوت او وسلې سره ویرولی او د استعمار د ننګه ما ئې ئې لړ زولی ده .

غلام محی الدین افغان یه :

زړه زما ډک دي له مینې د وطن

خپل وطن ماته عزیز دي تر خپل تن

غزل کې د تغزل زاړه بندیزونه مات کړل او د وطن مینه ئې یکې ځاي کړه ملا محمد عرض بیګی بیا د اکار له چار بیتي څخه وا خیست او د چار بیتی زوړ چوکاټ ئې د وطن د مینې پو نوي ارخ بیا تولوئ جشتوکړ * مولوي صالح محمد د (بلبل ګرفتار ) په ژباړه کې ترکیب بند ته نوي روح ورکړ او نوي ترنم ئې یکې پیدا کړ :

یو ورځ زما تر غوږ شو له بلبله    چې قفس کې ئې ژړل دا ئې ویله

چې بندي شوم د صیاد له سخته دله    ولې نه پوښتي څوک حال زما پو دله

ولی نسته بـــی فضا نه کار او با رزمـــا

ولی حـــبس ابدي راغی په وا رزمـــا

ملاعبدالباقي افغان هم د شعر په زاړه کالب کې نوي فکرونه و تحلول او نورو هم هـــداسې وکـــړل :

د سراج الاخبار په پانو کې مود پښتو د ادبي بد لون بيلګې تر نظر تيرېږي شوې هلته به لره پښتونخوا کې هم د شلمې پېړۍ له پيل سره د پښتو نثني ادب غزونې وکړې او هلته هم تر کالب شکنۍ وړاندې شاعرانو د شعر په زړو کالبو نو کې نوې سا ورکړه او ددې له لې سرلاري را حت زا خيلي وويل :

لکه څوک د بل په سا نه ژوندی کيـــږي

داسې قام نه دی د بل په دم تازه

که د تللي کا روان پـــل درنه غلط وي

خدای د پاره وا خله خپل قـــدم تازه

او په دې توګه يې پښتانه قدم اخيستلو ته هڅول او په خپله يې هم د پښتو په ادب کې نوي ګامونه اخيستل پيل کړل .

د پښتو په زړو کالبو نو کې نوې ساعا مه شوه او د شلمې پېړۍ په دريو لومړيو لسيزو کې د نوي ژوند روښا نو ونکي او بيا نوونکي ډېر شعرونه وويل شول او په لره پښتونخوا کې په راحت صاحب سربيره په ده پسې اروا ښا د فضل محمود مخفي ، محمد اسلم خان کما لي، محمد اکبر خادم، عبدالخالق خليق، ميا احمد شاه، عبدالمالک فدا، فضل احمد غـرا ونورو ډېر ې د ژوند ترا نې وغږولې او ډېرې د ژوند سندرې يې وويلـــې .

فضـــل محمود مخفي به ويـــل :

ربه موږ له مينه د قـــــام را

پـــه دې اورکې را له آرام را

محمد اسلم خان کما لي د افغا ن د يووالی ناره داسې اوچته کـړ ه :

اما سين آمو تركوتی دغه واړه افغان يو دي

د دنيا هره خطه کی د پښتون د ين ايمان يودی

محمد اکبر خادم پښتو غزل ته داسې زور او شور ورکړ :

چې مشال ترې رڼا اخلي هغه اوربم — په پوکو چې تازه کيږي هغه سکور يم

بيا به اوږشم كه پوكى راته چا را كړ — په دې څه کځن سوړنه ښکاريږم تور يم

او فضل احمد غر افغان بيا نو د پښتنو په دنګو غړو نوکې د پښتو ادب خوا ږه ازانګه داسې خوا ره کړل :

وار خطا دې خطرې د لارې نه کړي

کمنزل ته د مقصود رسيده غواړي

که د خيال د آزادۍ د خپل وطن وي — نه وېريږه که دې مخکې مشين ګن وي

چې زما په باغ خزان د پېژه ئې څه کړم — که بهار د نورو خلکو په چمن وي —

څو ګلونه د هغه د پاسه کيږدم — چې کوم ځای کې د قومي شهيد مدفن وي

واورئ اې په مخ د ځمکې اوسيدونکو

د آسمان څخه آواز راځي د څه دي

د آزاد يو ساعت ژوند په حقيقت کښې

د غلام تر دا يمي ژوندون نه ښه دي

په لره پښتونخوا کې د نوي ادب په پرمختګ کې لومړي د راحت زاخيلي (افغان) جريدې چې په ۱۹۱۰ ع کې تاسيس شوې ده نه هر څه وا خيسته په پښتو ادب يې نوې پېژوينې وکړي او په پښتو کې يې نوي ادبي صنفونه اوژا نرونه د ود کړل په ۱۹۲۵ ع كال كې د (سرحد) د مياشتني رسالې په خپريدلو سره د پښتو د نوي ادب پالنه د دې خپرونې په غاړه وه او بيا نو په ۱۹۲۶ ع كال د (افغان) مياشتنۍ مجله په دې خدمتكې ورسره مله شوه او په ۱۹۲۸ كال كې د (پښتون) مجلې په مټ د سيدلو سره نوي اد ب د لوي تاكلي هدف له پاره په نه ستړي كيدونكې خدمت بوخت شو ·

په هر حال د اوختسره له دې چې زموږ په ادبكې د خپلوا كۍ غوښتنې اوتر ټي ته د رسيدلو فكر په شعركې چټكي غزونې وكړي خو په اوله كې د هغې له پلوه په شعركې كومه ځمه قالب شكې ونه شوه ·

شعري کالبونه ما تيږي !

په ۱۹۱۹ ع كال (۱۲۹۸ لمريز كال) د افغانستان د بشپړې خپلوا كۍ په ترلاسه كيدلو سره د شعر له لاس او پښو څخه هم پخوا لی زنځيرونه ما ت شول او فوټي لارې او لورې يې ځانته ونيو كل كه څه هم د دې دورې په شعرونو په لاس کې نښته



ACKU

خو د دې وخت څو هغه ملي اوو طني ترانې چې را پاتې دي تو لې لو ړ مو سيقيت لري او تر دې وخته پورې چې د پښتو شعر کوم اولسي او ديوانې کالبونه موجو د وو په يوه کې هم نه دي لکه :

امیـــــر امان الله خان چې غازي دي بـــې مثال
وملت د افغـــــــــان وبخښل استقــــــلا ل
قا نون و آييــــــــــن ـ جو ړ کړ له دوي د دين
دپاره د پا ره د مسلمـــــان

يـــــا :

شاه غا زي دی امیر اما ن الله خان عا د ل ـ عاقل ـ عامل ـ کامل
ملك محکم او قوي دي افغانستا ن متين ـ رصين ـ حصين ـ سنگين

اونور ....

کله چې د کند ها ر طلوع افغان د لوی استاد پو ها ند عبدالحی حبیبي پــــه چلو نه د ۱۳۱۰ ش کال د کې له شپا ړ سم ګڼه ورو ـ ورو تول په پښتووا ونت پښتـــو ادب ته یې د نو رو پنیا دي پښتو ترخنګ نوي پا رکي هم وروپښل لو مړی یې د ا ســي پا رکي يکې خپاره کړل چې د لرغونو مسد سونو، مخمسونو، ترکیب بندو نو، ترجيع بـــ بندو نو پخوا ني بندیزونه یې یکې مات کړ ل او نو ښتونه یې یکې را وستل او بیا پــــې د ۱۳۱۱ کال د جوزا په ۱۸ نیټه : (( و پښتنو ته د پښتو نوي شعر )) ترعنوان لاندې يو دا سې شعر خپور کړ چې تول معمول کالبونه یې له بيخه يکې وران کړي وو :

کښېنه له خوا په ـ پا څه پښتو نه ـ پام کړه چې نسي ـ ته سرنګو نه
را ځـــه چې پا څـــو پر لاري څونــــــه
ولا ړ سه ګو ره ـ ای زما ورو ره ـ مسې نسکو ره ـ ووزه له کــــوره :
و کړه کتنه ـ نور ما نور ته د عـــا لم

وروسې یې د پر دا ډ ول پا رکي نشر کړ ل او د پښتو شعر يوه نوې دوره يـــې پیل کړه د وخت تو لو معا صرو شا عرا نو خپلو شعرو نو ته دا نوي قا لبو نه خوښ کړ ل .
د کند ها ر (( پښتو )) مجله بله خپرو نه وه چې لو مړ ی یې په کند هار . او بیا په کابل کې خپرو نې درلو د ې او د پښتو د نثر و شعري کالبو نو په ما تو لو کې یې ونډه وا خيسته .
(( کابل )) مجلې د پښتو مجلې ترمړینې وروسته دا دنده تر سره کړه او د پښتو د نوي ادب غو ره ' نمونې یې ورا ندې کړي .د ننګرها ر (( اتحا د مشرقي )) او نورې خپرو نې هم ورسره ملې شوې .

د پښتو په ننني ادب کې د هغه نوي ادب له سرلارو څخه چې په پېړه پښتونخوا کې یې د پښتو شعر شکل او مضمون ته نوښت ورکړ لوی استاد پوهاند حبیبي، استاد بېنوا اروا ښاد د استاد الفت، اروا ښاد د استاد خادم، محمد رسول مسلم، مولوي صالح محمد اروا ښاد د محمد عثمان پښتون، اروا ښاد د استاد محمد گل نوري او نور دي .

په لوړه پښتونخوا کې هم همدا وخت د پښتو شعر نوي ـ نوي کالبونه جوړ شول او د دغې په اصطلاح شاعرانو (( نظمونه )) را منځ ته کړل چې بېلا بېل جوړ ښتونه او د مسرېو او بېتونو او ... ونونه لري، د برق کاکاخېل د بېلتون سندره د همدې وخت د مجلې (( پیغام سرحد )) خپره کړې ده :

غړېدلـوري په گلزار * پېغا ررا غی په بو وار * ټول وطن شو سبزه زار

بلبـــلان په چغا رسر * بورا گان او تر او تـــــر

نوي شان دي د دنیـــا * غرېږه سمه په بېد بېــــا

د اروا ښاد د فضل محمود مخفي د (( وطن ترانه )) هم همدا اسې یو نوي اثر وُ چې نوی خوند او رنگ یې درلود :

وطن ـ وطن ـ وطن ـ وطن ، یا خوږ وطن زما

په ما له هـــر څه گـــران

په تا کې دی آرام د روح ـ د سر ـ د تن زما

له تا نه زه قـــربا ن

د اروا ښاد د عبدالمالک فدا دې نظــم :

دا دنیا کړه ورا نه وربه سر دغم کټوره کـــړه

نوې دنیا جوړه کړه ـ ربه د دنیـــــــــــــا

پسا که خپله مزکه د بې ننگـــه زلمي زوره کـــړه

بلـــه دنیا جـــوړه کړه

ربـــه د دنیـــــا !

په پښتو کې د ادبي او پښتون پوه ښه او پخه نمونه وړاندې کړه .

په لوړه پښتونخوا کې د دې غورځنگ سرلاري فضل محمود مخفي، عبدالمالـــک فدا، فضل احمد غر، محمد اسلم کمالی، محمد اکبر خادم، عبدالخالق خلیق، میـــا احمد شاه شاه، عبدالاکبر خان اکبر، سمندر خان سمندر، سید رسول رسا، فضل حـــق شیدا، عبدالله جان اسیر، محمد شاه خیال او نور دي او وروسته بل نسل ځوانو نو ـ شاعرانو اجمل خټک، اشرف مفتون، قلندر مومند، همیش خلیل، سیف الرحمن سلیم،

ACKU

ایوب صابر او نورو د پښتو ژړه شاعري بېرته څو انه کړه او د کالب ما تونې په ساحه کې یې نوي او ابتکاري ګا مونه وا خیستل او د زړو کا لبونو په ځای یې نوي کالبونه جوړ کـــــــړل ۰

هو ! دا هم د یا دولو ده چې د نو یو کالبونو په څنګ کې زړو کالبونـــو هم وده وکړه او نوې سا یکې ښه او ښه وغزیدله، د ادب د بیان ساحه پراخه او دا لوت وزرونه یې لوی شول ، پښتو ادب نوې ښه و موندله او د فکر او خیال نوي افقونه یې پــــه نښـــــه کړل ۰

د پښتو د دې نو یو سندرو د دود پدو په وخت کې لا د پښتو لرغونې سندرې نه وې تر لاسه شوې او لا تر دې وخته د سلیمان ما کو تذکرة الاولیا او د محمد هوتـــک پټه خزانه په لاس کې نه وې خو جالبه ده ا و س چې د پښتو لرغونې سندرې لکه د ـــ امیرکروړ ویاړنه، د بیټ نیکه مناجات، د خرښبون خلوریخ ، د اسماعیل نیکه ناره، د شیخ تیمین بابا ړکی، د ملکیار غرشین بارکی ، د قطب الدین بختیار کاکی سندره ، د شیخ متی مناجات، د هوتک بابا سندره او د ملکیار بابا سندره او نوې سندرې دواړه لرونو کله چې دا نوې او د نو یو کالبونو لرونکې سندرې د لرغونو سندرو ترڅنګ کېږدو هما غو ته بېرته جوړ ښتونه او سکښتونه لري او خرګندېږي چې په غیر ارادي ډول پښتو شعر خپل لرغونی آریا یې اصل ته رجوع کړې او په خپله طبیعي لاره روان شوی ـــ دی ۰

په دې توګه کالب ما تونې دومره پرمختګ وکړ چې له آزاد یا سپین شعر سره یې ډېره نږدې پوله پاتې شوه او قا فیې اوردیفونه یې ډېر لږ په پام کې ونیول ۰

<u>آزاد شعرونه وزر پرانیـــــزي :</u>

شلمې پېړۍ د ادبي پوهنو او تلپهنو چا رلا پسې ګړندۍ کړه، په زړو کالبونو کـــې نوي سا و چلیده، نوي فکرزا ړه کالبونه ما ت کړل، ترڅنګ یې آزاد شعر وزرونه ول او د پښتو نخوا د شعر په ارته فضا کې یې الوتنې پیل کړې ۰ په دې ترتیب د شلمـــې پېړۍ د شاعر له پاره چې ډېرې غوښتنې او ډېرې پوښتنې او ډېرې هیلې لري د خپل فکرد بیان ډېرې اوپیلا پیلې لارې خلاصې شوې ۰

آزاد یا ړکي چې سپین شعرونه او بې قافیې شعرونه هم ورته وا یي او ځینــــې کسان یې (( نوي شعرونه )) هم بولي په ختیځ ادب کې نوې پدیده ده په پښتو کې هم د آزادو شعرونو دود پدل د وروستۍ نیمې پېړۍ سوغات دي ۰

عيني كسانو ته چې آزاد پارکي په قافيه او رديف سربيره له وزن څخه هم آزاد ښکا-
ري دا لوبه تيروتنه ده . ځکه شعر چې کله وزن له لاسه ورکړي هغه نو بيا
شعر نه ګڼل کيږي او د نوي ادب د نورو ټولونو لطيف ادب ، کيسې او نورو
په ډله کې راځي او همدا لته دي چې د آزادو شعرونو ويل د مقيد و شعرونو ترو-
يلو سختيږي ځکه په مقيدو شعرونوکې د رديف او قافيې ترڅنګ د مسريو د وزن
څپې هم تاکلي او شميرلې وي خو په آزادو پارکوکې داسې کومه تله نشته
نو وزن يې له دي چې ښه ايزانه ولونه ولري بوزاي د شعر د موسيقيت (تون) له مخې
په غيرمحسوس ډول تعقيبيږي او دا نو واقعاً چې درونده کار دي او ترڅو چې د وزن پيمانه
ډکه نه کړي داسې وينا نه آزاد شعر نشو ويلای .
سره له دي چې په پښتو ادب کې عيني د نکلونو ناري ، عيني د اتڼ ناري ، عيني
د بنادي په سندري او نورشته چې رديف او قافيه نه ساتي يوازي وزن لري او د ننني
آزاد شعر په قانون برابريږي لکه دا ناره :

که اورګډ کړي د يږ پخو په سپين زيږو
مروريې پخولا نه کړ ،
لاورښي ـ ورښي پاڅې ملکونه

خوبيا هم په پښتو ادب کې نوي آزاد پارکي دارو پايې ادبيا توپه پښو (تقليد)
را منځ ته شوي او د لو ديځ له لوري يې زموږ ادب ته لاره موندلی ده .
آزاد پارکی هم لومړي يوازي له قافيې او رديفه آزادشول نوريې د ټيلو
مسريو د سيلا بونو تول وساته خو بيا ي بوازې د مسريو د څپو تول هم له لاسه ورکړ
او د لړ و او زيا تو څپو مسريه سره وا ولي شوي او يوازي د شعر د ويلو په وخت کې يې
د يوي پارچې شعر له پيله بيا تر پايه داسې آهنګ وساته چې د شعر پيلا بيلې کړ ي
سره ييګا نه نه بريښي او له يوي مسري نه بلې مسري ته د تللو په وخت کې د شعر په
آهنګ کې ناموزون نه ملو ونه ګډي او خلو ونه به پيښ نه شي .
لکه څرنګه چې د بشپړ تيا يې يوې غوښتنه ده نوي مقفې سندري لومړي په بې
قافيې خو سره همتو له څپولرونکو مسريو او بيا بې قافيې شعرونه په
بيخي آزاد و شعرونو بدل شوي او ښکاره نه ده چې دا يون به بيا په څه او ړي
او آزاد شعر به څه بڼه غوره کوي .
د افغانستان په خپرونو کې لومړنی بې قافيې شعرونه چې ما ليدلي (کلهيه
داره رويه) ګ راسه ده چې سرتر پايه په آزاد شعر

کنبل شوي او د سیلابو نو دتول په ساتلو سره یې یوازې ردیف او قافیه له لاسه ورکړې دي داډ رامه تر ۱۳۱۷ کال را وروسته کنبله شوي او خوبیته یې دادي ۰

( باره خولنۍ ۰ دا د ۰

ددې له خولې نه جارشم
ماویلې خنګه به شي
زه به جګړې تــه وو زم
دابه او بنکونا ستــــــه
دبیکسی نـه ژ ا ړ ي ۰۰۰ )

تردې را وروسته داروانباد عبدالعظیم سایې هغه آزاد شعرونه دي چې د ۱۳۳۱ ش کال په اوږدوکې د (نیلاب) آزادې جریدې خپاره کړي دي :

(دا پښتو د پښتونخوا د پښتنو د ۰
پرې به پاییس پرې به وباړې وا ړه لوګـه
زه پښتون یم له پښتو سره مې ده مینه
هم روزمه به پسې زه په پښتونخوا له ۰۰۰ )

وروسته بیرو شاعرانو آزاد پارکې وویل ۰ اروانباد الفت استاد بینوا ، لایق ، زیار ـــ پسرلی ، هیره رفیع او نورو کښ شمیرخوا نو شاعرانو په افغانستان کې دا زاد ـ شعر پا لنه وکړه ، او نوې خوزې پارچې یې را منځ ته کړې ۰

په لره پښتونخوا کې هم رسا ، شیدا ، او نورو کالب ما تونه دېی قافیې شعرونو تر پولې را رسولې وه او تر ۱۹۴۸ ع کال را وروسته یې قافیې شعرونه په اسا ســــی توګـه غزونې وکړې ۰ ددې شعرونو سرلارې قلندرمومند ، مراد شینواري ، غنی خا ن مفتون ، دهقان ، وهبي ، ارباب رشید ، ایوب صابر ، نواز طاهر ، پریشان خټک ، ـ رینوا زمایل ، نوزیه انجیم او نور دي ۰ دقلندرمومند (ددنیامشال ) او دمراد شینواري (کوچې ) او ( باړه ) دبشیر آزاد شعرلومړنۍ کامیا بې نمونې د ي ۰

دقدامت پسند وله مخالفت او ګوزارونه سره ، سره آزاد شعر په لره او بره پښتو نخوا کې وده وکړه او په خلکو کې یې محبوبیت وموند او د نوې ژوند له نوښتونـو سره دادب دبڼ دا تانده شانګه ورځ په ورځ مخ په ښیرا زې او وده ده ۰

په مجموعی توګه د پښتو د نني ادب دشعر دبرخې په وده کې دلري اوبرې پښتو نخوا موتوتوخپرونو ، ورځپا نو ، جريدو اوخصوصاً مجلو زيا ته ونډه درلوده . او وخت په وخت يې د پښتو د نني ادب دمعياري او ښوا ږه شعر نمونې وړاندي او په خلکو کې خوري کړي ، خو ددي تر څنګه د پښتو د نني شعرها نګري مجموعې هم هلته او دلته نشر شوي او د ادب مينا نو ته يې شعري مجموعې په خپلو کتا بو تو نوکې خوندي کړي لکه :

د غيرت چيغه ، با تور ته عقيده ، دوخت چيغه ، ژوند اوفن ( داجمل ختـــک ) د عشق جلوه ( دارشاد ) دزړه قطري ، دسپرلي ګل ( دعبداللهجان اثير ) . دغلبيل زړه فرياد ( داعظم خان اعظم ) ترا خه خوا ږه ، ادبي پنګه ( دعبدالاکبر خان اکبر ) دآزادي پيغام ، دسپرلي نغمه ، دزړه وينا عالي افکار ، غوره ـ اشعار ( دګل پاچا الفت ) را ز ، دزړه را ز ، شرنګ ، دګلوکر ، دافغانستا ن سفر ( دعبدالله بختا ني خدمتګار ) بريښنا ( دبرق ) زهري ( دبشري بيګم ) دغنمو وږي ، پريشا نه افکار ( دبينوا ) تنها کي ، هغه دوه ملالي سترګي ( دپريشا ن ختک ) دبيلي تيښترا نې ، کوکچه ( دصديق پسرلي ) ازغن سپرلي ، ولو لـــي ( دپيرګوهر ) ملي پسرلي ( دپوها ند حبيبي ) ګل ( دحکمت ) دخيبرو زمـــی غږونې ، منظومه سفرنامه ، پون ( داستاد حمزه شاروان ، دملغلرو اميل ، دبا بانصيحت ( دقيام الدين خادم ) حکمت ، سم ( دمحمداکبرخادم ) زه او زما زما نه ( دخليـق سلګۍ ( ددوست ) دا غونه ( دراحت ) باغ راغ ، دبيديا ګلونه ، دقرآن پيغام ، نوي ترنګ ( درسا ) پرا س ( درضا محمندي ) بريښ ، سکروټي ، تيريا دونه ، دجمهوريت وږمې ، اي هيواده ! اي هيواده ! ( درفيع ) نيم جام ، ډک جام ( دساقي ) دوپريـه چـم کې وارد ننګمودي ( دسايل ) خوږه شپېلۍ ، دالم څوکه ، ليت او لار ، دقرآن ژړا ( دسمندر ) دسوزيا دونه ( دسوز سرحدي ) پښتنې جام ، غورځنګ ، ملي دردونه ( صيال کاکړ ) خيبر ، سبوږمۍ ، داجمل په ياد مشاعره ( دسيلاب ساپي تولونه ) پيغام ( م . شي ) اسويلي ( دفضل حق شيدا ) پښتو مثنوي ( دمولوي صالح محمد ) دميني غږ ( دظاهر کلاچوي ) لرغوني خوب ، پروا ز ، دشعور په الي ( دنواز طائر ) منجري غورزنګ ( دولي محمد طوفان ) توده وينه ( دعاصي هشتنغري ) دتيکه ګالو پيغام ـــ ( دعطا يي ) دپسرلي نغمه ، دغازي سندره ( دميررحمن غازي ) دخواري کښ چيغه سپرغۍ ( دسيدالابرارغر ) دغره ګلونه ، ګل کوهي ( دفضل احمدغر ) پنجري چغار ، دغني پلوشي ( غني خان ) سور اسويلي ( فرمان ) دشاعرپسرلي ، فريادي شاعر ( دمحمد جان فنا ) .



ACKU

سمسور گلونه (دکرامت شاه فولاد) دژوند پیغام ، خوب اوخیال (دفیض‌الله فیـــض) ارما نونه (دمطیع الله قریشی) سباوون (دقلندرموند) رنی‌اوښکی (دمقدر شاه کاکاخیل) تلوسی (دبرکت‌الله کمین) پښتنون ارما ن (دری‌توکه ګپ‌کسان) ښکلی شعرونه (دوه توکه ـ ګپ‌کسان) نوي شعرونه (ګنوکسا نو) چونغره کیږدیه ـ یا دونه او درمقدونه (دسلیمان لایق) نوي ژوند (دفضل غنی مجاهد) زهرګلونه لعل او کښی لعل ، دارالاوهام (دمجزوب مروت) ګیلی‌وسوسی ، دسهیل ستوري ، سوزاو سا ز با تور (دصاحب‌زاده محمد ادریس) دمخلص‌رباعیات ، دمخلص‌کلیا ت (دولی محمدمخلص) تنکۍ‌مینه (دمسافر) پرونی (دمستوري شال) دژوند سندره دشاعر دنیا ، څرپکی ، کا وا کی (دمفتون) دزړه لوګی ، پټ‌پسرلی (دمحمددین مقید) روڼ سحر (دمهدي) دسوي زړه آوا ز . دضمیرآواز ، دیوان نصر ـ (دنصرالله خان نصر) خوا ږه یا دونه (میا امان الملك نور) افکارهلا لـــی (دهلالی) زما شدري (دهمیش‌خلیل) دژوند اتحور (دشریفی‌شریف‌تولنـه) دزړه وینی (دکبرا مظهري) اته ګیسونه (دبشیراحمدکاکاخیل) الهـــا مـونـه (صاحبزاده عبدالحمید) اندا غ ، پوهرونه تکورونه ، پهلی زړونه (سیف‌الملوك صدیقی) تـرانـه ، آزاد (دمیا ازادګل‌کاکاخیل) خیالونه (هلال احمد هلال) دتهرا وږمی (دمنتظر افریدي) دخیا لو لو سپرلی (دمحمد نوا زختك) دیوان ندا (دعبدالمالك نـدا) سلګۍ (دغلام یوسف‌یوسف) سوران (دنظیر درانی) ګوګوشتو (دراحـت سیـال) ویته اومینه ، زندانی نغمی (ددوکتورزیار) اودا سی نوري مجموعـــی

<u>پښتو نثرمخ په بره</u>

دشلمی پېړۍ په را بریدلو سره چوشعر سربیره دپښتو نثر لمن هم‌ویړه ، خوره او ارته شوه . له څوتشو دینی ، تصوفی او تا ریخی موضوعاتو څخه راو ووت . دتکلف ، تصنع اوتسجیع درا نه کا لبونه یې ما ت‌کړل او دروا نی ، سلا مت عام فهمی او په زړه پوري توب په پېر یومخ په بره روان شو . په زړو فورمونـو اودو لوتو سربېره یې نوي فورمونه ومنـل اودنړ یوا ل پرمختللی ادب‌نه یې ـ نوي صنفونه اوژا نرونه وا خیستل .

تشریحی او استد لا لی نثررا ز ـ را زموضوعاتو ته غیږه خلاصه کړه .

درسي متونه، اخلاقي، اجتماعي، سیاسي او ساینسي آثار یې وکښل شول او پښتو هم لکه د نړۍ د نورو ژبو غوندې د هر مطلب د ادا کولو جوګه شوه .

ترسیمي او ښکلا یوي نثر هم له نړیوال ادب څخه نوي ژانرونه خپل کړل او ناولونه، ډرامې، لنډې کیسې، لطیف ادب، سفرنامې، تمثیل، څېړې، رپورتاژ، ادبي ترجمې، ادبي مقالې، کره کتنې، توکې او سکونډونه، فلمي سناریو او نور دا ډول هنري ژانرونه د پښتو نثر په کورنۍ کې سترګې وغړولې، ځوان شول او له نړیوال دې ډول ادب سره د سیالۍ جوګه شول .

د پښتو ادب د بېلا بېلو ډولونو په وده کې پر ځانګړو کتابونو سربېره ورځپاڼو، مجلو او جریدو هم ونډه واخیسته او دا ټولې د شلمې پېړۍ لورېنې وې چې د پښتو د نننی ادب په خورېدلو او پخېدلو کې یې لوی لاس درلود او د پښتو حساسو او ځوانو لیکوالو ته یې د استعداد د غوړېدنې او تیارز زمینه برابره کړه .

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو د شلمې پېړۍ نثر په اوو برخو ویشي :

لومړی ــ دیني نثر .

دوهم ــ سیاسي او د صحافت نثرونه .

درېیم ــ تاریخي، فولکلوري او داستاني نثرونه .

څلورم ــ تعلیمي نثرونه .

پنځم ــ تحقیقي نثرونه .

شپږم ــ هنري نثرونه .

اووم ــ قانوني نثرونه .

او بیا نو د هرې برخې په باب معلومات ورکوي او زیاتوي چې له نوېو کړېو سره کو شیر کوي (وګورئ: پښتو چاپي آثار د ۱۳۵۷ کال چاپ ((د پښتو نثر له نولسمې پېړۍ را هیسې)) د لوی استاد د تحقیقي مقاله ۵۱ــ ۶۳ مخونه) .

موږ دلته لومړی هغه ادبي صنفونه او ژانرونه در پېژنو چې شلمې پېړۍ په پښتو لورولي او یې را منځ ته شوي دي او وروسته به نو د پښتو د نننی ادب د پرمختګ پر عمومي جاج واخلو .

<u>لنډه کیسه په ((شلېدلې پېړۍ)) کې را غله :</u>

له کومې ورځې نه چې انسان ژوند پیل کړی له هماغې ورځې نه یې کیسې هم جوړې کړې او د ژوند جالبې پېښې یې د کیسو په بڼه له یوه نه بل ته لېږدولې دي .

دخط له منځ ته را تګ نه وروسته د انسان د اکیسی به څه نا څه بڼه خوندي شوي او —
را پا تی شوي دي ۰

فولکلوري کیسی د بشر د پیري زړي کیسې دي چی د دوي زا ړه اندونه تحلیلــونه او نتیجه ګیری؛ موږ ته را رسوي او د بشري را شو د رشو زړي لاري را ښیي چې اوس هم د نړۍ په زیا تو ملتونو کې خوندي دي ۰

د ننني لنډي کیسې یا افسا نې فکر هم له همدې کیسو نه را زیږ یدلی دی او د همدې فو لکلو ري کیسو پر مختللی بڼه ده ۰

هــو ! ننني لنډ ه کیسه لو مړ ی په لو یدیځ کې دو د شوه او هما لته ددې — کیسې هنري او ادبي الوا ڼه و تا کله شوه او فني چو کاټ ورته جوړ شو ۰ خو ددې — معنا دا نه ده چې په شرق کې کیسه نه وه بلکه په شرق کې کیسه د پیره زړ ه او لرغونې وه، پنچا تنتــرا یا پنچا کیا نه چی د آریا یی کیسو مجموعه ده تر دوو زرو کلو زیات عمر لري او په دې موده کې یې د ترجمو له لارې تر شرقه او غر به پورې تو له د نیا تسخیر کړ ې ده او لو مړ نیه پښتو ژبا ړ ه یې هم څه کم درې سوه کاله عمر لري چې افضل خان خټک کړ ې ده او بیا یې نورې ترجمې هم شوې دي ۰

د پښتو په لیکلي ادب کې هم د لسمي پيړ ۍ نه را په دېخوا کیسې لیــږو او دا خوند احمد لنډ ې مشهورې کیسې چې درې درې نیم سوه کاله پخوا لیکلې شوې د ننني کیسـه لیکنې په چو کاټ کې نه مطا لعه پرې کیدای شي او د یري هغه با ریکۍ پکې شته چې ننني کیسه لیکنه یې له موږ څخه غوا ړ ي؛ د ((ورك زوی څنګه پیدا شو )) کیسه یې یوه د یره ښه نمو نه ده چی ما د ۱۳٦۰ کال د کابل مجلې په نهمه ګڼه کې څیړ ه کړ ې ده ( هلته دې رجوع و شـــي ) ۰

په دې سر بیره زموږ زیا تې اولسي فو لکلو ري کیسې چی موږ یې ملي کیسې بولو همغه زموږ خلکو را منځ ته کړ ې او د پښتنی کلتو ر زیږ نده دي؛ دا کیسې هم خاص فني جو ړ ښت لري چی د ننني لنډ ې کیسې زیا تې مثل شوي با ریکۍ پکې شته ۰

بیا هم هغه کیسه چی موږ یې ننن لنډه کیــسه بو لو او د غرب د شا رټ ستوري په پښتو او پیرون را منځ ته شوي په غرب کې له نو لسمې پیړ ۍ څخه را تسلیلدلې او په پښتو کې په شلمې پیړ ۍ محصــول ده؛ هغه کیسې که په غرب کې هر څو مره څلك او پلــك درلود خو پښتو ته په (( شلیدلې پښه )) کې د پښتو د لوی لیکوال را حت زا خیلـــی کړه را غله او د شلمې پیړ ۍ په لو مړ یو لسیزه کې یې د کیسې علا قمندا نو ته پر و نـــی

له مخه لرې کړې، دا کیسه که هر څو مره په زړو جامو او شلېدلو پڼو کې وه خو پښتنې ښکلا له لیرې یې ښې برېښېدله او هغه د اروا ښاد الفت خبره : (( په زړو جامو کې ما ولیده — حوره )) . (( کونډه نجلۍ )) هم د پښتو د دوهمې کیسې په توګه له راحت صاحب کره وزیږېده، دا هم د تناوړو او کرغېړنو دودونو په کړۍ کې راګیره وه خو د بوږنې کیسې ټولې خوبۍ یې پکې وې او بیا نو په پښتو کې لنډه کیسه دود شوه او د لرې او برې پښتونخوا له ډېرو لیکوالو کره وزیږېده او د کتابونو مجلو جریدو او ورځپاڼو ټوټې یې ډکې کړې .

د شلېدلې پڼې په تړاو کې اختلاف دی ډېر لیکوال عقیده لري چې دا کیسه په ۱۹۱۸ ع کال له راحت صاحب کره هغه وخت وزیږېده چې (( کونډې نجلۍ )) یو کال پخوا د مشرې کیسې په توګه له ده کره سترګې پرانستې وې او دا کیسې راحت صاحب د هغې نهضت تر اغېز لاندې رامنځ ته کړې چې منشي پریم چند د شلمې پېړۍ د دوهمې لسیزې په پیل کې په سرحد کې د اردو افسانې په لیکلو سره پیل کړې وو .

د سید تقویم الحق کاکاخیل د معلوماتو له مخې دا کیسه د ۱۹۰۸ ع کال ده : ((راحت زاخیلي نه صرف ناول لیکل شروع کړه بلکې د شلېدلې پڼې ( ۱۳۲۶ هـ ق — ۱۹۰۸ ع ) په نوم یې د افسانو ابتدا هم وکړه )) او هم نوموړي محقق خپل د پښتو آثارو په کرونولوژیک فهرست کې دا کیسه د ۱۹۰۸ ع کال په چاپي آثارو کې داسې راوړېده : (( ۱۳۳۶ هـ — ۱۹۰۸ ع : اسرار العارفین شیر محمد هوتک ګلبن — نعمت عبد الحکیم، چاردرو پښر نعمت الله شلېدلې پڼه راحت زاخیلی، دیوان احمد کلاچي )) (وګ : د پښتو چاپي آثار ۱۳۵۷ ش هـ د تقویم الحق مقاله) .

د تقویم الحق لیکنه له لیدنې سره اړه لري او په خپل فهرست کې را وړي آثار یې جنساً لیدلي نو ځکه باوري برېښي او ښایي چې شلېدلې پڼه یې په چاپي پڼه لیدلې وي او چې د اروا ښاد مشو نو بیا د پښتو لنډې کیسې د پریم چند د اردو کیسو په تعقیب نه دي رامنځ ته شوې او تر دې وړاندې یې سترګې غړولې دي .

په هر حال په پښتو کې لنډه کیسه اروا ښاد د استاد راحت پیل کړې ده چې په لره — پښتونخوا کې هغه پېښوري لیکوال دی چې د پښتو د زاړه او نوي ادب د زنځیرونو د — وصل او سر کوشیر کړۍ یې په لاس کې دي .

تر دې را وروسته د ابوالمعاني آزاد په (( افغان )) نومي مجله کې تر ۱۹۲۶ ع کال را وروسته نورې پښتو کیسې هم نشر شوې چې یوه (( یوه مړي پیغام )) تر سرلیک لاندې ده په خپل قلم وه او بله (( د نواب صیب اشنایي )) ومجې سربلند خان د بدرشو کښلې وه .

د پښتونخوا په دې برخه کې د نورو ډېرو نوښتونو ترڅنګ د لنډې کیسې پیل هم لوی استاد پوهاند حبیبي کړی او له نن نه یې ۴۷ کاله وړاندې لنډې کیسې او د طلوع افغان د ۱۳۱۴ ش کال په ګڼو کې یې خپرې کړې دي.

تر دې وروسته نو لنډه کیسه دلته او هلته عامه شوه. په افغانستان کې طلوع افغان، کابل مجلې، ننګرهار، هیواد، زیري، وږمې، پوهنې، ورانګې او نورو خپرونو په پښتو لیکل شوې او ژباړل شوې کیسې نشر کړې او هلته: افغان پښتون، آزاد پښتون، جمهوریت، رهبر، دوران، ننګیالی، غنچې، ګلستان (د کوټې) پښتو، ژوندۍ جمهور اسلام، اولس (د کوټې) پښتو (د کوټې) اباسین (د کراچۍ) نن پرون او ژوند (د ډیلي) او نورو وخت په وخت د پښتو د پیاوړو او زلمو لیکوالو لنډې کیسې خپرې کړې او خپروي یې.

د دې ترڅنګ د لنډو کیسو ځانګړې مجموعې هم نشر شوې چې د ځینو نمونه یې دا دي: غوټۍ ګلونه (د ماستر کریم)، ارمان (د قتیل)، بهیږنبان پت، د بوډۍ تال، لاله ګونه، تور داغونه (د محمدي)، پښتنې (د سمندر) چارګل (د همیش خلیل) خرخ (د عایشې ملک)، د پښتونخوا افسانې (د میراجان سیال درشهوار (د عبدالروف نوشهروي او یوسف کاکاخیل) د محلونو خوا کې (د طاهر اپریدي) رنځور (د سید احسان الله هیر) شینډۍ ګل، موری ششتی (د اشرف حسین احمد) نوی سحر (مبارک سلطانه شمیم) هغه وږل (د غوث خیبري) هنداره (د زیتون بانو) انګازې (د ارباب رشید احمد خان) برښنا (د کبرا مظهري) پلار (د غرجستاني) د پښتو پت (د بختاني) درس عمل (د عبدالله جان اسیر یوه برخه). د کشمیر غازي (د برق) دري نکلونه (د پوهاند رشاد ژباړه). غوره داستانونه (د عزیز الرحمن الفت ژباړه) هغه دغه. د قصه خوانۍ ګپ (د منشي احمد جان) پلوشې (د نادر خان بزمي). کړې لارې، داغونه (د ګل افضل خان) زړه چاودې (د عبدالغفران بیکس) بدلون (د قمرالزمان قمر) مات بنګړي (د زیتون بانو) او نور.

په لره پښتونخوا کې په راحت صاحب پسې د لنډې کیسې په میدان کې د ډېر نورو کسانو ودرېدل او خوږې کیسې یې ولیکلې خو داسې څوک چې خپله لیکوالي کیسه لیکنې ته وقف کړي د ډېر لږ وو په دې کسانو کې محمدي پاچا یوازینی سړی دی چې لنډه کیسه لیکل یې خپل مسلک ګرځولی او په مینه یې دې کار ته دوام ورکړی دی. په کیسه لیکنه کې اوږده او پخه تجربه وکړه او خپله کیسه لیکنه پسې د پرمختګ پسه

ACKU

بوږ بو روا نه کړه، نښان يې لومړۍ افسانوي تجربه وه، د بوږنې تال او بڼه يې لا بسې پخې شوې، په لاله ګلونه کې يې نوى رنګ غوره کړ او تصوردا غونه يې پښتو افسانه د نړۍ پر مختللې کيسې ته ورسوله او پښتو کيسې ته يې نوي رنګونه او غوړځنګونه ورکړل ·

دلته په بره پښتونخوا کې کيسه نيمه پېړۍ پخوا پيل شوه خو لا زمه‌سا لمه او پسه زره بووې وده يې ونه کړه، هغه ليکوال چې هم يې د کيسه ليکنې استعداد درلود او هم يې د کيسې فني مطالعه کړې وه، د ګوتو په شمېر وو، يعنې ليکوال چې د کيسه ليکنې ادبي استعداد يې درلود د فن مطالعه يې نه درلوده او داسې کسان چې نه يې د کيسه ليکنې استعداد درلود او نه يې فني مطالعه کړې وه ((له بده ستر ګو دي په امن وي)) بېخي زيات وو، د کيسه ليکنه يې د روزۍ وسيله جوړه کړې وه، په مقاله او مضمون کې به يې د احمد او محمود نومونه ولېکل او د کيسې نوم به يې پرې کېښود. له دغه مرغه زموږ زيا تې خپرونې له همدې ډول کيسو څخه ډکې دي · د نمونې په توګه ((بې اتفاقي)) له همدې ډول ليکو څخه ده دا لنډه کيسه (؟) د هيوا د يوه د ګړي بوو القا بولرونکي ليکوال چې شل پنځه ويشت کاله يې قلم چلولی او تخصصي لوړې زده کړې يې کړې خو کاله پخوا د هيواد په يوه وتلې ادبي مجله کې ليکلې چې اتفاقاً د دې کرښو ترو لو په وخت کې لاس ته را غله د دې کيسې د پيل او جلب ټکی دا دی :

(( هو ښيا ران وا يي : بې اتفاقي ډېره بده او ناوړه رنځ دی، کورنۍ کلي او اولسونه تباه کوي هر چيرته چې بې اتفاقي وي هلته مينه په وا قعي بڼه خپل ځان نشي څرګندولای هلته هوسا او خوشا له ژوند نه وي، هلته غمشريکي، همدردي، همکاري بې بېرزو بڼه او لوريينه نه وي، هلته يو ډېل په خوشا لۍ نه خوشالېږي، هلته برکت نه وي او خلك د ژوند په خوند ونو ها ندي نه پوهېږي · يوه ورځ چې زه د غو خبرو ته ښه غور شوم نو هغه صحنه مې په ذهن کې بېرته را تا زه شوه چې نژدې د يوش پنځه د يوش کاله د مخه مې په خپل کلي کې د بې اتفاقۍ له لاسه ليدلې وه او سره هغه نا وړ صحنې خلك چې بې ځا يه د بې اتفاقۍ په اورکې وريته شول زيا تره که څه هم په خپل مړينې له دنيا تللي خو د هما غه يوه اورلګيدو له امله يې تراوسه پورې او لا دا لا به څېلو پښو ولا ړه نه ده، په خوارۍ بور ورتوب او محتا جۍ کې د ژوند شېبې ورځې تېروي او تېروخ ژوند يې په برخه دي · ))

او بيا نوله دي او زړ دې موعظې وروسته چې د کيسې (؟) تولې ګډې يې لوستونکي ته په لاس ورکړي کيسه داسې پيلوي : (( په کومه شپه چې دوي په

هغه پورتني کې سره په جنګ تیره کړې وه د شپې په زړه کې یې د توپکو ډزې کړې وې کله چې دغه دوا ړه کورنۍ د خپلو کورونو ترمنځه پروت پټي کې سره مخ په مخ او لاس او ګریوان په جنګ شوې وې د چاړو دوا ړو نه هم شوي وو د جنګ په ترڅ کې د یو طرف ډیر تکړه او غښتلی نفر چې نیک محمد نومیده په ملا سخت زخمي شوی ځکه د چړې ګوزار ورپا ندې برابر شوی و ۰ زه په دغه جګړه او شوړما شوړ پا ندې هیڅ ــ را ویښ شوی نه وم ځکه په دغه وخت کې خوږه دومره وړوکی وم چې پوهیدونځی ته لا تللی نه وم ۰۰۰۰ )) بیا نو جناب کیسه لیکونکي یو مخ پردې ټک کړی چې موږ به پســه غشو کی لویې کولې نو ځکه د ستړیا له امله د شپې په جګړه را ویښ نه شوم خو سبا کلی ته سبا یان را غلل او موږ د پېښې تحقیقات اوریدل بیا د دې دوا ړو کلیو د یوه ګډ بنې په ستاینه ډیرې خبرې شوې بیا نو دې د کلي له ما شوما نو سره کوز کلي ته ملا ته سبق ته ورغلی او د خپلې الفبې په کیسه یې یو مخ ټک کړي او د لته هم دې یې هدفه ملا تـــه ورغلی ځکه دې لا د الفبې د سبا رې د ویلو هم نه وو بیا یې د خپلو پلرونو کیسه کړې چې زموږ به میندو به یې زموږ سپارښت کا وه ورپسې یې د خپلو میندو په کوچو خبرې ــ کړي او تراوږده برا وو روسته بیا نو بیرته کیسې ته را ځي او وا یي چې د جومات ــ خوا ته نیک محمد تې یې په کټ کې را وړل شو او لسوال ته و ښودل شو خپله ژبان بند یا نیږي او یبه کیسه کې زیا توي چې له کلي څخه خو میاشتې تحقیقات روان وو د نیک محمد تدا وی ته به تیا کتر کلي ته را تۀ خو میا شتې وروسته ضاربان له بنده خلاصیږي کورته را ځي خو په کور کې یې هیڅ نه دي پا تې او بیا نو ددې دوا ړو کورنیو چې تر منځ یې خپښنۍ او خپلوۍ هم شوې وې د ښځو د میرا ثو نو په باب موعظه ده ا ودا روښا نه شوې چې په اسلام کې دوې ښځې په یوه وروړدې خو ښښتا نه ښځې ته حق نه ورکوي ورپسې نو په یوه کی بله را اچوې د یوې کورنۍ په ګا ونډۍ نجلۍ یو ځوان مینوې او د کور بـــه له خوا دې کورنۍ ته په ما ښام کې ګډه وربه شا کوي او د شپې د نجلۍ مین ناخبره هم دې کورته را ځي خو د کور ښځې یمې را پا څوي هلك ؛ ( اکبر ) دکور ښځې په توره وهي او دی ښتې کوربا نه فکر کوي چې دا کار نیک محمد دوې کړی او په موږ یمې را غلی او په همدې شپه کی یمې وروړلارې یږي او د هغه کورته ورځي په ناخبرۍ کې جګړه ــ ورسره کوي او د کیسې د انغلاق ټکی (؟) یې نو دا دي :

(( دوی ورته وویل : تا سی لا ځا نو نه نا خبره ښيئ ! مشر وروږ امر وکړ وهئ یـــې ! هغوې چې ځا نو نه د وهلو لا ندې ولیدل نو د ځان د خلا صون له پاره یې د مدا فعې په ډول ورسره جګړه پیل کړه دوې په سخت جنګ اخته وو اکبر ورته لمړې په پوله



ACKU

پورته اوزه راغلم کورته !

هوګرا نه‌لوستونکیه (داوول لنډي کیسی) (!) زموږ په خپرونوکی د یري راغلی خوخرنګه چی په لیکلوکی یی بوا زیتی هدف حق الزحمه او پیسی دي نو دلنډي کیسی په ځاي به پیسی کیسی نوم بري کیږ دو اودا پیسی‌کیسی نو په هره مجله اوجریده کی لید لاي شو ۰

له دي پیسو کیسو سره ۰ سره زموږ په خپرونوکی عینی بنی او په زره‌پوري معیاري کیسی هم خپري شوي د (عبقریانو) پښتوکیسی د (رنځور مجموعه) (رسول قل پینه دوز) (دجوبات مړ ي) اوداسی نوری بنی اومعیاري کیسی زموږ د لنډ ي کیسی غوره نموځی دي ۰

مهلصه ناول کورپه‌کیږ ي :

دناول ترزیږیدنګ وړ اندي روما نونو دادبی لوقونو دخړو بولو دنیا رنګینه کړي وه ۰ په روما نونوکی به د یري ما وراء الطبیعی او خارق‌العاده پیښی پیښیدلی اولوستونکی یا اوریدونکی به په مینه لوستی او اوریدلی خوداد ب‌او ژوند له پرمختګ سره درومان دنده ناول‌ته وراننقال شوه ۰ ناول لکه نورو معاصرو ادبی‌ژانرونو غوندي خپل مواد له تولنی څخه را خیستل اوله داسی پیښوڅخه یی خبرراخرخوله چی له روان ژوند سره ترلی طبیعی عقل منونکی اوذهن ته لویدونکی وي ا و لوستونکی یا اوریدونکی ته دا سی وا یی چی دا نویوه وا قعی پیښه ده اوناول کیبونکی لیځ ځا نه نه‌دیګي ۰ ناول هم لکه نورمعاصر ادبی ژا نرونه غوندیله‌بیلابیلو برخوڅخه جوړ دي ترهرڅه وړ اندي یو پلاټ یا طرح غواړي ۰ کرکترونه یاپرسوناژونه یی تاکل‌کیږي ۰ زما نی اومکا نی شرا یط یی دجمرافیایی اوکلتوري غوښتنو سره سم په نظرکی وي دپوله پسی پیښو سلسلی اوجوله یا ګیږ ي اوتضا دونه لري اوپه پای کی‌دانفلاق دا سی ټکی چی لو ستو نکی ته ژورتګان ورکولی شی دناول اساسی برخی اوغوښتنی ۰

د ناول له لنډ ي‌کیسی یا اوږدي لنډ ي کیسی سره لوي توپیر دادي چی‌لنډه کیسه یوه ټاکلی پیښه یا دپیښو یوه ټاکلی سلسله رو ښا نوي خوناول درواني‌پیښی ترڅنګ وړ و ورو پیښوته هم مخه کوي ۰ په کیسه کی کیسه کو ي اوبیانو ناول نتیجی ته سیخوي اوله تولوراوړل‌شوو پیښوڅخه یوه نتیجه لو ستونکوته ورکوي ۰ خویه ناول کی راغلی را ز راز پیښی با ید دومره خوري وري اوبی ربطه نه وي چی په اصطلاح د لیونی خوب

تري جوړ شي او يا د ماتي ژړندي اصطلاح پرې تطبيق شي . يو ښيروتکي لنډه کيسه د يوه غره يا يوې منظرې له عمومي او کلي عکس سره تشبيه کوي او ناول بيا نو هغه عکس بولي چې د غره يا منظرې هر کاني، بوټي او خوارو ښا نه کړي او هره گوښه يې لوستونکي ته ورونښيي .

په پښتو ادب کې له پخوا را هيسې او ږدې نړيوالې فولکلوري او ملي کيسې د مثنوي په قالب کې را روانې دي چې د پښتو بيا وړو او خوږ ژبو شاعرانو نظم کړي په دې کيسو کې د پردا سي کړه وړه موندلای شو چې د ننني ناول له فني غوښتنو سره سمون خوري او که نو رڅه نه وي د خلکو د ناول ذوق او مينه يې په ښه توگه خړوبه کړې ده چې موږ يې د پښتو ناول په څېر نه کې د سرېزې په توگه له يا دونې څخه سترگې نشو پټولای .

په اروپا کې ناول د اتلسمې او نولسمې پېړۍ په پيو ستون کې سترگې وغړولې او الماني ليکوا لو ده ووکړه چې خصوصاً په دې کې د جرمنۍ د لوی شاعر ((هاينه)) لوی لاس دی .

پښتو ته ناول هم لکه نورنوي ادبي ژانرونه څوندې د شلمې پېړۍ له پيل سره را غلی او د مهلمه يعني د ترجمې په بڼه يې د پښتو ادب په درشل پل ايښی دی د په لاس کې معلوماتو له مخې د ډپټي نظيراحمد ((توبة النصوح)) لومړی ناول دی چې ميا محمد يوسف کاکا خيل په پښتو ژباړلی او په ١٣٢٣ هـ ق (١٩٠۴ع) په ۴۴٨ مخونو کې په لويه کچه خپور شوی دی . دا ترجمه پخه اوپه ادبي بڼکتو پوره ترجمه وه ښاغلی تقويم الحق کاکا خيل يې د ژبې او محاورې په باب وايي : (( مياں محمد يوسف په پښتو کی د توبة النصوح ترجمه وکړه لکه څنگه چې ډپټي نظير احمد په اردو کې د ژبې او محاورې باد شاه دی د غسې مياں محمد يوسف په پښتوکی دی د ده نه پس بيا يې د مياحسيب گل پل هيڅچا داسې مره بڼه ژبه استعمال نه کړای شوه . )) په دې اساس ناول پښتو ته له را تللو سره سم په معياري ژبه کې ځای شو او تولې فني خوبې او ښکلا وې يې ودرلودلې .

ورو — ورو له دې نوي را غلي مهلمه سره پښتانه ليکوال آشنا شول ، د پښتو مبتکر — شاعر او ليکوال راحت زاخيلي چې د نوي او زاړه ادب ډېرې کړۍ سره وصل کړې وې د ناول کړۍ يې هم د پښتو کيسو له اوږده زنځير سره ونښلوله اوپه پښتوکې يې (( ناول د ماه رخسی )) يا (( نتيجهٔ عشق )) وکښل ده ددې ناول په پيل کې کښلي :

((دا کتاب في الواقع صحيح قصه ده مگر د يوې جعلي اصلي نوم پرې ايښی دی . . —

د حال زمانې سرګذشت دی چې د هغه واقعه ده چې په سنه ۱۹۰۶ ــ ۱۹۰۷ ــ ۱۹۰۸ ــ ۱۹۰۹ کې تېره شوې ده . )) په دې ډول په پښتو کې ناول له بوې واقعي پېښې نه را تښتېدلی، په چاپي نسخه کې يې د تأليف یا چاپ کال نښته خو د کتاب قد او قواره، کره وره او د پېښو له کلونو نه ا ټکل کېدای شي چې د ا ناول دې د ۱۹۱۰ ــ ۱۹۱۱ کلو شا و خوا کښل شوی او همدا وخت خپور شوی وي. د دې له پاره چې ناول په پښتنې ټولنه کې پېښې کوربه ښکاره شي نو ځای په ځای لنډۍ هم پکې را وړل شوې او په دې ډول د پښتو له اولسي ادب سره غوټه شوی دی .

هو ! پښتو ادب ته را ميلمه شوی ناول اروا ښاد د راحت کوربه کړ او بيا يې نو د پښتو ادب په کورنۍ کې نوي ګامونه وا خيستل، وده يې وکړه او معياري ناولونه را منځ ته شــــــول .

دلته هم د یادولو ده چې په پښتــــنو ليکوالو کې د اوخپـــت له ناول سره زيات مينه پيدا شوې وه حتی ناول له خپلو فني شرايطو او اصولو سره د پښتو د منظومو کيسو ترڅنګ هم ځای پيدا کړ او منشي عبدالغفار تاثب د شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې (د ۱۹۲۰ ــ ۱۹۲۸ شا او خوا) ناول د پښتو قصصي مستتوي چوکاټ ته وا چاوه او د محبوبهٔ شام او شاهزادهٔ روم قصه يې د ناول د فن په چوکاټ کې نظم کړه او په سريزه کې يې د ناول فني غوښتنې داسې يادې کړې :

ما اردو کې دي جـــــــوړ کړي کتابونه
دې په شمار دوه ډېرا مې درې ناولونـــــه

اوس شروع مې په پښتو کړه زما وروره … د تأليف سبب آخر ورق کې ګوره
ګو مضمون اختراعي دی اې صاحبه … خوند به ډېر کړي په خوشا نی عجايبه
تخيل که ايشيا يې دی زما جانــــه … هيريه کړم له تا يورپ وا وړ ملمانه
امريکه، جرمن، انګليند، فرانس يونان … درحاضريه کړمه زه په هندوستان
په د ارنګ رنګين مضمون پېيه دا حين کړم … که ژوندې يم پښتونيه د رته چين کړم
دا يه طرز د انګرېزي ښکومه جا ناتنه … هدايت يې د لوستو واوره لصانه
چې کتاب دې کړ شروع زما احبا به … تمبه ګورې پېچ د رېچ له هرځا به
د اقصه به بند په بند خورې پېچ و تاب … اې صاحبه ته و نه کړې اجتناب
چې يې خلاص کړې واړه حال به شي اظهار ــ بيا به وايې آفرين عبدالغفار
په پاپونود اکتاب به اوس ليکمــــه … پيحرياب کی نوي خوند په سازومه

ACKU

اې تایب ورکه د غم کیښتۍ له لته     خو خبرې د خوندو کړه پورته بنکه

چې له لطفه محفل و خوري پیچ و تـــاب

افرین د ریا ندې ووا یې احبــــــــــا ب

دا کیسه عبدالغفار تائب په ۲۴ کلنۍ کې کښـلې او دا هغه وخت دې چــې دې لا عیسا یې شوي نه دې تر ۱۹۲۹ ع کال وروسته د ه عیسا یې کتابونه نظم کړي او د مردان په کلیسا کې لایبریرین ( کتابدار ) دی نو ځکه موږ اټکل کوو چې دا اثر د ه تر ۱۹۲۹ ع کال وړاندې لیکلی دی .

په افغانستان کې ناول لیکنه اروا ښاد علامه محمود طرزي د شلمې پیړۍ په لومړۍ لسیزه کې پیل کړه ورپسې په ۱۲۹۸ هـ ش کال کې د یوه بې نومه لیکوال یو تاریخي ناول په (( معرف معارف )) کې پرله پسې خپور شو. د محمود طـرزي ناولونه په دري وو خو د معرف معارف ناول چې د افغان او انګریز د لومړۍ جګړې پېښې یې انځورولې او د افغانانو د ملي وحدت او ګډې مبارزې ښکارندوی یې یو کوله ځای په ځای د پښتنو ملي مشرانو د خولې پښتو خبرې هم درلودې او دا وخت دې چې د ناول ژبې ته پښتو ورننوزي خو لا هم دلته په پښتو کې بشپړ ناول نه وُ کښـل شوی . کله چې دلته پښتو ناول و کښل شو نو ، لومړي قدم کې دلته هم ناول میلمه وُ او په افغاني مطبوعاتو کې (ترکومه ځایه چې ما ته پته ده ) د ویکتورهوګـــــــو (( بیوزلان )) لومړی ناول دې چې لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي د ((ابیجارګان )) په نامه ژباړلی او د طلوع افغان د پښتو کمیسـیـون لوی په لومړیو کلونو کې پرله پسې چاپ شوې دی (تر ۱۳۱۰ ش کال وروسته) .

(( پته مینه )) هم یو ناول دې چې (( اساسي موضوع )) یې اروا ښاد د برهان الدین کشککي له خارجي خپرونوڅخه را اخیستې ، د اصلاح په لمن کې پرله پسې خپور شوی او بیا د هندې اداري له خوا په ۱۳۱۷ ش کال په ۸۴ مخونوکې په لویه کچه په کتابي بڼه هم خپور شوی دی .

ورپسې د هندې لیکوال له خوا د شارل رو بر ټ وما یو بولیهـــسي ناول د (( په پټه د پټو بلتنې )) ترسرلیک لاندې ژباړل شوې او د اصلاح په لمن کې تر خپرېدو وروسته په ۱۳۱۸ ش کال په لویه کچه په کتابي بڼه خپور شوی دی .

(( دوه سره مین وروڼه )) لومړنی ناول دی چې په افغانستان کې کښل شوی لیکوال یې محمد رفیق قانع دې او موضوع یې د دوو وروڼو او د دوی د دووسره خو پیښدو ـ ښځو انتها هي کیسه د ه چې په ۱۳۱۸ کال په ۱۴۰ مخونوکې په لویه کچه خپور شوی دی .



ACKU

په پښتو کې د ناول پلو نه ګړندي شول او په لږه اوږه پښتونخوا کې پر له پسې یو شمېر ناولونه وکښل شول، په دې ناولونو کې د فن او موضوع له خوا ښېګڼې معیاري ناولونه هم را منځ ته شول خو په منځ کې یې یو شمېر داسې نیمګړتیا نو خوبونه هم وو چې ناول نوم پرې کېښود ل شوي دا نو په حقیقت کې یوازې بې خونده بې موجه او بې اوجه لیکنې وې چې د مقالې او مضمون بڼه یې درلوده او د احمد او محمود د ناممه په راوړلو سره یې غوښتې وو چې د ناول نوم پرې وروتومبي ۰

په پښتو کې ډېر په زړه پورې ناول چې هم فني ښکلا او ټولې فني ښېګڼې لري او هم د پښتني ټولنې ښه انځورګري کوي او بېګانه موضوع ټولنې ته نه راوړي د ښاغلي شېرزمان ضجن ((امانت)) دی چې لوستونکي مجبوروي چې دا ناول له تمانه سره تل امانت وساتي ۰ همدا راز د استاد حمزه شینواري ((نوې چپې)) ناول د ومره خوږ او د فن په ګینه پسولل شوی چې قدم په قدم ګنډي او پوښتنې لري، د پېلا پېلو پېښو موزون ترون سره کوي او بیا نو یو داسې وخت را رسېږي چې ټولې ګنډې او د ټولو پوښتنو ځوابونه یو په بل پسې حل کېږي او هم د ناول موضوع د پښتني ټولنې — اشنا پېښې دي او په دې ټولنه کې د نوي او زاړه تعصبدن د سره پیوستون او د کلیوالي او ښاري ژوند د سره لګېدون صحنې انځور شوې دي ۰

په دې منځ کې داسې ناولونه هم شته چې د فقې او ډون او جوړښت خوا پښېړه ده خو موضوع یې ډېره نا اشنا او نا بلده ده او ان هڅه کوي چې د غرب د تمدن داسې نا وړې، نا ولې او منفي خوا وې زموږ په ټولنه کې انځور کړي چې حتی دلته یې نمونه هم نشي موندل کېدلای او یوازې د لیکوال په ذهن کې یې خطور کړی او بس په دې — برخه کې د ما تور خان ((چا ودې ښېښه)) واقعاً یو ډېر نا ولې ناول دی چې په پښتني ټولنه کې د غربي منفي او لوغ کلتور پلي کول غواړي هم دا راز د ښاغلي رسا ((مامونی)) د موضوع له خوا د ډېرو منفي خوا وو غیر مستقیم تبلیغ کوي ۰

د پښتو په چاپ شویو (لیک او ترجمه) ناولونو او د ناول په نامه چاپ شویو کتابونو کې له دې نوموړو سره مخامخ کېږو ؟

۱ امانت، رحمان کورونه، ګلخان (د عجبن)، دوه یاران (فتیل)، خُرمه، د ننګ مسافره، سپین، سنګسار (تره کي)، نوې چپې (حمزه)، د شریف سرګذشت (د خادم ژباړه)، ابن الحه توره (خیبری)، زړګې ستړګې (درانی)، د سرو تعویذ (دهقان) خودکشي، شمه، مامونه، مغرور (رسا) زوړ سړی او سیند (ژباړه) مظلوم امام (محمد) مرموزه ملکه (د حضرت ژباړه)، توبة النصوح (د حسیب ګل ژباړه) پټه مینه، په پټه د پټو پلټنې (کشککي) دوه سره مینې

ACKU

وروته (قانع) چاودي ښښنه (ماتوخان) تام سابر (توابين) پېغله (ادريس) شوم ـ
(محمد نواز) مور (ګوګی) فولاد خنګه کلکېږي (ژباړه) چپه کښې (اعيان) سپوږمۍ
(مظهري) او نـور .

## پښتو ډرامې په ستېج پلونه کېښودل :

د ډرامه د ادب د کورنۍ يوه لړۍ ده او منلې خبره ده چې زرګونه کاله عمر لري او ډېر يو پېړۍ کې يې د نړۍ يو الو ستېجونو د پاسه متين قدمونه ايښي او ډېر پوخته او پراخته په لوري تکل کړي دي دا ځکه د ډرامه د ادب هغه ژوندۍ برخه ده چې مطالبو او مضمون ته روح ورکوي او د ستېج پرمخ يې ګرځوي را ګرځوي .

د ډرامه لومړي د يونان په ځمکه وزېږېده او تاريخ يې د ادب هغه روښانه دوريه رسيږي چې له نن نه دوه نيم زره کاله وړاندې پېل شوېده . وايه شي چې لومړنۍ د ډرامـــه يوناني ليکوال اسکايي لس لېکلې ده چې (دي سپلينټ) نوميږي او ډېر يونان په لوي ښار اتن کـښې ستېج شوي وه خو بيا هم دا لوري د ډرامه نه ګڼله کيږي ځکـه چې دا د ډرامه په تـمن او ښايي چې تر ډېر وخته به د ډرامې د پېړيتمرينې دوري تر شاګړې وي . د ارستوفان د ډرامې او ډېر نامتو فيلسوف افلاطون يې نظريو د ډرامې ته د پرخمو ښل ارستو په خپل کتاب الشعر کې پـه د ډراما يې شاعري، کوميډي او تراژيدي زور بحث وکړ او دا په دې برخه کې لومړنۍ ګڼل ګڼلـه کيږي .

په زاړه مصر کې هم د ډرامې نښې نښانې موندلې شوي او اټکل شوي چې ښايي هلته تر ميلاد دوه درې زره کاله پخوا د ډرامه ستېج شوېده . په هند کې هم د دوه زره کاله پخوا په د ډرامه د ډېره مواد موجود وو چې يو هندي عالم بهرتا هغه وخت په د ډرامه يو ښېر کتاب کښلی دی .

ترډې چې راتېر شو د آريانا د کلتور لمن هم له د ډراما نېك هنر څخه تشه نه وه . دلته هـــم داسې دودونه او ننداري وې چې د ننۍ د ډرامې سرچينه يې ګڼلای شو . (سامانه) يوه لرغونې مېلمه وه په دې مېله کې آريايي نجونو او زلموګډ ي ساتېري درلودي او ګډې ننداري يې جوړولې چې موږ يې د ډرامې لومړنۍ خا ر پوخې ګڼلای شـــو .

په پښتونو کې هم د ډرامې تر دوديزه وړاندې د يوې اولسې ننداري لويې اړخونه ي لروچې فلکلوري د ډرامې او ننداري يې بولو او دا هم د ډرامې يوه سابقه ده . همدا راز موږ زياتې ملي اولسي کيسې لروچې د ډراما تېك جوړښت لري او د شفاهي او روايتو اواورېـــدنو په ترڅ کې په تمثيلي د ول مجلسونو وړاندې کېږي خصوصاً زموږ سوا رو نکلونـــه لکه آدم خان درخانۍ ، مومن خان شيرينو او نوري

د اوږدو لوبه وخت کې د یوې موزیکالي ډرامې ښه مومي چې سازاو سندرې —
ـیـــي په مکالمو او خبرو ورزیاتیږي ۰

د سانیس او تخنیک له پرمختګ سره ډرامې هم پرمختګ وکړ او د ستیج له لنډې تنګې چوکاټ نه را ووتله، د راډیو په خپرونې کې ېې ورودخول ول، د تلویزیون په هینداره کې کورنوته ورننوتله، د سینما په پرده یې قدمونه کېښودل او په دې توګه د ډرامې په سټوره ونه کې یوه نوي څانګې زرغونې شوې او ډېر رنګونه او ډولونه یې ترلاسه کړل ۰

په لره اوبره پښتونخوا کې ستیج د شلمې پېړۍ په لومړیو او دوهمه لسیزه کې د ود شوخوځلته اردو او دلته دري ډرامې پرې لوبولې کېدې او ایله پېله ددې پېړۍ په دریمه لسیزه کې ددې وخت پرا برشو چې پښتو ډرامه هم ستیج ته وروخېژي خو لکه څنګه چې د حالاتو غوښتنه وه د پښتو له لومړیو ډرامو څخه چې ستیج ته وروختلې یوه یې هم سیاسي وه او په لره پښتونخوا کې د ملي مبارزو لوېغاړولــه خوا ولوبول شوه، چې له لوبېدلو سره سم یې د سیاست څاپېره وخوړه، لوبغاړي یې بندیان او د ډرامې چاپي نسخې ټولې شوې ۰

هو ! د پښتو لومړنۍ ډرامې د پښتو د مبارزلېکوال اروا ښاد عبدالاکبر خان اکبر په قلم دي چې د انجمن اصلاح الافاغنه له خوا په اتمانزو کې د جوړ شوي های سکول په کلېزو جلسو کې ستیج شوې دي ۰ د اکبر لومړۍ ډرامه ((دري يتيمان)) ده چې په ۱۹۲۷ع کال ددې سکول په کلیزه غونډه کې پر یوې درنې مشاعرې سربېره ستیج شوې ده چې اصلاحي بڼه یې درلوده او د خانانو ظلم زور او دریاکارو ملایانو ریاکارۍ پکې انځور شوي وو چې دادپښتو لومړنۍ لیکلې، ښودلې او منظمه ډرامه ده، ورپسې په نورو کلونو کې دا روا ښاد د اکبر دوې نورې ډرامې هم ستیج شوي، ددې ډرامو نومونه ((تعلیم جدید ــ تهذیب جدید)) او ((تربور)) دي چې مسوده یې د ۱۹۳۰ کال په اپریل کې دده د کور د عمومي تلاشۍ په ترڅ کې پولیسو وړې او چې د ستیج کېدلو یو کلنه موده یې په نظر کې و نیسو نو د لیک او ستیج کېدلو کلونه یې ۱۹۲۸ــ ۱۹۲۹ع بللای شو، خو دده مشهوره ډرامه د ((خدائي خدمتګار)) په نوم سیاسي ډرامه ده چې په ۱۹۳۰ ع کال په همدې ښوونځي کې ستیج شوې او له ستیج کېدلو سره سم یې کارکوونکي د لیکوال په شمول د هند د انګریزي واکمنو له خوا نیول شوي دي او څرنګه چې دې ډرامې زیات انګازه پیدا کړې وه د همدې اهمیت له امله دا د پښتو لومړنۍ ډرامه بلله شوې ده ۰

ACKU

وروسته د امير نواز جليا (درد) پوه انقلابي سياسي ډرامه ده چې انګريزانو ته د ماليې نه ورکولو تبليغ پکې نغښتل شوي او په انګريزي ښکيلاك ياخه وارونه پکې شوي وو. د عبدالخالق خليق (خدايي خدمتګار) هم سياسي ډرامه وه چې په ۱۹۳۰ ع کال ستيج شوه.

په دې پسې راز راز سياسي، اجتماعي، اصلاحي او انتباهي ډرامې ليکل، ستيج يا خپرې شوې د عبدالخالق خليق (شهيده سکينه) او (خوږ ژوندون) د قاضي رحيم الله دابدري (نوي روښني) د عبدالله جان اسير (درس عبرت) — د فضل رحيم ساقي د وردګي (سپيره مرګي) د عبدالاکبرخان اکبر (جونګړه) د اسلم ختك (دوبنوجام) د دې وخت مشهورې ډرامې دي چې زياتې يې په کتابي بڼه هم راپاتې دي. په ۱۹۳۵ کال په پېښور کې د راډيو سټېشن په جوړېدلو سره ډرامې د پرمختيا په لور يې پل کېښود او په لسهاو راډيو ډرامې ليك او نشر شوې بيا د کوټې په راډيو کې هم راډيو ډرامې پيل شوې. د شلمې پېړۍ په پنځمه لسيزه کې د امير حمزه شينواري د ليلى مجنون ډرامې په فلم کېدلو سره پښتو ډرامه د فلم پردې ته هم ورختله. په افغانستان کې تر دې وړاندې چې ډرامې وليکل شي تر ډېره ډيالوګونه را منځ ته شول دا ډول لومړي ډيالوك د مولوي صالح محمد ليکلي دي چې د پښتو په دوهم درسي کتاب کې په ۱۳۳۷ هـ ق کال خپور شوي او په ۱۳۰۰ هـ ش کال د اعليحضرت غازي امان الله خان په حضور کې د پوهنې شاګردانو د ستيج د پاسه لوبولي دي خو دا بيا هم ډرامه نده او لومړنۍ ډرامه ګڼه لکه نورد نوي ادب ژانرونه خوندي لوي استاد پوهاند عبدالحي حبيبي په ۱۳۲۴ کال په کندهار کې (تورپالۍ پښتنه) په نامه ليکه کړه چې د طلوع افغان د ياد شوي کال په ګڼه کې نشر شوه. د پښتو بشپړه — ډرامه د ۱۳۱۷ ش کال شا اوخوا د (کليمه داره روپسه) په نامه کښلے شوې چې متن يې په آزاد شعر دي او ځاي په ځاي لنډۍ هم لري. دا ډرامه په ۱۳۳۲ کال پښتو ټولنې په کتابي بڼه هم خپره کړې ده.

وروسته نوري ستيج ډرامې، راډيو ډرامې او تلويزيوني ډرامې هم کښلې شوې چې د استاد ښېنوا (زړه ګنهګار) او (اصلاحکار) د عبدالله بختاني (سپيد ومڼګه) د عبدالرؤف قتيل (د جونګړې مڼګه) (ميراث) — (اول زده کړه بيا کوزده کړه) ډرامې خپرې شوې هم دي.

ACKU

په هر حال د پېښور، کابل، ډيلي او کوټې راډيوګانو د پښتو ډرامو ته مو-
په وده کې لوی لاس درلودلی او اوس – اوس د پېښور، کوټې او کابل تلويزيونونو
د تلويزيوني ډرامو موخپرولو هم ايښې دي، په لره پښتونخوا کې زياتو ډرامو فلمي
بڼه هم غوره کړې او د پښتو ډرامې د بره تګ او پرمختګ ډېر امکانات را منځ ته شوي
دي .

له دې ټولو سره د فن او مقصد په اصول ښکلې شوې او له دې پلوه معياري ډرامې
بيا هم لږ دي او د يوه ژور کيفي بدلون اړتيا ليدله کېږي .

<u>د اديبانو سفرونو سفرنامې ونيزولي :</u>

يوه زړه مقوله ده وايي چې که ((غواړې پوه شې سفر وکړه !)) او رښتيا هم –
چې د انسان ژوند له آدمه تر دې دمه په سترګو يا او سفر تېر شوی دي . د عادي –
خلکو سفر تېرېږي او هېرېږي خو اديبان او شاعران په خپل سفر کې ډېر داسې څه
ويني چې عادي سيلانيان يې ليدلو ته نه متوجه کېږي، دوی خپلې دا خاطرې د –
قلم په ژبه او د ادب په ادا خوندي کوي او وروسته را تلونکو نسلونو ته يې د خپل سفر
دنـــــچوړ په توګه پرېږدي .

په نړيوال ادب کې سفرنامې اوږده سوابق او لرغونی تاريخ لري او دا سفر-
نامې د تاريخپوهانو، ټولنپوهانو، ځمکپوهانو، وګړپوهانو او نورو ټولنيزو علومو
د څېړونکو له پاره ډېر غوره ګټوره او لومړي لاس مواد برابروي .

د نمونې په توګه د چينيانو يونليکونه (د چيني سياحانو سفرنامې ) چې
زموږ هېواد ته را غلي اوس زموږ له پاره تر اسلام وړاندې افغانستان په برخه کې ډېر
ښه لاسوند دی او په زړه پورې کلتوري، تاريخي، جغرافيايي او دوګړپوهنې په برخه
کې مواد د او اسنا د په لاس راکوي او د لرغونـــپوهنې په څېړنو کې ښه مرسته راسره
کولای شي .

په پښتو ادب کې هم د سفرنامې سوابق پخواني دي او په دې برخه کې د –
خوشال خان (( سوات نامه )) يوه په زړه پورې سفرنامه ده چې د څېړنې مرې
(غني ) خواوې لري او هم د خوشال خان د (( بياضې )) يوه برخه د ده د هغو
سفرونو ځاطرې خوندي کوي چې تر شمالي افغانستان پورې يې کړي او په ضرب
او حرب پوخت پاتې شوي دي . د ميرزا دوست محمد (( سراج الحج )) نژدې يوه
پېړۍ مخکې کښل شوې چې دده د حج د سفر يادداشتونه پکې خوندي دي

او زموږ مخې ته د سل کاله مخکې حج د سفر او لارې په زړه پورې نقشه ږدي .

خو هغه سفرنامې چې د نوي هنري ادب په بڼه را نږدې په پښتو ادب کې د شلمې پېړۍ محصول دي او د دې پېړۍ په دریمه لسیزه کې پیل شوې او کښل شوې دي .

په نوي هنري طرز د پښتو لومړۍ لیکل شوې سفرنامه د میاں اکبر شاه "د آزادۍ تلاش" دی چې په عین حال کې د اسفرنامه خوږه، په فن پوره، پخه او بوږنوونکې سفرنامه هم ده .

هو ( د آزادۍ تلاش د پولټیکل تولګی د یوه حساس زده کوونکي د پاک احساس نه زېږېدلی تلاش او د سفر هغه حیرانوونکې او په زړه پورې پېښې دي چې په ډېرو برخو کې د افسانوي حیرانوونکو پېښو سره ورته والی لري . دا ځوان میا اکبر شاه د پېښور د اسلامیه کالج د پولټیکل تولګی زده کوونکی دی او وخت ۱۹۱۹ کال دی : داوخت له یوې خوا انګریزانو په برتانوي هند او ختیځه پښتونخواکې په خلکو سور اور بل کړی او له بلې خوا له انګریزانو سره د افغانانو د استقلال بریا لۍ جګړه روانه ده ، دی له خپلو درېیو ملګرو سره دا موقع د خپل وطن د آزادۍ له پاره مناسبه بولي او د آزادۍ په تلاش کې کالج پرېږدي، کور پرېږدي روانېږي او غواړي له افغاني مبارزینو سره د یوځای کېدلو له لارې د خپلې آزادۍ تلاش عملي کړي . دی له ملګرو سره له پېښور نه اشنغر ته ځي، بیا له اتمانزو نه آزادو مومندو ته راځي، بیا جوړ ته راسېږي، په ناوګۍ راتېرېږي، په چمرکند کې د هندوستاني مجاهدینو سره یوځای کېږي، له چمرکند نه کونړ ته راوړېږي، له کونړ نه جلال آباد او له جلال آباد نه کابل ته راسېږي او دلته له هندي مهاجرینو سره یوځای کېږي، بیا جبل سراج ته د استوګنې له پاره لېږل کېږي، د افغانستان او انګلستان ترمنځ د متارکې اعلان هندي مهاجرین مجبوروي او له افغانستان نه ترکیې ته د تللو تکل کوي، د آزادۍ تلاش لیکوال هم په دې سفر کې روان دي . دوی د پنجشیر په لاره له هندوکش نه اوړي، په لاره کې ډېرې خوږې او ترخې خاطرې لري، بغلان ته رسېږي، ایبکو تا شقرغان او بیا مزار شریف ته راځي دلته د حکومت تر اشتباه لاندې راځي، نیول کېږي، تحقیقات ترې کېږي او بدې ورځې پرې تېرېږي، څه موده وروسته ترمذ ته اوړي، دلته بیا هر کلی کېږي، خو د کلف بندر ته په رسېدو سره د غوسه‌یدلو او یا شهیدلو ترکمنانو په لاس کې بندیانېږي او بیا د مرګ حکم —

ACKU

بېرې کېږي خو بیا د یوه سپین ږیري ترکمن په را تلو سره دوی له مرګه بچ کېږي، بخارا ته روانېږي، بیا د ترکمنو له خوابند یا نیږي او د مرګ له سختیو سره مخ کېږي په شپو- شپو لوږې تندې بېرې را ځي او بیا په جنګونو اوړي او برخه پکې اخلي . بیا له دې کړاوونه خلاصېږي تاشکند ته ځي،د الوتکو په ښوونځي کې شاملېږي، باکو ته ځــي هلته د آسیا یي زلمو په کنفرانس کې برخه اخلي، ښوونځی یې بېرته لغوکېږي، بیا مسکو ته ځي اوله هغه ځا په بېرته د هیواد په لور روانېږي، پیتروګراد ته راځــي باکو ته روانېږي د باکو نه تفلس‌ته او بیا اروان ته ځي بیا ایران ته اوړي،د انزلي - بندر ته را ځي،ګیلان اورشت ته رسېږي،بیا تهران ته ځي،له تهران نه قم او اصفهان‌ته روانېږي،شیراز ته رسېږي،بو شهر ته ځي ، هلته بندي کېږي،بیا د پولیسو له ماموریت نه تېښتي ،د خلیج فارس په لاره بېرته خپل وطن ته را ګرځي د مسقط بندر او بیا د - کراچۍ بندر ته را ځي،په کراچۍ کې څه موده ملا یي او مزدوري کوي،د کراچۍ نه لاهور ته او د لاهور نه د ۱۹۲۲ ع کال د اګست په ۱۶ نېټه پېښور ته خپل کور ته را ځي او دده په دې سفر تر دري کلو زیات وخت وزي .

د میا اکبر شاه د آزادۍ په دې اوږده تلاش کې د یرې حیرا نوونکې خاطرې خوندي دي او خصوصاً په ډېر خوا ږه او هنري نثر کښل شوې دی .

دده د دې سفرنامې کښل هم یوه اوږده کیسه ده،دی چې کو رته را رسېږي او لا د پښوتناکی یې نه دي چا ودلي او اېله بېله څلور شپې یې په کور کې وتلي چې پولیس یې نیسي او بوره دوه کاله او اوولس‌ورځې یې بندي کوي،د دې بند په لومړ یو څو میاشتو کې مېچنې او شاقه کارونه یې کوي خو تر څلور میاشتې کړاووروسته د زندان دروغون منشي تاکل کېږي او همدلته د دې موقع موم چې کله - کله خپله سفرنامه ولیکي اوله کمبو د رنه په غلا کاغذ،قلم وا خلي او مخکې له دې چې قید یې تر سره شي - سفرنامه یې بشپړ ېږي . له بند نه تر خلاصون وروسته یې د کتاب د چاپ زمینــــه نشته هماغه مسوده ورسره ساتي،په ۱۹۳۸ کال کې بو ځل بیازندان ته ځي،د سفرنامې مسوده ورسره وړي او هلته دا زمینه ورته برابرېږي چې له دې مسودې نه بو بل نقل- وا خلي . په ۱۹۴۰ کال کې میا اکبر شاه له خپلو ملګرو سره د انګرېزي دولت پخــــد ((د جنګ بګل)) په نا مه بو پټ اخبار نشروي او پولیس د اخبار د ماشین او پا نــــو دلټو لو له پاره د اکبر شاه او دده د ملګروکو رو نه تلاشي کوي او دده د سفرنا مـــې پا کنویس په دې تلا شۍ کې ورسره وړي،دی څو میاشتې وروسته نظر بند کېږي دا ځل بیا له لومړۍ مسودې نه د کتاب نقل اخلي خو د چاپ زمینه یې تر ډېره مېسره نه ده

او تر لیکلو خلویښت کاله وروسته (د ۱۹۶۴ ع کال شا او خوا) نشریږي ·

په دې توګه موږ وینو چې هم میا اکبر شاه او هم ددوه سفرنامه له پیړو د پیدنیو سره مخامخ شوي او په اصطلاح له اووړندونه را وتلي دي نو ځکه د ی پوځ شمو ی او ددوه سفرنامه په څه را غلي او په پښتو ادب کې دا سفرنامه د کم او کیف له ار خه بې جوړي د ه ، دا سفرنامه په منځنۍ کچه خبره شوي او د شیږ سوه په شا او خوا کې مخونه لري ·

عبدالاکبرخان اکبر د میا اکبر شاه په لاره تللی یو بل لاروی دی چې ((د روسي ترکستان او افغانستان سفرنامه)) یې کښلې ده ددوه د سفرنامې جغرافیا یــــې ساحه د اکبر شاه تر سفرنامې وړه او واقعات یې تر هغې عادي او لږ دي په فني او هنري خوا کې هم د آزادۍ په تلانریسې نه رسیږي خو د پښتو یوه ښه او بوختوونکــې سفرنامه ورته ویلای شــو ·

د اکبرخان او اکبرشاه د سفرنامو د پر سره لنډو ټکي شته دوی دوا ړ و د ورتـــه حالاتو له مخې ښوونځي پرې ایښي او افغانستان ته را غلي، دوا ړ ه د شما لي ـــ افغانستان په لاره منځنۍ آسیا ته تللي او دواړو په تا شکند کې د وې درې ورځې سره لیدلي دي خو اکبرخان بیرته د غربي افغانستان (هرات ـــ کندهار ـــ غزني) په لاره کابل ته را غلی بیا بیېښور ته او بنۍ او د ۱۹۲۲ ع کال په جنوري کې له خیبل کور نه جیلخانې ته بیول شوي دی اکبر شاه بیا د ایران په لاره کلي ته رسیدلی او د ـــ ۱۹۲۲ ع کال په اګست کې زندا ن ته لیږدول شوی دی په دې توګه ددوا ړ و سفرـــ نامو بیل او پای سره یو دي خو د منځ پیښې او لارې یې سره بیلې اوږه او ادابې بیل بیل خو نــــد لري او بیل ـــ بیل اغیز ښندي ·

په پښتو سفرنامو کې د بیا وړ ي ادیب استا د حمزه شینواري درې سفرنا مـــې هم د یا د ولو دي، یوه یې د کابل منظومه سفرنامه ده چې په ۱۹۴۸ ع کال کا بلته را غلی ؤ او له چاپ سره سمه سا نسور شوې ده چې یوا زې د ګوتو په شمیر نسخـــې یې له مطبعې نه وتلی دي · د دې سفرنامې شعري فورم ترکیب بند دي چا پـــې نسخه یې ۹۶ مخونه لري او د ۱۹۴۹ ع کال چاپ ده ·

بله سفرنامه یې ((نوې پښتون)) نومیږي چې دا هم کابل ته ددوه د بـــل سفر پیښې خوندي کوي او خیبل ورځني یا د دا شتونه یې په منظمه توګه یکې کښلي دي · د دې سفرنامې ژبه خوږه او په کابل کې یې د خیلې استوګنې ټول واقعات او جزئیات په پیر ادبي مهارت او جذاب ډول یکې لیکلي چې ځای په ځای ددوه نوي

ویل شوي خلو ریزي هم بکې را غلې او هم د خوند له پاره خوږې لطیفې او مربوطې توکی لري . دا سفرنامه په ۱۹۵۸ ع کال کی په کتابي بڼه خپره شوې ده .

(( د حجا زپه لور )) داستا د حمزه بله سفرنامه ده چې خپل د حج د سفر یا د دا شتونه یې په مشرحه توگه پکې کښلي،د مقدسوا ما کو هر اړخیزه معرفي یې کړې او د لوستونکي له پاره د حج یوه قد نما او دقیقه هینداره په لاس ورکوي ده.دا اثر په ۱۹۷۰ ع کال په وړه کچه په ۵٦۸ مخونو کې چاپ شوی دی او پهلامه یې په دې بیت کیږي :

حمـــــزه سفر که دحجا زوي نو هـــــم

زه د پښتون د قا فلو ســـــــــره محـــم

د پوهاند صدیق اله رښتین (( د هند سفر )) دپښتو نخوا په دې ځنډه کې لیکل شوې سفرنامه ده چې سفر یې له کابل نه د اسلام کلا په لاره پیلیږي – دا سفر په موټر،الوتکه، اورگاډي، کښتۍ را ز – را ز نقلیه وسایلو کې شوی،له تهرا ن نه ډیلي ته ځي او په ډیلي کې له اوږ دو تم کیدو نه وروسته د بمبیې له لارې د سمندر په اوږ ده سفر کې بیرته ایران ته را ځي او د ایران له لارې کابل ته را رسیږي . ددې سفر تو لې خاطرې له بشپړو جزئیا تو سره را غلې، په ښه هنري نـــثر کښلې شوې او ځای ځای د سفر په ترخ کی ویل شوې او اورول شوي شعرونه هم لري دا سفر د ۱۳۲۹ کال دلیندۍ په ۲۰ نیټه پیل شوې او د ۱۳۳۰ کال دورې په ۹ نیټه پای ته رسیدلی دی او سفرنامه یې په کابل مجله کې تر یو له پسې خپریده وروسته د ۱۳۳۴ کال د زمـــري په میاشت کې په کتابي بڼه په ۱۷۲ مخونوکې خپره شوې ده .

د همده نورې سفرنا مې هم شته چې په موقوتو خپرونو کې را غلې او هم د – لرې او برې پښتو نخوا زیا تو لیکوا لو سفرنا مې کښلې چې د لته یې ځیرل اوږ دیږي .

دا خبره دلته یو ځل بیا د یا دولو ده چې د پښتو لومړنۍ سفرنا مه ((د – آزا دۍ تلاش )) لکه څنگه چې لومړنۍ سفرنا مه د ه د کم او کیف له کبله هما غســـې یې جوړ ې پا تې شوې او په اصطلاح ترتو لوسفرنا موغوره،غوړ ه او په زړه پورې ده .

دلیکوا ل لیدنې کتنې ادبي را پو رتا ژو نه.شول :

ادبي راپو رتا ژسفرنا مې ته ورته خو له سفرنا مې نه بیل ادبي صنف دی،په سفرنا مه کې معمو لاً د پېښو شو و پېښو لیکل ډیر ارځښت لري او په را پو رتا ژ کـــې د لیدنو،کتنو او احسا سو نو قلم بندکول.د را پو رتا ژ له یوې خواله سفرنامې سره لیکلو

طرزتو پیورلري او له بلې خوا کېدی شي چې بې له کرعېدو بې ځای په ځای ولیکي ۰ یعنی په سفرنامه کې لازمه ده چې ته په پښتو او لیدنو کتنو پسې ولاړ شې او په را پورتاژ کې داسې هم پېښېږي چې پېښې په تاپسې را شي یا ته د پښتو به معبر کې واوسې او رنګارنګه پېښې در باندې تېرې شي ۰

ادبي راپورتاژ له دا دي را پورتاژ سره د اتو پیورلري چې په دا دي را پورتاژ کې د پښتو تصویر ایستل کېږي او په ادبي را پورتاژ کې بیا د پښتو تعبیر او تفسیر. په دې را پورتاژ کې پښتو ته په عمیق او دقیق نظر ګوري خپل بردا شت ترې کوي او بیا یې د ادب په ژبه بیا نوي یعنی یسه هغه خوږه هنري او ادبي ژبه لکه یو غزل یا قصیده چې لیکي او یا یوه لنډه کیسه یا ناول چې کاغذ ته سپارې ۰

ډېر کامیاب را پورتاژونه په ډېر لنډو تنګه چوکاټ او د مکان په یوه پر له نخښتي چاپېر کې لیکل کېدای شي ۰ د نمونې په توګه یو بندي چې د مکان په لحا ظ لــــه وا ړه نه په وا ړه ځای کې اچول شوی وي خو د پښتو په لحا ظ ډېر غیرعا دي ځـــه ویني او هم یې احسا سات او حواس د ډېرمؤثر را پورتا ژ لیکلو ته چمتو وي تر هغـــه راپورتاژ لیکونکي ډېر کا میاب دی چې په یوه لوېه او ارته مکا نی سا حه کې ګرځي را ګرځي او خوري ځښي خو حساب نه ملي ۰

په پښتو کې ډېر کامیاب او په زړه پورې را پورتا ژ د اجمل ختک (( دا ز میاګل م ؟)) دي چې د خپل بند ډېرې ترخې خاطرې یې په ډېره خوږه ژبه یکې خوندې کړي او د ترخو پېښو یو ډېر خوږ انځور یې ایستلی دی ۰ خپل درا نه غونه یې د خند ا په چوکاټ کې اچولي او خپل تېر کړي حا لات یې په ډېر جرأت او دقت د کا غذ مخ ته سپا رلی دي ۰دا خوږ اثر په ۱۹۵۸ ع کال په جیبي کچه او ښکلې سکښت په ـــ ۲۶۰ مخونو کې خپور شوی دی ۰

په دې برخه کې ډېر پخوا نی را پورتا ژ د پا چا خان په قلم کښل شوی :(( د شلمې پیړ ۍ تهذیب او جهلخا نی دی چې د پښتون مجلې په لومړ یو کلونو کې پرله پسې خپور شوی دی ۰

(( دامــب سفر )) د اروا ښا د نصرا له خان نصر یو راپو رتا ژ دی چې د ـــ امب د ریاست لیدلي کتلي یې یکې کښلي دي او د دې سیمې د تولنې، کلتو ر،تمدن تاریخ او نورو په باب یې چې څه لیدلي هغه یې د راپورتاژ په توګه په خپل اثـــــر کې را نغښتي دي دا اثر په ۱۹۴۶ ع کال په پښتو رکی په ۱۳۴ مخونو کې په کوچنـــۍ کچه خپور شوی دی ۰

دبروفیسورنو ازطا ثرد طا لب العلمۍ په وخت کی لیکل شوی ((نالیدلی سوات)) هم د پښتو یو ښکلی ادبي را پورتا ژ دی چی د ۱۹۶۲ کال شا اوخوا کښل شوی او په ۱۹۶۵ ع کال په ښکلي صحا فت په جیبي کسچه په ۲۸۴ مخونو کی خپور شوی دی، ښا غلی ایوب صابر په خپل (( جدید پښتو ادب )) کې دا اثر سفرنامه بللی خو د نا لیدلی سوا ت ژوره کتنه او کره وره ښیي چې تر سفرنامې نه را پورتا ژته نږ دی او له همدې کبله په خپله نوا ز طا ثر هم دا اثر درا پورتا ژ یوه هڅه بللې ده .

دا ډول راپورتاژونه ښاغلي ایوب صابرنو رهم لوستي او د هیڅ رخلیل د ((قید او بند )) د مهدي شاه د ((تراصحاب با با)) د رشید علی دهقان د (لما په گټکا رو سترگو دا هر څه لیدلی دي )) د حسین خان سوز ((دبلکه سفر )) داستاد دوست محمد کامل (( تختره )) دلطیف وهمی ((د تیرا سفر )) او ((پیښو رنه تخت بخا یې پوری )) او د ایوب صابر ((د کوهاټ نه ترلو رلا یې پورې)) راپورتاژونه یې یاد کړي دي .

په افغا نستان کی د استاد عبدالهادي داوي د ادبي راپورتا ژونو بیلابیلې توتې دده په (( گلخا نه )) نومی اثرکی خوندي دي چی یوه برخه یې اوسنی لیکوال را اخیستې ده دا سفري را پورتا ژ د شلمې پیړۍ ددریمې لسیزې له لومړیو کلونو سره اړه لري او په دې توگه دا د پښتو لومړنی راپورتاژ گڼلای شو .

په کوټه کی د جعفر اخکزي ((کتلی خوب )) د زندا ن یو ډیر ښه راپورتا ژ دی چې ترخې خاطرې یې په ډیره خو ږه او مالگینه ژبه یکې خوندي کړي او دد ې یې خونده کسا نو په کړو ورو ـ یې د خوند ملندې وهلې دي .

همدا را ز د هیواد په مو قوتو خپرو نو کې ډیر ادبي را پو رتا ژونه خپاره شوي دي چې بیله، پلنه او او ژ ده خیږ نه غوا ړي او دلته یې یوا زې د پښتو ننني ادب د یوه ژا نر په توگـــه لنډه یا دو نه وشوه .

داد بیا نو ادبی انځو رنوی ادبی سوغات :

تذکره لیکل او د لیکوا لو او شا عرا نو ژوند پیښې خوندي کول لرغو نی دوددی خصوصاً په شرقي ادب کې دې کا رته زیا ته توجه شوې او په پښتو کې هم ډیر زوړ ـ عمر لري . د پښتو لومړ نۍ لاسته را غلې تذکره دسلیمان ما کو تذکرة الاولیاء ده چې

تر ۶۱۲ هـ ق کال را وروسته د ګند هارېه ارغسان کې کښل شوې او بيا د زيا تو تذکرو ليکوا لو د الرې د محمد هوتک تر پټې خزانې (د ۱۱۴۲ هـ ق کال ليک) پورې ــ را رسولې ده او هم په معاصره پښتو کې د تذکره ليکنې نغرى تود او دود پې په لره او بره پښتونخوا کې منلی دی . خو په ادبي ژبه د ادبي څېړو انځور ايستل له تذکره ليکنې سره پوره توپير لري . ادبي څېړې په ادبي ژبه انځوروول په اردو کې خاکې بولي خو موږ ادبي انځورونه ويلای شو . په دې ډول پېژندنه کې د يوه اديب يا بل چا د پېژندنې په دې ټکو زور نه اچول کېږي چې د پلانی زوی، د پلانی ځای په پلانی کال زېږېدلی او په پلانی کال مـــړ دی . بلکه په دې ډول ليکنه کې دا پېښــې ضمني دي او د يوې څېرې د انځورلپاره دا سې مواد او الفاظ برابرېږي چـې دا څېره د ټولنيو هنې، اروايو هنې او وګړ پوهنې د څېړنو له پاره اساسي او پوخ کار ورکوي؛ په دې ډول څېره ليکنه کې د يو چا خوی بوی، کړه وړه، راشه درشه او د ژوند ډېرې نورې ګوښې روښانه کېږي او د يوه دقيق تصوير په توګه د کاغذ پر مخ څوندي کيــــــږي .

په پښتو کې د خاکو يا ادبي انځورونو تر اوسه کومه بشپړه مجموعه نه ده ــ خپره شوې خو په خواره واره ډول په مختلفو خپرونوکې دا ډول خاکې خپرې شوې دي ښاغلی ايوب صابر د ځينو خاکو يادونه داسې کړې ده :

د ميا احمد شاه ((عبدالغفور خان))، د ايازداود زي ((پښتون ابن بطوطه (سلطان محمد پانی) .)) او ((حمزه))، د عبداله جان مخموم ((سمندر زما له ــ نظره)) د قمر راهی ((ډاکټر عبدالغفار عامل))، د اسرار تورويي ((حافظ محمد ادريس))، د ايوب صابر ((په با طن هم شهزاده (يونس خليل) .)) او نور . . .

دلته هم د هېواد په خپرونوکې وخت په وخت ادبي انځورونه راغلی دا ــ ډول انځورونه په کابل مجله کې د استاد الفت پوهاند رښتين او ځينو نورو کسانو په قلم کښل شوي په او سني ليکوال کې هم د استا د بېنواله خوا ځينې څېرې په همدې ډول انځور شوې، لوی استاد پوهاند حبيبـــی د استا د الفت څېره په همدې قلـم انځور کړې، حبيب اله رفيع د ((ځوانمرګه وحيد))، ((اروا ښا د استا د محمدګــل نوري))، ((الفت نه مري))، ((استا د کامل)) په همدې طرز کښلي او د ځوان ليکوال زرين انځور ((د زندان بندي اشرف خان هجري)) د ادبي انځور يوه ښه نمونـــه ده .

ACKU

ادبي انځور کېداي شي په ډېر ولنډ وتکو کي هم واېستل شي لکه په دې برخه کـــې چې دمردا ن د ( قند ) ادبي مجلې په ډېرمهارت داګارکړي او ځېنې ادبـــي شېرې يې بوازي په څوکرښوکي په خوږ وتوروانځورکړي دي ٠

دادبي شېرې ليکونکي بايد دهغه چا سره چې ادبي انځورېې را کا ږي پوره پېژند ګلوي ولري.څوکړا ې شي ددهٔ دشېرې ډېر ې مځې خواوي روٚښانه کړ اي شـــي ٠

دځانځن پښتو انځور دادبي انځور بله بڼه:

اتوبيوګرا فی يا ځان پېښې کښل دهنري ادب يوه بله زړينه څانګه ده داڅا نګـه ډېره نرېه او دليکوال له پاره ډېره مځمه ده ٠ پښتنا نه وائي د ډ يوي لاندې تياره وي نو ځکه ډېرکسا ن نور ښه پېژنې خو ځان يا ترې ورکوي او يا په ځان کی ورك وي يايې هم خودخواهی پراوږو سپره شي اويه ځان کی تولې ښې وينې اويايې هم شکسته نفسی اجازه نه ورکوي چې دځان غور ې وکړ ي ٠له دې کبله يوه اديب ته دځان پـــه باب ليکنه ډېره سخته شي ٠

په پښتوکي داروا ښاد خليق (زه اوزما زمانه ) په کتابي بڼه داتوبيوګرافی يوه هڅه ده خودا هڅه څرنګه چې په نظم‌ده نوددې ادب په هنري‌نثرکښل شوي اتو بيو ګرا فـــې ځاي نشي نيولاي٠ځکه داهم يو فن دي اويوه فني تجربه لکه څنګه چې لنډه کيسه‌،نا ول او نوراد بي ژانرونه‌په نثرکی معياري کښل کېږ ي همدا را ز اتوبيو ګرا فی هـــم د ه ٠

په دې برخه کی داستاد بېنوا او سنی ليکوال‌کی دځينې ليکوالو پېژند ګلوي د دوي په خپل قلم شته چې يوه برخه يې هم ادبي خوندلري اوهم دځان پېښو دانځورولو فن پکی مراعات شو ې دي ٠ په دې برخه کی دالاندې ليکنې يا دولا ې شو :

داجمل ختك ليکنه (لويږ ي توك ١ ــ ٤ مخونه ) داستادحبيبي ليکنه ( ار٢٢٦ــ ٢٣٠) داستاد خادم ليکنه ( ار٢٩٢ــ ٣٠٠ ) دپوهاند رښتين ليکنه (ار٤٧٤ــ ٤٨٠) دښاغلی‌خواجه محمد زهيرډ يره خوږه اويه فن پوره ليکنه ( ٢ر٥٦٥ ٥٦٨ ) دغلام حسن‌ساپی ليکنه ( ٢ر٥٩٤ــ ٥٩٨ ) دسراج الدين سعيد ليکنه (٢را ٦٣ــ ٦٣٦ ) دارسلان‌سلیمی ليکنه (٢را ٦٥ــ ٦٥٢) دمېراجا ن‌سيال‌ليکنه (٢ر٦٩٤ــ ٦٩٨ ) د (ش) خوږه ليکنه (٢ر ٧٥٦ــ ٧٥٧ ) دم ٠ش‌ليکنه (٢ر ٧٦٩ــ ٧٧١) دضخور ليکنه ( ٢ر٥١٢ــ ٥١٢) دلايق ليکنه (٣ر١٠٨٤) دزيارليکنه ( ٣ر١١٠٧ــ ١١٠٩ ) د (م ) ليکنه (٣ر١١١٢) ــ دابراهيم عطايي ليکنه ( ٣ر١١٣٨ــ ١١٣٩ ) دخان محمد ايوب‌خان خوږه ليکنـــه (٣ر١١٤٦ــ ١١٥) دانق ليکنه (٣ر١١٩٨ــ ١٢٠٠ ) د (ب ) ليکنه (٣ر١٢٠٥ــــ ١٢٠٩ )

ACKU

د میرنی لیکنه (۳ر ۱۲۷۶ ــ ۱۲۷۷) د ننګ لیکنه (۳ر ۱۳۰۳ ــ ۱۳۰۴) او نور همدا راز د پښتو ړپه موګوتو خپرو نو او خصوصاً د پښتو اکېډمۍ په پښتو مجله کې دځان پښتو د یوې غوره او معیاري نمونې را غلی دي او هم دعینی آثارو په سپړنو کې لیکوالو د خپل ځان په باب خبرې کړي اود اتو بیوګرافي نمونې یې رامنځ ته کړي دي په ژباړل شوو ځان پېښو کې د یا چاځان (زماژوند او مبارزه) نومی اثرچې ښاغلی انجینر غلام محمد زرمتی له انګلیسي څخه ژباړلی او په ۱۳۵۳ کال د پښتو د پیاوړتیا او پرمختیا ریاست په کتابي بڼه خپور کړی دی یو په زړه پوري اثر دی اود اتو بیو ګرافۍ یوه معیاري او خوږه نمونه .

همدا رنګه دده له خوا د فلسطیني مبارزې لیلا خالد (زما اولس به ژوندي پاتې شي) اثر د ځان پېښو یوه بله کامیابه هڅه ده چې په هغه کال نوموړی یادا ژباړه خپره کړې ده .

<u>د ټکلونو ټکل کیسې او خاطرې سره ملې کړي :</u>

ټکلونه د هنري ادب یو بل ډول دی په ټکل کې هم معمولاً یوه کیسه ، پېښه ، خاطره را نغښتله کېږي . خودغه له پلوه دلنډې کیسې غوندې چوکاټ او بند یزونه نغواړي لیکوال خپله کیسه او پېښه یوازې په ادبي او هنري ژبه بیانوي نورنو کولای شي خپله عقیده هم پرې ګډه کړي نتیجه هم ترې واخلي او مقدمه هم ورته کېږدي خوځينې ټکلونه دومره خوا ږه ، خوندور او دلوړي ادبي پایې اوسویې درلودونکي وي چې ترلنډو کیسو یې هم اغېز زیات او ژور دی . په دې سربېره په ټکلونو کې اجتماعي او فلسفي مضمونونه هم په پخه ادبي ژبه بیانېږي .

د پښتو د پېړلوي اوو تلي لیکوال د ټکلونو لیکلو د شهرت اوچ ته رسولي او دلوړ ادیب تاج یې پرسر وراېښی دی اروا ښاد ما سټر کریم او اروا ښاد استاد الفت د پښتو دنوی ادب دوې وتلي او دلوړ نامه درلودونکي شهرې دي او د پښتو د نوي لیکوالې سرلاري ګڼل کېږي . ددوی دواړو په شهرت کې دټکلونو لوی لاس دی د ماسټر (صولي ګلونه) ترڅو لنډو کیسو پورې نورنو د خوند وړ ټکلونو مجموعه ده او د استاد الفت (غوره نثرونه) ترڅو ادبي توتو یا منثور شعرو پورې د ټکلونو یوه د پوره عالي او دلوړ ادبي قدرت درلودونکې مجموعه ده .

ښکاري چې د ټکلونو لوېږي ټکل دی هم اروا ښاد راحت زاخیلی کړی وي ځکه ده دلنډو کیسو ترڅنګ د پېرټکلونه لیکلي او ښايي د ټکلونو په بیړ کېږدلنډ ي کیسې یام تحلیلي وي

دده (بو خوب) یو هغه تکل دي چې دتکلونو تولی ننی خویی او ارتیا وي پکی نغښتی دي دلوي استاد پوهاند حبیبي تکلونه په طلوع افغان کی خپاره شوي چې دا نو دلته دتکلونولومړي پلوته پللاي شو . داستاد بېنوا (پریشان افکار) دوهم توك — ناچاپ) دمعیاري تکلونو ډیري ښې نمونې لري . دارواښاد استاد خادم پـــه (خیالی دنیا) کی عینی تکلونه مومو دښاغلی محمد اعظم اعظم (لشی) دتکلونو ډیري ښی هڅی لري . دمحمد جان فنا په لیکوکی هم دتکلونو تکل شوي د ي مطلب دا چی دشلمی پیړ یه په اوږدوکی په لراوبره پښتونخوا کی دتکلونو ډیره خوره وره پانګه را منځ ته شوي د ه .

منثور شعرونه هم وویل شول :

شعر چی قا فیه او ردیف خصوصاً وزن ونه لري نو نثـر شی خو نثرچی شعري کیف ولري نو زموږ اوسنی ادیبا ن (منثورشعر) ورته وا یی او یاد (لطیف ادب) نوم ورته ږ دي . د پښتونخوا په دي غاړه کی دا ډ ول ادبی لیکنی دمنثورشعـــر او ادبی توتی ترعنوا ن لا ند ي وخت په وخت زموږ په بېلا بېلو خپرونوکی زموږ — دلیکوا لو له خوا خپري شوي او په لره پښتونخوا کی بیا همدي ډ ول لیکنو ته دلطیف ادب نوم ورکړي شوي د ي .

دتصنیف بندي او ادبی نوم وېش په ترځ کی کله کله دمنثورشعر او تکل تـــر منځ پوله بیخی نړیږه‌شی او دسره بېلتون لیکه یی تـتـه شی خو بو ډمهم توپیرچـی دادبی توتی او تکل ترمنځ شته هغه دادي چی په تکل کی تر لږ ه بره حده دحکایوي انشاء روحیه سا تل شوي وي او لوړ فلسفی مسا یل هم په تصویري بڼه را وړي خو په ادبی توته یا لطیف ادب کی کله کله بوا زي هدفه لفا ظی هم را ځی اوپوه تشه لفظ لو به هم وي .

کڅه هم دمنثورشعر نوم عام دي او ټول هنري نثرونه پکی را ځی ځکه په هنري نثرونوکی دلوبیړي انشاء خیال سا تل شوي وي او په دې ډ ول انشاء کی فنـــی او ادبی با ریکی زیا تی وي. نو ځکه شعري کیف پیدا کوي اوله بلی خوا څرنګه چی په شعري کی (وزن) اسا سی شرط دي اودا ډ ول نثرونه داخېزنه لري نو ځکه یی دشعري کیف د بنودلو له پاره دمنثور شعر نوم ترلا سه کړي دي خو موږ دلته دمنثور شعر چوکا ټ کوچنی کوو او بوا زي پرادبی توتودا نوم ږ دو کله کله منثور شعر دومره خوږ وي چی دپوه‌بنهاوعالی شعرغوندي خوند



ACKU

او کیفت لري، همدا سبب دی چې د هیوا د او شرق لو ی لیکوال استا د پو ها ند حبیبي یې د پ ته اړ کړ ی چې دا روا ښا د استا د الفت د خوا ږ ه نثر په باب ولیکي :

(دا لفت هنر په پښتو نثر او نظم کې ښکارې او ځانته یو خاص طرز لري ، د الفت نثر هم شعر دی او نظم یې هم شعر دی کوم وخت چې په نثر څه لیکي نو د فطرت د پرنازك او وا ړ ه دقا یق وینې او څرگند و ي یې د انسان د اجتما عي ژوند د پیرو ښیگنــــې په دا سې ژبه بیا نوي چې ، و . یو نکی د ده استد لال په ښه ډول قا نع کوي ۰۰۰ کلمـکله د الفت نثر تر نظم خو ږ وي، خلك وا یې چې نظم بیهود ل دي او یو نا ظم مرغلرې بیهوې مگر زه وینم چې الفت په نثر کې هم بلا کوي او کله ــ کله الفا ظ هسې سره پیمو دي چې تر هر رنگه نظم ښه ښکارې او خو ږه وي ۰۰۰))

په پښتو کې لو مړ ی ځل ددې شعر ددو دو لو تاج بیا هم دا روا ښا د راحت ــ په سر دی، او دی لو مړ ی پښتون لیکوا ل دی چې په پښتو کې یې د لطیف ادب د پنست ډبره ایښې او لکه د پښتو د پر نو ر هنري نثرونه غوندې یې په دې لاره کې هم کامیابــــه او برياليځکجربه کړ ې ده ۰

په افغا نستان کې د پښتو ادبي ټوټو پیلو ونکی ملی استاد پو ها ند حبیبي دي او لکه څرنگه یې چې د لنډې کیسې او ډ ر ا مې تکل کړ ي همدارا ز یې دتکل او د منثور شعر مـــرغلرې هم پیو دلې دي ۰

د ادبي ټو ټو رانښلیدل د شلمې پیړ ۍ له لو مړ یو لسیزو سره تړ ل کیږي اود هنري ادب تر هر ژا نر زیات ځا میږي او اوسمو ږ په لره اویوه پښتو نخوا کې د پښتو د پر کم ادیبا ن وند لاى شو چې دادبي ټو ټې د لیکلو تکل یې دې نه وي کړ ی خو ځینې په دې لاره کې د استاد ۍ درجې ته رسیدلی او منثو ر شعرونه یې د فن معراج ته رسو لي دي، د ــ اروا ښا د استا د الفت او محمد جان فنا ادبي ټو ټې د ادبي معراج پو ړ یو ته ورختلې دي او په لره پښتو نخوا کې هم د لطیف ادب پیا وړي استا دان موجو د دي ۰

ادبـــــي کره کتنه د ادبي ودې وسیله :

کره کتنه د ادب سا او ر وح ده،که کره کتنه نه وي ادب مړي او که ژوند ولري هم نو ــ ژوند ی ادب نه گڼل کیږي ۰ کره کتنه معراج او معیا رته د ادب د رسیدلو لاره ده،که دالاره شا ړ ه وه نو بیا له ادب نه د معیا رتو قع مه لرئ !

په پښتو کی ادبي نقد زوړ او لرغونی دی لو مړ نۍ ادبي څیړ نې په د ریمه هجري پیړ ۍ کې ابو محمد هاشم ابن زید سروا ني را ونښلو لی او په خپل نا متو اثــــــر (( د سا لو وږ مه )) کې یې د عربي اشعا روډ فصا حت او بلا غت بیان و کړ ی زموږ ــ

پخوانو شاعرانو دخپل خپل وخت دشاعرانو آثارو ته کره کتنه کړي اوقضاوت یې پرې کړي دي خو په دې منځ کی ځینی داسی کسان هم شته چی یوازې دځان په بره او دنورو په لوه لګیا دي .

په معاصرادب کی هم کره کتنه شته خوکله کله دشخصی دوستیو او دښمنیو په پوه کی راغلی اوله خپلی اصلی لارې نه وتلی ده چی دا بیله موضوع ده او بیله خبره نه غواړي .

ددې له مناه هنري نقد یو نوي ادبی ژانر دي چی یو هنري اثر په هنري ژبه تسر تبصري اوخبرو لاندي نیسی په پښتوادب کی ددې د ول کره کتنی دودیه ل هم دهمدي روانی پیړ یه نیمه ده .

د پښتو د یوې نبی ادبی کره کتنی هغه دي چی د پښتو وتلو او صلاحیت لرونکو لیکوالو د پخوانیو اواوسنیو شاعرانو پر دیوانونو اوشعري مجموعوکړي چی معمولاً ددې مجموعو په سریزوکی راغلی دي . استاد حبیبی او سید رسول رسا د پښتو له لومړیو ادبی نقادانو څخه دي چی استاد حبیبی دعبدالرحیم هوتك (په طلوع افغان کی ) خوشال خان ختك اوعبدالقادرخان (ددوي په دیوانونوکی ) پروپیناکره کتنه کړي او رسا درحمن با با اوخوشال خان دویتا په با ب دا چار تر سره کړي دي .

داروا ښاد استاد کامل د یو زیات ادبی نقدونه د پېښور دزیا تو لیکوالو دشعري اونثري مجموعو دسریزو په توګه خپاره شوي چی دقلندرمومند پر(ګجري ) دده یو د یو خوږ اوپوخ نقد دلته په خاص ډول دیادولو دي . د ښاغلی همیش خلیل پر ( زیاسندري ) داستاد حمزه پر ( یون ) او ځینی نورو آثارو دده خوازه اد بسی نقدونه راغلی دي . داجمل ختك پر (دغیرت چیغه ) دایازداودزي کره کتنه دادبی نقد یوه معیاري نمونه ده اودلایق پر (چونغر) سریزه بیل خوند لري .

همدا راز په پېښورکی داولسی ادبی جرګی په جوړیدلو سره دصلی نقد لاره هواره شوه او ددې جرګی په پرله پسی غونډو کی د یو شعرونه ٭ کیسی اومضمونونه تر مخانغ تنقید لاندې ونیول شول چی ددې مجلسونو را پورو نه رهبر٭ جمهوریت اونورو ملی مجلو خپاره کړي دي په اولسی ادبی جرګه پسی د یوې نورې تولنی اوجرګی هم جوړې شوي چی دصلی نقد په لاره کی یې مثبت اوکټورګامونه واخیستل او پښتوادب یې دښی سویې اولوړ معیار په لاره روان کړ .

په دې توګه موږ دادبی کره کتنی غوره اوکره نمونی لرو چی دغوره اوسپېڅلـــــی

ادب له پاره لاره هوا روي ٠

## ادبي ليکونه د ليکوال لې په نړۍ کې :

ادبي ليکونه دنوي ادب يو بل نوې سوغات دی٬ دا ليکونه دوې بنې لري يو هغه تخيلي ليکونه دي چې د يوه مطلب د بيا نولو له پاره د يوه فرضي مخا طب په لور ليکل کيږي او لکه د نورو ادبي ژا نرو نوغوندې ښه ادبي څېړونکې را ځي ٠ دا ډول ليکونه هر را ز اجتما عي٬ادبي٬فسلفي او نو ر مطا لب په خيله غيږ کې را نغښتلای شي او د فورم له پلوه په لوړ ه ادبي او هنري ژبه کښل شوي وي ٠ په پښتوکې دا ډول ليکونه وخت په وخت په څېړونکې را غلي چې د استا د بېنوا (( د زړه خوا له )) او دروغ ليوني (( بې بې نوره )) د دې ډول ليکونو دوې کتا بې مجموعې دي چې لومړۍ په کابل او بله په پېښور کې خپره شوې ده ٠

بل ډول هغه ليکونه دي چې د ليکوالو تر منځ تبادله کيږي او په را زرا زعلاقې پو خبرو يا ندې بحث کوي٬کله دا ډول ليکونه د ليکوا لو او ادېبانو له خوا د يوې ادبي ـ خبرو نې د چلو ونکي په نوم وي چې په لا ړ٬د وران ، قند ، ننګيالی ، رهبر٬جمهوريت٬کابـل او نورو خبرونوکې يې ډېرې نمونې مومو ٠

دفلسفي ليکونو يوه مجموعه چې ((خداې او انسان )) نومېږي د استا د ـ حمزه شينواري او جعفر اخکري هغه ليکونه لري چې٬د خدای د وجود په باب يې يو بل ته استولی او په نتيجه کې خوندور ادبي کاب٬تړې جوړ شوی دی ٠ همدا را زپـه دې برخه کې (( د ګورکي ادبي ليکونه )) هم يوه رساله ده چې نوموړ ې د بېلا بېلو ليکوا لو په نا مه استولي اوپښتوژبا ړ ه يې پوهاند ډا کټرحسن کا کړ کړې ده چې د پښتو ټولنې له خوا خپره شوې ده ٠

ادبي ليکونه د هنري ادب يو بل ژا نر دی چې په خاص سبك او ډول پر مطالبو ـ رڼا اچوي او بحث پرې کوي ٠

دلته دا هم بايد يادونه وکړو چې په پښتوکې په تاريخي لحا ظ ډېر مهم ادبـي ليك دسکندر خان ختك هغه منظوم ليك دی چې ٠ ١٦٠ بيتونه لري او په ١٠٩٢ کال يې خپل ورو ر اشرف خان هجري ته زندان ته ورليږلی دی په لوړ ادبي قدرت يې د خپلې کورنۍ ټول احوال ورته کښلي دي او ترجيع يې داده :

که خورشيد غوندې ښکاره خان په اټك شـــي
مدعيان به د ختکو ښاپيرك شـــــــي

په ټولنیزو ناوړه، نا دودو، بې لارېو او نورو ناوړو باندې د ټوکو په جامه کې څه لیکل، ملنډې پرې وهل او یا د خندا په ترڅ کې پرې ژړل د ادب یوه پله او مهمه وظیفه ده، که څه هم دا کار په شکلي لحاظ د ادب ځانګړی ژانر نه دی خو په فکري او موضوعي لحاظ د ادب یوه بیله لاره ده .

د خندا او ژړا سلسله د بشر د ژوندانه له پیل نه را روانه ده او کومیډۍ او تراژیډي د ادب لوی ویشر دی چې ارسطو بشپړ کتاب پرې کښلی دی . خو په هر حال طنز او سکوټنې د نوي هنري ادب په کورنۍ کې یوه بیله لاره ده او په پښتو کې هم لکه د هنري ادب نورو ډولونو غوندې په همدې شلمه پېړۍ کې وده کړې ده .

طنز او سکوټنې موږ کله د لنډې کیسې په توګه مومو، کله د ټکل پښه لري او کله د لطیف ادب په قالب کې وي خو بیا هم ټول یوه خاصه روحیه او خاصه ادا لري چې موږ مجبوروي دلته بیلې خبرې پرې وکړو .

په پښتو کې د هنري ټوکو او انتقادي ادب را ټولو ونډه بیا هم راحت زاخیلي او استاد حبیبي دي، راحت په خپل اخبار (( افغان )) او لوی استاد پوهاند حبیبي په (( طلوع افغان )) کې د پښتو ټوکو او انتقادي هنري ادب ته وده ورکړې او دود د کړې یې دی .

په شلمه پېړۍ کې زموږ ټوکې ادب د کیسو، راپورتاژ، سفرنامو او نورو ادبي ژانرونو په ترڅ کې وده کړې او بوج شوی دی .

په افغانستان کې د استاد بینوا لیکنې په دې برخه کې ښکلې او په زړه پورې دي، ارواښاد عبدالاحد وحید د طنزیه لیکو ماهر او ښه وړی لیکوال و، چې بشپړې مجموعې یې را منځ ته کړې وې او لویه کورنۍ په دې برخه کې د ده لوی اثر دی او دا ډوله آثار یې په خوارو واره ډول په انیس، کمکیانو انیس او ترجمان کې خپاره شوي دي، په پېښور کې اجمل خټک او س سعد الله جان برق او عبدالله جان مغموم د طنز استادان او نامتو لیکوالان دي په کوټه کې ارواښاد خان محمد ایوب خان اڅکزی او اوس د ده زوی جعفر اڅکزی د دې لارې نامتو سرلاري دي .

د سکوټنې په سلسله کې د اجمل خټک (( کچکول ))، د مغموم دوه ټوکه (( تراخه خواږه ))، د برق (( ګل زرې ))، د جعفر اڅکزي (( ته وا ښه ! ))، درې ټوکه (( چېلاخی )) (( د زړه خوږ بن )) ، (( شخوند )) ، (( مشاهدات )) او ... په کتابي بڼه چاپ شوي دي .

ACKU

## سنا ریو هنري ادب د سینما په پرده پلی کېږي :

فلم نوي سا ینسي سوغات دي چې په د یره لږه موده کې یې توله دنیا ونیوله پښتو نخوا له نوري د نیا نه فلمونه راغلل او په سینماگانو کې وښودل شول او یو وخت داسې هم را غی چې په پښتونخوا کې هم فلمونه جوړ شي ·

د فلم له پاره په ناول یاد را مه لږ څه گوتي وهل او د فلمي عکس اخیستنی لـه پاره پسې برا بروول فلمي سنا ریو جوړوي اوهم له زړو رومانونو اوفلکلوري عکلو نو څخه د ا استفا ده کیږي اوکله کله تجارتي کمپنیو د فلم ارزښت دوره را تیټ کړي چې بی له کومې لیکلي سنا ریو څخه سریه سر عکسونه اخلي. لوڅې اوبازاري صحنې د کوي او بیا نو یو نوم پر یږدي او د فلم په توگه پسې تجارتي سینما گا نوته سپاري ·

د پښتو ادب پر پرده با ند ي هم فلم د شلمې پیړ ي په څلوڅمه لسیزه کې پلی شوي دي د پښتو لومړ ي فلم ( خیبرمیل ) نومیږ ي چې گل حمید د پېرېاي تهیه کړ ي او د ۱۹۳۷ ع کال شا او خوا جوړ شوي و ·

دوهم فلم دلیلی او مجنون چې د استاد حمزه د ډرامې له مخې رفیق غـزنـوي د (۱۹٤۱ع) کال شاوخوا جوړ کړ او د هندوستان او افغانستان د سینما گا نـویه پرده گی کلو نه کلونه خلک خوښوسا تل ·

( یوسفخان شیربا نو ) (کله خزان کله بهار) هغه فلمونه دي چې په دي — وروستیو لسیزوکې یې د پښتو فلم جوړونې مسلسل زنځیر را نښلولی دي ·

په افغا نستان کې هم په هنري فلمونوکې ځینې پښتو فلمو نه شته چې ( دموږنصیحت ) هنري فلم پښتو او دري دوا ړي کا یې لري او هم ځینې فلمو نه لکه (گلانوخندپدل ) اونور له خارجي فلمونو څخه د وېلاړ شوي هم دي ·

(د ره خیبر ) (علاقه غیر ) (عجب خان افریدي ) (بازاو شهبا ز ) (چیغه ) ( کوچوان ) (شهید ) او ځینې نور په پښتوکې دا سې فلمو نه دي چې د نو رو خیرمه ژ بو له فلمونو سره بنه سیا لی کولاي شي البته د دي تر څنگه پنجا بي تاجرانو لـه خوا ځینې دا سې پښتو فلمونه هم تهیه شوي چې یوا زې ژبه یـې پښتوده اونور نو د پښتو هیڅ کره وړ ه نـه لري ·

د پښتو فلمو نه تر ز یا ته حده د پښتو دملي فولـس کیسو او دځینې د را مـو او نا ولو نو له مخې جوړ شوي خو بیا هـم د فن اونورو له مخې فلمي سنا ریـو گا نې د یوه معا نګر ي ا دبـي ژا نر په توگـه را منځ ته کېدونـکې دي او د کا ر هغه وخت گبورکېد ا ي شـي

چې د په ګټه مینو تاجرانو پرمخاي یا ترڅنګ د پښتو قلم جوړولو ته په دولتـــي او ملي سويه لاس وا چول شي ·

ادبي انځورونې دهنري ادب د ښه نوي غوټيه :

ادبي انځورونې یا طرح د پښتو دهنري ادب د ښیرازه ښه یوه نوي غوټيه ده چې نوي پې شوندي سپړلي او په دي ښه کـې ګل کیدل غواړي،پښتو ته طرح د شعرا و نثر دواړو په ښه راغلي شعریې په څوکرښوکي دآزادو یاړ کو ښه لري او نثريې پـه د یرو لنډو الفا ظوکې یو مطلب ادا کوي ·

ددي له پاره چې دادب د ښه دا نوي غوټيه دګل کیدلو سره سم وګورو د دي

شعر نې په پاي کې يې یوه نمونه راوړو :

( په تشو پښتو :

نه وینا ز د ه کیږ ي

او نـه کا ر ···

کـه نـه ،

تـرتـوتـې بـه بل ژبور نه وا ی

او تر بیزو به بل کا ریګر ! ! )

(دکتور زیار )

نتیجـــــه

ددي اوږ ده بحث په نتیجه کې ویلاي شو چې دشلمې پیړیې له را رسیدلو سره د پښتـــو

ادب په ښیرا زه ښه کې په پخوا نو ګلو نو د پرنوي او رنګا رنګ ګلو نه وړزیات ــ

شول د یرو نویو غوټیو په دي رنګین ښه کې خولې وسپړ لې او د پرې نـوـ

یــې کلـــــې د غـو ړ ید و

په حال کښې دي .

پښتو ادب له آره ژوندی او له ژوند سره مل ادب دی نو ځکه دا ټینګ باور دی چې د ژوند له بڼ لوری سره به د پښتو ادب هم د پرمختګ په لور ځي او بدلون کوي او دا چې : (( نور به څه ګلونه وا شي په دا باغ کې )) دا د زمانې او وخت له غوښتنې او لوړینې سره اړه لري .

څرنګه چې ټول هغه څه چې په یوه ژبه کې د کاغذ مخ ته سپارل کیږي د دې ژبې ادبي پانګه ده نو له دې کبله زموږ په نثري ادب کې پر هنري ادب سربېره نورو تحقیقي، علمي او ساینسي لیکنو هم وده کړې او په پښتو کې د بېلا بېلو علومو آثار له نورو ژبو څخه ژباړل شوي دي . له همدې کبله په مجموعي توګه ویلای شو چې د تعلیمي بهیر له پیل سره د پښتو درسي کتابونه هم ولیکل شول ، د پښتو د کلاسیک ادب انتقادي متنونه نشر شول ، په پښتو کې د اجتماعي علومو په ساحه کې په سوونو کتابونه ولیکل شول، د طبیعي علومو په ټولو څانګو کې مواد را منځ ته شول او په لسهاؤ دا ډول کتابونه وکښل شول . په همدې بهیر کې په پښتو کې ورځپاڼې، جریدې، مجلې او کالنۍ را منځ ته شوې د کتاب چاپولو مؤسسې جوړې شوې او په لره او بره پښتونخوا کې په سوونو لیکوالو قلم په لاس کې واخیست او په هره ساحه کې یې د ژبې پانګه غني او سره کړه .

<u>یادونه :</u>

د پښتو نثري ادب یوه لویه او پراخه موضوع ده چې لیکل او څېړل یې پنډ ـ پنډ کتابونه غواړي نو ځکه په دې لیکنه کې له ډېر لنډیز څخه کار اخیستل شوی او د اوږدو او پلنو څېړنو او سپړنو له پاره د یوې ورې خاکې بسنه لري .

په دې لیکنه کې یاد شوي اکثره آثار جنساً ؟ کتل شوي چې بیا یې دا خحلیک په توګه د نومونو راوړلو، خبره نېږده او ږدوله، هم له ځینو آثارونه مستقیمې استفادې یکې شوې دي چې د لنډیز له امله یې له یادونې څخه تېریږو او ځینې نومونه او پېښې داسې وې چې باید په لمن لیک کې شرح شوې وای خو له هغې نه هم له همدې کبله تېر شوو نو د دې له پاره چې درانه لوستونکي مو د ځینو نومونو او پېښو په باب لنډو معلوماتو ته را بللي وي با ید یاده کړو چې :

ـ هغه شاعران او لیکوال چې اروا ښاد شوي او په دې لیکنه کې یې یادونه ـ را غلې لنډ ژوند لیک یې د ښاغلي زلمي هېوادمل په (( فرهنګ زبان وادبیات پښتو)) کې راغلی دی .

هغه کسان چې ژوندي دي او یا په دې وروستیو کلونو کې وفات شوي ژوند پېښې، یې د استاد بینوا په دري ټوکو کې ( اوسنی لیکوال ) او د پېښور ي محقق همیش خلیل په ( پښتانه لیکوال ) کې خوندي دي .

او هم د زیاتو لیکوالو او شاعرانو ژوند پېښې او ژوند انځورد دوي په یاد وشوو چا پي آثارو کې شته دي .

هغه کتابونه چې په دې لیکنه کې یې نومونه راغلي د حبیب الله رفیع په دوه ټوکو ( پښتو پانګه ) او یو ټوک ( پښتو کتاب پېژند ) کې لنډ ـ لنډ پېژندل شوي دي .

په خبرونه کې یادي بشپړي پښتو مجالي خپرونې د حبیب الله رفیع په ( پښتو خپرونې ) کې په مفصل ډول معرفي شوي .

د افغانستان او لري پښتونخوا نوري هغه خپرونې چې دلته یې نومونه راغلي د محترم کاظم آهنګ ( سیر ژورنالیزم در افغانستان ) او د سرحدا تو ( د خپلواکي تر ونسونو ) یې معرفي راوړي ده .

په همدي ډول د ( قند ) ډ رامه ښېبر د افضل رضا ( ډرامه ) د محمد اعظم اعظم ( پښتو افسانه ) د عبدالرؤف نوشهروي او یوسف کاکا خیل ( د رشهوار ) د سحر یوسف زي ( ادب څه دي ؟ ) د ش ( لیکوالي ) او د ایوب صابر ( جدید پښتو ادب ) د پښتو د نثر ادب د عیني هنري ژانرونو په باب تفصیلات لري .

( پای )

۱

پوهنیار محمد کاظم آهنگ

# غلام محی الدین افغان نخستین اعلان فرهنگی را در زبان پښتو نشر کرد.

قبل ازآنکه متن این اعلان تقدیم شود مطالبی پیرامون عرضه گردد شمه یی دربارهٔ اعلان در قرن بیست وچگونگی تقدیم مینماییم اعلان را بشکل کنونی آن ازپدیده های قرن بیست ومخصوصاً نیمهٔ دوم آن میتوان حساب کرد ولی نشراعلان را به گونه خاصی درحدود دو هزارسال قبل ازامروز درنقاط مختلف جهان میتوان سراغ کرد ·

طوریکه یك نویسندهٔ جهان سرمایه داری نوشته است (( اعلان سخنگوی تجارت است· )) چه بوسیله اعلان تمام متاعهای مورد فروش بمشتریان تقدیم میگردد · وطوریکه ادعامیشود دراثرهمین اعلان است که مشتری تصمیم اتخاذ مینماید آیامتاعی رابخرد یانه به عبارهٔ دیگر مشتری اصلاً نیازمند اعلان است همچنان اعلان وسیله یی است کهتوسط آن مردمان تشویق میشوند تابه خرید متاعی اقدام ورزند · واین زمینه رااعلان فراهم میسازد · این زمینه نه محض بخاطر مفاد ومنفعت تولید کننده ویابهتربگوئیم عرضه کننده میباشد بلکه بخاطر انکشاف (( نوع جامعه واقتصاد مربوط به آن )) به عقیدهٔ نویسنده بورژوازی باید انکشاف بذیرد ·

قابل تذکراست هرانداززمینکه درجهان بورژوازی ازاعلان (( هدف ما اعلان قیاش قرن بیست وتجارتی میباشد )) تعریف شود به همان تناسب برضد آن هم نظریات ، افکاروعقایدی موجوداست · چنانچه میگویند که اعلان اکثرمتاعها راچه خوب باشند یانه به شکلی تعریف وتوصیف میکند که خوانندهٔ آن خواهد ·· اهی مجبور به خرید آن میگردد · اعلان اکثرانسانهارا وادار

خلاف نیازمندی خود به خرید بعضی اشیا مبورد ازد . اعلان از لحاظ روانی خوانند ه گانرا تحت تأثیر را ورد ه واکثر بعد اشتن یك شی آنانرا واد ارمیسازد کماصلاً درهمان لحظه نیازمند آن نیستند این موضوعات ود ه هااعتراض دیگرهمه وهمه بحیث نظریات مرد مان نویسند گان واهل خبره جهان بورژوازی بخاطر خصوصیتهای منفی اعلان عرضه میگرد د ولی باوجود همه آن متأ سفانه شیوه های ترتیب ونشراعلانات به گونه ایست که هیچکس ازز یرتأ ثیرآن د رمانده نمیتواند . اصلاً تهیه اعلان هم به این ساد گی صورت نمی گیرد بلکه د رتهیه یك اعلان خیلی ساد ه هم سوسیولوگها روان شناسان ، نویسند ه گان ، خبرنگاران ، عکاس ، فلمبرد ار ، خطاط ، رسام طراح ود ه هانفرد یگر د ست بکارمیشوند د رتهیه ونشراعلان مطالعه های عمیق روانی ، بازاریابی وغیره صورت میگیرد . روی این علل است که اعلان د رهرصورت تأ ثیرخود رابجا میگذارد .

ولی چرا جهان سرمایه د اری ومخصوصاً وسایل ارتباط همه گانی بورژوازی تااین حد د رترتیب ونشراعلان سرحدغلوو مبالغه رامی پیمایند ؟ جواب ساد ه است . زیرا آن جهان ، جهان پول وسرمایه است . (( پول پرستی یك خصوصیت جامعه بورژوازی )) میباشد وطوریکه یکی از بزرگان جهان کارگری گفته است (( بورژوازی تنهابه خاطری موجودیت دارد که سرمایه بیا ندوزد . برای بورژوازی خرسند ی دیگروجود ندارد . جز افزایش سرمایه آن وبورژوازی هم غم دیگری ندارد جزغم ازبین رفتن پولش را )) . به همین علت ها وعوامل است که حتی وسایل ارتباط همه گانی بورژوازی هم غیراز سرمایه وپول هدف دیگری ندارد . چنانچه یك سوسیولوجیست امریکایی گفته است : (( وسایل ارتباط همه گانی کشورمایك تعداد ازخصوصیتهای ملت بورژوازی مارابطورد قیق ارائه میدارد . این خصوصیتها عبارت اند از تلاش برای پول پرستی . ))

وسایل ارتباط همه گانی بورژوازی جهت تأ مین هدف خویش مینی

برپول اندوزی حتی ازاستعمال کلمات دروغ هم خود داری نمی ورزد درین زمینه یکی ازرهبران بزرگ کارگران جهان گفته است.

(( اعلانات تجارتی هر روز نامیی راکه خواسته باشید ازتظریکذارنید باملاحظه آن احساس میکنید که سرمایه داران برای تولیدات خود نامهای زیبا، برد یده ومقبولی رامیگذارند وتولیدات را طوری توصیف میکنند که هیچ چیزی به آن برابرسلسله نمیتواند وبرای برآورده شدن این هدف از هیچ دروغ خود داری نمی ورزند.))

بهرحال این بود شمهٔ پیرامون اعلان ومظاهرآن در شرایط کنونی درجوامع بورژوازی واماآنچه رامرحوم غلام محی الدین افغان به قسم اعلان درصفحه چهارم شماره ۲۳ سال ششم جریدهٔ سراج الاخبار( ۱٤سرطان سال ۱۲۹٦ مطابق پنج جنوری ۱۹۱۷ ) نشر کرده است هم یک اعلان است زیرا درعنوان آن گفته شده است : (( پواعلان )) وامامیشود آنرا ازنوع مطالبی مانند اعلامیهایك اطلاع مطبوعاتی هم تلقی نمود ولی ماه میخواهیم آنرابه قسم اعلان ارزیابی کنیم، میتوان آنرا ازنوع اعلانات خدمات اجتماعی خواند چه بوسیلهٔ آن یک غایه وهدف کلتوری اطلاع داده شده وخدمتی است به کلتور وفرهنگ چنانچه متن کامل اعلان ازاینقراراست :

قسم افغانی

یو اعلان

په پښتوکی

(( اول مقصد موداعلان دادی چه زمونږ مبارکه ژبه رواج پیدا کی او هرڅوك دګیه باب کی د ترقی د پښتو شه شه مضامین په افغانی کی ولیکی، او په واسطه د دی اعلان تولو پښتنو ته خبرورکوم که څوك ځیا یا د بل چاد پښتو په مضامینو باندڅه ایرادلری هغه دخپله مدعا په پښتوکی ولیکی اوډ سراج الاخبار مدیرصاحب تعدی راولیکی، که پنده دهغه له جواب عاجز شه هغه ته به ( ٥٠ ) روپی پطور د انعام ورکړم، اوبعده هم شیږ میاشتی دده))

احقــــرالعـباد غلام محی‌الدین افغان ۰

قابل تذکراست که در این هـــنگام اعلانـــات تقریباً همه به شیوه متذکــره درسراج الاخبار نشرمی گردید ۰ اکثریکه تمام اعلانات سراج الاخبـــار رامیتوان ازقماش اعلانات منفعه وخدمات اجتماعی تلقی کرد ۰ تقریبـــاً تمام اعلانـــات آن تحت عنوان (( اعــلا ن )) نشر میگردید اعلانـــات دیگرآن همه درزبان دری نشریافته است که به این ترتیب اعلان محی الدین خان افغان نخستـــین اعلانی است که درزبان پشتو نشر میگرد یـــرا فعـلاً نه درشماره های سراج الاخبارونه درشماره های موجـــود شمس النهـــار اعلانی درزبان پشتو به نظر رسیده است ۰ در شمس النهـــار جزهمان اعلان اشتراك خود اخبارحتی اعلان دیگردرزبان دری هم دیـــده نمیـــــشود ۰

اعلانی راکه غلام محی‌الدین خان به نشر سپرده است ازلحـــا ظ ترتیب آن درصفحـــه وموقـف آن معادل مطالبی چون تبریك به پادشـــاه اعلان رمضان تهنیت ، اعلان اعیـــاد وامثال آن اســـت ۰

اعلان دروسط ستون دوم صفحه بین یك چوكات تزئیـــنی بشکـــل خیلی زیبا قرارداده شده است ۰ درحقیقت همین چوكات نسبـــت به سایر مطالب صفحه خیلی تبارزداده اســـت ۰

نشر این اعلان ازلحاظ اینکه اعلان کننده خواسته است توجـــه نویسنده گان رابه موضوع مهمی جلب کند خیلی مهم پنداشتـــــه میـــشود ۰ واعلان کننده به جای نکته ازاعلان کدام منفعت مـــادی رامانند اهـــداف کنونی اعلان درنظرداشته باشد خود به پرداخـــت پول حاضر میشود به پنوسیله خواننده گان خود راتشویق میکنـــــد تامطالب شانـــرا درزبان پشتو بنویســـند که مسلماً هدف وی ترویـــج بیشتـــر نوشته وخوان به زبان ملی ما بوده اســـت ۰

درنتیجه میتوان گفت که اعلان منتشر در سراج الاخبار که توسط یکـــــی

مبارزان وطنپرست ، دانشمندان وروشنفکران عهد سراج الاخبارنشرگردیده است
یک اعلان مخفیه وآنهم از قماش اعلانات خدمات اجتماعی بوده است
این اعلان بیشتر جنبه کنکتوری وتشویقی داشته برخلاف اهداف کنونی
تجارتی اعلان روی منافع اعلان کننده استوار نبوده است نخستین اعلانی
بوده است که درزبان ملی پشتو به طبع رسیده و ازلحاظ سیرانکشاف این
زبان دارای ارزشها ومزایایی ست که محققان عند الضرورت در روشن ساختن
آن خواهند پرداخت . اعلان نمایشگر انکشاف ذهن وفکر یک افغان وطن
پرست وروشنفکر است که بازهم ازلحاظ سیرنگری درجامعه قابل ارزش واهمیت
میباشد .

# نه هېرېدونکی سړی

## راحت زاخيلی

د ۱۳۴۲ ش کال د جوزا په اولسمه کابل راډيو دا حسرتناک خبر خپور کړ، چې د پښور مشهور ليکوال او د پښتو ادب يوه ستره استاد، له دې جهانه يون وکړ، او په ابدي ډول پښتون له موږ ځلا شو، چې دا دې په ۱۳۰۲ هـ ق کال کې يې د زوکړې سل کاله پوره کېږي.

سيد راحت الله زاخيلی دا پنځوس کاله د پښتو د نثر او نظم په ډګر کې پېشقدم شخصيت او منلی استاد و. څو کاله پخوا چې ما لومړي پلا د پښتو شعر تاريخچه نشر کړه. هلته ما راحت د پښتو ادب له ارکانو څخه بللی و، چې د نوي ادبي نهضت په طليعه کې يې ښې نه هېرېدونکې خدمتونه کړي دي.

راحت د پښتو په صحافت او ليکوالۍ کې هم پېشقدم و. څلوېښت کاله د مخه يې له پښوره يوه مجله نشر کړه، چې نوم يې و ((ستړی مشی)) وروسته په پښتو ادب کې د ده شاعر او اديب په لوکتابونه چاپ او نشر کړل، چې لغات افغاني يې تر اوسه لا هم ګټور او ليدوړ کتاب دی.

راحت د خپل عمر اتيا کاله په تفکر او مطالعه او د ژبې او قام په خدمت کې تېر کړل، لس کاله مخکې چې ما لومړي پلا راحت وليد. د سترګو په علاج د پښور په شفاخانه کې پروت و. زه يې پوښتنې ته ورغلم، ده افسوس کاوه، چې ما نشي ليدلای. خو ما يو سپين ږيری او د روند او ګور پښتون ليدی. چې بنيه يې ډېره قوي نه وه، خو روح يې ستر او ګرندی و. د ده مخبري اثرناکې وې د دردمن زړه او مشتعل احساس يې درلود. ده زه نه ليدم، سترګې يې طبيبانو وړتړلې وې. مګر د زړه سترګې يې بيناوې. يو ساعت يې زما سره خبرې وويل: چې يو آشنا پښتون يې له خپله پښتنانه ورور سره واټي دی د يوه پاخه او زاړه استاد په ډول د پښتو ادب اينده زمانې ته خوشبين و. او ويل يې: ګمان کېږي چې زموږ د نوي نسل اديبان به د خوشحال او رحمان د يوه روښانه کړي. د اجمل او قلندر او رسا او شيدا فکرونه به نوي ډيوې بلې کړي. او نوي نسل به ځانته يوه علميه دنيا جوړه کاندي.

راحت په پښتو ادب کې ستر نثر ليکونکی او ناول وال او مترجم او لغت نويس او صحافي و. مګر زه

ACKU

د ده د هنر مهم اړخ د ده غزل ګڼم، او پر معاصرو عصري د پښتو غزل له استادانو څخه بولم.

د راحت په غزل کې تازه افکار، بدیع مضامین، روانه او پر یوالی ژبه د درد او سوز موجود دي. هر مضمون په ادبي قدرت په معمولو او مصطلحو عباراتو ادا کولای شي دژې بلاغت او ادبي ښکلا ساتي. او کله کله د فارسي شعر تر ټولو ښه اسلوب ول په پښتو شعر کې راواړوي. چې سړی یې نو ترجمه نه ګڼي اصیل شعر وګڼي مثلاً د مرحوم علامه اقبال یوه مشهوره غزل ده:

لاله این چمن آلوده رنګ است هنوز
سپر از دست مینداز که جنګ است هنوز

راحت وایي:

د لاله مخ دې لا لا په رنګ
توره مه ږده چې لا شته میدان د جنګ

اقبال وایي:

باش تا پرده کشایم ز مقام دګري
چه دهم شرح نواها که بچنګ است هنوز

راحت وایي:

صبر وکړه چې په بل تار کوته کیږدم
درته وا و رمه د نوي رباب ترنګ

په لومړي بیت کې راحت پښتني روح ځای کړی دی، او د سپر پر ځای یې توره راوړې ده. ځکه چې سپر فقط دفاعي کیف لري، خو توره د پښتني منعني سره برابره ده.

د راحت په غزل کې خوند رنګ رواني او رند یتوب له لیدل کیږي، د یوه غزل څو بیتونه یې واورئ:

چې صورت دې شي د بل ستا منشا داده
پرېږدم مینه د غیرت تقاضا داده

ځان مې خاوري ایرې کړو د ځای په درګي
بیا لا هم دي بدګمان، تماشا داده

دوست د ښمن زما په غم زاري یاوته خو
سترګې نمرا اړوي، نوڅرا داده

چې سره وینه د ګلاب په مخ کښې خوندکړي
خون روادي د خسته وو، دعوا داده

چې د مخ په شمع ئې توري زلفې تاو خوري
خلقه ګوري تیاره داده، رڼا داده

شیخ په ګوټ کې وایي د نفس سره غزا کړم
چې شي توروته وروړاندې غزا داده

ستا تهمت باندې راحت و ژني تر پر شوردې
سر په بام کړه راښکاره تماشا داده

راحت د مینې په ژبه د خپل قوم سره راز او نیاز لري او دغه د غیرت تقاضا ګڼي په رمز او ایما د مینې داستان لولي! او رندانه مزاج ئې هلته ښه ښکاري چې زاهد یعنې شیخ د نفس له غزا څخه د تورو

ACKU

میدان ته راباسي د لوړې غزل مقطع د فارسي د یوه مشهور بیت مضمون دی، چې په پښتو یې په ډېر قوت ادا کړی دی :

بجرم عشق توام میکشند و غوغائیست        تو نیز برسر بام آ، که خوش تماشائیست

د راحت اکثري غزلې له دغو اشاراتو او رندانه جذباتو ډکې دي چه په یوه بله غزلکې وائي :

څه په هغه چغو چه د رونه رسي تاتـه        څمه په هغه اه کړم چه د ډېرانه ولې ماته

ستا د مخ قبلې ته چې یو لحل مې د یمخ کړي        خدای گوګوره تولې مې د ډې دین او دنیا شاته

عمر خو د ډېتېر کړ په ما خدای خبر چې څه ته        هر مورې وایې چې بهخوله د رکړم سباته

خوش دا منل شي چې د زړه ویزړه ته لاره        مایه اسو یلو چرې رانه وستې ته خواته

زه ئې هسې هم د مخ پر ښېښنا ته کتې نه شم        دا په ځو یل زړه گړارلایل گوري حیاته

ماچې د هجران غش د ملا په تیرخوړلی دی        خدای دې د جانه کړي په پښتون هسې ملاته

چاچې د اشنا مخ ډېو کړ مزره کې بلـــه        هیڅ حاجت ئې نشته د ې د نمر سپوږمۍ رڼاته

د غزل په پای کې بیا راحت خپل رندانه چهرمښ اره کوي :

تاسې ته قران لولې راحت سره شراب څښـي

په ساده مخلوقه اړاشي وگوری مـــــلا تـــــه

راحت په د ېر رندانه منطق کې د شرق شاعري داستادانو تر اثر لاند ې د ې د حافظ او خیام او جامي او نورو رند مشرب شاعرانو په ډول که پوریاکارانو باندې ورغورځي او لکه حافظ چې ویلي وو :

باده نوش که درو رویو ریایی نبود        بهتر از زهد فروش که درو روی و ریاست

راحت هم وائي :

عبث ځان ته یې مغروره اې شیخانو !        خبر یې چې عبادت مو ریا لوټ کـــــړ

د دې یو بنا په پایکښې زه د راحت روح ته د رود ونه استوم او د مډیو پښتې غزل څو بېتونه وادرم :

ته د دې اوده قسمت مې و بښولو لره راشـه        زړ په د ونکی د قسمت ته خندولو لره راشه

ایساقي إستاد ېسوگند ویننزما په وچوشونډو        چې د اجام د بیخودۍ د ییپا څښلو لره راشه

هرآوازد هربوتارې د رباب اپسي گـــرزي        د خوږ و خوږ و سندروا وروللو لره راشـــه

داسینه مې د ډېتل ډکه ستا له مینې محبت وي        راشه راشه داسې راشه چې نه تللو لره راشه

د اروابنا د راحت په یاد ما داځو کرښې ولیکلې چې د ده د هنر یوه ورمه پلوشه ده خو راحت د پښتو ادب په دنیا کې نه هیرېد ونکی سړ ی د ی او د ده دادعا د تکرارور ده :

ستا گونه د سینې ی خدای و سپــــــړي

که راحت ئې پاڅوان نه وینـــه د ی و ي

ACKU

م. ابراهیم عطایي

# په اوسني پښتو ادب کې

## ناول، رومان او داستان

په اوسني پښتو ادب کې د حکایتي نوم ادبیات یوه د غور او زیاتې څېړنې وړ موضوع ده. ځکه په دې برخه کې یو شمېر داسې پوښتنې منځ ته راغلې دي چې عملاً ځواب غواړي.

څه دلیل دی چې د پښتو په فولکلوریک ادب کې د حکایتي ادب پانګه ډېره بډایه ده خو په اوسني پښتو ادب کې د دغې برخې کمزوري پاملرنه جلبوي

ولې تر اوسه د ناول، رومان او داستان تر منځ موږ د توپیرونو له پېژندنې څخه عاجزه یو.

ولې په نوي ادبیاتو کې زموږ د حکایتي ادب نوم د محتوا له پلوه زموږ ټولنه نشي — انځورولای دا او داسې نورې پوښتنې را منځ ته شوې دي او دا زموږ د فرهنګي موسسو کار دی چې ځواب ورته ووایي او سالمې لارښوونې وکړي.

په اوسنیو شرایطو کې د ادبیاتو د حکایتي نوم څخه باید د عامه اذهانو روښانولو او د افکارو په ترقۍ کې کار واخیستل شي. خو دا کار هغه وخت سالمې نتیجې ته رسېږي چې په علمي توګه یې د سرته رسولو تلاش وشي.

د تقریباً نیمې پېړۍ را په دې خوا چې زموږ په ټولنه کې په نوي طریقه مطبوعات منځ ته راغلي دي نو په نوي طریقه د حکایتي نوم ادبیات هم ورسره رواج شوي دي خو په دغه کار او دغه لار کې ډېرې نیمګړتیاوې پاملرنه جلبوي. د ناول، رومان او داستان په نامه ډېرې خپرونې وشوې خو حقیقت دا دی چې په هغوی کې ډېر لږ داسې څه پیدا کولای شو چې د ریښتیاني ناول یا داستان په سترګه ورته وګورو. د دې خبرې ځانته علتونه درلوده او یو عمده علت یې دا و، چې موږ د دغه نوم ادبیاتو ته د لارښوونې له پاره کوم ځای نه درلود. زموږ د ادبیاتو په پوهنځي کې د شعري قواعدو په تدریس بسنه شوې وه او هغو کسانو چې د حکایتي نوم ادبیاتو څخه کوم څه وړاندې کول نو هغه به د لیکوال خپل شخصي تلاش و، چې خپل اثر به نوي اسلوب کې واچوي.

په دې توګه نو زموږ د حکایتي ادب لیکوالان تر دوه ډوله اغېزو لاندې راغلل او د دوي



ACKU

په ایجادیاتو کې کمزوري او نیمګړتیاوې هم له دغه پلوه دي چې دلته به یې په لنډه توګه وڅیړو.

لومړی:

څرنګه چې په پښتو ادب کې د شفاهي کیسو یوه درنده پانګه موجوده وه او دغه آثار هرځای او هرچاته ارزښتمن وه نو رموز د حکایتي ادب لیکوال د هغه سره آشنا او داورته معلومه وه چې دا د خلکو ایجاد دي او له هغه سره ټوله مینه لري نو ښه لار داده چې نوي حکایتي ادب په هغه چوکاټ کې واچوي. داکار وشو خو د لیکوال ایجاد نه یواځې په پرګنو کې هرکلی ونشو بلکې تر ډېره ځایه رموز د فولکلوري ادب ښکلي میراثونوته هم زیان ورسیدی. یو شمیر کسانو حتی د شفاهي داستانونو ډېرې ښکلې برخې د نوي حکایتي ادب د سوغات په نامه مسخ کړې او دا یې نه جبران کیدونکی زیان و.

ځینو خپل رومانتیک خیالات د حکایتي ادب د لیکنې له پاره خپل لارښود کړل او د کوچیانو د مستوبیغلو د باولیوله شرنګا سره ولاړل پر زرغونو بیدیاوو، مسافران شول او هغه څه چې یې د حکایتي ادب ترنامه لاندې ټولنې ته سوغات کړې وه هیڅ ته یې مزه ورنکړه.

دوهم:

هغه یو شمیر نور د حکایتي ادب لیکوالان چې د مطالعاتو سطح یې لوړه وه او په داباندنیو ژبو یو هیڅ د هغو د نوي نړۍ ناولونه او داستانونه ولوستل او بیا یې په پښتو کې د حکایتي ادب ایجاد ته لاس وروا چاوه. په هغو کې هم یو شمیر پر ورکولا رو روان شول. د وي د خپلې ټولنې د ټولنیزو مناسباتو څخه پوره خبر نه وه او د وی د خپلو مطالعاتو تر اغیزې لاندې راغلل چې یواځې په دې یې بسنه ورکړه چې یوه ماجرا په کلماتو کې بیان کړي. په دې برخه کې نو داسې آثار هم لیدلای شو چې محتوا کاملاً د بل ځای ده صرف د پرسو ناژونو مونه پښتو وراچول شویدي. په دې آثارو کې نو د (موریس) څخه انځرګل جوړ شوی، د (لوسی) څخه ګلالۍ جوړه شوې او د ماجرا پیل چې هلته د سمندر پرغاړه د لمبا ځای و، دلته په ګودر تبدیل شویدي.

زموږ د نوي حکایتي ادب یو شمیر لیکوالان چې بیا په مترقي توګه د ادبیاتو د نوي ښوونځیو سره آشنا شوه او هلته یې بزګر، کار، فابریکه، ماشین او داسې څه نور ولیدل نو په کرونده کې بزګرا وپه فابریکه کې د کارګرا و داسې څه نور انځو رونه په خپلو آثارو کې ځای کړل. ده د بزګرخواره ورځ شلیدلي ګرایې، چاودلي پښې، کراغې

سترګی بیان کړي خو داهغه بزګرنه دي چې دلته زموږ سره اوسي همدارنګه دغښتلو متهو خاوند کارګرچې دغره غونډي مشین بې په حرکت راوستي توصیف شو خو داهم هغه کارګرنه دي چې دلته کارکوي .

په دې ډول نو یوه ورکه لار په مخه واخیستل شوه چې اوس باید جدي پاملرنه ورته وشي او دغه دورکې لارې کاروان برسمه لار روان شي .

دا نه مبالغه ده او نه مفرطه خوشبیني چې دلته دحکایتي ادب له پاره دسوژې بډایې خورا زیاته ده ؛ بازار ، کوڅه ، کرونده ، کلی ، فابریکه اودې قبیله په سلګونو داسې منابع شته چې هلته دټولنیزو روابطو مختلف ډیونه یوه لیکوال ته دعوت ورکوي چې کار پرې وکړي اوپه خپلو آثارو کې دهغو انځور وکاږي .

په خاصه توګه نن ورځ داکار ډیر ضروري دي ځکه زموږ پخوانی اوزاړه مناسبات په چټکې او توندۍ ځپل کیږي او نوي مناسباتو ته پرېږدي نو داپه کارده چې زموږ لیکوالان دحکایتي ادب په فورم کې دهغو رکارډونه وساتي .

زموږ دجمعي اطلاعاتو وسایل په هراړخیزه توګه ودې ته اړدي چې دداسې حکایتي ادب په ایجادېې کمبودونه ورته ک شي چې هغه په عیني او ذهني سطحه کې زموږ دټولنې څرګندوي وي .

داکارعلمي پایې غواړي ، ددې کار اصلاح ، لارښوونه او انسجام ترهرڅه وړاندې دژبو او ادبیاتو دپوهنځي وظیفه ده چې دیوې خوا څخه په علمي طریقه تدریس پروګرام ورته جوړ کړي او دبلې خوا وخت پروخت سمپوزیمونه او سیمینارونه ورته دایر کړي .

ترده لنډو خبرو وروسته به او[illegible] چې موږ په اوسني پښتو ادب کې دناول — رومان او داستان څخه څه لرو !

داکار به ډیر مشکل وي چې په هغو ټولو آثارو لیکنه وکړو چې تراوسه په نوي طریقه دناول ، رومان یا داستان په نامه څه پېژنو . نوپه دا ده چې ددغه حکایتي فورم له هرتیپ څخه یو اثر ترکره کتنې لاندې ونیسو .

په عمومي توګه لکه پورته چې مې وویل موږ په هغه توګه چې دادبیاتو دنړۍ معمول دي موږ ډیر لږ آثارلرو او هغه څه چې لرو نوي ناول او داستان کې یې خلاصه کولای شو . رومان په هغه ترتیب چې ادبي اصول یې حدود ټاکي دلته منځ ته نه دي راغلي بلکې زموږ یو شمیر هغه آثارچې دناول په نامه وړاندې شوي دي دناول اورومان یو بې خونده ترکیب دي . له دې کبله نو داضروري راته ښکاري چې دابحث څو برخو ته وویشو . په لومړۍ برخه کې به دناول اورومان حدود دیوې مقدمې په توګه راوړو اوبیا به

وگورو چی له دغو اصولو سره برابریه اوسنی پښتو ادب کی څه لرو ·
په بله برخه کی به د داستان پرحدودو یو نظر وغځلو اوبیابه هم وگورو چی په پښتو ادب کی څه لرو ·
په دادواړو برخو کی به یو تاکلی اثر ترکره کتنی لاندې ونیسو اوپه ورستی برخه کی به د ټول بحث نتیجه راوباسو ·

## نـا ول څـه شـی د ي !

ناول په عمومی توگه یو منثورحکایت دي(( ناول د بورژوازي ټولنی دحماسی هنریو فورم دي چی په بورژوازي ټولنه کی یې پراختیا وموند له او دهغې ټولنی دفساد په لڅولو کی یې داغیزه ناکی وسیلی کاروکړ))(۱) هغه لومړ ي اثرچی دناول لیکنی په سبک ولیکل شو دي و المانی لیکوال و٠ چی جین پول ریچتر (۱۷۶۳ــ۱۸۲۵) نومیدي او کوم چا چی په المان کی ترقی ورکړه هغه مشهور شاعر هاینه( ۱۷۹۷ــ۱۸۵۶) و٠(۲)

په اروپاکی ناول لیکنه په پراخه ساحه کی رواج شوه خودکوم سړ ي نوم چی ډیر شهرت لري هغه فرانسوي (اونوره دو بالـزاك ۱۷۹۹ــ۱۸۵۰) و٠ چی دآثـارو علمی ارزښت یې دنړ ۍ دسترو پوهانو له خوا تائید شویدي · مثلاً فردریك اینگلز وایي ــ (( ··· هغه څه چی مادتاریخ او اقتصادپه برخه کی دبالزاك له آثاروڅخه پـه لاس راوړ ي دي ترهغوپه مراتبو زیات دي چی دتاریخ له کتابونو اوداقتصادله پوهانو اوداحصائیی له ټولونکو څخه می پیداکړ ي دي))(۳)

پل لافارك وایي (( مارکس غوښتل دسیاسی اقتصاد داثر ترلیکلو وروسته دبالـزاك پر انسانی کمیډ ي تقریظ او انتقادولیکی ·))( ۴ )

دناول فورم په ادبیاتو کی دپانگه والۍ دنظام سره سم ته راغی اوترهغه پخـوا دغه حکایت ته رومان ویل کیدې ·

رومان دحکایتی ادب یو ډول ( ) دي چی دفرانسی په پخوانیو ادبیاتو کی ډیر رواج و٠ · په رومان کی ماجراتر زیاتی اندازې تخیلی وي خوپه ناول کی ترخیال واقعیت

---

(۳) بالزاك : دختر زرین چشم ترجمه عبدالله توکل ، رضاسید حسینی چاپ تهران مقدمه ص ۲۹
(۲) پوهنتی اثر پوهنتی مخ



ACKU

د پیر لحاظ لري بخوانی رومانونه منظوم وو . خویه وروسته کی منثور رومانونه هم رواج شول .

په ناول کی لاندنی اجزا شامل دي .

پلاټ یا طرح :

یو ناول تریوي تاکلی طرح لاندي جوړیږي . هغه پیښی چی دلیکوال له خوا دماجرا دبیان له پاره ټاکل شوي وي باید داسی یو په بل پسی په حرکت را شی چی د ناول یا داستان دخلکو له پاره بندیزونه واقع نه کړي . یعنی دخلکو(پرسوناژونو) او د هغو دحرکتونو انتظام باید په طبیعی توګه یکسی عیارشوي وي .

خلك (پرسوناژونه) :

د داستان یاناول خلکو ته کرکترونه یاپرسوناژونه ویل کیږي . لیکوال کولاي شی هغه یخپله مستقیماً وصف کړي یاد هغو په خبرو ( دیالوګونو ) سره یاپه حرکاتو ( ) سره داکاروکړي .

فضا :

هغه زمانی او مکانی شرایط چی دناول حکایت پکی واقع کیږي باید طبیعی توصیف شی . داکار په ډرامونو کی دننداري پروخت د ډیکوریشن بولی او همدغسی د ډیکوریشن په داستان کی هم په کار دي .

حرکت :

هغه پیښی چی په طرح کی راغلی وي په داستان اړه لري چی ژرباید واوړي او که ورو ورو حرکت وکړي .

پیښه :

هغه څه چی دحادثی په شکل پیښیږي مثلاً یوسړي په یوه مسابقه کی لس زره ډالره ګټی یایوي میلمستیاته ورېلل کیږي .

تصادف :

یعنی عادي واقعه مثلاً یوسړي هره ورځ په موټرکی دفترته ځی یوه ورځ موټرچپه کیږي .

بحران :

یوه داسی پیښه چی دداستان دیوه سړي په ژوند دایمی بدلون ایجادکړي .

اوج :

هغه بحران چی په خپل نهایت کی دداستان جریان یوه بل مسیرته وغورځوي .

ترـ:

تر هغه فکرد ي چې د داستان شاته ځاي کړ ه شوي وي او هغه مفهوم د ي چې ليکوال غواړ ي د لوستونکي ذ هن ته يې انتقال کړ ي ۰ (۵)

په عمومي توګه ليکوالان دغه تر د داستان پاي ته بيايي ۰ لوستونکي تربيلو بيلو بيچومو راتيروي او په پاي کې يې هغه ځاي ته راورسوي چې د هغه په ذ هن کې هغه مطلب ځاي ونيسي چې د ناول د ليکوال هدف وي ۰

اوس به د ناول يا داستان د محتوا په برخه کې يو څه خبر نه وکړ و :

ناول يوه هنري پديده ده چې د ټولنيزي وضع د تشريح له پاره د يوي وسيلې په توګه استعماليږ ي ۰ کله چې د دغسې عالي هدف په لارکې د هغې څخه کار اخيستل کيږ ي نو ليکوال بايد د ټولنې له هغوقوانينو سره اشنا واوسي چې د تکامل اصالت پر تکيه د ي ۰ عيني واقعيتونه بايد د ذ هني جر ياناتو تابع نه کړ ي او په خاصه توګه د کلتور له هغو تيبو نو سره بايد پوره اشنا يې ولري چې په ناول يا داستان کې ترتوصيف لاندي راځي ۰

په د ي خوا کې ډ ير احتياط په کارد ي ۰ ((فر دريك اينګلس ميناکايتوسکي په د ي ملامتوي چې دارنولد (د نوموړ ي د داستان يو سر ي) شخصيت يې په کلې ډ ول په اصولو کې ورك کړ پدي ۰)) (٦)

په يو رښتياني ناول کې د داستان د خلکو تون صفات او اطوار د تاريخ د يوي ټاکلې مرحلې تابع وي داډ يره مهمه خبره ده (او په دغه ځاي کې عيني ليکوالان لار ورکوي چې ميناکايتوسکي هم د دغسې تيروتنې سره مخامخ شويد ي او زموږ د پښتوزياتره ناول ليکونکي او داستان ليکونکي هم په زور د ناول خلك يوي ټاکلې تاريخي مرحلې ته ننباسي ۰ په داسې حال کې چې کله د ټولنيز عليت قوانين پيژندل شوي وي نو دا مشکل نه پيښيږ ي ۰ پرسوناژونه يا د داستان خلك بايد مقيد نسي بلکې ازاد پريښو و ل شي چې د د ي په حرکاتو کې هغه څه راڅرګند شي چې موږ د تاريخ ټاکلې مرحلې ورته وايو ۰

اوس نو هغه ځاي ته رارسيږ و چې د نموني په ډ ول يو يوه ناول کره کتنه وکړ و د رومان په باب

---

( ۵ ) د داستان يا ناول داجزا و په معرفي کې مې د ( چه ننويسم ) د اثرله مقدمې څخه استفاده کړ يده دا اثر فريدون کارليکلی د ي او په ۱۳۳۴ کال کې په تهران کې چاپ شويد ي ۰

(٦) داکترميترا : رياليسم وضد رياليسم چاپ تهران ص ۵۱

ACKU

زه د یو داسې پښتو اثر سره نه یم مخامخ شوی چې دلته یې په جلا توګه یاد وڅیړم ځکه اکثره د رومان او ناول حدود سره ګډ شویدي او هغه هم ډیر خام شکلونه لري ولې د ناول څه نمونې شته چې د هغو له منځه یو یوه به دلته کره کتنه وکړم ·

## په اوسني پښتو ادب کې ناول :

په پښتو کې د حکایتي ادب په نوي فورم سره د دې رواني پیړۍ له لومړیو وختونو څخه کار راپیل شو · په کومو سیمو کې چې د دې کار ته زیاته پاملرنه کیدله هغه پېښور ؤ ځکه هلته د حکایتي ادب د پخوانیو فورمونو ډیر آثار عرضه کیدل · پخوانی فولکلوریکې کیسې په نظم کې اچول کیدې او چاپ شوي آثار یې د پښتنو په ټولو سیمو کې خپریدل · هغه لیکوالان چې په دې برخه کې یې کارکاوه نو د ګاونډیو ژبو له ادب سره هم اشنا شوي وه · د وي پخوا ندیو ژبو کې د حکایتي ادب د نوي فورم آثار لوستل او د سوداګرۍ بازار چې د چاپ له پراختیا سره تود شوي ؤ نو د دې خواته هم پاملرنه وشوه چې د نوي فورم آثار هم بازار ته وړاندې کړي ·

هغه لومړی اثر چې په پښتو کې د ناول په شکل منځ ته راغی د ( مراة العروس ) په نامه ؤ چې له اردو څخه میا حسیب ګل ترجمه کړی ؤ · تر دې ناول څو کاله وروسته د ( توبة النصوح ) به نامه یو بل ناول میا محمد یوسف نومې په پښتو ترجمه کړ · دریم ناول د ( ماه رخ ) په نامه د سبد راحت زاخیل او څلورم د ( پیغلې ) په نامه ناول د محمد ادریس صاحبزاده ؤ چې دا ناول ده پخپله لیکلی و ·

له دې وروسته نو ترڅن یوري هلته ډیر ناولونه لیکل شویدي خو په افغانستان کې د ناول لیکنې فن د اماني دوري سره راپیل شو ولې پښتو په دې فن کې زیاته برخه نه درلوده · محمود طرزي یو شمیر رومانونه له ترکي او نورو ژبو څخه په دري راترجمه کړل او چې پښتو ته به دا وار رارسیدي په وطن کې اړ دوړ شو ·

د رواني پیړۍ د دوهمې نیمایي څخه وروسته په پښتو ادب کې ناول لیکنه او داستان لیکنه راپیل کیږي او په دغه کارکې بیا هم د پېښور د کار اغیزې له نظره نه غورځول کیږي · نن په پېښور او کوټه کې ناول لیکنه زیات رواج لري خو په افغانستان کې تر ناول لیکنې داستان لیکنه زیاته ده ·

د دې له پاره چې لوستونکی د پوهنتنیو طفلانو سره برابر کم نمونه ناول وپیژني زه د امانت په نامه یو ناول راتاکم او څیړنه یې کوم خو د اخبرنه به ډیره اوږده او مفصله نه وي هغه برخې یې دلته تر کره کتنې لاندې نیسم چې د ناول لیکنې له نوي اسلوب سره برابرې وي ·

امانیت یو کوچنی ناول (                ) دي چې په دې وروستیو وختونو کې په پیښور کې چاپ شوېدي او زما په نظر هغه صفات پکې دي چې یو ریښتیانی ناول یې باید ولري .

دداستان ماجرایې داسې ده چې :

یو لیکوال له ښاره څخه د سهیل آباد په نامه یوې سیمې ته ځي چې هلته د دغې سیمې په باب معلومات راټول کړي او بیا یو څه پر ولیکي . دې چې د سهیل اباد په یوه هوټل کې ځای نیسي نو د شپې د هوټل خلک وایي چې نن شپه د ( شهیدې بي بي ) مشل د هدیرې پر سر تیریږي . خلک ټوله ولاړ دي او شپې په تیاره کې له لیرې ځایه یوه رڼا لیدل کیږي او دلته خلک کلمې ورته وایي او ټوله په یوه آواز وایي هغه ده شهیده بي بي !

لیکوال شازمان ته سودا ورلویږي چې دا به څه وي نو بله ورځ د هوټل څخه وزي او ماښام د هغې هدیرې خواته ورځي چې هلته یې رڼا لیدلی وه . شازمان چې هدیرې ته د خوړ له خوا ورتیریږي په ښه یې ښویږي او په سیندکې لویږي ، په دغه وخت کې یو سړی د ډېره داسې حال کې راباسي چې بېسده دی ، یو وخت چې سترګې رو نیوي نو به یو داسې کوړکې پروت دی چې هلته یوه ځوانه ښځه او یو سړی سره اوسي . ترمعرفي او پیژندنې وروسته شازمان د کوړله سړي څخه چې ( موتبرخان ) نومیږي پوښتنه کوي چې دا ښځه ( جانانه ) دي څه ده ؟ هغه ده ته وایي چې دا اوږده کیسه ده بیا به یې په فرصت درته کوم . په یوه ټاکلې ورځ شازمان موتبرخان او جانانه هغه هدیرې ته ځي چې د شهیدې بي بي افسانه پورې مشهوره شوې وه او هلته موتبرخان ورده ته کیسه کوي . دا ماجرانو د موتبرخان او جانانې ده . موتبرخان چې کیسه پیل کوله نو پردو قبرونو یې ګلان کېښېوول او د دیږ قبرونو څخه یې یوه ته په خطاب وویل (( خرنګه چې ته زما امانت ساتی نو هم هغسې زه ستا امانت ساتم ! )) ده جانانې ته سترګې واړولی او بیایې شازمان ته وویل : دا ماته امانت ده .

او س نو ماجرا واوره .

ظفرکوټ د سهیل آباد سره یو ګاونډی ریاست دی . هلته د مظفرخان په نامه یو نواب و چې د پښتوانیو باچهانو په شان یې ژوند کاوه . د ده دربار حرم سرای او داسې ټوله سیمه د ده له ظلم او تیري څخه په کړاو وه .

په دغه ریاست کې د صفدر کلې په نامه یوه صوبداري وه چې په هغه کې د ولیجان په نامه یو بزګر او سېدی هغه دوې لونې درلودې چې یوه یې کونتره ( کوتره ) او بله یې خارو نومېده . دا بزګر هغه ښځه او د وې لونې ډېرې خوشحاله وې خو یوه ورځ



ACKU

نواب مظفرخان ښکارته راوتلی و او دښکار ځاي څخه یې کونتره په دوربین کې ولیده
اوسم له ډګا نسره یې امروکړ چې دادي ددې حرم سراي ته بوتلل شي . داکارسمدستي
اجرا هم شو .

مظفرخان چې دښکار په نامه دصفدر کلي ښکارځاي ته راغلی و اصلاً یې غوښتل
چې پرهغو بزګرانو خپل رعب واچوي چې هغو دفصلونو له خرابې څخه شکایت کړي و .
دغې سیمې یوه صوبه دار خپل زوي نواب ته په عرض ولیږي چې دخلکو حال خراب دي
خو نواب دا ځوان دومره تهدید کړ چې هغه راووت نوفیصله یې وکړه چې باید دنواب
پرضد دقیام له جوړه کړي .

عباس نواب ته دفضل مولا تحصیلدار له خوا یوه ښکلې له مه ورمعرفي کیږي چې تاجه
نومیږي او دامیرګل لمر لوروه . دغې لمی نو نواب داسې په خپلو منګولو کې ونیوي چې
هرڅه به یې غوښتل نواب هغه کول .

هغه ځوان چې پلار نواب ته لیږلی و همدغه موتبرخان و چې کیسه کوي .
موتبرخان چې دریا ست له مرکز څخه کلي ته راغی نو یو شمیر ځوانا ن یې دځان سره ملګري
کړل او غره ته وخوت . نورنو دنواب سیمه ناارامه شوه . موتبرخان په دې هم خبرشو چې
نواب دولیجان بزګرلورکونستره په زوره خپل حرم سراي ته بیولی ده . دې دکونستري دخلاصولو
له پاره هم اقدام وکړ خو کله چې هغه ترکلاراورسته پته یې خطاشوه اوچې لاندې راولویده
مړه شوه او په هغه هدیره کې کې په ګورشوه چې هلته ددې په شان نوري په لسګونو
ځوانانې ترخاورولاندې شوي وې .

دکونستري ترمرګ وروسته نواب ته یوځا ووین چې دولیجان یوه بله لورخاړو نومیږي
او هغه هم لمیره ښکلې ده . نواب ولیجان ته حال واستاوه اوچې دانجلۍ یې دنواب حرم
سراي ته بیولېه لارکې دموتبرخان له خوا وتښتول شوه . موتبرخان داکار دنجلۍ دمور
او پلار په مصلحت کړي و . نواب چې خبر شو دموتبرخان پلارېې وروغوښت اودامیرګل
لمر په مخ کې یې ولږ باوه .

موتبرخان نور خپله توله سیمه (ماتهو دره) یاغي کړه او خیل وروړانځرګل اوجانانه
چې دهغې سره انځرګل دواده نیت کړي و دایې هم غره ته وخیژوله . موتبرخان اوانځرګل
خاړو او جانانه لمیرسره خوشحاله وه خو ګوریلاي جنګونو ته یې دوام ورکاوه .

مظفرخان دتاجې لمې سره لمیر بدنامه شو اوپه حرم سراي کې هم توطیې اوختښتې
ورته پیل شوي چې په هغو کې ددې ځوان زوي عباس خان لاس درلود .

څو وخته وروسته دسیل آباد نواب تیمورشاه خان چې دخپلې ښځې سره دباندې ترې ته

تللي وه نو بيرته خپل رياست ته راغلی . ده د ظفر کوټ نواب مظفرخان ته خبر ورکړ چې د ده الوتکه به د مظفراباد له فضا څخه تيريږي او په سيل آباد کې به کښته کيږي خو مظفرخان له دغه کار څخه په انديښنه کې سو او د خپل حيثيت کښته والي ورته واېسېدئ نو داوه چې تيمورشاه خان ته يې رد جواب ورکړ چې الوتکه دې د ظفرکوټ له فضا څخه نه تيريږي . تيمورشاه خان په دې اعتنا ونه کړه او لکه پروګرام چې وه هم هغه شان يې الوتکه د ظفرکوټ له فضا څخه تيره شوه له دې وروسته د تيمورشاه او مظفرخان روابط ډېر خراب شول خو خبره جګړې ته ورسيده له د سيل آباد له خوا پر مظفرکوټ يرغل وشو . دې جګړې مظفرخان ډېر وارخطا کړ خو موتبرخان او د هغه ډلې ته دا لار برابره شوه چې د سيل آباد له لښکرسره يو ځاى شي . جګړه د مظفرخان په تاوان تمامه شوه متارکه ( ډ زينديې ) وشوه او په جرګه مسايل حل شول او له دې سره سم موتبرخان او د هغه ډله سيل اباد ته راغلل او تيمورشاه نواب دوې ته په ښه سترګه وکتل . او نو داوخت وه چې موتبرخان به د خارو سره او انځرګل به د جانانې سره واده کاوه چې مظفرخان په يوه توطيه لاس پورې کړ . هغه د خارو د لاس راوستلو له پاره پيسې ورانديې کړې څوپوه ورځ په داسې حال کې چې موتبرخان نه وه چې د مظفرخان له خوا داود صوبه دار پټ و سيل آباد ته راوليږل شو . په دغه وخت کې تيمورشاه نواب هم کوم خواته تللى وه اود کارسرښته د هغه استاد عبدالحق کوله . داود صوبه دار عبدالحق ته رشوت ورکړ او د هغه په مرسته د موتبرخان پرکورحمله وشوه . په کورکې يو انځرګل د جانانې او خارو سره وه . دوې هم توپکان راواخيستل او جګړه پيل شوه . داد پوليسو حمله وه خو جنګ ډېر پرتود وه خو خارو او انځرګل دواړه ووژل شوه او جانانه پاته شوه .

کله چې موتبرخان راورسيد نو خبره خلاصه وه هغه د خارو او انځرګل مړي راوړل د خوږ پرغاړه يې په دغه هديره کې کښېښوول چې اوس خلک وايي شهيده بي بي دلته ښخه ده . هغه شهيده بي بي زما امانت ده چې د وروړ سره مې به خاورو کې پرته ده — او جانانه هم د هغه امانت ده چې دا دې زه يې ورته ساتم او داهم زه موتبرخان يم .))

دا پورتني کوچنی ناول د فني جوړښت له مخې داسې ارزيابي کولاي شو .

لومړي : د امانت د ناول پلاټ يا طرح د ناول ليکنې د اصولو سره برابره داسې شوېده چې د پرسوناژونو په حرکت کې هيڅ بنديزنه ايجاد وي بلکې هغوته نظم ورېخښي .

دوهم : د ناول خلک يې د کرکتر په لحاظ داشنا کلتوري خصلتونو خاوندان دي . ليکوال هغه په دوه ډوله توصيفوي . هم په مستقيمه توګه يې اکارسرته رسوي او هم

دناول دخلکو په ډ پالوګونو کی د دوي توصیف کوي .

دریم : دفضا دیکوریشن په ماهرانه توګه کوي . فضاکاملاً طبیعی وي او هغه چاپیریال چې داستان حوادث منځ ته پکی راځی دکلتوري ارزښتونوڅخه غنی دی او هیڅ پر دي والی نه لري .

څلورم : دپیښو دحرکت لړۍ سرڅخه تر پایه یود بل په ارتباط تعقیبیږ ي .

پنځم : دتصادف په برخه کی دمظفرخان نواب لهخوا دموتبرخان سره بی اعتنایی دد ې باعث ګرزي چی دنواب پر ضد دخلکو قیام رااوچت شی . دابحران هغه وخت ا وج ته رسیږ ي چی نواب دموتبرخان پلار وژ بوي . دنواب دغه عمل دموتبرخان له خوا په دروند عصبیت هرکلی کیږ ي .

شپږم : دامانت په ناول کی تم ډ یرماهرانه ځاي شویدی ، لکه څرنګه چی دناول لیکوال غوښتل چی دنوابی نظام دخانۍ له فجایعو سره عامه اذهان اشناکړ ي نو په خپله لیکه کی بریالی شوي هم دي .

دمحتوا په لحاظ هم داناول ډ یرښهاي دي .

دعینی قوانینو اوذهنی جریاناتو ترمنځ یې موازنه داسې ساتلی ده چی په هیڅ توګه دانتقادګوته نشی پرابښول کیداي . نواب اودهغه درباریان . صوبه داران . تحصیلداران خانان دخپل طبقاتی خصلت پر بنا دداسې عملونو مرتکب ګرزي چی په خپل ور اندي دولس عکس العمل رأ پاڅوي . ولیجان بزګردخپل طبقاتی خصلت پر بنا داستثماریه ور اندي ګونډه کیږ ي او کورنۍ یې داوارګۍ سره مخامخ کیږ ي .

د دې لیکنی په یوه ترمخنی برخه کی مو وویل چی ناول دحماسی هنریوفورم د ي . دامانت په ناول کی دغه اصل په ډ یره روښنایی څرګند دي . دمظفرخان نواب پرضد دموتبرخان تمام اودخپلو ملګرو سره ګوریلایی جګړ ي د دغه ناول حماسی برخه د ه .

دناول لیکوال په مستعارډ ول په دغه ناول کی دپښتو د یوي مشهوري فولکلوري شفاهی کیسی روح ساتلی د ي . دموسی جان اوولیجان کیسه چی دهغی په باب دشوروي اتحاد مشهورلیکوال م .ګ اسلانوف وایی چی عیناً داتنوګرافۍ یو موزیم د ي .(۷) حدسره مقایسه کیدا ی شی

غالباً چی دامانت لیکوال به داکارله دې کبله کړ ي وي چی پښتانه په کلی توګه د دغه شفاهی کیسی سره اشناد ي اود دوي د ذوق سره هغه ناول سم راځی چی د شفاهی کیسی روح پکی موجود وي . دغسی درك دپښتو هرلیکوال ته په کارد ي په خاصه توګه هغه کسان چی دحکایتی ادب په فورمونوکی دایجاد کارکوي خوځلی پاملرنه باید ورسره

---

(۷) افغانشناسی شوروي هدرمرصه چهل سال د شوروي اتحاد دعلومود اکاډمی خپرونه دمسکوچاپ ۸۲ مخ

ACKU

ملګري وي .

دامانت ناول په يري لږ کمزوري هم لري خو هغه دومره لږ دي چې دناول هيڅ يوه بنه اړخ ته يې تسکر نه دي وکړي . په دغو کمزوريو پانبمکړ تياوکی يوه داده چې ناول يې په يوه ژور نالستيك سبك ليکلی دي اويه ځينو برخو کی سرسري تيرشويدي ولی بايد ووايو چې داناول دهغو ارزښتونو څخه غنه برخه لري چې يوه بنه ناول ته وړيه برخه کيدای شي .

پـه اوسنی پښتو ادب کی داستان :

په اوسنی پښتو ادب کی دحکايتی ادب څخه دداستان فورم ډېر علاقمندان لري . په نوي طرز داستان ليکنه هم ددې رواني پېرۍ له لومړيو وختونو څخه راپيل کيږي اود ډېري پرمختيا سيمه يې بياهم پېښوردی .

څرنګه چې په پېښور کی دچاپ وسايل ډېر وه اودبلی خوا دکتابونو چاپولو تجارتی رنګ اخيستی و نو دازمينه برابره وه چې په چاپی ډول زيات آثارخپاره کړي . په دغه ځای کی دحکايتی ادب ډېرآثار خپريدل . اودهند په نيمه وچه او افغانستان کی چې کوم اثار ترکليو پورې خپريدل هغه ددغو چاپخانو برکت و .

څرنګه چې په عامه ځوښتونو کی داستان ته زياته مينه موجوده وه نو دپخوانی فولکلوري افسانو په اړخ کی دداستانونو دغه فورم چې په نوي سبك ليکل شوي وي رواج ـــــــ ول اود وړ اندې کولويه بازارکی يې ښه چلښت هم وموند .

په دې پسې چې مطبوعات رواج شول نويه اخبارونو او مجلو کی دلنډو کيسو رواج ـ راووت اودکيسو په خپرولو سره اخبارونه اومجلې هم خوښيدلی . دراديوي نشراتو سره دداستان ليکنه اوداستان له اوريدلو سره مينه ډېره پسې عامه شوه . څرنګه چې دليکلی داستان څخه يوازې دسوادخاوندانو استفاده کولای شوای خوراديويي داستانونو څخه په عامه سطح کی هغو کسانو هم ګټـه واخيستله چې دسواد اولوستنی څخه محروم وه .

په دې ډول نو په پښتو داستان ليکنه کی ترناول ليکنې ډېره پرمختيا راغله . په پښتو کی ښائسته ډېر داستانی آثارمنځ ته راغلل چې دفورم په لحاظ ښه دي خودمحتواپـــــه لحاظ تولوته ښه والی نه په برخه کيږي . ددې علت خو دادی چې دداستان ليکوال دټولنيزو مناسباتو دپيژندنی په برخه کی علمی کمزوري درلودې اويه هغو ماجراو کی چې په داستان کی به يې پمحرکت راوستلی يوازې پرشکلی اوقشري پر خه تکيه کيدله اودمسايلو دماهيـــــت په تحليل کی يې دغفم سطح اوچته نه وه .

په دغو داستانونو کې چې خپرېدل یوه زیاته برخه یې فرمایشي وه ځکه دچاپ وسایل اوراډیو د دولت تر اداره لاندې وه . په دغو ادارو کې هغه داستان ته دخپرېدلو موقع ورکول کېده چې د دولت په ګټه وي . په دې ډول نو یو لړ داسې بې خونده پولیسي داستانونه ولیکل شول چې په عامه سطح کې یې دخلکو زړه له داستان څخه ورتوورکړ . دغه کمزوري تر ډېره حده دافغانستان په پرونیو مطبوعاتو کې لیدل کېږي . خو ددې په اړخ کې بیاهم ځینې اثارخپاره شویدي چې له ارزښتونو څخه یې سترګې نشي پټېدلای .

دیوښه داستان په لیکلو کې هغه اصول اوحدود چې دناول په برخه کې بیان شول دلته هم تطبیق کېږي خو څرنګه چې داستان ترناول ړوکی وي نودجوړښت په فني برخه کې یې یوڅه توپیر راځي .. دمحتواله پلوه نو هغه علمي اسلوب چې دیوه ناول په لیکنه کې باید مراعات شي په داستان کې هم مراعات کېږي .

داستان دحکایتي ادب یو ځانته فورم دې چې په نوي اصطلاح لنډ داستان ( ) ورته وایي . دادبیاتو څېړونکي وایي چې لنډ داستان باید ددومره کلماتو لرونکی وي چې لوستونکي یې په یوه وخت کې مطالعه کړای شي اوځینو لا حتی دکلماتو عدد هم ورته ټاکلی دې خودلته زه بردې برخه نه ږغیږم .

لکه پورته چې مې وویل په پښتو ادب کې په نوي فورم ډېرداستانونه لیکل شویدي اوزه به دلته بیاهم دهغوله منځه یو ددې څېړنې له پاره راوټاکم .

داداپستان هم داخو کاله وړاندې لیکل شوي اوپه پېښورکې چاپ شویدي . لیکوال یې دپښتو معروف داستان لیکونی میرمهدي شاه دي چې دآثارو سره یې ټول پښتو لوستونکي اشنادي .

داداستان دهغه وخت یوه ټابلو ده چې دهند پر نیمه وچه دانګریزداستعمار وزرې خپرې وې . په داستان کې دیو داسې سړي دژوند ماجرا راوړل شویده چې دانګریزپه مقابل کې یاغي شوي دې اوپه قبایلي سیمو کې دوه ډوله فعالیت کوي یو داچې عام خلک له سواد سره اشناکوي اوبل داچې خلک دانګریزسره مقابلې ته تشویقوي . دانګریزانو لهخوا په ده پسې تعقیبات پیل شویدي خو دیوه کلي ملک دامبارز سړي پېژني اوپه ملکنو ایجنسي کې یې انګریزانو ته سپاري اوهغوي یې زندان ته غورځوي . دانګریزتروتلو وروسته بیاهم داسړي دکړاونوسره مخامخ کېږي اوپه پای کې دژوندمحرومیتونه یو ملنګ ځینی جوړ وي . په داستان کې یوه معصومانه مینه هم دچاشنۍ په ډول ورګډه شویده چې داستان یې ښکلی کړي دي .

ACKU

صفدر یو د سواد او لوستلو سره اشنا کلیوال سړی و چې د چاپیریال شرایطو له تنګسو سره مخامخ کړی و. د ده د انګریز له ادارې څخه بده نه راتله. په دغه وخت کې د ملکنډ ایجنسۍ په ډیر قوت وه او د انګریز منصبدارانو په زور او رشوت ملکان د ځان کړي وه. صفدر چې په وطن کې ډیر زړه تنګی شو نو مخ یې د آزادو قبایلو خواته ونیوی او ولاړی. هلته په یوه کلي کې ډیره شو. ده د کلي ورو هلوکانو ته د لیک لوست د زده کړې کار پیل کړ او د قبایلو خلکو هم ده ته په عزت کتل. په دې ډول څو کاله پر تیر شول. په دغه موده کې د قبایلو لخوا د انګریزانو سره د جنګ جګړې دروند کاروان و. او خلکو به ویل چې په دې کار کې صفدر د لوی لاس خاوند دی. د دې خبرې تر ډیره حده حقیقت هم درلود. انګریزانو د صفدر عکسونه پیدا کړل او د شاو خوا کلیو ملکانو ته یې ولیږل چې که د دغه عکس خاوند هر چا ومونده او ایجنسۍ ته یې معرفي کړ نو ښه خبر به یې په برخه شي.

صفدر په سله څو کاله نیت وکړ چې خپل کلي او کورته یو ځل راشي او دا کار هم باید په پټه وکړي. دی چې خپل کلي ته راتګ په لارکې د یو کلي سرته د تیریدلو په وخت کې یوې چینې ته وروګرزید چې څه اوبه وڅښي. پرچې نه یوه پیغلې منګی ډکاوه او د وطن له دود رواج سره دغې چینې ته چې ښځو به اوبه ځینې وړلې د نارینه و ورتګ ممنوع و، خو صفدر په دې پوه نه و چې دا چینه د ښځو له پاره ده. کله چې چینې ته ورتیر شو نو پیغلې زر غږ پورته کړ چې ته دا څوک یې چې د ښځو چینې ته راغلی یې! صفدر د هغې څخه معافي وغوښتله او وې ویل چې تږی وم نو ور پیرته شا ته روان شو. پیغلې چې د صفدر لیږوی ولیده نو ورته وې ویل چې: اوبه وڅښه او ژر له دغه ځایه لیرې شه. صفدر چې پرچې نه اوبه وڅښلې ناڅاپه یې په اوبو کې د پیغلې مخ ولید او له دې سره یې سم زړه بایلوی. له صفدر څخه نور کار و روزګار پاته شو او په دې کلي کې یې داسې استوګنه غوره کړه چې د چا ورته پام نشي. دی به هره ورځ د هغې لارې پر سر دریدی چې هلته به نجونې د اوبو له پاره چینې ته تلې. څو هغه پیغله وویني چې د چینې پرغاړه ده خپل زړه ورسپارلی و.

د پیغلې هم زړه له صفدر سره و، خو د وطن دود او دستور دې ته اجازه نه ورکوله چې هغه ته سترګې قدر هم ورواړوي. صفدر چې څو ورځې دغه کار وکړ د کلیوالو پاملرنه یې ځانته واړوله خو یوه ورځ د هغې پیغلې پلار ملک بایندي د ده په تعقیب شو او صفدر یې په داسې حال کې ونیوی چې نجونو ته یې له یوه پټه ځایه کتل. ملک بایندي صفدر خپلې اوجرې ته راوست او له دې سره سم یې هغه عکس را واخیست چې د ایجنسۍ لخوا انګریزانو ده ته

ACKU

ځالېږلی و. کله چې یې عکس او صفدر ته وکتل اوبه دې پوه شو چې د عکس خاوند همدغه ځوان دی نو سمدستي یې هغه لاس تړلی په ایجنسۍ کې انګریزانو ته وسپاره او خپل بخښنیز یې جیب ته واچاوه.

د ملک پاینده لور هغه پېغله چې صفدر یې د جینۍ پرغاړه لیدلی و. هرڅه چې یې کوښښ وکړ پلار یې په دې راضي نکړای شو چې صفدر خوشې کړي او دې یې ښې دا پېغله د هغه ونه وروله چې وروسته لېونۍ شوه.

صفدر څو کاله د انګرېزانو په جیل کې و. او پېغله ورو ورو د لېونتوب هغه حد ته ورسېده چې نور به نو ببرسر او لڅې پښې په کلي کې ګرځیده او د صفدر نوم به یې پرخوله جاري و. — د دې کورنۍ اواره شوه او دې ته چې به هم چا د صفدر نوم ور واخیست نو ورته ورته به یې ژړل.

ټولو خلکو به ویل چې صفدر انګریزانو تورو اوبو ته بوت او هلته یې په چونه کې وسوځی. صفدر په زندان کې د پېغلې له حاله احوال څخه خبر و.

کله چې د انګرېز دوره پای ته ورسېده او انګرېز ووت نو صفدر هم د نورو بندیانو سره راخوشې شو. ده به د ختو مزدوري کوله او د پښتنوله د ود او دستور سره سم څرنګه چې دی تور شوی و. اوبوی پېغلې ته د لاري په نیولو مکلف و. نو ځان یې نشوای ځرګند ولای خو زړه یې بیاهم له دغې پېغلې سره و.

څو وخته وروسته په پټه د ملک پاینده کلي ته راغی او هلته یې خپله ببرسري لېونۍ پیدا کړه. دې پوهېدې چې که هغې ته ووایې چې زه صفدر یم نو د هغې زړه ته به ونه لوېږي ځکه د هغې په زړه کې صفدر یخوالامړ و. نو پېغلې ته یې وویل: لېونۍ درځه چې د صفدر قبر ته دې بوځم. لېونۍ هم ورسره روانه شوه. صفدر لېونۍ پېښور ته نژدې یوې هدیري ته راوستله او یوه قبر ته یې ودروله او ورته یې ویل. دغه د صفدر قبر! لېونۍ پرېږېوته وې ژړل خو په دې پوه نشوه چې کوم سړی دې ته د صفدر قبر ورښیي هغه هم دغه صفدر دی چې د دې پلار انګرېزته په لاس ورکړ او داد هغه په مینه کې لېونۍ شوه.

صفدر نو نورلمحمدغی لېونۍ سره په اوسېدنه پیل وکړ. د وې به په هغه هدیره کې ناسته وه لېونۍ به د صفدر قبر ته ژړل او صفدر به د لېونۍ په مینه کې لاهو و. ))

میرمهدي شاه په ځېل دغه داستان کې هغه ټوله اصول مراعات کړي دي چې په داستان لیکنه کې نن رواج لري. د دې داستان خلک. چاپېریال او نور ټول عناصر د پلاټ تابع دي او هیڅ انحراف پکې نشته. خو یوازې نیمګړتیا چې لري هغه دا ده چې داستان

ACKU

په حماسه رابېل کېږي یاوېه تراجیدي ختم کېږي . دا یو نظر دی خو یه عمومي توګه دا د پښتو د پښتو داستان لیکونکو یو ادبي خصلت دی چې د داستان خاتمه په تراجیدي پای ته رسوي . البته د دې کار علت به هم دا وي چې د پښتو د فولکلوریک ادب شفاهي کیسې اکثره هم دغسې دي او د دغه سبک عام مقبولیت لري . ولې نن باید بر دې برخه یو نوې نظروشي .

د تېر بحث نتیجه :

د دې تېر مقالې لیکنې په پای کې نو د نتیجې په توګه دا څو ټکي یادول ضروري دي .

(۱) په اوسني پښتو ادب کې حکایتي فورم علمي چوکاټ ته نه دی لوېدلی او په عمومي توګه دوه انحرافه په کوته کېدای شي .

لومړی : یو شمېر لیکوالان د شفاهي کیسو تراغېزه لاندې راغلي دي او د داستان فورم کاملاً د هغه تابع کوي او په دې توګه یوا ځې خپل ایجاد بې خونده کوي بلکې رموز اصیل ادبي میراثونو ته هم زیان رسوي .

دوهم : هغه لیکوالان چې په افراطي توګه د دباندني ادب تراغېزه لاندې راغلي دي د خپلې تولنې د کلتور څخه بې خبري سره داسې آثار عرضه کوي چې په هغو کې عیني قوانین د ذهني جریاناتو تابع کوي .

(۲) په پښتو ادب کې د ناول ، رومان ، او داستان حدود بلکې مغشوش دي او د دې علت هم دا دی چې رموز د نوې حکایتي فورم د ادبیاتو لیکوالان د ادبي ایجاد یاتو په فني برخه کې کمزوري لري بای د علمائی لارښوونه وشي .

(۳) څرنګه چې اوسني شرایط په ادبیاتو کې د نوښتوب له پاره مساعد شوي دي نو په جمعي اطلاعاتي وسایلو کې باید داسې څه عرضه شي چې په عامه سطح کې د قبول ځای ولري خو په دې توګه د عامه ذهانو د روښانولو کار زیاتې پرمخ ولاړ شي .

د دې ټولو خبرو په پای کې بیا هم رموز هیله منې سترګې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته دي چې له دغې لارې اوسنی کمزوري لارې سمې شي . ( پای )

ACKU

پوهاند دکتور احمد جاوید

# محی الدین افغان و تألیف کتب درسی

اکنون که شخصیت علمی یکی از رجال دانشمند قرن اخیر کشور بعنوان معلم ونویسنده تجلیل میگردد شایسته است که بیاد وپاس خدمات عرفانی وقدردانی ازمقام استادی او سخنی چند بعرض برسانم . چنانکه اطلاع داریم مرحوم افغان درایامیکه باسردار نامدار افغانستان محمد ایوب خان فاتح میوند در تبعید بسرمی برد لحظه ای ازتحصیل علم وکسب وکمال غافل نه نشسته بود وازدانشهای متداول عصر بهره کافی اندوخته بود . سرزمین علم پرورهند ومحیط خانوادگی ایوب خان درتربیت وپرورش ذوق واستعداد محی الدین افغان بی تاثیر نبوده است . فرزند برومند ایوب خان سردار عبدالقادر افندی از نویسندگان و دانشمندان عصرخود بشمار میرود . (۱) مرحوم افغان پس از بازگشت بوطن درصفحات مختلف سراج الاخبار ( سالهای سوم ، چارم ، پنجم ، ششم)

---

(۱) سردار عبدالقادر افندی دارای تالیفاتی بزبان انگلیسی ودری است که ازآنجمله چهار اثر اورا معرفی میکنم :

الف : درباریان وگدایان دربار Royals and Royal این کتاب در ۱۹۲۷ در مدراس هند به چاپ رسیده است .

ب : ترجمه داستان مشهور انجابزبان انگلیسی Hir and Ranja این داستان که اصلاً بزبان پنجابی بوده ازطرف بیش از (۶۰) نفر شاعر و نویسنده بنظم ونثردرآورده شده است بیش از بیست تن ، این داستان رابنظم ونثر دری پرورده اند که معروف ترین آنان عظیم تتوی ، ضیا الدین ضیا ، ولی محمد نصاری ، باقی سیوک رام عطارد ، فقیر الله آفرین لاهوری ، نواب احمد یار یکتا وکنهیالال هندی استند . شعرای پښتو مانند خوشحال خان ختک در اشعار خود تلمیحاتی به این داستان دارند .

امان افغان وسایر مطبوعات آنروز وطن کراراً بچاپ رسیده است . وی علاوه بر داشتن سمت معلمی به تألیف کتب درسی نیز پرداخته است .

اینک برای زنده وتازه ساختن خاطرات آن بزرگوار نگاهی به سوابق تألیف کتب درسی وچگونگی آغاز آن می اندازیم .

نخستین اقدام برای تأسیس معارف عصری ونوین درعهد امیر شیرعلیخان صورت گرفت . ظاهراً سید جمال الدین افغان نابغهٔ شهیروطن درین امر مهم نقش مهم و بارز داشته است ( ۱ ) چاپ ونشرچند کتاب و ترجمه بعضی اصطلاحات عسکری به پشتو جهته تعلیم نظامیان ازجمله نخستین کتابهای درسی بشمار می رود . کتاب تحفة الامیر تألیف نورمحمد نوری افغان قندهاری را ( سال تألیف ۱۲۸۰ ق ) درصرف ونحو پشتو ود ر ۲۴۰ صفحه که نسخه خطی آن در ـ

---

ج : داستان "تصویرعبرت" که بصورت طنز وبشکل درام ولهجه گفتاری کابل نوشته شده تصویری است از زندگی اجتماعی آن روزگار وبیانگر بسا عاداتها و رسوم که اکنون باقی نمانده . این کتاب در ۹۲ صفحه به قطع رقعی وچاپ سنگی در سال ۱۹۲۲ درمدراس هند منتشر شده است .

د : امامان مقدس *Holy Imams*

( ۲ ) رجوع شود به فهرست آثارچاپ عهده امانیه که دررسالهٔ "نگاهی برنقش فرهنگی افغانستان درعهود اسلامی" ازطرف دفتر سالنمای افغانستان چاپ شده است سال طبع ۱۳۵۴ وزارت اطلاعات وکلتور .

علاوه برطبع کتب درسی وغیر درسی درعهد امانیه بیش ازهشتاد نظامنامه لایحه وقوانین و درحدود ۸ قرارداد و ۱۲ معاهده چاپ ونشر شده است . بطور کلی میتوان گفت که ازنخستین تاریخ طبع کتاب درافغانستان که "حجته قویه دراپطال عقاید و هابیه فویه" ( سال چاپ ۱۲۸۸ ق ) باشد تاکنون در حدود دوهزار کتاب ورساله بزبانهای دری وپشتو منتشر شده است ازآنجمله بیش ازسی جلد درعهد شیرعلیخان وبیش از ۵۵ جلد درعهد عبدالرحمن خان به طبع رسیده است .

تعداد دیوان ومجموعه های شعری قریباً به یکصد وپنجاه میرسد که نخستین آن دیوان عایشه درانی است ( سال طبع ۱۳۰۵ هـ ق )

درطول این مدت حدود هفتاد داستان و رومان بقلم نویسندگان افغانی *



ACKU

کتابخانه اکادمی علوم افغانستان محفوظ است میتوان از زمره کتابهای درسی این عـــهد بشمار آورد ( ۳ ) درعهد امیرعبدالرحمن خان برای اولین مرتبه کتابـــی درصرف ونحو دری چاپ ونشر شد ۰ درآن عهود به کتاب صرف ونحو ( آمدن نامه ) می گفتند ۰ ازانجاکه درتعریف افعال مصدر آمدن درآغاز کـــتاب می آمـــــد این نوع کتب به "آمدن نامه" معروف شده مانند کریما ، نام حق، مامقیمان وامثال آن ( ٤ )

---

انتشار یافته است دوکتاب زیر راکه درسال ۱۳۱۷ چاپ شده است میتوان بحساب آغاز یادکـــــرد :

۱- خنــــجر نگارش جلال الدین خوشــــنوا

۲- شام تاریک وصبح روشن عالمشاهـــــی

درقسمت داستانها رومانهایی که بزبانهای ملی ما ترجمه شده است میتوان گفـــت که عده آن ازینجاه تجاوز میکند ونخستین آن سیاحت" دورا دور کره زمین وهشتاد روز" از ژول ورن است که محمود طرزی ترجمه کرده ودرسال ۱۳۳۰ ق بچاپ رسیده است ۰ این کتاب زیرعنوان سفر هشتاد روزه دوردنیا ترجمه ذکاالملك محمد بن حسین فروغـــی اصفهانی درتهران درسال ۱۳۱۷ ق یعنی سیزده سال پیشتراز زمان ترجمه کابل چاپ شده بود ۰

( ۱ ) رجوع شود به صفحات فصل اول کتاب شیخ محمد اقبال زیرعنوان The Mission of Islam چاپ دهلی نو سال ۱۹۷۷ - یکی ازاد بای مشهورهند بنام قاضی عبد الغفار در رسالـــه خود تحت عنوان (( آثار سید جمال الدین )) که بزبان ارد و نوشته وازطرف انجمن ترقی اردو بسال ۱۹٤۰ دردهلی به طبع رسیده و درضمن اشاره به تاسیس جریده کابـــل توسط سید ( بروایت مسترپلنت انگلیس ) ازکارروایهای عرفانی اویاد میکند ۰ قاضـــی عبد الغفارموءلف بسا آثار ازآنجمله حیات اجمل است( ص ٤۱۹ ) صحافت پاکستــان وهندمیں تاءلیف دکتورعبد السلام خورشید مجلس ترقی ادب ارد و لاهور پلنت همــان کسی است که درسال ۱۸۸۳ واسطه بین سید وسیاستمد اران انگلیس شد ( شماره ۱۲ سال ۱۳۱۵ سال ششم مجله کابل ) ۰

( ۲ ) نورمحمد نوری کتاب دیگری بنام گلشن امارت دارد که ازطرف انجمن تاریخ بچاپ رسیده اســـــت ۰

( ۳ ) رجوع شود به مقاله ( نظراجمالی به فرهنگ دوره محمد زایی ) تاءلیف نگارنده که درجزوکتاب "نگاهی برنقش فرهنگی افغانستان درعهد اسلامی" چاپ ونشر شده است ناگفته نماند که پس ازانتشار مقاله بالاچند کتاب تازه ازآنعهد بدست آمده که درضمـن مقاله دیگر نویسنده زیرعنوان شعر وادب درقرن بیستم معرفی خواهد شد ۰

( ٤ ) (کریما) شروع میشود به مطلع : کریما به بخشای برحال ما که استم اسیرکمند هـــوا ★

بعد لفظ ( آمدن نامه ) بعلاقه ملازمت بمعنای خاص ومطلق کتاب صرف ونحو وبه تعبیر امروز "دستور" بکار رفت.

اصطلاح دستور باین رشته ازعلوم از محدثات قرن اخیراست . میرزاحبیب اصفهانی یکی ازروشنفکران عهد ناصرالدین شاه وصاحب تألیفات بیشمار ومؤلف "دستور سخن" نخستین کسی است که اصطلاح دستور رابجای صرف ونحو بکار برد . ( ٥ )

اصطلاح "آمدن نامه" بجای صرف ونحو در اثر کثرت استعمال چنان وسعت گرفت که درزبانهای دیگر مانند ارد و پشتو وترکی به کتب علم صرف وحتی لغت (( آمدن نامه )) گفتند . رساله (( آمدن نامه )) باهتمام گل محمدخان درانی درسال ۱۳۱۲ درهشتاد صفحه در دارالسلطنه کابل به طبع رسیده است

این کتاب تقلید گونه ویانقل به نقلی ازکتاب آمدن نامه ایست که درهند بارها چاپ شده وهم نسخه ای از آن درضمن مجموعه فارسی درسال ۱۳۱۸ ق دربمبی درمطبعه کریمه بحسن اهتمام قاضی عبدالکریم پلسبندری با ۹ - رساله دیگر چاپ شده است.

---

منسوب به سعدی ونام حق که آغاز میشود به این بیت نیز شرف الدین بخاری :

نام حق بر زبان همی رانیم      که بجان ودلش همی خوانیم

دونام حق دیگر نیز داریم که گویند ه یکی آن حسین صاحب رضوی سرهانی واز دیگری بوعلی قلندر پانی پتی است که بعضی مزار اورا درپانی پت وبرخی درکرنال نوشته اند .

امامطلع ما حقیان اینست : مامقیمان کوی دلداریم رخ بدنیاودین نمی آریم

( ٥ ) مجله یغما سال ۱۳ شماره ۱۵۰ مقاله ایرج افشار

برای مزید اطلاع خوانندگان محترم یك سطرآنرا از باب الالف باترجمه اردوی آن نقل میکنـــــیم :

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مصدر | ماضی | ماضی استمراری | ماضی قریب | ماضی بعید | مستقبل |
| آمدن | آمد | می آمـــــد | آمده است | آمده بود | خواهد آمد |
| آنـــا | آیـــا | آتاتهـــــا | آیاهــــی | آیاتهـــا | آئیگـــا |

ریو درفهرست معروف خود آمدن نامه ایرا ازقرن هفدهم معرفی میکند . نام مؤلـــف این سه آمدن نامه ذکرنیافته است. ریو درجای دیگرازآمدن نامه بدیهع سکهـــر

---

( ۱ ) تزك ناپلیون که درسال ۱۳۱۸ در ۸۴ صفحه برستخط غلام قادر کاکری شامـــل پند ونصحیت براساس تجربه های ناپلیون از روی تدابیر الملوك ترجمه میرزامحمـــد شیرازی ( سال چاپ ۱۳۰۸ ق بمبی ) درکابل به طبع رسیده ٬ طابق النعل نقـــل کتاب دومی است بدون ذکر مأخذ اولـــی .

( ۲ ) ص ۵۱٦ فهرست نسخ خطی فارسی موزیم برتیانیا تالیف ریو چاپ لندن ۱۸۷۹

Cataloque of the persian Manuscripts in British Museum by Charles Rieu

( ۳ ) ص ۵۲۱ همان کتاب

( ٤ ) ص ۵۱ شماره ۵٤ چاپ لندن سال ۱۹٦۵ *

Cataloque of Pashto Manuscripts by James Fuller Blumhardt and D.N. Mackenzie London 1965.

مداس ولد نهلکتة بن بهکوتهد اس کاتیه یاد میکند ( ۳) ۰ بلوم هارت ومکنزی در — فهرست نسخ پشتوخود ازنسخه" آمدن نامه افغانی" که درقصبه مصطفی آباد ( رامپور) نوشته شده ذکری دارد ( ٤) ۰

نورالحسن انصاری در کتاب خود ( فارسی ادب بعهد اورنگ زیب) ازکتاب آمدن نامه ترکی تألیف سید حسین یاد میکند ( ٥ ) ۰

ازاین کتاب که بگذریم رساله زبدة التجوید تألیف نیک محمد قاری راکه درسال ۱۳۲۲ در ٤٤ صفحه ( این کتاب درعهد ضیائیه تألیف ودرعهد سراجیه چاپ شده است ) به طبع رسیده میتوان نمونه روشنی ازکتب درسی دانست، درعهد امیرحبیب الله خان دارالتألیفی بنام (( بیت العلوم مدرسه مبارکه حبیبه)) تأسیس یافت ویک عده کتب جهته تألیف وتدوین باستادان مربوط سپرده شد ( ۱)

رساله ای بزبان پشتو بنام (( هدیه حضورعالی )) از طرف عبد الرب وصالح محمد درسال ۱۳۳٤ ق تألیف ومنتشر شد ۰ همچنین رساله کوچك(( رموزات تحریر عبارات )) راکه در واقع نخستین تألیف درزمینه نقطه گذاری ورعایت علائم واصول تنقیط بوده است میتوان در ردیف کتب درسی بحساب آورد ۰ کتبی نظیرکتاب اول پشتو صالح محمد خان مفتاح النحو ومفتاح الصرف قاری عبد الله خان وکتاب د بهنات مولوی عبد الرب راازجمله کتب درسی مکاتب آنروز میتوان شمرد ۰ یکی از فضلای آنعهد بنام میرمحمد حسن قندهاری که شاعر نیز بود کتابی بنام گلدسته معانی دارد ۰

این کتاب بمنظور آموختن زبان پشتو تألیف شده متضمن مباحثی درزمینه صرف ونحو آن زبانست ۰

نسخه خطی ومنحصر بفرد آن نزد نگارنده است ۰ دانشمند محترم رفیع این کتاب رادرشماره اول مجله کتاب سال ٥٩ به تفصیل معرفی کرده است ۰ ازجمله کتابهای درسی درزمینه صرف ونحو دری میتوان کتاب تحفه امانیه تألیف حسن هروی رانام برد ۰

---

* ( ٥ ) ص ٥٣٥ کتاب مذکور چاپ دهلی ۰

( ۱) ص ۱۸٦ کتاب The Emergence of Modern Af. تألیف وارتن گریگوریان سال ۱۹٦۹ چاپ امریکا

این کتاب ارزشمند که مفصل ترین دستور زبان فارسی در آن عهد است وبر دستور عبد الغفور ندیم و محمود سامی رجحان وبرتری روشن دارد توسط دانشمند محترم نجلا ب رحیمی در مجله کتاب شماره ( ۳ ) مفصلاً نقد ومعرفی شده است . فهرست ناقصی از کتب عهد امانی در کتاب نگاهی برنقش فرهنگی افغانستان در عهد اسلامی داده شده است . درین عهد به موضوع خط و خطاطی وهمچنین سواد آموزی توجه زیادی مبذول شده است ، ودرین امر مهم سهم سید احمد لودین قند هاری بسیار آشکار ومحسوس است سید احمد خان با تألیف کتبی طرز کاکا ، سررشتهٔ افغانی ، ضیاء امانیه وکتب ابتدائیه امانیه خدمات بزرگ وشایسته ای درین راه انجام داده است اینک برای اثبات مدعای خود نقل فرمان امان الله خان راکه درهمین زمینه صادر شده ودر رساله ضیاء امانیه آمده بمطالعه خوانندگان محترم می رسانیم ومقاله خود راختم میکنیم :

نقل فرمان مبارك اعلیحضرت ظل اللهی امیرامان الله خان
غازی در باب طبع این کتاب ابتدائیه امانیه

عالیجاه عزت وعزیزی همراه ارجمند عبد العزیز یاور را واضح خاطر بــاد چون شما وعالیجاه عزت وسیادت همراه میرزا میرمحمد هاشم خان برگد امین نظام به جملهٔ فقرات معروض خود - کیفیت عالیجاه سید احمد خان لودین راکه قبل برین چند نفر اشخاص ناخوان بزیر دست خود گرفته وذمه دار شده بود که تا قبل روز آنها راخوانند ه ونویسنده می نمایم - باشرح معروضی عالیجاه مذکور وشش نفر معلمین زیردست راکه درباب تعلیم مذکور نموده بودند بحضور والای مامعروض داشته ویك جلد کتاب ضیاء امانیه راکه عالیجاه سید احمد خان درباب طرز تعلیم مزبور تألیف کرده تقدیم حضور والای ما نموده بود بعد شرح معروضی شما ماراد انسته شده وکتاب موصوف راملاحظه فرموده سالیانه مبلغ دوهزار روپیه پخته برای خود عالیجاه سید احمد خان - ودرماه مبلغ

سی وپنجروپیه برای یکنفر معلم ازجمله معلم های ماتحت اوکه درمکتب کوهستان مقرر گردیده وبرای پنج نفر دیگر معلمین ماتحت اونه نفر درماه مبلغ بیست وپنج وسی روپیه به قرار درجه و قابلیت شان که عالیجاه مذکورتصدیق کرده مقررکرده از مقرری آنها بفرمان علحیده عالیجاه عزت همراه ناظر مالیات راخبرداده برای شما مینگاریم که موازی دوهزار جلد ازمتن وحاشیه کتاب مذکور ودوهزار جلد ازمتن چاپ شود بعد از صحیح کردن سید احمد خاق هرگاه غلط بود ازنفری چاپه خانه تاوان گرفته شود - زیاده خیریت است فقط تحریر چارشنبه ۱۱ سنبلـه سنه ۱۲۹۸ شمسی ( دستخط مبارك اعلیحضرت ) در پایان ضیاء امانیه این عبارت درجست :

به تصحیح ونگرانی خود موجد این طرزجدید تعلیم ابتدایی سید احمد قندهاری

بخط : احقرالعباد حافظ حیدرعلی احراری غفرالله له تاریخ چاپ ۲۵ جوزا ۱۲۹۹-

---

استدراکات :

الف : یکی ازماخذ دلچسپ راجع به جریده کابل مقاله منتشره درژورنال افغانستان بزبان انگلیسی است که درامریکا چاپ شده است .

Afghanistan Journal 1976

ب : هرچند درعهود مختلف کتابهای گوناگون جهته تعلیم وتعلم نوآموزان نوشته شده اماکتاب معرفه الافغانی تاًلیف پیرمحمدکاکر استاد شهزاده سلیمان بعضی سد وزیی رامیتوان ازجمله نخستین کتابهای دانست که درزمینه زبان نوشته بعضی این کتاب راولواینکه شامل قواعد دستوری نهست نخستین کتاب دستور پشتومیدانند رجوع شود بمقدمه دانشمند محترم حبیب الله رفیع برکتاب معرفه الافغانی چاپ اطلاعات وکلتور سال ۱۳۵۶-

ج : نخستین کتاب کمد رپارمد ستورزبان دری نوشته وچاپ شده ( عصر های زبان فارسی ) بزبان لاینتی است R . L . P تاًلیف لود ویکود واو L . O که در ۹۰ صفحه بقطع خشتی درسال ۱٦۳۹ یعنی سه صد وچهل ویکسال پیش باترجمه فارسی ( سفر تکوین ) از یعقوب طاووسی درلیدن ها لیند چاپ شده رجوع شود به مجموعه کمینه ایرج افشار تهران ۲۱ تیر ۱۳۵٤

یك نكته جالب وتازه درباره زبان پشتو :

تاانجاکی برنگارنده معلوم است نخستین فرهنگ هاي پشتوکه درقرن سیزد هم هجري توسط خود افغانان نوشته شده عبارت است از : ریاض المحبت، عجائب الغات، فرهنگ قاسم علـــــی افریدي، فرهنگ ارتضا ئیه ·

موءلف فرهنگ ریاض المحبت، نواب محبت خان ( ١١٦٤ ــ ١٢٢٤ ) بن نواب حافظ الملك حافظ رحمت خان بهادر است · محبت خان این فرهنگ رادر ١٢٢٦ هـ مطابق ١٨٠٦ میلادي براي سرجورج هیلرد بارلو نائب الحکومه هند در هفت صد صفحه نوشته وشامل مباحث درصرف افعال وگرامر پشتو باساس لهجه سربني باشرح ان بزبان دري · کتاب امد نامه نیز از تالیفات اوست ·

موءلف عجایب الغات نواب الهیارخان برادرکوچك محبت خان است که بهمان منوال درشش صد وچهل صفحه ( ١٧ سطري ) بنام همو بارلو بسال ١٢٢٨ هـ تالیف کرده وشتمل است بـــــر لغات هندي پشتو با شرح ان به فارسي ( ٢ ) را ورتی مستشرق معروف انگلیـــس درتالیف فرهنگ خود لزین درکتاب بهره جسته و یاد کرده است ( ٣ )

قاسم علی خان بن برهان ادم خیل افریدي ساکن فرخ اباد تولد ١١٨٢ هـ مطابق ١٧٦٨ میلادي عالم وشاعر صاحب دیوان درپشتو، دري وارد و، موءلف اثار بسیار ازانجمله کتابـــی بنام خوابنامه است · وي فرهنگی مشتمل بر لغات دري با شرح پشتو، اردو، کشمیري وانگلیس دارد · نسخه خطی موءرخ ١٢٢٠ این کتاب دراکادمی پشاور محفوظ است ·

شرح احوال خانواده موءلف ، نیزدرین کتاب بزبان دري داده شده است ( ٤ ) قاسم علی درضمن یکی اوتصائد خود ازمحبت خان، الهیارخان وبساکسان دیگر نــــــام می برد ( ٥ ) افریدي نامه او مشتمل است بر الفاظ مترادف فارسی ، پشتو ، کشمیـــري ، انگریزي وهندي ·

فهرست دیگر او شامل عربی ، فارسی وهندي است · دررسا لـــــه

افریدي نامه ازحالت زندگی خود تاسال ۱۲۲۵ سخن رانده است • دیوان پشتو او شامل چهارصد بیست است• رساله درتصوف بزبان دري دارد •

دیگر از فرهنگ نویسان افغان محمد ارتضاخان بن نواب امان جان یوسفزي است که دررامپور هند می زیست• فرهنگ ارتضایی شامل لغات پشتو پارسی است که بسال ۱۲۲۵ تالیف شده است • (٦)

ظاهرا قد یمترین فرهنگ پشتو ، پشتو اردو ، که درهند رسیده خیر الغیات قاضی خیرالله پشاوري است که باهتمام پادري کاپاي نوشهر در ۱۹۲۰ بچاپ رسیده است •

درقسمت توجه واهتمام به لغت پشتو درسرزمین اروپا میتوان گفت نخستین — کسیکه وارد مباحث لغوي پشتو شده ولغات پشتو را تقریبا درهشت صفحه با معادل المانی ان داده گولدن شتت المانی است

( ۱۷٤٥ــ ۱۷۸۱م ) • وي که سالعاعضوا کادمی علوم استراخان روسیه بودکتابی بنام :

یعنی : مسافرت درکوهاي قفقاز وسرزمین روسیه وارد • این کتاب درسال ۱۷۹۱ — میلادي ده سال بعد از وفات مؤلف بچاپ رسید • درسال ۱۷۸۷م یعنی ٤ سال پیش ازطبع کتاب فوق قاموس مقایسوي زبانها ولهجه هاي جهان ازچاپ شده بود •

برنهارو دورن درکتاب منتخبات پشتو بنام :

چاپ پطرسبورگ سال ۱۸٤۷ میلادي لغت نامه اي ، پشتو به انگلیس ، در ۲۲۰ صفحه دارد • دورن با قاموس وگرامر نواب محبت خان اشنا بوده است •

قدیمترین قاموس مفصل پشتو انگلیس ، فرهنگ راورتی است بنام :

ACKU

راورتی در سالهای ۱۸٤۹، ۱۸۵۰ موقعیکه در پشاور وظیفه اجرا میکرد به تحصیل پشتو ونوشتن تالیفات خود پرداخت. پیش ازورتی کسانی مانند سرویلیم جونز( سال ۱۸۰۷ ) — کلاپروت ( ۱۸۱۰) دکتر لیدن( ۱۸۱۲) ولکن( ۱۸۱۸) ایورسمن( ۱۸۲۳) ومیجر لیچ (مؤلف گرامر پشتو سال چاپ ۱۸۳۹ کلکته) ، درزمینه زبان ودستور پشتو مطالعات وتحقیقات انجام داده بودند اما گرامر پشتو راورتی هنوز ازکتابهای باارزش بشمار میرود . بعد ازقاموس راورتی بهترین فرهنگ پشتو بانگلیسی وانگلیسی به پشتو تألیف هنری والتربیلواست که درا ن ریشه های بعضی از کلمات داده شده است. این کتاب درسال ۱۸٦۷ در۳۵۲ صفحه — بچاپ رسیده است. نام انگلیسی ان چنین است :

زمان تالیف این فرهنگ هاکه ذکرشان برفت ازقرن سیزدهم اسلامی بالاتمیرود .
خوشبختانه درین تازگیها نگارنده ضمن مطالعه نسخه منحصر بفرد ریاض الشعرا محفوظ درآرشیف ملی به نکته بسیار جالب وبا ارزشی برخورد بدین معنی که یکی از استادان واله داغستانی که خود ازنوابغ روزگار بود ، در اواخر عهد صفویه مقارن ظهور افغانان هوتکی به اموختن زبان پشتو پرداخت وان زبان را فراگرفت وظاهرا" لغتی درین زبان تألیف کرد که علی الحجاله قد بهترین قاموس این زبان بشمارمی اید . ازانجاکی به تصریح واله مؤلف درسال ۱۰۹٤ هجری قمری متولد شده زمان تالیف فرهنگ رامیتوان اوایل قرن دوازدهم دانست. مؤلف عهد نادرشاه افشار رانیز درك کرده ومدتی در دربتگاه اوسمت دبیری داشته وبهمین مناسبت به منشی معروف بوده است. واله می نویسد که وی در ضمن یکی ازسفرهای نادر هند مورد غضب قرار میگرد و بقتل میرسد . اینك مندرجات متن ریاض الشعرا" باختصار نقل میشود :
میرزا محمد اصلش از تبریز و مولد خودش در ۱۰۹٤ در دارالسلطنه المنان شده مستجمع کمالات صوری ومعنوی بوده حقا اگرخامه دو زبان با هزار زبان خواهد که بشرح

ها
محامد صفاتش پر دازد عمر ها ازعهده ان برنمیتواند براید • درجمیع علوم وهمه کمالات وهنر سر امد روزگار وفرید عصر ویگانه انان بود خصوصا" درفقه وحدیث وحکمت وتصوف وموسیقی و ریاضی وعلم حساب وجفر ورمل رسیاق وسایر علوم جزویه وکلیه که گوی سابقت ازمعاصرین واقران خود ربوده علم یکتایی می افراخت، قوت حافظه اش بمرتبه ای بود که هرچیزیکه یك مرتبه بسمع شریف و نظر دقیقش میرسید دیگر محتاج تکرار نمیشد ودر اکثرعلوم تصنیفات وتا" لیفات دارد • — سیزده قسم خطوط را درمرتبه خوش می نوشت که دیده خورده بینان از مشاهده ان منور ومتحیر می شد • بچار پنج زبان تکلم میفرمود به لغت افغانی که لغت مشکل ومغلق است کتابی منظوم فرموده که مقام تعجب است واین لغت را در اندك فرصتی فراگرفته بود ودرلغت ترکی کمال استحصال داشت درعربی وفارسی خود بیعدیل بود • راقم این حروف درخدمت ان مرحوم تربیعه شده چند گاه معلم فقیر بود • بعضی کتب را درخدمت ایشان خوانده انقدرها حق تربیت ونوازش تاچیزدارد که بشرح درنمی اید • واله دوصفحه دیگر درباره وسعت مشرب، رنگینی صحبت، وفاداری — وپاس اشنایی استاد خود نوشته است که چون بموضوع این مقاله ارتباط نمی گرفت ازنقل ان صرف شد • واله این بیت را نتیجه طبع انیگانه روزگار خوانده وضبط کرده است:

درجیب غنچه پوشد در برگ لاله داغ    عشقت برنگی ازدل هرکس ظهـــور کـــرد

ازمحتوای کلام واله این نتیجه رامیتوان گرفت که میرزامحمد منشی زبان پشتو را یاد گرفته ظاهرا" دراصفهان ودرعهد هوتکی ها، سپس لغت نامه ای شاید باسلوب نصاب الصبیان ابونصر فراهی منظوم ساخته است • ایا همین لغت نامه پشتواست که بعدا" خود واله انرابصورت منثورترتیب داده ویا اینکه لغت نامه واله اثرمستقل بوده است؟ یك نکته دیگرنیزقابل یاد اوری است که محتملا" لغت نامه ایرا کمازواله خوانده اند همین اثراستاد اوباشد ( متا" سفانه یاد داشتی که منبع استناد لغت نامه پشتویه واله بوده اکنون دراختیارنگارنده نیست" موضوع کلا" مستلزم تحقیق بیشتراست• چنانچه لفظ لغت رادرین متن بمعنای زبان بگیریم در انصورت قضیه طورد یگری شود یعنی ازمحتوای کلام چنین میتوان استنباط وحکم کرد که میرزامحمد منشی منظومه ایبلغت افغانی ( بزبان پشتو) سروده است که انهم بجای خود مطلبی است مهم وجالب• باامید دسترس باصل متن وایراد این شعرمولانا : خوشتر ان باشد که سردلبران    گفته آید درحدیث دیگران • مقاله را ختم میکنم

## منابع :


( ۱ ) ص ۵۳ فهرست نسخ پښتو تالیف تولمر بلوم هارت ومکنزي

( ۲ ) ص ۵۱۶ فهرست نسخ فارسی موزیم بریتانیا تالیف چارلز ریو

( ۳ ) ص ۲۱ قاموس پشتو با نگلیسی، راورتی

( ٤ ) ص ۱٦ تا ۲۲ پشتومجله، پشتو اکادمی پېښور یونیورستی شماره ۳ سال ۱۹٦۹ ـ

( ۵ ) ص ٤۸ گرامر راورتی چاپ کلکته سال ۱۸۵۵

( ٦ ) ص ٤۲۸ فرهنگ ادبیات وزبان پشتو تالیف زلمی هیواد مل چاپ وزارت تعلیم وتربیه سال ۱۳۵٦ ، ( پشتومجله ) چاپ پېښور سال ( ۱۹۷۳ ) ا یس فرهنگ را پشتو اردو نوشته است ،

# اوسنی ګړنی ادب

# او

# د پښتني فولکلوریکو لونی د بړی

پښتو د یوه توریالي او نه ماتېدونکي مېړني قوم په شتمنه او بډایه ژبه ده. چې دخپل او خارلیکنی ادب ترڅنګ دګړنی ادب ډېره لویه ذخیره لري چې د نورو خلکو د تحریري ادب دنګو ماڼیو سره د یوې پیاوړي مقابلي جوګه هم ده.

زموږ دغه وګړنی عظیمه معنوي ذخیره د ډېرو پیړیو په اوږدو کې ددغه زړور قوم ترګرانو او ښېښنو، شپنو، بنځمنو او ترګارو سینه په سینه انتقال کړې ده او دا انتقال په دغه اوږد دیوان او د تولنیزو، اقتصادي او سیاسي او بدلونو په بهیر کې په هر دوره کې ځینې خصایل پرېښي او ځینې نورې نوې خبرې او نوي کړه وړه یې له نوو غوښتنو سره سم په ځان کې هضم کړي دي.

زموږ ګړنی ادب له ډېرې پخوا زمانې څخه چې زېږنې یې د شکل او مضمون له پلوه له آریایي لرغونو ادبیاتو سره په اړیکه کې دي په دغه اولس کې خور وور راغلی. او د یو لړ برخه یې هغه هم د تولنیزې بهیر د نه راپه دېخوا تولنه شوې او په بېلو لړو قدیمو ادبي آثارو کې د سند رو داسې نمونې پیدا کولای شو چې د شکل او مضمون له پلوه زموږ دګړنی ادب له ځینو اضافو سره سمون ولري.

اوس هم د پښتني سیمو غرونه او رغونه درې او بانډې، کلي او محلي د دغو ادبیاتو ډېر ستر مخزنونه او مرکزونه دي. او د دغو ادبیاتو کومه برخه چې راټوله شوې هغه هم ډېره نا څېره او زیاتره غیر علمي او میتودیکه. په دې باب به وروسته خبرې وکړم. سملاسي به دا وښیم چې زموږ ګړنی ادب څه شی دي. زموږ ګړنی ادب د پښتون اولس هغه شفاهي ایجادات دي چې د ډېرو پیړیو په اوږدو کې یې د نظم او نثر په بڼه رامنځ ته کړي. او د دوي د اجتماعي سیاسي، اقتصادي او کلتوري ژوند یو روڼه هینداره ده. او د دغو ایجاداتو له مطالعې پرته د دوي د ژوند په مختلفو اړخونو ژوره او سیستماتیکه خبر نه شو ترلاسه کړو. ... نیمګړي او بې خونده وي.

زموږ دګړنی ادب په منثوره برخه کې: داستانونه (نکلونه) ورې قصې (دغه قصې مختلف مضامین لري او د مضمون له پلوه په ډېرو انواعو وېشل کېدای شي) کیسې (ځینې

ACKU

ښېښتانه يې اړونه او دوړ ن هم بولي ) متلونه ، تکيه کلامونه ، دوبېي (يعني ښېښتانه يې کاپي بولي ) او نور ... او منظوم هغه بيا په لوي سرکي په دوو عمده څانګو بېلېږي چې يوې تخاص سندري ويلې شي او دا په دې معنی چې ويونکي يې معلوم دي . خو دا چې فولکلوري خصوصيات لري . موږ يې په ګړنی ادب کې خاص سندرې بولو . د دې سندرو موجدين يا ويونکي بېسواده اولسي شاعران دي چې : سندرې بولي مګر ليک لوست يې نه دي زده او سندرې يې لکه نورې شفاهي سندري او ادبيات په خلکو کې خواره دي او د پېړيو په اوږدو کې د خلکو له خوا سينه په سينه لېږدېدلي او حاملين يې د اولس ذوقيا ن خلک دي . يعنې ښاغلی دغه سندرې شفاهي يا فولکلوري يا هم اولسي سندرې نه بولي او محض په دې دليل چې ويونکي يې معلوم خلک دي نو يې له دې قطاره باسي . خو له دغو ښاغلو نه دا هيره ده چې د فولکلور ماهرين د شفاهي سندرو په خصوص کې په دې عقيده دي چې ـ د سندرو منشا مجهه نه ده بلکه دغه سندرې چې په پراخ ډول په خلکو کې تيتې شوې دي . هغه ګردې فولکلوري ارزښت لري . زموږ د اولسي شاعرانو سندرې هم په ګرده ښېښتونخوا کې خورې ورې دي . د مثال په ډول د ملا محمد عيسی کندهاري (۱۲۹۰ هـ ق مړ ) سندرې په شرقي سيمو کې د سازيانو زده دي . او د ساز سرود په محافلو کې يې بولي ما چې د اولسي سندرو د ټولولو هغه د رلوده نو دغه تجربه راته وشوه چې زموږ د کليوالو يا اولسي شاعرانو سندرې چې معمولاً يې سندرغاړي د ساز او سرود په محافلو کې بولي سيمه ييز بريدونه نه مني . بلکه په ډېر سرعت له يوې سيمې نه بلې سيمې ته ځي . د اروا ښاد بهايي جان ( ۱۲۵۱ هـ ش) اولسي شعرونه په ګرده ښېښتونو کې تيت دي . دغه رنګه د ډېرو پېښور يو اولسي شاعرانو سندرې د هيواد په مشرقي سيمو کې سازيان بولي يا هم د سيد کمال او توکل بدلې کندهار، کوټه او پېښور کې د ساز سرود د محافلو ته لاره لري . او د کندهار يو اولسي شاعرانو هغو خو يه کوټه کې په کافي اندازه خورې دي . له دغه خصوصيته سربېره زموږ خاص اولسي سندرې نور ډېر داسې خصايل او ځانګړنې لري چې ـ تفصيل يې دلته نه ځائيږي او ما د اولسي سندري په مقدمه کې په دې باب مفصل بحث کړي دي ـ موږ دې يې فولکلوري وبولو . زموږ خاص ګړنی يا اولسي سندرې د شکل له پلوه دغه ژانرونه لري ـ چاربيتې ( چې ګڼ فورمونه يې معلوم دي) بدلې ( داسندري هم ډېرې فورمې نوعې لري) بګټئ ، لوبې ، د مروتو کسرونه ، نکلونو ناري . آزاد اولسي شعرونه ، بګتلم او داستانونه چې په پېښوري يعنې ښېښتانه يې بدله هم بولي . دغه فورمونه ډېر لرغوني دي . چې ريښې يې آريايي دورو ته رسيږي ، او د شکلي خصوصياتو له مخې له زړو اريايي سندرو سره پېرته کېداې شي ، او د عربي او پارسي شاعرۍ له راغليو فورمو نو



ACKU

خخه گرده بېلې او جلا سندرې دي .
دغه سندرې د شکلي تنوع ترڅنګه دمضمون په لحاظ هم غني دي . هر ډول مضامين پکښې بيان شوي دي، او زموږ دمعاشره په يوه ښه انځوروولاي شي .
دخاصو اولسي سندرو ترڅنګه زموږ ګړني ادب عامي اولسي سندرې هم لري . دغه سندرې دا دي: (۱) ـ لنډۍ (۲) ـ ټپه (سروکی ـ پامونه) (۳) ـ داتڼ ناري (۴) ـ د ښځو بدلې (۵) ـ دمينډوسندرې (۶) ـ دهو تکوناري . (ددې سيندرو دعاموالي په باب څه شک شته (۷) ـ سنځر خيلي ناري (پر دغوسندرې هم دهوتکو دناروبه دود څه کشوك وارد دي) (۸) ـ سولې (۹) ـ برغازي (۱۰) ـ دکاکړ و ناري (۱۱) ـ چغيان (۱۲) ـ سلسلي (۱۳) ـ منظوم متلونه او نور ..... په شفاهي ادبياتو کې پردغولو او يادوشوو منظومو او منثورو ژانرونو سربيره موږ دماشومانو دادبياتو په برخه کې ذخيره هم لرو دماشومانو ادبيات هم له سندرو (منظومې برخې) سربيره شفاهي منشوره برخه هم لري . په دغو ادبياتو کې عيني برخې نامفهومې عيني برخې انځې اوله اخلاقي موازينوسره سمې نه دي .
په هرصورت زموږ د شفاهي ادب مهم جزاوزموږ دکلتور په تحلولوکې يې ګټې نه دي . او س چې . مود خپلو شفاهي ادبياتو ګن فورمونه وښوول رابه شو اصلي موضوع ته چې ددغه شفاهي ادب وضع اوس څه ډول ده !
زموږ اوسني بوب شفاهي ادب که نثردي که نظم . که عامي سندرې دي او يا خاصې اوس هم هماغه قوت او متانت لري چې پخوانو سندرو او پاسل کاله دمخينو سندرو درلود . له بوب شفاهي ادب څخه مې مقصد هغه ادبيات دي چې موجد يې کليوال (ښځې او نرکار ي) او يا بېسواده اولسي شاعران دي . له دوي سره فورمونه موجود دي . او اوس هم په دغو فورمونو کې دکليوالي ژوند خصايل او ځانګړنې ترسيموي، اود سندرو خوند رنګ يې نه دي او ښتي بلکه په هماغه خونداو کيف سندرې بولي لکه چې پخوانيو بللې، البته داوسني منشور او منظوم شفاهي ادب په محتوې کې دنوي عصرله ايجاباتو سره سم او کليوالي سيموته دتمدن داثراتو درسيدو له امله څه تغييرات پېښ شوي دي . مګر شکلي جوله يې يې خونده نه ده .
ددغه بوب شفاهي ادب ترڅنګ چې خپلې کليوالي ځانګړنې يې دنن ورځې له شرايطو سره سم ساتلي دي . موږ عيني داسې ادبي آثارهم ګورو چې په شکلي لحاظ زموږ د شفاهي ادب په خاصو او عامو ژانرونو کې مطالعه کيږي . خو يونکي يې دېښتوږي اديبان، نوبيالي ليکوال او شاعران دي . دوي چې په دغو قالبونو کې کومې سندرې جوړې دي بيرې يې خونده او هيڅ ډول اولسي ښکلانه لري صرف ديوې تجارتي متاع ارزښت ورته ورکولاي شو دمثال په

اوس تاسو دغه لاندې طبیعي لنډۍ وګورئ :

مسافري دې روزي شــــــــه — زه دې په سپینه خوله بېده پرېښې یمه
یاس په بنګله کې پر یاد خېژي — یارنځوران دې یامین له ملکه ځینـــه
پر لوړه وخېژه شار وکـــــړه — چې د پردېسو کډې چېرې اړېـــــــه
جانان چې مخ ته دې ښه شي — نره یې زما په زلفو بند دې را به شینـــه
سبا بیا دکډې وار دې — په سر به پلنډې چلم یږه غونــــــه

اوس څو مصنوعي د یوه شخص له خوا جوړې شوې لنډۍ هم مطالعه کړئ :

جینۍ ده دومره ماښجنـــــه — قصور یې خپل وي خو یې زه یخلاکومه
تبلې له تښتنګ وړکړه مطربـــه — جانان به رقص کې چورلوي د واړه لاسونه
سترګې زما په واک کې نه دي — د مجبورۍ نه یې اشناته اړومـــه
ولې زما نه جـــداکېــــږي — مرګ مې قبول دې جدایي نه قبلومــه

په دې برخه کې به قضاوت ګرانو لوستونکو ته پرېږدو، چې د کومو لنډیو خوند زیات دی .
لوړې کښته ګوري لنډۍ د اولس مال دی، او یوڅو کې یې نه دي معلوم په همافو ښه محدودو نمونو کې یې طبیعوالی او داولي ژوند انځور له ورایه ښکاري . اما د وهمه کښته ګورې لنډۍ چې صاحبزاده محمد ادریس جوړې کړې څومره بېخونده، پیکه او د لنډیو دا د ۱۱ و محتوی له عینې سیره څومره لېرې دي .

د پېښور پښتو اکېډېمۍ په ۱۹۷۷ ع کال د نومړي صاحبزاده جوړ کړي ۷۳۰ لنډۍ په یوه مجموعه کې چاپ کړي دي . چې د مجموعې ټول مخونه ۹۳ او صحافت یې ډېر ښکلی او کاغذ یې سپین ښه کاغذ دی . د دې مجموعې په لومړیو ۱۲ مخونو کې د پروفیسور پریشان خټک پروفیسور محمد نواز طایر او بیا د صاحبزاده صحب سریزې خوندي شوي دي . په دې سریزو کې لومړۍ او دریمه سریزه تائیدي جنبه لري . او دغه کار یکی ستاېل شوی . چې د پښتو ژبې یو لیکوال راولاړ شوی او لنډۍ یې جوړې کړې دي . د صاحبزاده خپله ادعا د یوه لوی پره ده او په دې باب کاږي : (( لوستونکو او اورېدونکو ته به ... ښکاره شي چې ما د ټپې په تنګه لمن کې د هر قسم خیالاتو اظهار کړی دی . د هر قسم خیالاتونه زما مطلب هغه خیالات دي چې شاعري یکې شوي ده مثلاً رومان فلسفه، اخلاق، مذهب، عمرانیـــات، سیاسیات اقتصادیات وغیره . دې کې ځینې خیالات د ټپې د پاره زیات موزون دي ځینـــــې داسې دي، چې ټپه د هغه بارنه شي زغملای)) .

د محترم صاحبزاده ادریس له خبرو سره ښایي د پرخېبر ونکي همعقیده نه وي، او دا ځکــــه چې د ټپې لمن د مضمون په لحاظ لنډه تنګه نه ده، بلکه دومره پراخه او جامع ده چې د پښتني



ACKU

معاشري ګرده خصوصیات په همدې ټپو کې ځلیږي ۰ که دصاحبزاده صاحب مقصد له لنډو تنګ څخه نورې مضیقه وي ۰ داخبره صحیح ده چې دلنډۍ شکلي شکست یو بهیت یادوي نه او دیارلس سیلابي مسرۍ دي ۰ خو دلنډۍ اعجاز او څرګند مزیت په دې کې دی چې په همدغه لنډو څو کاټ کې د پرمفاهیم ځایولای شي ، لکه دالنډۍ :

ځان بې زړو جامو کې جوړ کـــه | لکه په وران کسلي کې باغ دګلووینه

په لنډۍ کې څومره د پرمکرعالي مفاهیم ځای شوي دي ۰ او که پرتفصیل یې بحث وشي په همدې یوه لنډۍ یوه رساله لیکل کېدای شي ۰ حال داچې دصاحبزاده یوه لنډۍ هم دومره عالي مفاهیم نه لري ۰

زه نه پوهیږم چې صاحبزاده او یا نور دغسې لیکوال چې شعرونه هم ویلای شي ۰ او بیا راولاړېږي زموږ ګړنی ادب هم مسخ کوي ۰ دوي څه ارکړي دي ! لنډۍ یوداسې فورم دي چې زموږ کلیوالو ویلې او یوه شخص ته یې ، پرته له څینو استثنایي مواردو ـ نسبت نه کیږي ۰ پروفیسور محمد نواز خان طایر په دې باب دهمدې کتاب په سریزه کې څه ښه ویلي دي : (( ټپه تردې دادب هغه صنف وچې کوم شاعریا ادیب یې څخه دعوه نشو کولای ۰ دپښتونخوا په زمکه دا لکه دپیغلو زړو ګلونو په هرلوري په خپل انفرادي حیثیت کې موجوده وه غالباً چې داړ وبې مجموعه ده چې یو پښتون سخنورچې هم شاعردې هم اهل علم دخپلو خیالاتو داظهار دپاره په دې لاره یوه وکړو ۰۰۰)) ۰

دغه دول دکاکړ یو لنډ یو باناروپه مورد کې هم یوه زیره پښتنې اوسنی ګړنی ادب ته دمخه ده ، او هغه داچې زموږ دکوټې څینې پښتانه ادیبان وړونه راولاړېږي اوله خپلو شاعرانه مهارتونو سره سره پردغه ملي پانګه کې هم ګوتې وهي او کاکړۍ جوړوي ۰ اوبه د پومباهات یې په خپل نامه دکلیوالو کاکړ یو ترڅنګه خپروي ۰ ایا دا جایز کار دی !ن بنایي د پرلږ خلک ووایي چې هو ! زه یې ناجایز بولم ځکه زموږ هغه کاکړۍ چې دکاکړستا په اوږده لمن کې دکاکړ ونرګاړ واو یاهم کاکړ و ترلوله خواو یلي شوې د یوې پخې او خوله ووړې دي ، او کومې کاکړۍ چې دکوټې په بنګلو کې ناستو پښتنو درنوادیبانوجوړې دي د یوې خامې او ګرد سره اولس او ملي جوله نه لري ۰ یا په بله ژبه زموږ دصحرایي او کلیوالي خوږ وکاکړ یو رنګ یې وریدکړی دی ۰

دمثال په دول دغه ، کلیوالي کاکړۍ ولولئ :

خوله به کله راکــــوې | دقیامت رالې نښانــــې
خوله پخلته درکــــوم | چې دقیامت په دو روڅلم
زه ور وکه لوښـــــدم | ځوانانو به ګړ دلیونــې کم



ACKU

دغه رنګه د یوه ادیب پښتانه له خوا جوړې شوې کاکړۍ ولولئ :

صادق خان سپا ستمدارو تکړه وروړ دهر یو څوا رو
پرڅوانی و اوسراغلی په زړګی و ه یرنځلی
دی په فکر دافغان و ښایسته ننګیالی ځوا ن و
او بیداره باوجدانه دپښتون دزړګی توانه

په دوار و ځونوکی طبیعي والی او مصنوعیتوب په ښکاره تکو کی جوت دی . کلیوالی کاکړ ی
له خپلو محلی او کلیوالی خصوصیاتو سره سمی جوړې دي ، او په مصنوعی کاکړیو کی داسی
کلمات راغلی چی د یوه باتعلیمه سړي دفکراو ذهن اوږی اثرات پرې له ورایه ښکاري .
سربیره پردې په اولسی خاصو سندرو کی هم ځینی بی مره ګیلیدلی کیږي . که څه هم
رموز ځینو ادیبو شاعرانو پسردغو اولسی اوزانو کی شعرونه ویلی اوپه ځینو دیوانونو کی پسو ه
سیمه په اولسی وزن او آهنګ ویلی شوې سندره پیداکیږي . مګر دغه سندرې که څه هم دژبی
اوادب دعمومی روحیې له پلوه دپښتو دکلیوالو شاعرانو له سندرو سره دمحیط او طبیعت
په انځور کی داندول ور نه دي . مګر بیانیی هم قوت او شعري مهارت دیره لوړ دي ، چی
په بدو اولسی سندروکی یی نشو درولای .
خو خبره اوس دلته ده چی ایا په دغو ړو فورمونو کی چی اوس شاعران سندرې بولی
څه ډول دي ! هغه ډله شاعران چی اوس په اولسی اوزانو کی شعرونه بولی په دوو ډولو
بی ویشلای شو :
(۱)ـ بی سواد اولسی شاعران . (۲) ـ باسواد شاعران چی په اولسی اوزانو کی شعرونه
بولی. د بیسوادو شاعرانو شعرونو هغه زړې عنعنی تریوه حده ساتلی . مګر دباسوادو هغو
په شعرونو کی دغه ځانګړ نه نه لیدله کیږي .
دلته تاسی د یوه اولسی شاعر د یوې سندرې څو بنده ولولئ :
سپینه ده جلۍ سپین یی لاسونوکی بندونه دي
سپین یی کتوري اوسپین په سرباندې شالونه دي

سپینه ده جلۍ سپین یی هیکل لکه چراغ دي
سپین یی څمکلی دي زړه کی ایښی راته داغ دي
سپینه یی سینه ده سپین یی مخ دګلو باغ دي
سپینی سپین سپاکی په ماکري ګوزارونه دي

توره ده څلې توره يې باڼه تورې کجل دي
تورې تږې وروځې يې څه عجب اوربل دي
تورې لونګين دي د رنګينو سره مل دي
تورې يې دي زلفې توريه تورو کې تالونه دي

دغه توره سندره چې مايي کمر او دوه بنده دلته وړاندې کړل د يوه کليوال اولسي شاعر جاريينه ده. او مونږ يې د پښتو په ګړنۍ ادب خاصو سندرو کې له نورو سندرو څخه بللای شو. ځکه د کليوالي ژوند خصايص ښيګڼې او مزايا پکې رانغښتل شوي دي. او س يې په مقابل کې د يوه معاصر اولسي شاعر په دغو فورمونو کې ويل شوې سندره ولولئ:

زه مرمه ستا د غصه          نا ترسه دل ازاره ته لاس نا خلې د ستمه
په مرګ زما رضا يې
ستا په غم کې سر يم          زخمي لکه مجنون غوندې قسم دې په ځګريم
خوف وکه د ازاره
فکرونو کې انسر يم          که راشې پرسان له د پرعشق کې مضطريم
ما سير که د ديدار
ليوال شام و سحر يم          خيرات د وصال راکه چې سايل دې پروت په دريم
صنم د رب د پاره
ځې ځغې مسې د غصه          يو ګړى مې ستړګې خالي نه شولې د نصه
مشغول په جفا يې

تاسې پخپله قضاوت وکړئ، چې د هنري ښکلا له نظره هم د ارزګه د طبيعي والي له پلوه په دواړو شعرونو کې څومره فرق موجود دي! لومړي څومره طبيعي او د دوهم څومره مصنوعي کړ کيچن او د کتابي ادب اغيزې څومره زياتې پر ليدل کيږي.
که د پښتو د اوسني ګړنۍ ادب جاج په عمومي ډول واخيستل شي د اسې نتيجه ترې ترلاسه کيږي: رموز د ګړنۍ ادب هغه سندرې ـ که عامې دي يا خاص، چې اوس يې کليوال يا ندو کې ـ ويلې کيږي خپل کليوالي عمومي خصايص ساتي که څه هم پوخه نوي عناصر پرې ګډ شوي دي لکه دا سندره:

په موټرکې درغلمه          په وړو شګو مې مه وله ورځمه
په موټرکې درغلمه

اما چوله يې کوږ نه ده او ښتې اوپرخپله لاريون کوي. مګر هغه عام او خاص فورمونه چې

د پېښور ـ کوټې او یا د افغانستان د ځینو سیمو ښاري پښتانه شاعران ایجادوي · سربېره پردې چې د ګړنی ادب ترنامه لاندې نه څېړل کېږي. له دې سربېره عمومي خصوصیات یې هم له دې چوکاټه وځي او دغه نوم ګرد سره نشو پرې د ولای ·

او س چې مو د خپل اوسني ګړنی ادب پروضع څو اوښکې تویې کړې اوبه دې معنی چې ځینې ښاغلي تا ظمان زموږ دغه ملي تورمونه د خپل ځان ښوونې او یا د تجارت په نیامت را مسخ کوي ·نو دا دي په دې برخه کې د پښتني فولکلور ټولونې په عمومي ډول مفصل بحث کوم · له بده مرغه زموږ په هېواد کې د فولکلورټولونې کار په اساسي توګه وروسته پیل شوي او ځینو خواخوږ و پښتنو د خپل شخصي ذوق له مخې د دې پنځوسو کلونو په موده کې لر او برخه کارونه کړي دي · او س خوبه ګران افغانستان کې زموږ د پر ځوانان په دې چارو بوخت دي په کوټه کې خود محترم پروفیسور سیال کاکړ د پښتني فولکلورټولونې چارې ترهرچا زیاتې دي · او د ځینو نورو ښاغلو هڅې هم په دې پښتني مرکز کې د هېرولونه دي · اما په پېښور کې دغه جریان لږ څه سست دي پوازې د پروفیسور محمد نواز خان طایر هڅو ته موږ د قدر په سترګه ګورو · او د رحمن ګل په مکتبه کې چې د ګړنی ادب په چوکاټ کې کوم کتابونه چاپېږي محض د تجارت لپاره دي، او کوم ارزښت نه لري ·

د پښتنو فولکلورپستانو ټولي سعیې مشکورې او پرخپل ځای عنی دي · او که د دوي کارونه نه واي او س به زموږ د اولس ادب او کلتور د پېرې برخې نه واي خوندي شوې · د دې شکران ترڅنګه باید دا خبره هم هېره نه شي چې د فولکلورټولونې دغه چارې د دغه مسلك د ضبط لمه اصولو سره نه دي برابرې، او هرچا په خپله خوښه څه راټول کړي، اوبې له کوم علمي دقته یې په مجموعو کې خوندي کړي دي ·

زموږ دغه فولکلورټولوونکي ترډېره حده ګرم هم نه دي · او دا ځکه چې د فولکلور بریدونه دوي ته په واقعي شکل له پخوانه نه دي څرګند شوي · د ( رهنماي فولکلور) په نامه چې کومه رساله د سرور ګویا په قلم د انجمن ادبي له خوا نشر شوې او بیا د فرهنګ مردم مجلې د ۱۳۶۰ ش ـ کال د حمل و ثور په ګڼه کې را اخیستل او دوهم ځل یې چاپ کړي · په فولکلورڅېړ نه کې د نویو انکشافاتو په منځ ته راتګ سره یې د پېرې برخې درد وړ دي · اوبه ردکې یې د برخه لیکل کېدا ش · د دې رسالې په لومړي مخ کې دغه عبارت لیکل شوي دي ـ (فرهنګ عامه تمام تظرعـات زندګانی عادي ومعنوي تمام اقوام یك ملت را دربر دارد ) کوم موضوعات چې په دې رساله کې د فولکلور په نامه صنف بندي شوي · اوبیا پرې بحث شوي د پره برخه یې په فولکلورکي د مطالعې ځای نه لري · دغه رنګه له پخوانه زموږ فولکلورټولوونکو ته د فولکلورټولوونې اساسي لارې چارې نه دي ورښوول شوې اوبه دې برخه کې تراوسه کومه مفصله او ځانګړې رهنما نشته



ACKU

چې زموږ عنوان فولکلور ټولوونکي تر ډېره خپل کار په وخت کې د لارښود په توګه کارواخلي .
په ۱۳۵۱ ش کال کې چې د فولکلور او ادب ټولنه جوړه شوه او په ۱۳۵۲ ش کال کې یې د (فولکلور) په نامه مجله راوایسته د دغې مجلې ، بیا فرهنګ خلق او فرهنګ مردم د مجلو په پاڼو کې د فولکلور ټولونې په باب ځینې مطالب خپاره شوي دي . اما بدل یې زموږ د فولکلور ټولونې په عمومي جریان ډېر ناخیز دی .
دغسې چې د فولکلور ټولونې په مورد کې زموږ له ځوانو فولکلورټولوونکو سره کوم میتود او دتګ کومه خاصه طریقه نشته . دغه ډول د فولکلور د مفهوم په باب هم زیاتره دغه ډول کسان کومه خاصه اید پانه لري . په کلیوالي ژوند کې چې څه موضي هغه ګردې د فولکلور په نامه خوندي کوي که څه هم د فولکلور اصطلاح په خپله وسعت لري . او په بېلابېلو هیوادو کې بېلا بېل تعبیرات ترې کیږي او د ګردو هیوادو نو فرهنګیان دغې اصطلاح ته په یوه مشخص مفهوم نه دي قایل او هرڅوک یې په خپل زغم بېلابېل تعبیرونه ترې کوي . د مثال په ډول څوک یې تش لفظي هنر او یا شفاهي ادبي تخلیقاتو پورې منحصروي . او څوک بیا د شفاهي ادبیاتو ترڅنګه نخاوې ، رسمونه او رواجونه ، خرافات او نورهم په دې قالب کې ځیږي ځینې نور بیا د کلیوالي ژوند مشخصات ټول په دې مفهوم کې رانغښي مطالعه کوي . مثلاً سفانته زموږ فولکلور ټولوونکي د دغې اصطلاح په تعبیر کې کوم خاص پرنسیپ تابع نه ښکاري . او خپلسري زموږ د فولکلور ټولونې یوه عمومي خاصه ده .
دلته د هیرو لونه ده چې فولکلور له اتنوګرافي سره ډېره نږدې اړیکې لري او موږ نشو کولای چې د فولکلورټولولو په پروسه کې ټولې هغه پدیدې ، چې په اتنوګرافي کې مطالعه کیږي ــ له نظره وغورځوو ځکه زموږ فولکلور له اتنوګرافي سره ډېر نږدې ارتباط لري دغو ټولوپیلصونو ته په پاملرنه باید ووایو چې زموږ د فولکلورټولونې عمومي جریان له ځینو ربړ وسره مخامخ دي ، چې لاندې به لږ څه په تفصیل سره یاد شي :
۱ ــ زیاتره هغه مجموعې د فولکلور په نامه زموږ ګرانو فولکلورخپرونکو را ټولې کړې او زموږ د فرهنګ د خوندي کولو ځینو مو سسو چاپ کړې دي . ټول مواد یې د فولکلور په عمومي قالب کې هم د مطالعې ځای نه لري . نو په همدې توسن زه اړیم چې د دې مقالې په وروستیو برخو کې دعلمي احتیاط په نیامت د فولکلور د کلمې له ذکره سره سم د کلتور ذکرهم وکړم .
۲ ــ زیاتره هغه مجموعې او حتی مقالې چې کلتوري او فولکلوري مواد خوندي کوي . ګرده یوه شخص په داسې توګه تهیه کړې دي . چې مواد یې پاله خپلې کورنۍ او یاهم کم خپلوان له ویناوو ضبط کړي دي . او را وې یې معمولاً یو سړی یاښځه ده ، حال داچې :

الف ــ دفولکلور محققین عقیده لري چې کلتوري او فولکلوري پدیدې دې دیوه سړي لــــه خوانه بلکه د لااقل دوو ډلو ياڼ ذرېعو کسیز هیئت له خوا ضبط او راټولې شي ۰ البته رموز فولکلوریستان په دې برخه بې یوه ستونزه لري ۰ او هغه داچې زموږ دقوم په مختلفو قبیلو کې کلتـــوري شرایط دګروپي فولکلورټولوني لپاره څه خنډونه لري ، او په له نشي کولای چې فولکلور او یا کلتوري مواد راټول کړي ، اودې ته اړه لیدل کیږي چې دغه مواد باید دیوه تن له خــوا راټول شي ۰

ب ۰ دکلتوري او فولکلوري پدیدو دضبط شرایط دادي چې : روایت ، سندره او نـــور باید دیوه راوي له خولې ونه کښل شي ۰ او فولکلور ټولوونکي یادکلتور ضبطوونکي باید خپل راټول کړي مواد ددوو یادریو اوحتی که امکان ولري دریاتو رواياتو په وسیله نقد او کـره کړي ۰ بیا دې نشرته وسپاري حال داچې زموږ په کلتوري اوفولکلوري مجموعو اویامقالــــو کې دغه چلند نه لیدل کیږي ۰ اودازموږ داوسني فولکلور او کلتور ټولوني یوه عمومــــــی او اساسي ربړه ده ۰

۳ــ په اکثرویا ځینو مقالو او مجموعو کې راټولوونکي دامانت خیال نه ساتي ۰ څه چې اروي ۰ یا یې ویني اویایې ثبتوي ، نودخپل ثبت شوو روایتو او موادوسره خپل شخصي نظریات او تبصري ملې کوي ۰ اودکلتوري موادو اصالت ته زیان رسوي حال داچې په ضبط کــــــې دامانت ساتل دفولکلور ټولونې یو مهم عنصر دی او هرفولکلورټولوونکی اودکلتور موادو خونديکوونکی یې باید له پامه ونه غورځوي ۰

۴ــ فولکلور او کلتورزیاتره دکوم خاص مسلك ، خاص روزنې او حتی ذوق لمخې نه دي ټول شوي دګوتو په شمارکسان به موږ په خپلو فولکلورخیړ ونکو کې داسې پیداکړ وچې د شخـــصي ذوق اویامسلك په اساس دې داکارکړ ي وي ۰ بلکه زیاتره فولکلور ټولوونکي له فولکلوراوکلتـــور ټولونې څخه دمادي ګــټې دترلاسه کولو دپوې وسیلې په توګه کاراخلي ۰ چې دغه عمل دګټې پرځاي ملي زیان رابېښوي ۰ زموږ فولکلور ټولوونکي که مسلکي نه وي ۰ دومره تکلیف خو دې پرځان قبول کړي چې دموادو دضبط له اساساتو سره خوبلد شي ۰ داکثروفولکلوري اوکلتوري مقالو او مجموعولمطالعې ښکاري ، چې زموږ دغه ګران لیکوالان حتی دفولکلوراو فرهنــــګ مردم دمجلو مطالعه هم نه لري ۰ دوي که پرخارجي ژبو نه پوهیږي او نه شي کولای چــــې دفولکلورټولونې میتودولوجي تري زده کړي ۰ یوه نیمه مقاله چې په دې موردکې دغـــــــې مجلې خپره کړي هغه هم نه لولي ۰

۵ــ زموږ ځینو لیکوالو ته چې دحق الزحمې دترلاسه کولو اویاکومې علمي درجې ته دترفیــع لپاره بله موضوع پیدانه شي ، اویایې نشواي لیکلاي ، نوسملاسي ددوي په زعم دغه اسان

کارته لاس واچوي . قلم راواخلي یا د خپلو کلیوالي مشاهداتو له مخې او یا هم د خپلې کورنۍ د یوه غړي له خولې دغه فولکلوري مواد راټول کړي . مقاله ، رساله او یا مجموعه ترې جوړه کړي . د حق الرحمن او یا علمي مدارجو ترلاسه کولو لپاره یې کاندید کاندي . خپله یې تبصري وکړي . په اصطلاح له غدود نه غویې جوړ کړي . له ځانه داسې خبري پري وکړي چې د کوم مفکورې تابع نه دي . او په کوم درد نه لګي حتی هماغه فولکوري یا کلتوري پدیده چې یې راټوله کړې تعریفولای نه شي . د مثال په توګه د لنډیو ، سروکو د ښارو د بدلو ارونو داتڼ د نارو او نورو په باب خبرې کیږي . مګر لوستونکي د دغو ښاغلو له لیکنو څخه په دې نه شي پوهیدای چې پخپله داتڼ ناره څه شي ده ! یا لنډۍ او سروکی څې ته وایي ! په دې کې شک نشته چې زموږ ځینو پوهانو کابو خلوېښت پنځه خلوېښت کاله د مخه د اولسي ادب ځینې فورمونه تعریف کړي دي ( هغه تعریف کسړي دي ) هغه تعریفونه پخپل ځای ارزښت لري . مګر موږ یې او س یو جامع او مانع تعریف نشو بللای . زموږ ځوانو فولکلور پوهانو له بویه چې د بې ځایه تبصرو پرځای لومړي د یوې فولکلوري او کلتوري پدیدې هر اړخیزه پیژندنه راوړي . او بیا خپل مواد وړاندې کړي .

٦ـ د ضبطونو ناسمي : زموږ د ګړنی ادب او د کلتور ځینې مهم اړخونه د پرنسم ضبط شوي دي د مثال په ډول که د پښتو د خاصو سندرو او یا عامو سندرو راټولې شوې ټولګې مطالعه کړو . نو دا به راته زیاته شي چې زموږ د پیرې سندرې او د ګړنی ادب منثور فورمونه ناسم او په ډیرو ځایونو کې ناقص ضبط شوي دي . موږ لره ښایي چې خپل ټول کړي مواد په سم او مکمل ډول وړاندې کړو . او که ناقص مو ترلاسه کړل . باید زیار وباسو چې تکمیل او بشپړ شي وروسته یې نشرته هڅه وکړو .

۷ـ د فورمو نوګډون : زموږ د معاصري فولکلورپوهنې یوه عمومي ربړه داده . چې زموږ ګران فولکلورپوهانو کې اضافي شي سره بېلولای . دغه د صنفونو ګډول اینده خیږونوته د پیرې ستونزې پیښوي . د مثال په توګه زموږ زیاتره فولکلورپوهانو کې د متل ، ګړنی او مقولې ( بولنی ) ترمنځ توپیرنه شي کولای متلونه د ګړنو پرځای ګړنی د متلونو او بولنی هم په دغسې ګډوډو اشکالو سره خوندي کوي . دغه ډول ګډوډي نه یوازې زموږ د ځوانو او یا افغاني فولکلور پوهانو په آثارو کې لیدل کیږي . بلکه د مستشرقینو په کتابو او دغه ډول مجموعو کې هم شته . تر څو چې کوم متلونه د ( بنو یا زموږ افغاني سرحد ) نومي کتاب په دریم فصل کې راوړي د پیر ځایه یې دغسې تیروتنې کړي . او همدا رنګه د پښتو اصطلاحاتو دوه توکیز فرهنګ چې

کلېرتیمن ترتیب کړي . هم دغس ګڼه ولړي تنښتې ډېرې لري .
له دې سره ډېره داتېږ په ټاټو د ښارونو په بدلو او نورو ډېرو فولکلوري عامو سندرو کې د فورمونو دغه ډول اختلاط سره لیدل کېږي . د پښتني فولکلورپوهنې مهمه او اساسي زېرماوس همداده او موږ ډېر ځله په ډېرو فولکلوري مجموعو کې د سندرو له دغه ډول ګډ ولړو ضبط سره مخامخ کېږو .
۸ـ د سیمه ییزو خصوصیاتو نه ساتل : رموږ ډېرفولکلورپوهونکي رياریاسي چې فولکلوري پدیدې په اصطلاح په معیاري ژبه ( ! ) خبرې کړي . داسمه ده چې زموږ دغه ښاغلي لیکوال دې خپل تشریحات د دوي په رغم په معیاري ژبه وکاږي . اما د سندرې ، متل ، ګړنې او نکل شکل دې په لفظي لحاظ نه بدلوي ځکه فولکلوري مواریث له یوې سیمې نه بلې سیمې ته د ځینو خاصو اجتماعي ، کلتوري او حتی جغرافي شرایطو تابع ښکاري او له هره محیطه ځیني داسې شیان په خپل ځان کې هضموي چې په بل محیط کې نه وي دغه ډول تاثیرات د دغو فولکلوري پدیدو په جوله کې لفظي بدلونونه او ځیني نورې خبرې رابېداکوي ، چې رموږ فولکلورخېړونکو ته ښايي چې د ضبط او په خاص ډول د چاپ نه برابرولو په وخت کې دغه ځانګړنې له پامه ونه غورځوي داکار څوګټې لري :
الف ـ کله چې موږ د خپلو فولکلوري سندرو او یامتلونو او ګړنو کلکسیون چاپوو . نو هغوري بیا ترې د نورو ورپاتونویه صفت کاراخیستلای شو .
ب ـ د سندرې یا متل سیمه ییز خصوصیت ساتل پخپله یو ارزښت دي او دغه ارزښت باید موږ له پامه ونه غورځوو . هره سندره ، متل ، ګړنه او نکل د هماغې سیمې په لهجه کې ضبط کړو .
د دغه بحث په پای کې باید د نتیجې په ډول ووایو چې زموږ اوسني فولکلورپوهونه له ځینو زېرو سره مخامخ ده . چې هغه هم د موادو د نشتوالي ، او د یوه ټاکلي میتود د نه موجودیت له امله پېښې دي . او کوم کارونه چې تراوسه د فولکلور او کلتور پوهنې په برخه کې شوي له ځینو ګډ ولړو یو ډول ښکاري ، او چې اوس ډېرې خبرې اوبحثونه ونه شي ښايي په راتلونکي کې ډېرې ستونزې څېړونکو ته وړدمخه کړي . البته د دې ترڅنګه داهم باید ووایو چې د دغو ښاغلو هڅې ډېرې ارزښتمنې دي . څو که چېرې له کره کتنو او میتودیکو څېړنو سره یو ځای خبرې شي ګسته به یې زیاته وي او د ستونزو مخنیوي به وکړي .
له دې علاوه زموږ په اوسنیو فولکلورپوهونه کې د ماشومانو فولکلوري ادبیاتو زېره هم د هېرولو نه ده . زموږ په اولس کې ماشومان ځانته خاص منظوم او منثور ادبیات لري چې ځیني له لوبو سره بولي ، او ځیني بیا په خپلو پولسېدنځایونو کې وایي . دغه ډول ادبیات زموږ

ACKU

د فولکلور یوه خاصه برخه ده چې د پښتنو ماشومانو له ذهني او فکري سویې سره سم زموږ د خلکو او کلتوري شرایطو تر اغېز لاندې رازېږي بدلې او په اولس کې د ماشومانو تر منځ خپاره دي. دغه ډول ادبیات ځینې خاصې ځانګړنې لري چې زموږ په نورو شفاهي ادب کې نه لیدل کېږي. پښتني فولکلور پوهانو ته ښایي چې د ماشومانو د ادبیاتو ټولې ځانګړنې او هغه فني مختصات چې د فولکلور په اساساتو کې د دغو ادبیاتو لپاره ټاکل کېږي. همدغه ته په پاملرنه دغه ډول ادبیات ضبط کاندي اوس چې موږ د ماشومانو د فولکلوري ادبیاتو زیاتره مجموعې او مقالې ګورو. وینو چې: داسې سندرې یې د ماشومانو د سندرو په نامه خوندي شوي، چې حتی د ډېرو نوو اولسي شاعرانو د فکر او قریحې زېږنده وې موږ باید د لویانو او ماشومانو فولکلوري سندرې، اصطلاحات، کیسې، کیسې او نور سره بېل او په جلا ډول وړاندې کړو. په دې برخه کې یوه بله ربړه هم زموږ فولکلور ته رادمخه ده. او هغه دا چې زموږ زیاتره فولکلور څېړونکي د مېندو سندرې د ماشومانو د سندرو تر کټګورۍ لاندې خوندي کوي. حال دا چې دغه ډول سندرې د ماشومانو نه بلکه د مېندو سندرې دي. چې په ډېرو ابتدائي الفاظو کې جوړې شوې او مېندې یې د خپلو ماشومانو د ویده ولو، لوبولو او نازولو لپاره بولي. د ماشومانو سندرې او ادبیات هغه دي چې پخپله ماشومان یې بولي موږ باید د ماشومانو د فولکلور د ضبط په وخت کې دې ټکي ته توجه وکړو. او د مېندو سندرې د ماشومانو له سندرو سره ګډې نه کړو.

<u>د پښتني فولکلور په باب څېړنې</u>: که موږ ووایو چې د پښتني فولکلور په باب څېړنې نه دي شوي. نو دا به هم زیاته خبره وي. ځکه د پښتني فولکلور د څېړنو په باب ځینې کتابونه رسالې او مقالې رامنځته شوي دي، چې په دې سلو کالونو کې د مستشرقینو او افغاني پوهانو له خوا کښل شوې دي. خو که په عمومي ډول د دغو څېړنو جاج واخلو نو ډېرې ناچیزې دي. ځکه د ډېرې عظیمې فولکلوري شتمنۍ او په مقابل کې یې د ډېرې لږ څېړنې.

د پښتني فولکلور په باب څېړنې موږ په عمومي ډول په دوو کټګوریو بېلوو:

۱ــ د مستشرقینو څېړنې. ۲ــ د افغاني پوهانو څېړنې.

د مستشرقینو څېړنې په عمومي ډول له ځینو خطاوو سره ملې دي. البته که له تېروتنو یې ورتېر شو بیاهم دغه څېړنې زموږ د فولکلور څېړنې په عمومي سیر کې بې بدله نه دي. د دې څېړنو لوی عیب دا دی چې د مسایلو په تفسیر کې هرچا له یوې خاصې مفکورې کار اخیستی دی. چې د همو مفکورو په چوکاټ کې د پښتني معاشرې څېړل په حتمي ځای ستونزې پېښوي. او دا په دې معنی چې پښتانه د یوې جلا کلتوري ساحې اوسېدونکي خلک دي. کلتور او فولکلور یې د ځینو خاصو اجتماعي، سیاسي او ملي خصوصیاتو تابع دي، چې د یوې خاصې مفکورې په کالب کې یې څېړل وړاندې پېښوي.

هغه تعبیرونه چې مستشرقینو زموږ د ځینو فولکلوري او کلتوري پدیدو په مورد کې کړي

ACKU

زیاتره یې صحیح او په واقعي شکل تطبیق شوې نه دي، او صرف د هغو بناغلو د ذهن مولود یې ګڼلای شو.

زموږ ځینې محترم فولکلورخیړونکي او کلتورپوهان د دغو مستشرقینو نظریات د یوه مثل شوي اصل په توګه په خپلو خیړنو کې راخلي او په دې نیامت چې فلانی مستشرق دغه خبره کړې او یا یې دغه نظر څرګند کړی نو هرومرو به صحیح وي. موږ چې د مستشرقینو څېړنو په دې باب ګورو هغو ته باید انتقادي نظر وکړو او له یوې کره کتنې وروسته یې په خپلو څېړنو کې را واخلو. په دې مورد کې مستشرقینو ته پړه هم نه ده. داځکه چې نه د دې کلتور تابع دي. او نه زموږ د ژبې او ادب له ټولو مزا یاوو خبر دي او نه هغه ټول جزئیات چې زموږ په کلتورا و فولکلور کې نغښتي دي، د وی د رګ ګولای شي.

د مثال په ډول موږ چې د ژبې اهل یو د خپل کلتور په غېږ کې لوی شوي یو. آیا موږ په خپلې سندرې ښې تحلیل کړای شو او یا یو مستشرق؟

په هرصورت د یوه یادونه وه. زموږ فولکلور څېړونکي باید د مستشرقینو د څېړنو په باب انتقادي نظر ولري او د البته د دې معنی نه لري چې موږ د مستشرقینو کارونه کوچني ګڼو. دا خبره سمه نه ده د هغوی کار ته احترام کوو، اما د استفادې په وخت کې ترې د علمي احتیاط طرفداران باید واوسو.

د افغاني او پښتنو پوهانو څېړنې هم په دې برخه کې د یوه واحد نظر تابع نه ښکاري. او زموږ فولکلوري او کلتوري څېړنې د فکرونو قرباني شوې دي. دا کار په خود لیلونو سم نه دی. هر څوک چې هر فکر لري لري دې خپله مقوره دې خوندي وساتي مګر په پښتني کلتورا و فولکلور د ې ملنډې نه وهل کېږي.

یوه محترم محقق کښلي وو چې: (( فولکلور باید د یوې تیورۍ په رڼا کې را ټول او وڅېړل شي )) ـ د لته د اپوښتنه را ولاړ یږې چې د کومې تیورۍ؟

په هرصورت موږ چې پښتانه یو خپل خاص ملي میزات، ځانګړې کلتوري ارزښتونه او نورې ځانګړنې لرو چې هغه د ځینو خاصو تیورېو په قالبکې بنا یې ځاینه شي. که چېرې موږ یې په زوره ځایوو نو د انو د هرچا خپله خو ښه ده. زما په عقیده زموږ د فولکلورا و کلتور د عمومي خصوصیاتو د څرګندو لپاره باید:

۱ ـ ټولې فولکلوري پدیدې دې که نظم د ي او که نثر د شکل له پلوه یې باید ترکتنې لاندې ونیسو. بیا یې بیلا بیلې څانګې ښې سره وګورو، کره او تنقیدی کړو. اضافي یې ونیسو او ټولې شکلي ځانګړنې یې له خپلو ټولو میزاتو سره بیان کړو.

ACKU

د شکلي څرګند ونو وروسته وارموضوعي څرګند ونو ته رسيږي ، موږ بايد د موضوع په لحاظ خپلي سندرې په داسې بڼه وڅيړو چې له واقعيتونو ، ښتي خصايلو ، د افغانانو له ملي ميراثونو سره سمون وخوري .

زموږ تحليلونه بايد د سندرو په باب د افغاني جامعې د ټولو اجتماعي ، سياسي ، ملي او کلتوري شرايطو تابع وي . ځکه زموږ جامعه په اجتماعي ، اقتصادي او کلتوري لحاظ خپلې خاص ـ ترکيبونه او جوړښتونه لري چې د هر فکري سير تابع کيداى نه شي .

موږ بايد په دې څيړنو کې په هوايي او سرسري ډول ځينې خاص فکري تمايلات په زوره ورننه باسو . زموږ د فلکلور او کلتور هراړخيزې څيړنې په برخه کې د اخبره څرګندونکې زياتيږي چې زموږ کلتور او د فلکلور ټول اضافه د يوې خاصې معاشرې زيږنده او د يوه داسې قوم معنوي شتمني ده ، چې د دغه قوم ټول اجتماعي ، اقتصادي ، ملي او تاريخي جوړښتونه او ارزښتونه په يوه خاص ملي چوکاټ کې ځلوي .

يادښتونه : ماد دې څيړنې په بيلابيلو برخو کې بايد ځينو آثارو ته اشاره وکړم او ځکه دغه خبرې چې مالوړې کړي د ځينو آثارو : کتابو ، مقالو او رسالو مطالعې را زيږولې دي ، خو په مشخص ډول مې د اشخاصو د نومو نولېاد ونو څخه د ځينو معاذيرو له پلوه صرف نظر وکړ ، او دادي هغه آثار او سيادونه چې ماد دې مقالې په ليکلو کې کتلي دي :


١ـ د پښتو د اولسي ادبياتو ، د څيړنه ويډ وست اثر (١٣٥٦ ش کال) چاپ کابل ، پښتو ټولنه .

٢ـ د خلکو سندرې د محترم حبيب الله رفيع تاليف د ١٣٤٩ ش کال چاپ کابل ، تاريخ ټولنه .

٣ـ پښتني فولکلور پروفيسور سيال کاکړ تاليف د ١٩٧١ ع کال د کوټې چاپ .

٤ـ پښتني سندرې د ١٣٣٥ ش کال چاپ ـ کابل ، پښتو ټولنه .

٥ـ کاکړۍ د پروفيسور سيال کاکړ تاليف د ١٩٧٣ ع کال د کوټې چاپ .

٦ـ غم غلط د نور محمد د نوښار د پېښور د اسلامي کتب خانې چاپ .

٧ـ لنډۍ ، د استاد بېنوا چاپ ١٣٣٧ هـ ش کال چاپ ـ کابل .

٨ـ غرني سندرې د ١٣٦٠ ش کال چاپ ـ کابل پښتو ټولنه .

٩ـ اولسي پوهه د ښاغلي علي محمد منګل تاليف د ١٣٥٦ ش کال چاپ د ادب او فولکلور ټولنه ـ کابل .

١٠ـ فولکلوري مرغلرې د ١٣٥٦ ش کال چاپ د عبدالکريم پېښتنګ تاليف کابل ، پښتو ټولنه .

١١ـ ټپه او ژوند ، د پروفيسور محمد نواز خان تاليف د ١٩٨٠ ع کال چاپ پېښور ، پښتو اکيډيمي .

١٢ـ فولکلوري ګېډۍ ، څېړنل علي محمد منګل تاليف د ١٣٥٥ ش کال چاپ ، کابل ـ پښتو ټولنه .

۱۳ـ فولکلوري ښندرې د پروفیسور ولي محمد خان سیالکاکړ د ۱۳۵۷ ش کال چاپ ـ کابل پښتو ټولنه .

۱٤ـ د غرونو څوکې د عبدالکریم پتنګ تألیف د ۱۳۵۹ ش کال چاپ ـ کابل د ادبیاتو پوهنځی .

۱۵ـ فولکلوري ګلونه د خیر نمل علی محمد منګل تألیف د ۱۳٦۰ ش کال چاپ ـ کابل ـ پښتو ټولنه .

۱٦ـ ټپه او د شعور رود د صاحبزاده محمد ادریس تألیف د ۱۹۷۷ ع کال چاپ ـ پښتو اکیډیمی . پېښور .

۱۷ـ ګړنی ادب لومړی ټوک د عبدالکریم پتنګ تألیف د ۱۳۵۷ ش کال چاپ .

۱۸ـ د زیري کالنۍ د ۱۳۵۷ کال چاپ ـ کابل ـ پښتو ټولنه .

۱۹ـ سروکی د عبدالکریم پتنګ ټولونه د ۱۳۵۸ ش کال چاپ .

۲۰ـ پښتني سندرې لومړی ټوک د ۱۳۳۳ ش کال چاپ . کابل پښتو ټولنه .

۲۱ـ بنویا زموږ افغانی سرحد د ترین تألیف د ۱۸۷۸ ع کال د لندن چاپ .

۲۲ـ پښتو اولسي نه د ګلبرټسن تألیف د ۱۹۳۰ ع کال د لندن چاپ (دوهم ټوکه)

۲۳ـ د پښتونخوا د شعر هار و بهار د دارمستتر تألیف د ۱۳۵٦ ش کال د کابل چاپ ـ پښتو ټولنه .

۲٤ـ د څلویښتو کالو په دوره کې شوروي افغان پېژندنه د ۱۹٦۰ ع کال چاپ . مسکو .

۲۵ـ فرهنګ مردم (مجله) د دریم کال دریمه ګڼه ۱۳٦۰ ش کال (رهنمای فولکلور) .

۲٦ـ مقالات اجتماعی وفلسفی د پوهاند علی محمد زهما تألیف د ۱۳۳۹ ش کال چاپ . کابل د ادبیاتو پوهنځی .

۲۷ـ فرهنګ مردم (مجله) د څلورم کال اتمه ۱۳٦۰ ش کال د پوهیا فاریابی مقاله .

۲۸ـ اجتماعی علوم (مجله) د دوهم کال څلورمه ګڼه (مسایل فولکلورشناسی) .

۲۹ـ زیري (جریده) د ۱۳٦۰ ش ـ کال ۱۱ـ ۱۲ ګڼه .

۳۰ـ کابل (مجله) د ۱۳٦۰ ش کال ٦ ـ ۷ ګڼه .

څیړندوی محمد اکبر معتمد

# د پښتو هنري نثر ته یوه کتنه

څرنګه چې هنري نثر د ادب یو جزدی نو بده به نوي که خبره د ادب له نورو نیسو
ادب ممتازه وینا ده . ادب شیان نه ښيي بلکه خیالات تصویروي او همدا
وجه ده چې وايي د عکاس له د ادیب وظیفه لوړه او باریکه ده . عکاس ظاهر او اد
یب تخیل تصویروي یعنې ادیب خپل ماحول په داسې شکل نه څرګندوي لکه
څنګه چې هغه دي بلکه په داسې ډول يې ترسیموي چې دده په فکر باید هغسې
شي او هم د ادیب وظیفه د یو استاد د وظیفې نه مشکله او لویه ده ځکه استاد تیار را
ټول شوي منظم او محدود شاګردان تربیه کوي او پوهوي يې اما ادیب د دغو قیودو څخه
پورته قدم ایښی دي . هو! ادب د افکارو ، خیالاتو او عقایدو د اظهار وسیله ده
هر ادبي اثر باید د لفظ او معنی له حیثه وکتل شي هرکله چې خبره همداسې ده
نو که موږ کوم ادبي اثر ته قیمت او ارزښت ورکوو او یه نورو يې غوره بولو دا په
هغه صورت کې کیداي شي چې اثر هم د اظهار او هم د فکر هنر ولري . یعنې هم يې
لفظ د هنر او فصاحت نه ډک وي او هم معنوي هنر ولري او لوړ فکر پکې ځغلید لی
وي . که کوم اثر او مضمون د معنی او مفکورې له حیثه عالي وي خو الفاظ يې نارسید
لي سست او رکیک وي د ستاینې او افرین وړ نه دي او بالعکس که د کوم اثر او مضمون
الفاظ خوږ ، مصطلح او په محاوره برابروي خو فکر پکې مترقي او عالي نه وي نو داسې
اثر ته هم قیمت نه شو ورکولاي او نه د ستاینې وړ دي .

هنري ادبیات د اجتماعي شعور د څو رو اشکالو څخه دي ځانګړي خصوصیتونه لري
دا خصوصیتونه په قواعدو او منطقي دلایلو بنا نه دي ځکه دا د علم خاصه ده
بلکه د منظرو او د حیات د ژوندیو څو جود د تصویر نه عبارت دي په علم کې اساسي رول
عقل او هوش لوبوي مګر په ادب کې زیات رول فنتازي او تخیل ته ورکړي شوي دي
هنري نثر چې د ادب جزدي هغه وینا ده چې وزن او قافیه نه لري . ډراماتول
رومان ، پوپیست ، وړې قصې ، ادبي پارچې ، ادبي لیکونه ، ټوکې ټکالې ، ایجادي

ACKU

او تخليقي آثار او جيرك او داسې نور په هنري نثر كې داخل دي، په سفرنامو او ژورنالستيكي آثارو كې هم كله كله هنري نثر ليدل كيږي چې كله هم احياناً مناظر ترسيميږي ٠

د پښتو هنري او ادبي نثر په مختلفو مرحلو كــــې :

په پخوا نيو او منځنيو پېړيو كې پښتو شعر زيات پرمختګ كړي و او پوره توجه همدغه شي ته وه، شعر نسبت نثر ته ډېر او قوي و او په هيڅ وجه نثر د شعر سره مقايسه كيداى نه شو، دا مېر كروړ ويا ړنه، د شيخ متي مناجات او د بيټ نيكه دعا او داسې نور لرغوني آثار چې موږ ته را رسيدلي دي دا ټول په شعر سره دي ٠

په منځنيو پېړيو كې پښتو شعر خپل اوج ته ورسيد مګر نثر په ابتدا يي حالت كې و، كوم پخوا ني نثرونه چې زموږ په اختيار كې دي او موږ ته را رسيدلي دي هغه هم د شعر د تاثير نه خلاص نه دي او په مقـــفى او مسجع ډول ليكل شوي دي ـ دا ډول نثر چې ابتدا يي او غير طبيعي نثرونه ويل كيږي ځينو حتى په نيم شعر يا آزاد شعر سره هم ياد كړي دي ٠ دا ډول مقـفى نثر پخوا نيو ليكوالو ليكه مګر كوم شخص چې ګوته ور ته نيول كيږي هغه پير روښان دي، ده خپل كتاب (خير البيان) په ـ همدې نثر ليكلى دي، ده خپل نظريات په خپل همدغه كتاب خيرالبيان كې څرګند كړي دي، دا كتاب خپل مخصوص مذهبي او تبليغا تي رنګ لري، دا نوع مقفى او مسجع نثر چې ده منځ ته را وستلى و د ده نه وروسته په پښتو ادبيا توكې پوره ټينګ او مروج شو او حتى خوشحال خان ته هم ځينو ليكوالو د ا نثر تعقيبا وه ٠

په هغه دوره كې چې روښا ني نهضت يكې روان و به پوره اندازه سره د تحريري ادبيا تو او مقـفى نثر كار وسعت او پرا ختيا پيدا كړه او د ا دبيا تو اجتماعي اهميت زيات شو، د د ښمنو ډ لو په منځ كې ادبيا تو د وسلې حيثيت پيدا كړ او هرې متخاصمې ډ لې د بلې ډ لې په مقابل كې له ادبيا تو څخه كار اخيســـت او د وسلې په توګـــه يې استعما لول، د غو حقا يقو او اوضا عو د پښتو د ادب (نثر او شعر) د انكشاف سره مرسته وكړه او د غو ادبيا تو د خپل انكشاف په لومړ ۍ مرحله كې مهم رول ولو باوه ٠

دواړو د ښمنو ډ لو (د روښان او د رويزه) پښتنو ته خطاب كا وه او هرې ډلې كوښښ كا وه چې په پښتنو كې خپل طرفداران زيات كړي، په دې صورت كې دوي مجبور وو چې پښتـــــــنو سره په پښتو وغږيږي، پښتو ورته وليكي او په پښتو خطا بې او ـ لكچرونه وركا ندي، همدغه كار و چې د پښتو په خير تمام شو، د پښتو اهميت يې زيات

کړ او په پښتو کې نثر تبارز وکړ او تحریري ادبیات مخ په زیاتیدو شول، که د یوې خوا د مشر له خوا په پښتو نثر (خیرالبیان) لیکل کیږي د بلې خوا د لوی د مشر له خوا (مخزن الاسلام) په همدې نثر لیکل کیږي او د نثر بازار تودیږي . د پوهانو او مستشرقینو نظر په دا ده چې بایزید روښان په نثر او ادب کې له درویزه نه وړاندې دی . د روښان ادبي مکتب په عمومي ډول د درویزه د مکتب نه مخکې دی او د پښتو په پوهالي او د پښتو ادب په ډېر کراسن کولو کې یې زیات او د پاېدونې ور خدمت کړی دی .

د پیر روښان نه وروسته بیا نثر لیکونکی اخوند درویزه ننګرهاری دی چې د سید علي ترمذي (پیر بابا) مرید و، اخوند درویزه په علم او خصوصاً په فقه کې د سید علي ترمذي نه وړاندې و مګر د سید علي ترمذي سیاسي او دربارې مقام شهرت او وجاهت ورته زیات و او که اخوند صاحب د پیر بابا د سیوري لاندې نه وای تللی نو نن به موږ نه ویلای چې په هغه وخت کې علم د سیاست ملعبه وه .

د اخوند درویزه نثر هم مقفی او مسجع وا و د تکلف نه ډک و، دا کار نه یوازې ده کاوه بلکه د ده د مکتب ټولو غړو هم دا سبک تعقیباوه، په دغه وخت کې د پښتو آثار منځ ته راغلل او له نیکه مرغه چې زیاتره یې اوس موجود دي او زیاتره یې په پښتو نثر دي . دلته باید دا خبره هم وکړو چې اخوند درویزه هر رنګه سړی چې و د پښتو نثر د پرا ختیا په لار کې یې ډېر خدمت کړی او د ده مشهور کتاب مخزن الاسلام په پښتو دی، دا د ده نثر او هم د پیر روښان نثر زیاتره مذهبي بڼه لري .

د روښان او درویزه د کورنیو نه وروسته د خوشحال خان کورنۍ پښتو نثر ته وده او انکشاف ورکړ او یوه اندازه روان، خوږ او سلیس یې کړ او نسبتاً ساده نثر یې پیل کړ، پخپله خوشحال خان چې د شعر د نړۍ زمری دی نثر لیکونکی هم دی او د خپل وخت د نثر بانی او موسس بلل کیږي . د ده ټوله کورنۍ او د ده د ادبي مکتب ټول غړي په نثر کې هم لاس لري او بیا افضل خان د ده لمسی خو په پښتو نثر کې ستر مقام ګټلی او د زیات شهرت خښتن دی . د ده په تالیفاتو کې خورا مشهور کتاب تاریخ مرصع دی او له نیکه مرغه اوس دا کتاب چاپ شوی او د استفادې ډګر ته راوتلی دی . دا تاریخي نثر دی او هنري نثر هم یکې پیدا کیږي .

دغه درېواړه کورنۍ یعنې د روښان درویزه او خوشحال خان کورنۍ د پښتو په انکشاف کې پوره برخه لري او په دې لار کې یې ډېر خدمت کړی دی، دغه نهضت چې

ACKU

د پښتو د نثر او شعر په باره کې د شپاړسمې عيسوي پېړۍ نه رابه دې پلو شروع شوي و د ميرويس نيکه او احمد شاه بابا ترعصره پورې ښه موفق وځلېد، د اتلسمې پېړۍ په اخر کې د احمد شاه بابا د دربار شاعر او ليکوال پير محمد کاکړ پښتو ګرامر وليکه، دا اصلاً درسي کتاب دی او (معرفة الافغاني) نومېږي. ويلی شو چې دا تعليمي نثر دی.

د اتلسمې پېړۍ په اخر او د شلمې پېړۍ اوايلو کې يعنې يوه پېړۍ پوره د افغانستان په کلتوري، ديني او اقتصادي ژوند کې سکته او ضعف پيدا شو، د هېوا د د وروسته پاتې کېدلو مهم علت هغه حوادث وو چې زموږ د هېواد په ختيځو او جنوب ختيځو سرحدونو کې پيدا شوي وو، انګليسي استعمار هندوستان لاندې کړ او افغاني خاورې ته را نژدې شو او کوښښ يې کاوه چې د اپښتنی خاوره هم ونيسي. د (انګلو افغان) د لومړي او دوهم جنګ په نتيجه کې که څه هم پښتنو پوره ميړانه او مقاومت وکړ افغانستان د انګليسي استعمار تر تاثير لاندې راغی.

په ۱۸۹۳ کال کې د امير عبدالرحمن سره يو اجباري تړون امضاء شو چې د هغه په اساس افغاني خاوره دوه ټوټې شوه، يوه يې د برتانيې په امپراتورۍ کې ورګډه شوه، په همدې ترتيب سره افغانستان د خپلې اصلي خاورې نه محروم شو هغې خاورې نه چې هلته د ملت زړه جوړه شوې او پيدا شوې ده، دغې غير طبيعي تجزيې د افغاني کلتور په انکشاف او زړه باندې بده اغېزه وکړه او د افغاني کلچر لپاره لويه صدمه ګڼل کېږي او د پښتو د ادبياتو او د پښتو د هنري نثر د انکشاف لارې يې سره بېلې کړې او د هغه قوت ته يې وغورځول که چېرې په يوه لار روان شوي واي.

د استعمار د تورې دورې د شروع سره په هېواد کې اجتماعي ژوند او کلتوري چارې په ټپه ودرېدې، پښتو سره قصد پيدا شو، استعمار او د هغه نوکرانو ورته بدکتل مګر له بلې خوا په همدغه وخت کې په قصه خانه کې پښتو کتابونه، ملي قصې او نور ادبي مواد په هنري نثر او نظم چاپېدل، ليکوالو خپل لومړني هنري آثار په پښتو ليکل او لا د نولسمې پېړۍ په دوهمې نيمايي کې داسې هنري او بديعي آثار منځ ته راغلل چې د خلکو ادبي تنده ور باندې ماتېده، په دې باره کې مشهور شوروي ختيځ پوهاند او د پښتو ژبې استاد د مرتيروس ګريګوريويچ اسلانوف داسې ليکي: (( د نولسمې پېړۍ په دوهمې نيمايي کې په پېښور کې پښتو هنري ادبيات بېرته را ژوندي شول او د شلمې پېړۍ په اوايلو کې په افغانستان کې د مورنۍ ژبې پښتو سره علاقه قوي شوه دا علاقه د پښتو د ملي ويښتيا او بيدارۍ سره مستقيمه رابطه لري. د پښتو د دې ملي

ويښتيا او حركت پوښا هد دا دي چې دوي هغه تللى خپلواكۍ بيرته لاسته را وسته او د ننه په هيواد كې،،لكه پولي اصلا حات وكړل"په سراج الاخبار كې چې د پومشهور افغان پوهاند محمود طرزي تركتنې لاندې نشريده دپښتوپه پرموا د نشريدل ٠ په ١٩١٦ كال په كابل كې د پښتو لومړي درسي كتاب د مولوي صالح محمد له خواچاپ شو ٠ په ١٩١٩ كال چې پښتنو خپلواكۍ لاسته را وسته نو دې كار د هيواد د انكشاف له پاره عموماً او د كلتوري چا رو د پرمختگ له پاره خصوصاً ښه مناسب شرطونـــه برا برکړل او هم د ملي ژبې پښتو سره يې علا قه قوي كړه » ٠

نو موړي استا د د پښتو د نثــر او ادب په باره كې چې په افغا نستان كې يې د خپلوا كۍ نه وروسته تحول مو ندلى دي دا سې ليكي : « د خپلوا كۍ نه وروستـه پښتو ادب پو ښكاره او محسوس موفقيت ته رسيدلى دي دا نحا رو د انكشاف سره د هنري نثـري نوعې انكشاف او پرمختگ هم روان دي.قصې يكې پيدا شوي"نكلونه او افسانې يكې ليكل كيږي او په دې وروستيو كلونو كې د لومړي ځل له پاره دپښتو ليكوا لو رومانونه دنثر په مخ را ووتل"په را مه ليكل يكې منخ ته را غلل او په پوره اندازه سره ښتا نه ليكوال پيـــدا شول »٠

په همدې باره كې پو بل شوروي ختيځ پيژندونكي او پښتو ادب پوه ښا غلـــى گ ، ف.گيرس هم دا خبره تا ييد وي چې په افغا نستان كې د پښتو هنري او بديعـي نثر پوا زې د شلمې پيړ ۍ په اوايلوكې منځ ته را غې او داس ليكـــي :« پـــه افغا نستان كې د پښتو لو مړني هنري آثار د شلمې پيړ ۍ په اوا يلو كې منځ ته راغلــل د دې آثارو د را تگ علت هما غه دا خلي ارتيا و ه چې افغا نى تو لنې دغه هنري نثر ته لـــــــرله » ٠

دپښتو د او سني هنري نثرمو سسين ؛

تر دې ځا يه پوري په پښتو نثر پو لند نظر وا چول شو دلته بايد دا خبره سپينـه شي چې د اوسنى هنري نثرمو سسين څوك دي او چا ته د ا افتخار راجع دي ٠دې ـ موضوع د شوروي پو ها نو توجه ځان ته جلب كړ ې ده"پوه په له چې په سر كې يې نيكولاي دوريا نكوف واقع دي په دې عقيده ده چې د پښتو د اوسنى هنري نثرمو سسين د افغاـ نستان ليكوال دي لكه مو لوي صالح محمد"غلام محى الدين افغان"مو لوي عبد الرؤف ـ قا ندهاري"زمر يالي"خا دم لو نور دي اوبله پوه له چې د هغو په سر كې گ ف.گيرس واقع د ي په دې عقيده ده چې د پښتو د اوسنى هنري نثرمو سسين پيښو ري ليكوال دي لكه مولوي احمد"مير احمد شاه رضوا ني"منشى احمدجا ن" سيد را حت زاخيلى او نور ٠

کیدای شي چې په دې باره کې زموږ لیکوال قضاوت وکړي چې کومه ډله په حق ده خو زما نظر دا دي چې که څه هم استعمار د لرو او برو پښتنو په منځ کې سیاسي بېلتون راوستی دی او دغه دوه ورونه یې سره بېل کړي دي خو په کلتوري او فرهنګي لحاظ د دوي په منځ کې کوم تو پیر نه شته کوم هنري آثار چې هلته چاپیږي دلته رارسیږي

او استفاده ور نه کیږي او دلته چې هنري آثار او ادبي مواد چاپیږي هغه هلته د استفادې وړ دي او یو تر بله سره په تماس کې دي نو کوم ذوات چې د غو دواړو ډلو د پښتو د هنري نثر د موسسینو په حیث ور اندې کړي او معرفي کړي دي هغه ټول د هنري نثر موسسین دي او په څه فرق ور ته قایل نه یو او نه کومه تفرقه یې په کلتوري لحاظ او قومي نسبت پیدا کیدای شي په دې باره کې د پښتو د خوا ږه هنري نثر ښښتن ګل پاچا الفت څرنګه ښه ویلي دي او دا موضوع یې څومره باریکه اداکړي ده :

په کندهار کې که میرویس او احمد شاه بابا دي
په پېښور کې خوشحال خان عبدالرحمن بابا دي

پو شان ښکاریږي پښتنو ته که هغه که دا دي
چې اباسیند اباسیند بولي د دوي پواباد ی

څه وخت چې پښتو اهمیت پیدا کړ نو د دې ژبې تعلیمي او هنري نثر ته ډیر ضرورت ولیدل شو هیا غه وچې د دا سې نثر د خپرولو او راپیدا کولو له پاره د زیري جریده د یو مهم مبلغ په حیث منځ ته راغله او په دې ساحه کې یې په فعالیت بیـــــل وکړ .

دا اخبار د ۱۹۳۷ کال د جون په میاشت کې تاسیس شو او د لته په دې اخبار کې د پښتو د زده کړې له پاره د درسي او تعلیمي موا دو څخه علاوه د پښتو د کلاسیکو شاعرانو لکه خوشحال خان، رحمن بابا، عبدالحمید او نورو د اشعارو نمونې چاپیدلې او چاپیږي او همدا راز پښتو لنډۍ، پښتو متلونه، پښتو محاورې او د اوسنیو شاعرانو او لیکوالو آثار و د دې جریدې په مخونو کې ځای ونیو، هنري او فني نثریه دې جریده کې په زیاته اندازه سره لیدل کیږي او د دې نثر له پاره دا جریده ډیر خدمت کوي . د هنري او بدیعي نثر څخه چې په دې جریدې کې چاپیږي هغه وړې وړې قصې او لنډ لنډ نکلونه دي چې د لوستونکو سره یې ځان ته په زیاته اندازه راجلبوي او د خلکو خوښیږي د زیري په لومړۍ دوره کې د هنري نثرونو له جملې نه دغه نکل (ښه درس) دلته اوس د مثال په ډول را وړل کیږي په دې نکل کې به دري لتهـــو

ACKU

او بې پروا مکتبیانو ملنډې وهل شوې دي. دغه لټ او تنبل شاګردان چې خپل درسونه یې تیار کړي نه وو د مکتب نه وتښتېدل او یوه ځنګله ته ولاړل. هلته په ځنګله کښې دوی د مزې بچې ولیدل او په دې آرزو کې شول چې په ده باندې ساعت تېرې وکړي او خپل بام ور باندې غلط کړي نو دوی دغه د مزې بچي ته پېشنهاد وکړ چې دوی سره لوبې وکړي مګر ده د دوی غوښتنه ونه منله ځکه ده ډېر کار درلود او مجبور و چې د ټول ژمي له پاره خوراک او توښه برابره کړي.

دې وضعیت د مکتبیانو تعجب زیات کړ او په حیرت کې شول. دوی خو قدمه وړاندې تېر شول او هلته یې (سوی) ولید. دوی سوي ته هم بلنه ورکړه چې دوی سره لوبې وکړي مګر هغه منفي ځواب ورکړ او د دوی غوښتنه یې ونه منله. دی مجبور و چې د کور انتظام برابر کړي او د غرمه ناري له پاره څه لاس ته راوړي. که په لوبو مشغول شي دا کار نه ورنه پاتې کېږي نو ما نع شو او په لوبو کې یې ګډون ونه کړ. دلته د مکتبیانو تعجب نور هم زیات شو او مخ په وړاندې لاړل او هلته چې ګوري یوه مرغۍ په نظر ورغله. دا مرغۍ همدا اوس چغېدله او خوږې نغمې یې ویلې. دې هلکانو فکر وکړ چې دا خو هېڅ کار نه لري موږ سره به په ساعت تېرۍ اخته شي مګر مرغۍ ځواب ورکړ چې ما هېڅ وخت بې فایدې کار نه دي کړي او په بې معنی شیو نو کې ګډون نه کوم ما لا تر اوسه خپلو بچیو ته هېڅ نه دي وروړي او هغه مې نه دي ماړه کړي زه چې دا آوازونه او نغمې وایم نو ځنګل کارګران او زیارکښان خوشحالوم او که نه دوم سره ورګما ره نه یم لکه چې تاسې تصور کوي.

څرنګه چې د ځنګله ژوي د شاګردانو سره موافقه ونه کړه چې دوی سره لوبې وکړي او بېکاره وخت ور سره تېر کړي او هر یوه خپل مصروفیت او سرګرداني دوی ته وښوده نو د دې کارونو د غولتو شاګردانو ته د زیار او ویسستلو یو ښه درس ورکړ.

په دې نکل کې د لیکوال یو هنر دادي چې ده د ځنګله ژوند د انساني ژوند غوندې تمثیل کړي دي بلکه هغه یې د انساني ژوند د پاره عبرت ګرځولی دی. څرنګه چې شاګردان یوه شول نو د هسرتدي الروح د خپل بقا د پاره هلې ځلې کوي نو ځکه هم ژوند ته مرا جعه وکړه او په ډېره مینه یې درس پیل کړ. د زیري په جریده کې چې د تعلیمي او هنري نشر له پاره منح ته راغلی ده ډېر و پښتنو لیکوالو ګډون کا وه له دې جملې نه یو امین الله زمریالی و. دی د زیري د جریدې له تکړه همکارانو څخه دي او ډېر تعلیمي او هنري آثار یې لیکلي دي. دی په ۱۸۹٦ کال کې زیږېدلی دی دمد حبیبیې په لیسه کې خپل تحصیلات سرته رسولي دي او بیا په عسکري خدمت کې شامل



ACKU

شو کله چې دعسکري خدمت څخه لاړ نو ځان یې بیخي علمي کارونو ته وقف کړ او په افغاني مطبوعاتو کې یې آثار په پښتو ژبه نشریدل. دده اثارو سلسله د کابل په کالنۍ کې زیات لیدل کیده. د ۷ ــ ۱۳۸۸ کلونو کابل کلنۍ کې د زمریالی یوه مقاله د نثر په باره کې چاپ شوې وه. په دې مقاله کې ویل شوي دي چې پښتو نثر په افغانستان کې خودوري تیري کړي دي چې په دري ډولونو ویشل کیدای شي. هنري تاریخي او مذهبي. ده د پښتو په فلکلور او شفاهي آثارو کې هم کار کړی دی او ډیر اشعار لري. د زمریالي تعلیمي او هنري نثر پوره موفق دی. ده طبیعت او طبیعي مناظر ښه ترسیم کړي دي. دده په یوه مضمون کې د غزني منظري او ستر عظمت ترسیم شوی دی او هم یې د غوربند د سیند طبیعي غاړي په رنګین ډول بیان کړي دي. په ۱۳۹ کال کې د زمریالی (پښتو درسي کتابونو) چاپ د پښتو د هنري نثر په انکشاف کې رول ولوباوه که څه هم زیاته برخه یې ترجمه وه.

د زمریالي خدمت د دې نه عبارت دی چې دی یوله هغو لومړنیو پښتو نثر لیکونکو څخه دی چې خپله زیاته توجه یې د قصو او مضمونو خواته اړولې ده. د ده مضامین د ژبې او ادا له نظره د تعلیمي نثر له درجې نه پورته په بدیعي او هنري نثر کې شامل دي.

همدا رنګه کابل مجلې د هنري او بدیعي نثر په انکشاف کې پوره برخه اخیستې ده. ــ دلته د هیواد ستر لیکوال خپل آثار چاپ وي چې زیاتره یې هنري جنبه لري. دې مجلې د خپل پېل نه تر اوسه پورې د هنري او بدیعي نثر د پرمختګ په لار کې زیات او د یادونې وړ خدمت کړي دي. ډیر شاګردان یې روزلي دي او ډیر لوستونکي یې په خپلو مخونو کې د ادبي پارچو، قصو، مضامینو او رنګارنګ آثارو سره اشنا کړي دي. د پښتو د هنري نثر په خصوص کې د دې مجلې خدمت د نورو مطبوعاتي ارګانونو سره د مقایسې وړ نه دي دا مجله نه یوازې په افغانستان کې شهرت لري او د استفادې لاندې ده بلکه د افغانانی حدودو نه د باندې هم شهرت لری او هلته هم د استفادې لاندې ده. زیاتره مستشرقین او خارجي پښتو پوهان له دې مجلې نه ګټه اخلي د دوی د آثارو ماخذ په افغانانو پېژندنه کې زیاتره همدا مجله ده. کله چې څوک د پښتو په هنري نثر باندې کارکوي د کابل مجله به ضرور ستایي ځکه دا په دې لار کې مخکښه ده. که زه دلته هغه تقریظونه را واخلم چې خارجي عالمانو او ادیبانو په کابل مجله باندې لیکلي دي خبره به ډیره اوږده شي او د موضوع نه به خارج شم.

افغانی لیکوال د پښتو د هنري نثر په لارکې زښت ډېر خدمت کړيدي او دلته یې د اوسنی هنري نثر اساس ایښی دي . همدارنګه په پښتونستان کې دغه نثرته زیات خدمت شوي دي او هلته دغه د پښتو نثر مخ په وړاندې روان دي . د پښتو د اوسنی هنر نثر موسسین هلته هم ډېر تېر شوي دي بده به نه وي که د هغوی په فعالیت رڼا واچول شي او د پښتو د هنري نثر په لارکې د هغوی خدمت یادکړو او لوستونکو ته یې ور وپېژنو . دلته زه خپل نظرونه ښکاره کوم زه دلته هغه مقاله را ترجمه کوم چې شوروي لیکوال ګ.ف.ګیرس د پښتو د اوسنی هنري نثر د موسسیلو په باره کې لیکلې ده . دا ګټوره او نسبتاً پوره معلوماتي مقاله ده . په دې ځای کې د دې مقالې را ترجمه کول یو په ځای او مناسب کاردي . ما دا مقاله په غور سره ترجمه کړې ده او هیله ده چې لوستونکي یې په غور ولولي . «پښتنو له ډېر پخوا نه دوه سیاسي او کلتوري مرکزونه لرل یو کندهار چې د افغانستان په خاوره کې پروت دي او بل پېښور چې د نولسمې پېړۍ د اخرنه د استعمارله خوا د هند په شمال غربي سیمو کې ورګډ شوي دي .

دغو دواړو مرکزونو د پښتنو په اجتماعي ، کلتوري او سیاسي ژوند کې لوي رول لوبولی دي مګر د اتلسمې پېړۍ نه را په دې خوا چې د پښتنی دولت پایه تخت کابل ته نقل مکان وکړ کندهار خپل مهم اهمیت په تدریج سره د لاس څخه ورکړ . په پېښور کې د پښتو کتابونه ، ملي قصې ، ګټور فولکلوري آثار او نور حیاتي ادبیات چاپېدل چې د پښتو په تاریخي ادبیاتو کې دغه ځای ډېر ستر رول لري .
د پېښور لیکوال له خپل لومړني بدیعي او هنري آثار په پښتو ژبه لیکل اولاد نونسمی پېړۍ په دوهمه نیمایي کې دا سي بدیعي آثار منځ ته راغلل چې د خلکو ادبي تنده ورباندې ماتېده . د تولو پښتنو د ملي یووالي د پرمختګ قوت پښتو ادبیاتو ته پوره وده ورکړه او په دغه قوت کې دا ادبیات منعکس شول او ښکلی پښتو هنري نثر منځ ته راغی . څینو پېښوري لیکوالو او نثر لیکونکو لکه مولوي احمد او منشي احمد جان هغو انګریزانو ته چې غوښتل یې پښتو زده کړي ـ تعلیمي مجموعې جوړولې او هم یې د انګریزانو نورما یښونه په دې لارکې مثل چې دا کارهم د پښتو د هنري نثر په انکشاف کې بې اغېزې نه وه .

په نولسمې پېړۍ کې یو د پښتو د اوسني هنري نثر د لومړیو موسسینو څخه مولوي احمد دي دي د اشنغر په تنګي کلي کې پیدا شوي دي . ده ډېر اشعار لیکلي ډېرې ترجمې یې کولې او د غزنوي محمود تاریخ یې په پښتو ولیکه . د مولوي احمد د تولو نه لوی اثر هغه (ګنج پښتو) دي . په دې اثر کې وړې وړې قصې دي ترجمې دي او د ده

ACKU

ځینې ښکلې آثار دي، یوه د دغو قصو نه چې په هنري نثر لیکل شوې ده او د هنري نثر نمونه وړاندې کوي هغه د استاد او شاګردانو په نامه قصه ده. د دې قصې مطلب او مضمون داسې دی : (( یوه ورځ شاګردانو وغوښتل چې په استاد چې دوی ورته په تکلیف وو او دوی سره یې ښه سلوک نه کاوه ــ ملنډې ووهي او څو ورځې د دې سختګیر استاذ نه ځان خلاص کړي نو داسې مصلحت یې په خپل منځ کې سره وکړ چې موږ ټول به په جدا جدا توګه استاذ ته وایو چې استاذه ! نن دې رنګ ولې ډېر خراب او ښه دې ژېړ دی لکه چې ناروغه یې کله چې استاذ راغی نو هر یوه ورته په خپل وار وویل : نن دې ولې رنګ ژېړ دی .

څرنګه چې استاد د خپلو شاګردانو نا آرامی او اخلاص ولید نو وار یې خطا شو او دا خبره یې زړه ته ولویده چې رښتیا ناروغه یم خو په ځان به نه پوهېږم . هماغه وچې کور ته ولاړ او په بستره کې وغځېده، شاګردانو ته دې پېښې ښه موقع په لاس ورکړه چې چټې چټې به کوڅو او بازارونو کې وګرځي )) .

څرنګه چې د مولوي احمد د مجموعې (ګنج پښتو) موضوعات ساده او اسان دي د پښتو د بدیعي او هنري نثر په انکشاف او پرمختګ کې یې لوی رول لوبولی دی د مولوي احمد موفقیت په نثر لیکلو کې د دې نه پیدا شوی دی چې ده ژوند یو موضوعاتو ته مراجعه کړې ده او خپل کلام یې په حیاتي مسایلو ښایسته کړی دی . د ده د نورو مجموعې ټول آثار او مضامین سره د دې چې اسانتیا او ساده ګی لري ډېرې ژبنۍ اصطلاح ګانې هم لري او د محاورې په لهجه لیکل شوي دي .

د مولوي احمد آثار د (هیوز) په تبلیغاتي فعالیت پورې په زیاته اندازه ارتباط لري، هیوز مذهبي مبلغ او پروپاګند چي وا او د یوې انګلیسي تبلیغاتي موسسې چې د پېښور په ښار کې واقع ده مشر و، ده د پښتو ژبې او ادبیاتو زده کول دي د ډېرو آثارو څښتن دی او په پښتو کې ډېر تالیفات لري . هیوز په مولوي احمد ته سپارښتنه کوله چې په پښتو کې بدیعي نثري آثار ولیکي . هیوز په خپله مجموعې (پښتو کلي) کې د مولوي احمد ډېر آثار چاپ کړي دي . هیوز د نورو مجموعې په سرېزه کې هغو انګرېزي افسرانو ته چې غوښتل یې پښتو زده کړي لیکلي دي چې د مولوي احمد آثار که څه هم ساده دي مګر د پښتو د عملي زده کړې له پاره د دې نوعې آثارو زده کول ضروري دي .

هغه څوک چې د مولوي احمد کارونه د پښتو د هنري نثر په ساحه کې یې تحقیبول



ACKU

هغه میر احمد شاه رضواني پېښوري لیکوال و. دی د ډېرو پښتو اشعارو مولف دی او د پښتو ډېر اشعار یې ویلي دي. دی په پېښور کې زېږېدلی دی (۱۹۶۳-۱۹۳۷) او خپل زیات ژوند یې په همدغه ځای کې کړی دی. ده هم د خپل سلف او استاد غوندې په پښتو کې ترجمې کړې او د خارجي ژبو موضوعات یې خپل کړل. دی د پښتو ژبې ګرامر لري او د پنجاب په پوهنتون کې د پښتو ژبې استاد و. د ده ټول آثار دېرشو جلدونو ته رسېږي او د دې جملې نه دوه یې د پښتو درسي کتابونه دي.

د ده د مجموعې (شکرستان افغاني) د هنري نثرونو څخه زموږ په اختیار کې یوازې یوه قصه (د بوډۍ غوا) ده او یو خپله مجموعه او د دې مجموعې نور مضامین موږ ته نه دي را رسېدلي. د دې قصې مضمون داسې دی: یوه ورځ بوډۍ په څه کار پسې له کوره ووتله اتفاقاً له یوې خوا غوا له موګې نه خلاصه شوه او له بلې خوا د کوټې دروازه بېرته وه. غوا کوټې ته ننوتله لږه بره وګرځېده او دا وړوکولېږي مخې ته ورغې. دېغو بنګل چې اوړه وخوري مګر موفقه نه شوه او کولې یې په ښکرونو کې ونښت او یوه اوړ یې سرګرځ شو او یو عجب شی ورته جوړ شو. کم وخت چې بوډۍ بېرته کوټې ته راغله چې ګوري یو عجیب شی د دې سترګو ته ورغی بوډۍ ته غوا وریاده شوه مګر د غوا سره یې مشابهت نه درلود. دې یقین وکړ چې دا پېري ده. نو د چغې په حال کې ورته ووتله. وروسته ښکاره شوه چې غوا ده او کولې یې په ښکرونو کې نښتې دي. اوس د دې لپاره چې کولې څرنګه خلاص کړي او څه چاره ورته وسنجوي نو (اوقي) یې د کومک له پاره ور وغوښته. اوقي غوا حلاله کړه مګر کولې هم په دې اخ ودب کې مات شو په دې وخت کې اوقي وژړل او بیا یې وخندل. بوډۍ ورته پوښتنه وکړه چې ولې دې وژړل او ولې دې بیا وخندل ده ځواب ورکړ چې ومې ژړل ځکه که چېرې زه د ږکې نه وای نو تاسې به څه کول او ومې خندل ځکه چې زه په دې تصادف پوه نه شوم چې ولې غوا هم لاړه او هم کولې مات شو.

د اوقي د لفظ نه معلومېږي چې دا قصه په پښتونخوا کې نه ده تېره شوې ځکه اوقي نوم په پښتنو کې نه استعمالېږي او ترکي نژاد نوم دی.

د مولوي احمد او میر احمد شاه رضواني خدمت د دې نه عبارت دی چې دوی د پښتو په بدیعي ادبیاتو کې نثري نوې ته مراجعه کړې ده او دا کار یې مخ په وړاندې بېولو. د دوی آثار چې زیاتره قصې دي د ډېرو رسېدلو لیکوالو نه توپیر او فرق لري د وی لنډې جملې لیکي او په ډېر مهارت سره د پښتو محاورې



ACKU

دخپلو اظهاراتو وسیله او آله گرځوي .

بل د پښتو د اوسني هنري نثر موسس منشي احمد جان دي . د افغانستان ادب پېژوند و نکو له منشي احمد جان شخصیت په پر معنونیت ښکاره کړي دي او دي د پښتو د اوسني هنري نثر د موسسینو شخصه گڼي . منشي احمد جان (۱۸۸۲ـ ۱۳۵۱) په وړوکتوب کې یتیم شو او مربی یې نه لاره . د زده کړې د سفرونو په سلسله کې پېښور ته ورسید او هلته یې انگلیسي ژبه زده کړه . د ۱۹۰۰ کال را په دې خوا د انگلستانو له پاره د پښتو معلم شو او دوي ته یې پښتو ورښوله . دده په شاگردانو کې پر انگلیسي نظامي منصبدار ان شامل وو چې دده جملې نه یو د هندو ایسرا معاون و . دده د وینا له مخې که چیرې هند ته به کوم انگلیسي منصبدار را تللو نو د تولونه لومړي به د منشي احمد جان حضور ته ورتللو او دده یو ښتنه به یې کوله .

د نو مورې منشي د ژوند حالات په وروستیو کلونو کې ډیر ښه شول او د دولت او پیسو وړ په مخه شوه . د منشي احمد جان ټول ادبي فعالیت ضمني و دده اصلي کار معلمي او استا دي وه . ده سره دا خیال وچې تر څو امکان وي انگلیسانو ته پښتو ورزده کړي او د دې لارې نه مرسته ور سره وکړي . په ۱۹۱۰ کال کې منشي احمد جان د مولوي احمد ترجمه (د غزنوي محمود تاریخ) بوړې یو (پښتوـ انگلیسي) قاموس د الحاق په ډول چاپ کړ او تقریباً په همدې وخت کې ده یو بل قاموس د (گنج پښتو) نومي کتاب بورې هم چاپ کړ . دده د ترجمو په ډله کې د ټهاس دکتاب ترجمه (خام خیال) او د ملیسون د کتاب ترجمه) د افغانستان ـ تاریخ) حساب شوي دي . یو افغاني لیکوال لیکي چې د ملیسون د کتاب (د افغا ـ نستان تاریخ) ترجمه په دومره مهارت سره شوي ده چې د اصلي ژبې هیڅ تا ثیـــر پکې نه لیدل کیږي بلکه گومان کېداي شي چې د مترجم خپل اثر دي .

منشي احمد جان د پښتو هـــنري نثر ته د شلمې پېړۍ په اوا یلو کې مراجعه وکړه او وروسته بیا دده قصې او نورمضامین دده په مجموعو (هغه دغه) او (د قصه خوانۍ گپ) کې چاپ شوي ده . د خپلې مجموعې (هغه دغه) چې په پېښور کې په ۱۹۲۹ کال کـې چاپ شوې ده په مقدمه کې لیکي : (چې دا کتاب د نظامـــي منصبدارانو له پاره چې په هند کې اوسیږي تخصصي شوي دي . په نومورې مجموعې کې پنځه او یا قصې او حکایتونه راغلي دي چې دده جملې نه یوه د (توري بلا) ـ قصه ده . دا قصه په هنري نثر لیکل شوي ده او پوره محاوري او اصطلاحات پکې ـ

راغلي دي ددي قصې مضمون اولسو يزداسي دي . (ديوسف زيو په يوه کلي کښې توره بلا پيدا شوه . دي بلا کليوا لو ته ډير ضررونه رسول او هيڅوك دخپلو کورو نو نه دشپې له خوا دويري له کبله نه وتل او داځکه چې زياتره به په تياره کې دګيګر يو آوازونه اوريدل کيدل . يو وخت دغه کلي ته يوزلمی چې علي ګل نوميده راغی . ده لېيري د بلا په باره کې دکلي دخلکو په خبرو عقيده نه کوله اودايې موهومات ګڼل ده هيڅ سودا نه کوله او زړه ور به ګرځيده مګر څه وخت وروسته دي مجبور شوچې اعتراف وکړي چې رښتيا يوشی شته نوقصد يې وکړ چې د غه توره بلاپيداکاندي اومړه يې کړي . کوم وخت چې تياره شروع شوه اوړنا خپل ځای ظلمت ته پريښود نوعلي ګل توره ترملاکړه او يو قوي کوتك يې دځان سره واخيست او دکلي په اخرکې چې هديره وا قع ده هلته دلاري په غاړه دبلا له پاره پټ کيناست اوغوږ يې ونيو . دشپې د پخيدو سره سم دده غوږ ته دګينګر يو نري نري اوازراغی چې ګوري يوتور موجود مخامخ دده پلو ته دباد په شان وروان دي . په دي وخت کې دده غوښی زيږشو . زړه يې ولويد اوخوف وربانندي مسلط شو . علي ګل چې يې زړه توب اوښا اراهې حس کړه نو په خپل ځان يې لعنت ووايه او لاري يې خپل ځانته توکړي او ځان يې رازږ ورکړ . دبلا يو ځل په تياره کې ورکه شوه خونا څاپه بيا دعلي ګل غوږ ته دګينګر يو ازواز ورغی او دا ځل په لاډيري تيزي دده خوا ته وروانه شوه علي ګل په دي وخت کې دويزي احساس څه کوي او په قوي زړه دبلا انتظار وباسي . په کوم وخت چې بلاده ته ورنژدي شوه اودهديرې خوا ته روانه وه نوعلي ګل دکوتك ګوزار ورباندي وکړ او دګوزارسره سمولويده . دي چې ورنژدي شو ګوري چې يوه ښايسته پيغله په وينو کې پرته ده . دمړ ته وويل چې رښتيا ووايه چې څوك يې ځان وښيه دي وويل زه دکلي دملك لوريم او هره شپه توري جامې اغوندم او دملانه ګينګري هم تړم او هره شپه ديهديري ته ځو ځکه راځم چې دلته زما يو زلمی مين ښخ دي . دورځې نه شم راتلاي خلك پوهيږي اوچې دشپې را نشم نوزړه مې نه صبريږي . زما مين ډيروخت له کيږي چې مړ دي . ددي پيغلې ښايست علي ګل په تعجب کې واچاو نو قسم يې ورکړ چې نوره په دي لباس کې مه ګرځه خوك به دي دبلا په ګومان مړه کړي . دي پيغلې هم دعلي ګل زړورتيا خوښه شوه اوده ته يې وعده ورکړه چې ستا خبره منم او نوردا وضعيت پريږدم .

چې سبا شو علي ګل خپلو دوستانو او دکلي نورو خلکو ته وويل چې بلا مې مړه کړه نورآزاد ګرځئ . دغه وخت نه وروسته علي ګل چې زړه يې په پيغلې بايللی و

دکلی څخه ورك شو او دملك لورهم ورکه شوه · وایی چی‌په‌کوم لري‌ځاي‌کی دوا ړه او
سیـزي اوژوند یی نیك مرغه دي )

په دي قصه کی په ښکاره توګه دملی او ولسی افسانو اهنګونو اوریدل کیږي دقصـی لومړ یه‌برخه بیخی اسرار امیزه ده · نامعلومی ماوراءالطبیعه قوي دیو کلی دخلکـو ژوند تنګ کړي و اویه وحشت یی را وستی وو مګر وروسته بیا معلومه شوه چی یوه‌مینـی پیغلی دغه بدبختی دکلی په او سیدونکو را وستی‌وه او دکلی ژوند ئی تریخ کړي و · نه چی دغه ډ وکی قصه لو لی ضرور دهغونا زکو بشري احساساتو دتاثیر لا ندي‌را ځی کوم چی په دغه قصه کی مندرج دي · ددغی قصی محتوي یی شکـه په زړه پوري ده په دي قصه کی منشی احمد جان ملی پښتنی عنعنی ته مراجعه کړي‌ده په دي قصـه کی لوستونکی دمتلونو سره ملاقی کیږی · دا سی اصطلاح ګانی پکی شته چی په بله‌ژبـه ترجمه کیداي نشی او دمطلب اظهاریی ښه څرګند دي او داهنري نثر دي بل شی نـه دي · ددي قصی عبارات طبیعی دي مصنوعی او تکلفی عبارات او الفاظ پکی نه لیدل‌کیږي عبارت دمطلب په اندازه دي دمطلب نه زیات‌عبارت پکی نشته او دومره لنـډ هم نه دي چی مطلب پوره ادا نه کړاي شـی ·

په دغه اثرکی دمنشی احمد جان دلیکوالی خصوصیت ښه څرګند شوي دي ·
قصه په پوره بلاغت سره لیکل شویده او دغه کار قصی ته ښه رنګ ورکړي دي ·
کوم بریا لیتوبونه چی دلیکوالی په ساحه کی ددغه سترلیکوال په برخه شوي دي ـــ دا یوازي دده داستعداد له برکته نه دي بلکه دده دهراثرپه لیکلوکی ډیر زیات زیارویستلو اود پوره غورنه یی پکی کار اخیست او دغه کار نوموړي منشی ته دپښتـو په هنري نثرکی داستا زي افتخار ورکړي دي · په ۱۹٤۸ کال کی منشی احمد جان دوه افغا نی لیکوا لو قیام الدین خادم اوعبدالروف بینوا ته په خبرو اتروکی داسی‌وویل په هنري نثرکی زما موفقیت دادي‌چی کله زه په دغه یا هغه اثر با ندي کارکوم نوتر ټولو لومړي داثرمواد اوعبارات په ډیرجدیت صیقل کړم بیاپه کوټه کی قدم وهم اوهغه په زوره دځان سره وایم · که په کومه جملـه کی اشتباه را ته پیدا شی هغه اصلاح کړم اوکه بیا هم شك را ته پیدا شی نو هغه جمله کوم ملګري ته وایم اوپوښتنـه ورنه کوم‌چی ددي جملی پـه معنـی پوه شوي اوکه نه · په همدي ترتیب پجملو کی‌ترهغه کوښښ‌کوم څوزما پوره قناعت‌ورباندي حاصل شی ·

ACKU

د پښتو په هنري نثر کې د یو بل ادبي شخصیت راحت زاخیلي (۱۸۸۲ــ ۱۹۶۳) آثار ځانګړي او وتلي مقام لري ٠ دي مشهور شاعر او نثر لیکـونکی دي ٠ دي د پښتو د کلاسیکو آثارو او د پښتو هنري ادبیاتو د او سنیو جریانا تو په منځ کی د ارتباط حلقې حیثیت لري د ده یو اړخ د کلاسیکو او پخوا نیو مترقي ادبیا تو سره لګیدلی دي او بل اړخ یې داوسنیو هنري لیکوا لو سره لیدل کیږي ٠ د میر احمد شاه رضواني ، مولوي احمد ـــ منشي احمد جا ن او نورو پخوا نیو مترقي لیکوالو سره د راحت زاخیلي فرق دا دی چې هغوي د ژوند تر آخره پورې په ادبیا تو کی یو سبک او یوه لار انتخاب کړې ده او پــه هما غه یوه لار تېنګ پا تې شوي دي مګر ده دغه اشتباه لري کړه دغې اشتباه وا قعاً پښتنانه لیکوال نه پریښو دل چې دادبیاتو پراخ او عمومي ډګر ته ورداخل شي ٠ لومړي لیکوا ل زاخیلي وچې دادب پرا خې ورشو ته له هري خوا ورګډ شو او د ادب هري څانګـې ته یې لاسرواچاوه نورو لیکوا لو چې کوم اصل او سبک نیولی و اویه ادب کې یې کوم پو نصیـب خوره کړي و هغه د دوي له پا ره ابد یا لوجي ګرځیدلی وه نو ځکه ورته په ځنګ کیدا ي نه شول ٠

را حت زا خیلي نو ښارته نژدې د زا خیل په کلي کی زیږیدلی دي دي په یوه مذ هبی کورنۍ کی پیدا شوي دي ٠ او مذهبی او دیني علوم یې حاصل کړي دي ٠ په ۱۹۱۱ــ کال کی په پېښور کی په پښتو ژبه یو اخبار (افغان) په خپلو خپرو نو پیل وکړ ٠ په دي اخبارکی پښتنو لیکوالو خپلې مقا لې او بدیعي آثار چا پول ٠ را حت زا خیلي هم دعوت شو چې په دغه اخبارکی برخه وا خلي ٠ ده هم بلنه ومنله او فعال ګډون یې پکی وکړ ٠ وروسته بیا پخپله د اخبار مدیر شو ٠ په اخبار کی کارکولو د راحت د ادبی انکشا ف سره یو رمرسته وکړه او د ده د ادبي پلټلو او تتبع کار وسعت پیدا کړ ٠ اخبار د راحت زاخیلي سره دا مرسته هم وکړه چې د ده پام د ي توګه هنري نثرته توجه وکړه اویه دي لارکی ښه موفق شو ه زاخیلي په ۱۹۱۷ کال کی په (افغان) کی یوه قصه په هنري نثرچا پ کړه ـــ (کونډه نجلۍ) دي قصې نه یوا زې په پښتو نستان کی شهرت وموند بلکی په افغانستان کی هم زیا ته مشهوره شوه او پوره هیجان یې منځ ته راوست ٠ داچې ولې دي قصې چې د حجم له حیثه ورهده ده دومره هیجان پیدا کړ او ولې لرو او بر و پښتنو په دومره علاقه او اضطراب سره استقبال ګړه علت یې دي او هغه داچې په پښتو ادبیا تو کی دا لومړي ځل د ي چـې د ښځو په طرفدا ري غږ پورته کیږي او د ښځو شکا یت او د دوي نا وړه او د زړه سوي وضعیت په ادبیا تو کی انعکا س مومي او د دوي د حقوقو شخه دفاع کیږي ٠ د دې نه وروسته د ښځو د ځورنګوالي موضوع په کورنیو او ټولنه کی د زما نې په مرور سره د تـا و د ه

بحث مورد وگرځید . او هم دا موضوع دمترقي قوتونو اومحافظه کارو عناصرو ترمنځ دشخړي په گرته او مباحثې سره تړلې کېږي شو .
په هغو سختو شرایطوکي چې لایه پښتني ټولنه کي پخوا نیو نا وړ عادتونو موهوماتو . فاسدو عنعنو او بیځایه رواجونو قوت او اعتبار لاره اوپه میراث را پاتې شوي دودونه لا دتوجه وړ وو ـ دکونډې نجلۍ دقصې غوندې قصې لیکل دلیکوال په زړورتوب دلالت کوي او دا ښیي چې لیکوال دسختومحدودیتونو سره سره دازړه کړې دي چې دمزخرفاتو په مقابل کې ودرېږي اوپه هر قیمت چې تمامېږي د رکیکو عنعنو سره مخه ښه وکړي او یو قدم دبشریت په خاطر مخ په وړاندې لاړ شي او دښځو غږ پورته کړي .
د سید راحت زاخیلي شجاعت تاسې ددینه هم اټکل کولای شئ چې حتى دیرش کاله وروسته چې دښځو بحث او اقتراح په افغانستان کې پیل شوه (ښځه د پښتنو په نظرکې) ددغې اقتراح یوه تن قیام الدین خادم دا سې اعترا ف وکړ (پخوا به کله یوچا دښځو دحقوقو په باره کې یو حرف وواېه په نوروبه د ډ ارتبه کیناسته) . زاخیلي په خپله قصه کې د (مرغوړه) ترا ژیك او دنجمې نه ډك سره نوشت ښودلی او بیان کړي دي . مرغۍ لایه ماشوم توب کې مېړه ته ورکړ ای شوي وه . خوراسخت کړ او ونه هغه وخت په دي راغلل او هغه وخت دازیاته وړیږ بده چې په خورلس کلنۍ کې بې مېړه مړ شو . په دغه وخت کې دا دهرچاتپ سوري شوه اوخولی وربا ندي را خلاصې شوي . ددي دي قسمت ته گوري کله چې پلارنی کورته را ځي دلته هم دداسې وضعیت سره مخامخ گیږي چې دتحمل وړ نه دي مونحان دسیند پمتې غېږ ته سپاري او سمه وړ سره لا هوکیږي .
زاخیلي لیکي چې دکوم سرنوشت اوکړاو سره چې مرغۍ مخامخ شوې ده داسې چاري په ټولنه کې یوعادي امر دي او ډیري پښتنې په دي ډول قربان شوي دي او څه چې په ښځه دلته تیریږي هغه په کفرکي هم نه شته . قصه دهنر اوبدیعي شهکاري له حیثه په زړه پوري ده . دقهرمانو دیالوگ لانور قصې ته خوند اوښایست ورکړي دي په قصه کې دقهرمانانو خبري طبیعي اودمحاوري سره سمې دي قصه داصطلاحاتو له مخې پوره غنې ده او دشفاهي ژبې خپل مخصوص رنگ اوچاپ ر ښت لري . دا قصه د خپل مهم قهرمان (مرغوړه) دژوند مختلفو مراحلو دناولو نواو میثا تورېبو څخه جوړه شوې ده .
دلومړنی مترقي او منورنسل آثاراوحیاتي چارې مستقیماً داوسنیو پښتو ادبیاتو سره ارتباط لري . لا ددي موجوده شروع شوي دوري په ابتدا کې د پښتو تحریري ادب

په دا سې ژر نثرونو او اهنګونو سره غني شو کوم چې د وخت غوښتنه او تقاضی وه، هنري او بدیعي نثر ښځې نوي شو، کلاسیکو قواعدو او پخوانیو میتودونو او کندو چې په پښتو ادب کې د عنعنې په حیث مو جود وو او تخطي ور نه د لیکوال کمزوري ګڼل کېده —

ورو ورو او په تدریج سره یې خپل ځای نوو جریانا تو او سبکونو ته پرېښود، د اثارو ژبه او سبک ساده او اسان شو او ادب د ومره عام فهمه شو چې عام قشرونه او اولسي خلک ور باندې وپوهېدل او د دوی مال او د دوي د استقادې وړ شي وګرځېد، مترقي عقاید او پر مختللې نظریات پښتو ادب ته ورداخل شول او نوي اجتماعي موضوعات پکې ولیدل شول، مثلاً د ظلم او زور زیاتي په ضد مفکوره پکې قوي شوه او خلک یې ژوند ته متوجه —

کړل په همدې ترتیب په ادب او خصوصاً په هنري نثر کې مهم کیفي بدلونونه او تحولات راغلل، د هغه ادب نه چې د منځنیو پېړیو په حلقو کې بند و خبره هغه ادب ته را ورسېده چې پوره عصري او د وخت سره مطابق و، او د تکلفي او غیر طبیعي نثر نه خبره طبیعي او — هنري نثر ته را ورسېده او په متمدنو او رسېدلوقومونو او هېوادونو کې همدا سې — ادب او همدا سې نثر رواج لري چې دا کارمونږ ته دا هیله پیدا کوي چې پښتو ادب د رسېدلو ادبیا تو څخه دي ۰

تر دې ځا یه پورې د ګ، ف ګیرس مقاله وه چې د پښتو د هنري نثر او د دې نثر د ځینو مو سسینو په باره کې یې لیکلې ده، که رښتیا ووېل شي نوموړي په پښتو او پښتونو په کې پوره معلومات لري او معلومات یې با وري او د اعتما د وړ دي، ده د پښتو د هنري نثر په باره کې یو مستقل کتاب لیکلی دي چې ما ور نه همدا یوه برخه را وا خیسته ۰

اوس د دیو رند په دوا ړ و غا ړ و یعنې په بري اولري پښتو نخوا کې هنري اوبدیعي نثر ایجاد شوي او رواج شوي دي او غیر طبیعي نثر څوک نه لیکي او وخت یې تېر شوي دي ۰ په نثرونو کې هنري نثر خورا لو ړ نثر دي او ښل شوي، اصلاح شوي او مروج شکل دې، دا نثر ژوند سره ارتباط لري او ژوند منعکس کوي او ژوند ښیي ))

ACKU

پوهاند محمد رحیم الهام

# په پښتو ادب کې د کره کتنې ضرورت

ادبي کره کتنه د انسان یو ډېر پخوانی ذهني فعالیت دی او کیدای شي ووایو چې د ادبي آثارو له تخلیق سره یوځای د انساني ټولنې د ودې او تکامل په بیخي ورو وروستیو مرحلو کې پیدا شوې دی .

کله چې انسان له ادبي آثارو سره مخامخ شوی دی قضاوت یې ورباندې کړی دی هغوی یې ښه یا بد حتی ګټور یا زیانمن بللي دي . په ادبي آثارو باندې دغه قضاوت د انساني ټولنې د تاریخ په اوږدو کې د اقتصادي ــ ټولنیزو اړیکو د غوړېدونو پر بنسټ یا ندې د بېلا بېلو معیارونو د رامنځ ته شوو ځانګړنو پر بنسا دوام او تحول کړی او تر دې وروسته به هم له ټولنې سره یوځای خپل د تکامل پړاوونه په پرله پسې توګه ووهي .

ادبي کره کتنه د ادبیاتو له دندې سره او بیا دغه دواړه د ادبیاتو له تیوري سره جوخت پیوستون لري . د دې خبرې معنی دا ده چې کره کتونکي باید تر هر څه د مخه ځان د ادبیاتو په ماهیت باندې ځان پوه کړي د هغه دندې چې ماهیتاً خو اړخیزې دي وپېژني او بیا پوه ادبي توته د یوې عیني پدیدې په توګه مخې ته واچوي او وګوري چې ایا دغه دندې یې سرته رسولې دي که نه .

نو راځئ چې لومړی دا خبره جوته کړو چې ادبیات څه ته وایي . دې پوښتنې ته به د سم ځواب د موندلو یوه لار داوي چې د ادبي تیورۍ او د تاریخ له نظره تیر کړو . خو دا کار اوس ځکه نشو کولای چې دلته بې ګټې غوندې بریښي او ګران حاضرین په ښه توګه ورباندې پوهیږي . په ننني نوي او مترقي مفهوم سره (( ادبیات د ټولنیزو ژوندانه د واقعیتونو هنري انعکاس دی د ژبې په واسطه . )) په دې تعریف کې دوه سره تړلي مفهومونه براته دي . لومړی دا چې ادبیات د ټولنیز

ACKU

ژوندانه د واقعیتونو انعکاس دي . څرنګه چې ټولنیز ژوند زموږ له ذهن نه جلا او مستقل په خارج کې په عیني توګه واقعیت لري نو په لنډه توګه ویلای شو چې ادبیات د خارجي واقعیتونو انعکاس دي . په دې لحاظ ادب له علم سره کټ مټ یو شی دي ځکه چې علم هم د انسان په ذهن کې د عیني نړۍ د واقعیتونو انعکاس دي . نو ادبیات د علم په څنګ کې د خارجي نړۍ د حقایقو د پېژندګلوي او شناخت یوه وسیله ده . دویم دا چې د دغه انعکاس بیا هنري بڼه لري یعنې خارجي واقعیتونه په عاطفي ژبه بیانیږي . عاطفي ژبه هماغه ده چې زموږ د ادبي پوهنې په عنعنه کې ورته د ((مخیل کلام)) تعبیر پکارول شوی دی . او بیا تخیل د تفکر داسې یوه پروسه ده چې په کې ددوو یا زیاتو داسې بېلا بېلو شیانو ، پېښو، پدیدو او مفاهیمو ترمنځ اړیکې سره ټینګوي چې په واقعیت کې معقول او منطقي اړیکې نه سره لري . دغه د بېلا بېلو شیانو پېښو پدیدو او مفاهیمو ترمنځ اړیکو سره ټینګول ایماژونه یا د خیال صورتونه تشکیلوي چې دا بڼې وعبارتونو په شکلونو کې ورته تشبیه ، استعاره ، مجاز او کنا یه ویل کیږي . د علم او ادب ترمنځ په همدې کې دي . یعنې سره له دې چې د معرفت د تیورۍ د ضوابطو په لحاظ د (طبیعي او اجتماعي) علومو او ادبیاتو محمول واقعي نړۍ د انسان طبیعي او ټولنیز چاپېریال دي ، خو د خارجي نړۍ علمي ادراک او ادبي اذراک سره توپیریږي . ادبیات د ټولنیز شعور نورو شکلونو ته ورته دي . خو د ادبیاتو محمول او موضوع سره یو شان نه دي . د ادبیاتو موضوع د خارجي نړۍ ادراک دي د انساني سایکالوجي سره . . . ادبیات په بېلا بېلو طریقو سره ددا سې یوې ساحې په ذریعه تشبیهیږي چې د اقتصادي بنسټ او ایډیولوژۍ یعنې د ټولنیز اروا پوهنې په منځ کې د وصل کړۍ تشکیلوي . په بل عبارت واقعیت د شاعر او لیکوال په نظر کې ما زې د خارجي نړۍ په څېر نه څرګندیږي بلکې د یوې داسې نړۍ په توګه څرګندیږي چې په عاطفي ذهني توګه تجربه شوي او په همدې اساس بیا ندې توجیه شوي وي . علم یوا زې د خارجي نړۍ په شناخت بانديې تمرکز او تکیه لري خو ادبیات د خارجي واقعیتونو د شناخت په څنګ کې د نوو واقعیتونو د ابداع بڼه هم لري . نو د ادب په ماهیت کې علم او اپتکار دواړه پراته دي .

اوس د ادبیاتو د ماهیت له تیوریکي لنډې څېړنې څخه وروسته د ادبیاتو — ددندو په باب په لنډه توګه خبرې کوو . زه باور لرم د دې خبرې په مخالفت به هیڅوک

ACKU

هیڅوك و نه دریږي چې د ادبیاتو په ماهیت کې د انسان د ابتکاري فعالیت په توګه د هدف تر کچه طبعاً پرته ده . هره ادبي توته وړه وي که غټه نظم وي که نثر د یو خاص مقصد له پاره لیکله کیږي . د ادبیاتو ټول هدفونه په مجموعي توګه په دوو سره مربوطو ولونو ویشلای شو : لومړي ټولنیز هدف او دویم ښکلا پوهنیز هدف . د هدفونو دغه دواړه ډولونه په ګډه سره د ادبیاتو د بنډې د ټولنې د اقتصادي ـ ټولنیز رغښت او د لیکوال د طبقاتي روحیې یا طبقاتي پیوستون پر بنسټ ولاړ ندي په اګاهانه توګه تاکي . شاعر او لیکوال د ټولنیز ژوندانه واقعیتونه په دې مقصد منعکسوي چې واقعیتونو ته له خپلو ګټو ضرورتونو او ارمانونو سره سم تغییر ورکړي . کله چې انسان پر واقعیتونو باندې حسي چې وي قانع نه وي نو هڅه کوي چې د ضرورت او مطلوبیت له مخې یې بدل او تکمیل کړي . د ادبي ابتکار مقصد چې د واقعیت کیفي بدلون دی . په تصادفي بڼه یوازې په مجرد نیت او مازې له ذهني فعالیت سره نه ترلاسه کیږي . د هدف تاکنه په واقعیت کې له عیني تضادونو او هغو ته د تغییر ورکولو د امکاناتو له سنجولو څخه رامنځ ته کیږي . د یو ادبي اثر هدف له دینه څرګندیږي چې ـ لیکوال د انسان فعال او ابتکاري اړیکې له واقعیت سره د ابتکار له هغو امکاناتو سره بیان کړي چې په عیني توګه د ټولنیز ـ تاریخي شرایطو په واسطه تثبیت شوي وي . د ادبیاتو هدفونه ډیر او جګ او د انسان له ښکلا خوښونې او د ـ اجتماعي روابطو د بې عیبه کیدو څخه عبارت دي . دغه هدفونه د ټولنې له انقلابي بنسټیز بدلون سره نیغ ارتباط لري . اصیل ادبیات همیش مترقي او خلکو ته نږدې وي.

انسان په عمومي توګه دوه ډوله اړتیاوې لري . لومړي هغه اړتیاوې دي چې ما دي بڼه لري او له مادي تولید سره لري کیږي . دویم هغه اړتیاوې چې معنوي دي اوله فکري او ټولنیزو ضرورتونو څخه را منځ ته کیږي . د ادبیاتو رسالت او هدف دادې چې د ټولنې فکري او اجتماعي ضرورتونه او اړتیاوې هم زښته ډیر دي . انسان پوهیږي ته د جهان بینۍ ته ټولنیز او اخلاقي او ښکلا پوهنیز ارمانونو ته اړتیا لري . ادبیات د انسان دغه اړتیاوې او ورسره ذوقي ضرورتونه پوره کوي . د انسان له پاره د فکري توان او د الهام د منبع په توګه او د سرګرمۍ او د تفریح د وسیلو په حیث کار ورکوي .

په هر ادبي اثر کې د نورو ټولو پدیدو په شان د شکل او محتوا له مفاهیمو

سره هر و مرو مخامخ کیږو . هر ادبي اثر دوه اړخه لري یو اړخ یې خارجي څېره ده چې د لیدو یا اورېدو د حواسو په واسطه یې احساسوو . دې اړخ ته د ادبي اثر مادي قشر ویلی شو .

بل اړخ یې باطني جوهر دی چې یې د ادبي اثر اید یولوژیک مغز ګڼلی شو په بل عبارت یو یې فکري جهان دی اول یې د احتوا کوونکو طرف یا وسیله . د ادبي اثر لومړي اړخ ته شکل او دوهم اړخ ته یې محتوا یا مضمون وایو . په بل عبارت د ادبي اثر محتوا هغه شیان دي چې ویل شوي دي او شکل د بیان شوو شیانو د بیانېدو څرنګوالی دی . د شکل او محتوا دغه ډول بېلونه د دې موضوع د څېړنې د اسانتیا له پاره کیږي . حال دا چې په حقیقت کې شکل د محتوا په نسبت کومه خارجي شی نه دی بلکې شکل دننه په محتوا کې دی . ادبیات د واقعیت انعکاس دی او دغه انعکاس د ادبي اثر د شکل او محتوا په واسطه صورت مومي . نو ځکه شکل او محتوا دواړه د واقعیت څرګندونکي دي . له واقعي ژوندانه څخه داسې اخیستل شوی مضمون چې د یو ټاکلي ارمان په رڼا کې پېژندل شوي او ارزیابي شوي وي د ادبي اثر محتوا تشکیلوي . نو د ادبي اثر محتوا له هغې موضوع څخه عبارت دی چې له ژوندانه نه له هغه څخه د را بر سېره شوو پرابلمونو او د هغه له عاطفي ـ ښکلا پوهنیزې ارزیابي څخه ـ اخیستل شوې دغه ټول سره وحدت مومي او د ادبي اثر هدف او اجتماعي مقصد په واسطه تثبیت شوي وي . خو محتوا له شکل سره ګډېږي . محتوا له شکل څخه جلا نه شي موجودېدای . دواړه سره نه جلا کېدونکي دي . نو ځکه شکل هم د ژوندانه انعکاس دی خو نه یوازې توګه بلکه له محتوا سره په ګډه او یو له بل سره د متقابل ارتباط په وجه په بل عبارت ادبي شکل او محتوا په ګډه سره یو واحد کل تشکیلوي او د ژوندانه واقعیت بیانوي .

نو په ادبیاتو کې د نورو هنرونو په شان محتوا او شکل دواړه په ګډه سره او له یو بل سره د متقابل ګډ ارتباط په لرلو د ژوندانه د واقعیتونو انعکاس او تمثیل تر سره کیږي . او څرنګه چې انساني ژوند هم ځانته محتوا او شکل لري نو د ادب محتوا د ژوندانه له محتوا او شکل یې د ژوندانه له شکل سره مطابقت ښکاره کوي .

اوس موږ چې په لنډه توګه د ادب پر ماهیت او هغه پر دندو باندې خبرې وکړې — د کره کتنې پر برخې ته راځو. کره کتنه په واقعیت کې د یو ته وایې چې پر ادبي آثارو باندې قضاوت وشي. څرنګه چې د دې برخې تیوري او بیا عملي کره کتنه د ادبي عامې تیوري د اصولو پر بنا باندې تثبیتیږي نو له همدې امله بیلا بیلې تیورۍ او عملي طریقې لري. همدا اوس په نړۍ کې د ادبي کره کتنې د اسې میلانات او بهیرونه موجود دي چې بیانول یې دلته ډېر وخت او حوصله غواړي او د بحثونو مونه دادي .

د کره کتنې اګزستنسیالیستي تیوري

د کره کتنې اساطیري تیوري

د کره کتنې ارواپوهنیزه تیوري

د کره کتنې ژبپوهنیزه تیوري

د کره کتنې ټولنپوهنیزه تیوري

دغه وروستۍ تیوري چې څانګې او لونه لري زموږ د ښکلا پوهنې د تیوري پر بنا باندې یوه ښانګه او طریقه لري چې زه ورته د ( ریالیستي پرګتیزې تیورۍ ) نوم ورکوم دغه ډول کره کتنه له نورو نه په دې کې توپیر لري چې ماهیتاً ټولنپوهنیز حقیقت لري او د مترقي علمي ټولنپوهنې څخه الهام اخلي .

علمي او مترقي ټولنپوهنه د انسان ټولنیز ژوند د یو داسې عضوي وحدت په توګه ګڼي چې د هغه د جوړوونکو برخو هره برخه پر بلې برخې باندې متقابلې اغیزې لري او د هغه په اساسي رغښت او تشکل کې غوڅ نقش مادي او اقتصادي اړیکې او د تولو په سر کې د کار شکلونه لوبوي .

خو د اخیره باید په نظر کې وي چې د یوې ټولنې مجموعي ادبي سازمان د هغې ټولنې د تکامل له هرې مرحلې سره په مجموعي توګه سمون لري خو انفرادي ادبي آثار ورسره سمون لري . نو که چیرې کره کتونکي وغواړي د یوې ټولنې د ټولنیز تکامل د یوې خاصې مرحلې پر ټولو ادبیاتو باندې کره کتنه وکړي خامخا به د هماغې مرحلې د عمومي ودې کامل تحلیل او تصویر وړاندې کوي او د هغه په رڼا کې به پر ادبي آثارو او لیکوالو باندې قضاوت کوي . په دې توګه د ټولنې د اساسي او

او فرعي‌فضا د و نو د انځور و لو بر بنا با ندې تو له ادبي محتو ا يخپله خپل طبقاتي شکلو نه او خيرې ښکاره کوي اوعلمي فضا و ث وربا ندې اسا نه کيږي ٠ اما که چيرې پر يو خاص ليکوال يا يو خاص ادبي اثر با ندې کره کتنه کيږي ٠ د اقتصادي اوضا عـــو او مناسبا تو د اسا سي شرا يطو خيړنې او تحليل ته ضرورت نشته ٠ ځکه چې په طبقاتي تو لنه کې هر ځا نګړ ي فرد هم يا په خپله په يوه طبقه کې شا مل يا د يوې طبقې د ګټـــو ملا تړ کوي يا د هغې روحيه منعکسوي ٠ شا عر او ليکوال هم هرومرو له همدې قا نو ن څخه په شعوري تو ګه پيروي کوي ٠

د هر ادبي اثر اړيکې د اجتماعي طبقا تو يا ډ لو سره اسا سا ً د هغه د محتـــو ا په واسطه تثبيتيږ ي ٠ له همدې امله ويل کيږ ي چې په ادبيا تو کې محتوا د شکل پـــــه تنا سب ډ يرا هميت لري ٠ دا خبره زموږ د ځينو ځوا نو ليکوا لو او شا عرا نو په ذهنونو کې انحرافا ت راپيدا کړ ي د ي ٠ دوي د خپلو خلکو له ټو لنيزژوندا نه څخه واقعي بيني او پديدې را اخلي خو په غير واقعي شکل سره يې منعکسوي ٠ مثلاً ژبه يې سمه نه وي په اشعا رو کې يې د او زا نو له نظره سکته ګۍ موجود ې وي ٠ د ترکيبو نو په جوړ ولو کې د ګرامري قوا عدو رعا يت نه کوي د خيال صورونه يې ګو ډ او غير هنري وي ٠

په دا ستا نو نو ، نا ولو نو او نورمنثورو ادبي آثارو کې د آثا رو له شــــکلي ضوابطو څخه سرغړوي ٠ ګوا کې په ګډه سره د ادبي اثر شکل له هغه بيليداې نشي ځکه يو له بل سره د يا ليکتيک او عضوي او نه شليدونکې اړيکې لري او په دې تو ګـــــه يو وا حد کل تشکيلوي او بايد هرومرو يو له بل سره تطا بق او تناسب ولري ٠ په ادبياتو کې هنري محتوا د خيال د بيلا بيلو صورتو نو په ارتباط د فکرو نو اوعواطفو د بهير ا و سيلان پشکل د ژبې په واسطه بيا نيږ ي ٠ نو په غو څه تو ګه ويلى شو چې د ادبي توتې تا ثير د هغې په مجموعي او رنګا رنګ وحدت پورې تړ لي د ي ٠ محتوا د خپل شکل د تشکل له پاره په طبيعي تو ګه هڅه کوي او دا سې هم ويل کيږ ي چې د هرې محتوي له پاره يوا زې يو مناسب او غوره شکل موندلى شي ٠ ليکوال کو لى شي چې د افکا ر و بيښو احسا سا تو او عواطفو د څرګندولو له پاره د بيان داسې وسيلې پيدا او انتخاب ـ کړ ي چې په وضاحت سره يې افاده کړ ې شي اوپه لوستونکو با ندې مطلوب او هنري تاثير او يدل وغورځوي ٠

نو کره کتونکې د کار دا سانتيا په منظور لو مړ ي د ادبي اثرمحتوا څيړ ي يعنې پرهغه ټو لنيزجوهر با ندې خبرې کوي چې شکل يې موندلى د ي ٠ هغه اړيکې له يوې يا بلې

ټولنيزې پېښې سره او د هغه تأثير پر دغو پېښو باندې تثبيتوي او بيا شکل ته ورکوزي اوګوري چې خپلې دندې به د تأثير له نظره څومره تر سره کړې دي . نو له دې امله څوك د شکل له اهميت څخه سترګې نشي پټولاي او ادبي کره کتونکي بايد دې ټکي ته متوجه وي .

ادبي کره کتونکي د يو ټولنپوه حيثيت لري چې د علمي او مترقي ټولنپوهنې اساسات ضوابط او څېړندود د ادبي اثارو په څېړنه کې د يو ټولنيز محصول په توګه تطبيقوي .

زموږ د ګران هېواد د ادبيو هنې په څانګو کې ادبي تيوريسنان او د ادبي انتقاد د تګره او ماهر مسلکي متخصصان له بده مرغه ډېر کم دي .

کره کتونکي د نوې ټولنې د ادبي ودې او تکامل د بهير په کوندې يا توندې او په همدې توګه د ليکوالو او شاعرانو په روزلو کې او د ټولنې د ادبي ذوق او قضاوت د سطحې په لوړو لو کې لوی تاثير لري .

موږ مخکې وويل چې ادبيات د ژوندانه د واقعيتونو بيان دي . را څئ وګورو چې زموږ د ټولنې د ژوندانه واقعيتونه څنګه دي . دا په څرګنده توګه ويلاي شو چې زموږ د ټولنې ژوندون انقلابي دي او نور ټول واقعيتونه په همدې مرحله کې له همدې انقلابي ژوندانه را زېږيدلي او را زېږي . نو زموږ شاعران او ليکوالان او د شاعرانو او ليکوالانو روزونکي يعنې کره کتونکي هم بايد انقلابي وي . خو انقلابي ادبيات څه ته وايي زه دلته نشم کولاي چې د انقلابي ادبياتو ټول خصلتونه بيان کړم خو دومره وايم چې انقلابي ادبيات د هر انقلاب له هدف سره سمون او تطابق لري . زموږ د انقلاب هدف د نوې ټولنې جوړونه ده د دا سې نوې ټولنې جوړونه چې هم د ا خوورځې وړ و مېنې د افغانستان د خلك د دموكراتيك ګوند په سر تا سري كنفرانس كې د هغې تحقق منسوندلو له پاره (( د عمل برنامه )) تصويب شوه . که اوس يو انقلابي شاعر او ليکوال ونه شي کولاي چې د خپل چاپېريال د ټولو پېښو او پېښو ارتباط په عيني توګه احساس او بيان کړي انقلابي کېداي نه شي . خو دا زموږ د کلي يوه برخه ده . بله برخه يې دا ده چې زموږ د ژوندانه دغه انقلابي خصلت په دې توګه بيان کړي چې د نوې ټولنې د جوړولو له پاره په خپل چاپېريال باندې څومره تاثير وا چوي يعنې د انقلاب ضد واقعيتونو ته د انقلاب هدفونو ته د رسېدلو په منظور تغيير ورکړي . د ادبياتو تر ټولو لې دنده هم دغه سې دي يعنې په نوې ټولنې کې د ټولنې د ګټو او ښېګڼو د دښمنو او متضادو واقعيتونو سره هغوته د ټولنې

ACKU

د ټولنې د علماء تشبیهي شوونکو او ښیګنو د لاسته را وستلو له باره د تغییر ورکولو په نیت مبارزه ده . خو شاعر او لیکوال باید وپوهیږي چې د لته هم د ادبیا تو هنري اړخ — یعنې د هغو ښکلا پو هنیز اړخ په هیڅ تو ګه له نظره و نه غو رځوي او که یې وغو رځوي نو ادبیات په تیره بیا شعر د شعا ر شکل غو ره کوي او خپل هنري تا ٔ ثیر له لاسه ورکوي .

د ادبي کره کتنې معیا رو نه هم زموږ د انقلابي ټولنې په همدې خا صه مرحله کې زموږ د ټولنې د نوي جو ړ ښت د ضرو رتو نو پر بنا تثبیتیږي . له همدې امله ما د لته د ادبیا تو د دندو په باب عام مفا هیم کم څیړلي او د خپلې ټولنې د همدې خا صې مرحلې خصوصیتو نو ته مې ګو ته نیولې ده . نو زموږ د ادبي کره کتنې معیار به دا وي چې : هر هغه اثر چې زموږ د انقلاب په ګټه وي (( ښه )) دي او هر هغه اثر چې ورته تا وان ورسوي (( بد )) دي . دا یې د ټو لنیزي محتوا بر خه . د شکل په باب کې د ورو مبنۍ کلي بر بنا وا یو چې دغه محتوي دې حتماً ښکاره پو هنیز تا ثیر ولري او هنـــــري دې وي .

پوهنمل نورمحمد غمجن تمیل

# په پښتو ادبیاتو کې د ادبي تحولونو او تاریخي سیر

په دې څلورملیارد یزه نړیواله ټولنه کې اوسنۍ پرمختللې پوهنې او فنونه رامینځ ته شوي دي او ګېږ یږ به ، د دې ټولو پوهنو او فنونو پر بنسټ پوهې وسیله ژبه ده ، ژبه په رښتیا سره د ـ انساني ټولنو د مدنیت ګرځند ویه ده ، په همدې سبب له ډېرو پخوانیو وختونو څخه د ټولنیزو پوهنو او فنونو پوهانو دې خبرې ته پام کړی دی او په نړۍ کې د پرمختللیو او قومونو هوښیارانو او پرملوست لیک پوهو کسانو د خپلو خلکو د مادي او معنوي پانګو او فرهنګي ودې او پرمختګ لپاره ژبنې او ادبي خدمتونه په خپلو څېړنو او ګرویږنو کړي یدي او لاکوییږي .

اوس پښتو ژبه د نړۍ په څه زیاتو (۳۰۰۰) ژبو کې یوه ژوندۍ ژبه ده ، او د اسیا په زړه کې د تاریخي افغانستان د آریاني باختري ولې هغه ژبه ده چې ډېرې سترې تاریخي ، ادبي او فرهنګي پانګې لري .

د دې خبرې څرګند به هغو ګرانو څېړونکو او مینه والو ته هغه وخت وشي چې د وي په رښتیاني ډول د پښتو خوږ ژبې په ګړني ادب کې زوري علمي او هراړخیزې څېړنې وکړي یا و په لیکنې ادب یې هم ځانونه پوره خبر کړي .

ټولو انسانانو د خپل منظم طبیعت په پیروي په خپلو ژبو کې منظوم کلام ډېر پاللی دی ، د پخوا آریاییانو د اکارد ( ویدي ) ، ( اوستایي ) او نورو سرود ونوا ومتونو په استناد په خورا مینه ترسره کړي یدي حتی کمال ته یې رسولی دی .

پښتنو هم په خپله ژبه ( پښتو ) د نظم پاللنه په پوره ډول کړې ده ، د پښتو ژبې لنډۍ که په منظم او علمي ډول په ټولو موضوعاتو کې لږ ی په لږ ی را ټولې شي او هم د ( کاکړ وناري ) د ( لروتوناري ) د ( هوتکوناري ) او نورو څانځیري نارې ، بوللۍ ، بابولالۍ او نور په ملي او زانو منظوم کلامونه په غــور سره را ټول شي ، زه یقین لرم چې د هر یل آریایي قوم له منظومو متونو څخه به ډېر شي ، مخصوصاً حماسي لنډۍ به د اسې یو منکلې مجموعه جوړه کړي چې نه به د هند ( راما یانا ) د هغې مساوي

ACKU

وي او نه کوم بل حماسي اثر، او ټولې لنډۍ به د خوند، ګټې او موضوعاتو له مخې د ومره زیات شي چې حتیٰ د او پانیشادونو څخه به هم ډېرې شي، ځکه پښتانه هم په آریایي قومونو کې هغه توریالي او جنګیالي قوم اوښت دي چې د آسیا په دې برخه کې د تاریخ په بېلا بېلو — دورو کې د ټولنیزو شرایطو سره سم نه یوازې د خپلې خاورې ژبې او کلتور دفاع کړې ده بلکه د علمي او هنري کارونو په پاللوکې یې هم ډېره ونډه اخیستې ده.

زه نه غواړم چې له اصلي موضوع څخه لرې لاړ شم او که نه د پښتنو د ژوند، کلتور، ژبې او تاریخ په باره کې خبرې کول نه یوازې ضروري دي بلکه د هر افغان ملي دنده ده.

زما د مضمون آره موضوع (په پښتو ژبه کې د ادبي ټوټو ونډه) ده چې دا په یوه ژبه کې د کلام د نثري برخې جزء دی. خلکو ته دا اسې ښکاره شوې ده چې پښتو ژبې د نثر په برخه کې دومره وده نه ده کړې او په نظم کې یې ډېر پرمختګ کړی دی، دا په دې آریایي ژبو د عمومي خواصو او د انساني منظم طبیعت او د ځینو نورو عواملو په سبب صحیح خبره وي، مګر په پښتو ژبه کې نثر له نظم څخه هم ډېر پرمختګ کړی دی. او د نثري کلام د ومره ډېرې ډول ډول بېلګې د موضوعاتو او شکلونو له پلوه یې ورځ لې شوې دي چې د پښتو ژبې د نظم او د نورو ژبو د نثر او نظم په پرتله یې پوره وده کړې ده. (۱)

د دې خبرې ثبوت به هغه وخت یو لوستونکي څېړونکي ته ښه وښيي چې د وي د پښتو ژبې د ادبیاتو منظمه او سیستماتیکه مطالعه د پښتو د لومړنیو موندل شویو نظمي او نثري آثارو په لړ کې په علمي توګه پیل کړي، زه په دې برخه کې غواړم چې په مونوي طرز خپلې خبرې او مطالعات کړم، ځکه زما د تحصیلي او تدریسي (۱۵) کلونو په موده کې کومې لږ تجربې او څېړنې چې د پښتو ژبې د ادبیاتو په برخه کې تر لاسه شوې دي دا اسې معلومېږي چې په پښتو ژبه کې د نظم او نثر وده د افغاني ټولنې د مادي او معنوي شرایطو او د بېلا بېلو تاریخي دورو د اجتماعي او فکري ضرورتونو په مرسته کې باید دا اسې مطالعه شي چې په بلوغي، منځنۍ، نوې او معاصره یا اوسنۍ دوره کې نه یوازې د نظم او نثر پرمختګ او مقایسه ورځنۍ څرګنده شي، بلکه زموږ د اصلي موضوع یعنې (ادبي ټوټو) ونډه هم پکې له ورایه ښکاره شي.

څرنګه چې د دې موضوع د ومره ساده نه ده ما وموږ هم ورته په سرسري نظر نه ګورو، نو غواړم چې د ادبي ټوټو تاریخي ونډه او تکامل سیر په پښتو ادبیاتو کې څرګنده کړم، او هم د فورم له مخې وښایم چې ادبي ټوټه څه ډول نثري کلام دی او له هنري پلوه څه خوند و نظري او څه

---

(۱) — وګورئ د پښتو چاپي آثار د (   ) مضمون له (   ) څخه تر (   ) پورې کړا نمونه.

وخت (ادبي ټوټې) په پښتو ادب کې رواج شوې دي او د موضوعاتو له مخې څه ډول محتوي لري، خو تر ټولو مخه به د پښتو ادب په هغه تاريخي سير لږ او لنډ غږ وکړو چې د مشخصو تاريخي اجتماعي شرايطو په بنا او د افغاني خاص اقتصادي چاپيريال په بنيا د رامينځ ته شوي دي.

څرنګه چې د پښتو ادبياتو ليکني آثار د اسلامي دورې محصول دي او له اسلام څخه د مخه کوم مستقل ليکل شوي کتابونه يا رساله يې تر اوسه تر لاسه شوي نه دي نو مونږ هم مجبوراً خپلې اوسنۍ څيړنې له همدغو مستندو آثارو پيلوو.

يعنې که د افغاني ټولنې عمومي ژوند د اسلام له راتلو څخه ترننه پورې په نظر کې ونيسو او د ټولنيزو، اقتصادي او سياسي حالتونو په لحاظ يې ارزيابي کړو او د هغه په رڼا کې يې فرهنګي او کلتوري ژوند او خاصةً د ادبي مسايلو ده په ځانګړي ډول وڅيړو نو دا به څرګنده شي چې په ټولنيز لحاظ افغاني ټولنه د (فيوډالي، نيمه فيوډالي، ملوک الطوايفي او قبيلوي) اصولو او نورو داسې ټولنيزو وار يکولرونکې ټولنه وه او ده چې د يو ورو سته پاتې کثيرالمليتي ټولنې په توګه د بيلابيلو جغرافيايي سيمو، ژبنو ايزو ګلاسونو، ټولنيزو ګروپونو او متعدد د واتو ټولنګو پټيکي ډلو بد وي حالاتو د لرلو په نسبت د آسيا په دې ځانګړي سيمه کې يې ډېر انتيک موجوديت او خاصه بڼه غوره کړې ده، چې ادبيات يې حتماً د دغو ټولو ټولنيزو اړيکو او حالاتو نمايند ګي کوي او نظم او نثر يې د همدې شرايطو محصول دي او ټوله ادبي پانګه يې چې ليکنه ده او يو ګړ حتمي ده چې د همدې ټولنې د خلکو د ټولنيزو اړيکو همدې پېر په توګه وګورو.

په اقتصادي لحاظ د افغاني ټولنې په ادبياتو کې له درباري (چې پښتو ژبه او ادب په دې برخه کې له نيکه مرغه يا لمبده مرغه ډېره لږه ونډه لري او تل يې د درباري ځای او لس يا اللئ ده) د فيوډالي او خانخاني قدرت د کارګر لعجاو د ولاسو او پښو او ارماني ژوند، د پوونده له نا ارام حالت او د مزدورد حسرتونو د نيا او داسې نورې اقتصادي نيمګړتياوې په شکايت افسوس، انتقاد او فرياد سره په نظم او نثر کې په سمبوليکو او ريالستيکو بيلابيلو اواشکالو په شفاهي او فولکلوري ادبياتو يا د عوامو په ژبه او اند د ول (طرز تفکر) او هم په تحريري ادبياتو يا د لوستو ليک د خاوندانو په وينا وو کې داسې منعکس شوي دي چې د خپلې ټولنې د ژوند انسانه مادي او معنوي بڼه او بده بڼه ترې له ورايه ښکاري.

په سياسي لحاظ هم افغانستان د خپل مهم او ستراتيژيک جغرافيايي موقعيت په سبب چې د شمالي يا مرکزي آسيا او د مغربي آسيا او جنوب شرقي آسيا د تېرو سياسي او فرهنګي قدرتونو ترمينځ واقع و او دې نه يوازې د سترو سياسي او پښتو نونو او يد لونونو تاثيرات يې په

مستقیم او یا غیرمستقیم ډول لیدلي او یا منلي دي، بلکه تل یې په فکري او فرهنګي راکړې ورکړې وکې مهمه ونډه ترسره کړې ده او کوي یې؛ چې په دې برخه کې هم افغاني ټولنه د غوړېدو او خونولـه خوا د یوه مرکزي او ستر آسیايي او فرهنګي مرکز په توګه د پېړیو پېړیو او ډول ډول، ماتو او پرېوتو، خوږو او ترخو، غم او خوښیو شاهده ده، چې دا حالتونه او پېښې یې هم تل په دې آثارو او برخو کې ځای کړي دي او زموږ د ټولنې د تاریخ او کلتوري څېړنو حتی د مهمو مطالعو د برخې شمېرې جوړوي، ځکه افغاني ټولنه او په تېره بیا د دې ټولنې زحمتکشه اکثریت د دې ټولنې په تاریخ کې هغه هم په اسلامي دوره کې، نواحي د آمو او آباسین ترمنځ ترټولو لوړو خلکو ډېر مهم رول لري بلکه د کسپین د بحیرې او د فارس له خلیجه او د عرب له بحیرې بیا آن د بنګال د خلیج تروړشوګانو پورې اهمیت لري او دا خبره نه یوازې له سیاسي پلوه د اهمیت وړ ده، بلکه له فرهنګي اړخه هم د پوره پام او غور وړ ده. ځکه هغه فکري او فرهنګي ونډه چې د دغې سیمې په خلکو کې افغانانو لرلې ده حتی عربو هم نه ده لرلې. د دغه مسایل هم که ټول نه وي نو یو څه خو یې په پښتو ادبیاتو کې را- څرګند کړي یدي، مثلاً وګورئ: د پښتو ژبې د دغه خوږه لنډۍ، څومره جامع مطلب د یوې پښتنې ښځې له خولې څخه موږ ته افاده کوي او وایي:

۱_ (د هندوستان په میرو ورکــــه ترګل نــازکه یاره خدای به دې ساتینــــه)

یـــــا :

۲_ (آخر به وران شي پېښــوره د ننګرهار پېغلې بېرادر ته ګو یـــــــه) او

نورې که موږ یوازې په لومړۍ لنډۍ کې غور وکړو، اول خو د یوه افغان (پښتانه) ورتګ هندوستان ته (په هر لحاظ چې وي) خوځښت یا د غربیه لپاره تللی او یا د کوم فاتح په لښکرو کې شریک دی، خو اقتصادي اړخ یې له ورایه ښکاري، د دې ملګرې (ځکه دیار له کلیمې ښکاري چې د لنډۍ ویونکې یې یا میرمن ده یا انجـــل) په دې پوره لطیفه آرزو او تمنا له خدایه د ده د نازک تن او وجود ساتنه د هند له وچو او سوزنده میــرواو او ګونو، لمرونو او تورو کړو او ونو څخه غواړي، وګورئ څومره مطالب په دې کوچنۍ لنډۍ کې ځای شوي دي لکه:

۱_ هند ته د پښتنو ورتګ په هر ملحوظ چې وي.

۲_ له هند سره د پښتنو اړیکې هغه هم په اقتصادي لحاظ.

۳_ له هند سره د پښتنو اړیکې په سیاسي لحاظ.

٤_ د هند د جغرافیايي وضعې یاد ونه او د میرو یعنې د وچو شتو یاد بیله دې چې پخپله د غه لنډۍ ویونکې هلته تللې وي او یا د هند سیمې یې لیدلې وي (۱)

---

(۱) ـــ دا خبره باید ښکاره کړم چې (میرو) په منځنۍ هندکې د پېرې دینه په جنوبي یا شمالي هندکې.

ACKU

۵ـ د میرو پلیاد ونې سره د هند اقتصادي وضع هغه هم د او بود مشکلاتو او د زراعت د اصولو لارې او جارې ورڅخه څرګند پېژي چې د د ټپلنډ یکه د ویلو یه وخت کې په هندکې د اسې وچې د شتې او بېرېوې چې هلته په د یوچاړوند په خطرکې وو نو ځکه د ټپورته د سلامتۍ د عاکړ یده ۰
٦ـ د خپل ملګري او یار له تن سره د ټپمینه او محبت او د هغه د نازکړیا د ول ( ایاچې د اسې یُ به په رښتیا نازک او نازول واوکه د دې احساس به د االفاظ ظلي او استعمال کړیوي ، مګرزه یقین لرم چې د دې لنډۍ ویونکی به د پښتني ټولنې نورښکلي ځوانان حتماً لیدلي او اوریدلي وي چې د خپلو ښایسته بدنونو او نازکو تنونو سره د هند په وچو مېروکې پوره ربړ اوز یا رونه ګالي ځنو ځکه یې د تن او نازک وجود د سلامتۍ د عاکړ یده چې د لته نه یوا ځې د ښکلا یوه پرتلیزه څیړنه کیدای شي بلکه د پښتني ښځو غوښتنې او هیلې او د ذوق انعکاس لېوې لنډۍ څخه د لو رینې په ډول هم ښکاریدای شي چې په څومره ساده او خوا ږه تعبیر بې د ملګري د روغتیا او د خپل زړه د ارمان انځورېکې کړ یُدي ۰
۷ـ د دې ښځې پاکه عقیده او ګروهه پرخدای او دیو لوي قدرت څخه د دنیا او مال او توروشیانو پر ځای د خپل مین د روغتیا غوښتل پخپلیوه معمه خبره ده ۰
یاوګورې د نثر په برخه کې د دې کوچنې متل جامع اوله اهمیته ډک مطلب ته زیر شئ :
(خوار په هندوستان هم خوار) یا ( لاړمه تر بلخه راسره ومښبله برخه) یا (یاد ټپخ په کفن شه یادې سر په دګن شه ) او داسې نور ۰
د پښتو ژبې د ادبیاتو د څیړنې او پلټنې په برخه کې د وړاندینیو څیړونکو او پوهانو په برکت د خوشالخان خټک دغه ارمان چې :
یوه ورځ به پرې ناري وي د بلبلو داچې سازکړ نن خوشال په ویل باغ
په رښتیا سره ترسره شویدي او اوس پښتو ژبه او ادب کې د څیړونکو لپاره لارما واره ده چې تر خپله ټوله انرژي او هڅه په غور سره او په نوو علمي او انقلابي لارو او میتو د ونو د افغاني ټولنې د ادبیاتي او همو نکتو ته وروا ړوي او یوا ځې پښتو ژبه کې تیرو را تولو شو یومواد و ته لاس په زنې نه شي بلکه متې به وهي او د وخت او زمان د مترقي او انقلابي افکارو سره سم د موضوع او بنې له مخې په پښتو اونورو ادبیاتو کې علمي او ارزښتناک آوو ښتو نونه او بد لونونه رامینځ ته کړي ۰
په پښتو ژبه کې له لرغونې زمانې څخه د ولسي او ادبي بڼې د نظم او نثر په برخه کې رارواني دي :
۱ـ یوه برخه ګړنده ده چې هغه د نظم په برخه کی :(( لنډۍ ، ناري ، ټکه (کاکړ وناري) ، د

ACKU

مرو ټمو ناري ، د هوښکو ناري)) بابولالی ، بګتۍ ، چاربیتې ، داستانونه ، لوبې ... اونور . اود نثر په برخه کې :(( متلونه ،اصطلاح ګانې ، وجیزې ، معماګانې ،ټوکې ،لنډۍ اواوږ دې — کیسې ، کلابندي . . . . )) اونور .

۲ــ بله برخه لیکنیزه ده : چې د لوستو او لیکوال د خاوندانو ابتکارونه اوتقلید ونه دي چې په نظم اونثر کې یې خپل اشعار اوخبرې د خپل اقتصادي ژبیز ، ټولنیز او ربړیکو ،سیاسي موقف ، فکري انګیزو اوتاثیراتو او شخصي ذوقونو او فرهنګي اغیزو اوتمایلاتو په رڼا کې یې ټولنې ته وړاندې کړې دي په دې برخه کې زیاتر منظومونه او شعرونه مسجع او یا روان نثرونه د بېلابېلو تاریخي دورو ژبېز ندمدي چې د دغه مقاله یې د اوږ ده بحث حوصله نه لري ، خو همدومره وایم چې د نظم او شعر په برخه کې په ملي او عروضي اوزانو آثار رامینځ ته شوي دي او په ټولو کې د پښتو ژبې اصالت او خپل اجتماعي خاصیت تر زیاتې اندازې پورې ساتل شوی دی . یعنې په د مادي او معنوي ژوند له شرایطو سره سم پرېږي — ناڅرګندي اوڅرګندي ( لنډۍ ، ناري ، بابولالی ... ) اونور رامینځ ته شوي نو ( غزلې ،قصیدې ، مثنوي ، رباعي ، قطعات ،مخمس ،مسدس ،ترکیب بند ،ترجیع بند ... ) او نور نظمي او شعري بڼې په ډول ډول موضوعګانو کې هم رامینځ ته شوي دي او کېږي چې موږ د ی ر... بې ژبېز ندوتسه لب په هنري لحاظ زوړ شعري قالب وایو ،که څه هم د موضوع له پلوه به نوي وي ، خو په نوي شعري قالب کې د عروضي اشعارو له منحصر چارچوب څخه خلاص نظمونه او شعرونه هم و یل شوي دي او کېږي ؛ یعنې آزاد شعرونه او حتی په پښتو ژبه کې ( سپین شعرونه ) هم رامینځ ته شوي دي ، چې موږ یې اوس په دې برخه کې نه څېړو او غواړم چې خپلې اصلي موضوع ته نژدې شم .

همدارنګه د نثر په برخه کې هم په پښتو ژبه کې د بېلابېلو مادي او معنوي شرایطو او تاریخي جبري قوانینو او فرهنګي اړتیاوو او غوښتنو له مخې په ګړنۍ او لیکنۍ ادب کې ... پېر څرګند او ناڅرګند ( متلونه ، اصطلاحګانې ، وجیزې ، ټوکې او لطیفې ، تکلونه او کیسې ،معما ګانې او کلابندې ) او نور — نثري کلامونه اوخبرې رامینځ ته شوي دي .

خود اخبره باید په نظر کې ولرو چې څنګه چې د نظم او شعر قالب له زاړه اسلوب او لارې څخه د زمانې او فکري اړتیاوو او غوښتنو سره سم په نوي نظمي او شعري قالب او بڼه واووښت . د غسې په نثر کې هم پر بدلونونه او آوو بشتو نونه او نوي نوي بڼې په هنري ډول رامینځ ته شوې ځکه د اپخپله د ټولنې د حساسو او پوهو کسانو او استعداد ونو نده ده چې د دوي ټولنیز مفاهیم په یوه قالب اسلوب اوسبک نه قاعده کېږي ، هغه نوي کوي ، او یله بڼه او قالب ورته غوره کوي یا پید اکوي ، یا پخپله موضوع او سوژه د دې ایجاب کوي چې زوړ قالب او زاړه مورفیمونه ،کلمات ، جملات ،محاورات اصطلاحګانې او ترکیبونه په نوي ډول کړي او خپل ځان له زمانې ذوق او فکر سره سم کړي او نوي —

هنرتہ خپل کلام کې ځاي ورکړي او پښتو ادبي بڼه یې تولنې ته وړاندې کړي، مثلاً : وګورئ د پښتو ژبې د ادبي تاریخ په میلانیلو ورو کې په لنډه توګه نظر اچوو او خپلو خبرو اثبات کوو :

۱ـ د ادب پښتو ژبې په تاریخ کې یو ضرورت او ارتیا وه چې له دویمې هـ ق پیړۍ څخه تر زرمې هـ ق پیړۍ تر لومړۍ نیمایي پورې په نظم او نثر کې د هغې دورې لهٔ ضرور یاتو او غوښتنو سره سم نظمونه او نثرونه په ځانګړو جو لو او ښو کې بیلابیل موضوعات په روان نثر او ساده نظم او شعر افاده کړي، چې موږ یې ډیرې نمونې لرو چې ینه وال کولی شي چې له (۱۳۹ هـ ق)ـ څخه تر (۹۵۰ هـ ق) پورې د دې دورې د تولو آثارو په مرسته خپل مطلوب حل کړي .

۲ـ او البته دا هم نور تولنیز او فرهنګي ضرورتونه و چې په تاریخي لحاظ د زرمې هجري پیړۍ له دویمې نیمایي څخه بیا آن د دیارلسمې پیړۍ تر اوایلو پورې بیلابیل فکري مکتبونه او سبکونه پېچلي او روان نثرونه او نظمونه رامینځ ته شول او په دې دوره کې یعنې د ادبي تاریخ د اصطلاحاتو له مخې په (کلاسیکه یا منځنۍ) دوره کې لاندې بیلابیلې ادبي مرحلې له (۹۵۰ لیږ د ي څخه تر ۱۲۰۰ لمریز لیږ دي یا (۱۲۱۸) پورې د خپل وخت له شرایطو سره سمې رامینځ ته شوې دي :

الف ـ روښاني نهضت او د دوي فکري مکتب او ادبي سبک د روښان د کورنۍ او پیروانو په واسطه چې په مشکلې لحاظ عین سبک د دوي مخالفینو یعنې د آخون درویزه کورنۍ او پیروانو هم تعقیب کړ یدې مسجع نثرونه او پېچلي شعرونه یې ولیکل دي او د لرغونې دورې ساده ګي نه لري له (۹۵۰ لیږ دي څخه تر ۱۰۵۰) لیږ دي پورې په پښتو ادبیاتو کې د ملي زغورنې په مفکورو ولاړه مرحله خورا ډېر ارزښتونه لري .

ب ـ د خوشحال خان ختک نهضت او د مفکري او ادبي مکتب او سبک د ده د کورنۍ او نورو ـ معاصرینو له خواله (۱۰۵۰) لیږ دي څخه تر (۱۱۰۰) لیږ دي پورې چې په دې پیرکې د ـ خوشال په زحمت او کړ او نثر بیرته لکه د لرغونې دورې په څېر ساده او روان شو ، نظم او شعر هم له پېچلتیا څخه روانۍ ته را ووت چې د غه سبک د ناستو خوشال منورې کورنۍ او د دوي د نورو پیروانو په واسطه بشپړ شو .

ج ـ د هوتکو ملي نهضت او د دوي د ادب پالنې په نتیجه کې د محمد هوتک په واسطه پټه خزانه لیکل کېږي او د نظم او نثر تاریخي قدامت او لرغونتیا راژوندۍ کېږي چې د غه مرحله له (۱۱۰۰) یا (۱۱۱۹) لیږ دي څخه تر (۱۱۵۰) لیږ دي پورې یا تکل کولی شو .

د ـ د ابدالیو نهضت او د احمد شاهي عصر د افغاني قدرت د اوج دوره کې هم پښتو ژبې ته ډیر ادبي خدمتونه په خپله د احمد شاه بابا تولواکمن او څه نورد ده د دربار او وخت د پښتنو

ACKU

منورو ادیبانو اولیکوالو له (پیرمحمد کاکړ اونورو) پواسطه ترسره شول او د پښتو ژبې نظم اونثر په پوره اندازه ساده شو یو ډول هنري بڼه یې په بیلو بیلو موضوعاتو کې پلې کړه پیدا چې دا پړاو (مرحله) له (۱۱۵۰) لیږ دي څخه تر (۱۲۰۰) یا (۱۲۱۸) لیږ دي یا (۱۲۲۰) ـ لیږ دي پورې تعینوو.

۳ـ نوې دوره چې زموږ له (۱۲۰۰) لیږ دي یا (۱۲۱۸) یا (۱۲۲۰) لیږ دي څخه تر (۱۳۵۷ هـ، ش) پورې بولم، او د انګریزانو له لومړۍ حملې څخه پیل کیږي او غواړي چې د هند د انګریزي منافعو او ګټو ساتلو په غرض د نړیوال امپریالیستي تضادونو او رقابتونو د خطر د مخ نیولپاره د هند پرلور د دریوو سترو لارو (خیبر، ګومل او بولان) سوق الجیشي اهمیت او د افغانستان د ستراتیژیک موقعیت امتیازات ترلاسه کړي، او په همدې دلیل به ځان مرکزي اسیاته هم ورسوي مګر په دې طمع یې خوله د ګوړې پرځای له زقومو ډکه شوه، خو زمونږ د ګران هیواد او خلکو (اقتصادي، اجتماعي، سیاسي او د فرهنګي) ودې او پرمختګ جریان یې نه یوازې وځنډاوه او ګڼه موجب له ماتو سره مخامخ کړل نو بیا یې په انګریزي د سیسو له ډول ډول خنډونو سره مخامخ کړو او لاکوي موجب زمونږ د خلکو په مادي او معنوي ژوندکې یو ژور ګډ بدلون او اوښتون د انګریزانو له راتګ سره پیل شو او په هیواد کې د بریو او سوبو پرځای په هغه وخت کې د دفاع او له انګریزانو سره د جهاد تبلیغونه پیل شول او په افغاني غیوره روحیه او ځنځنه د حماسي ادبیاتو روحیه بیا راژوندۍ شوله، په دغه وخت کې د افغاني جامعې ټول (اقتصادي، سیاسي، اجتماعي، فکري او ادبي) کلاسیک سیر د غربي ـ نړۍ د یو سترغدار او قوي ځنبښا سره مخامخ شو، او د تاریخ نوې او داسې دوره پیل شوه چې (۸۰) کاله یې په جنګونو کې تیره شوه یعنې له (۱۲۱۸) لیږ دي څخه تر (۱۲۹۸) ـ لیږ دي پورې له انګریزانو سره یوه د اتیاکلنې جنګ او مبارزې موده ده، چې په دې موده کې ډیر حماسي او رزمي اشعار رامینځ ته شول، او اقتصادي ځغښارونو او ستونزو، سیاسي کړکیچونو او ماتو ګوډو زمونږ د هیواد ټولنیزه او فکري بڼه او روحیه واړوله، او د غربي مدنیت اثار چې د هند له لارې د اقتصاد، سیاست فرهنګ او کلتور، ادب او هنر په برخو کې د هند پراخې وچې ته یعنې زمونږ د هیواد ختیزو پولو ته رارسیدلي وو، ورو ورو زمونږ خلک ورسره اشنا شول او د غربیانو پخو موادو او کالیو راکړې ورکړې له خامو یا اومو موادو سره لږ او ډیر پیل شول د مطبعو او چاپخانو راتګ، د کتابونو، اخبارونو او رسالو او مجلو چاپیدل پیدا شول. تجارتي لارې او بازارونو زمونږ په ټولنو کې ګړندیتوب وموند، موټرې او نور ماشینونه د اوسپنې ـ لارې، الوتکې او نور تخنیکي او جنګي عصري وسایل رامینځ ته شول، د تعلیم او تربیې نوې ـ

سیستم زمونږ هیواد ته هم راورسید ، اداري مسایل او بنځې لږ او ډېر نوي شول ، که څه هم خلک له انګرېزانو سره په جنګو نوکې وو . مګر کلتوري او فرهنګي نفوذ یو ډول غیر مرئي او یا د انساني ضرور یاتو او اړتیاوو پواسطه د همغه وخت له شرایطو سره سم پر افغاني ټولنه د غربیانو د نیم سیاسي تسلط پواسطه غربي علوم او فنون د لوستو ولیک په برخه کې راداخل شول او د پښتو ژبې په نظم او نثر کې هم پوره نوي بدلونونه او آوښتونونه د موضوع او بڼې له پلوه راپیدا شول چې دغه بدلونونه زیاتره په نثر کې ډېر لید لکیږي یعنې د غربي ادبیاتو په پېښو د پښتو ژبې په نثر کې (ډرامې ، لنډ او اوږده داستانونه ، رومانونه ، ناولونه ، ادبي ټوټې ، دیالوګونه ، مناثرې) او د هنري نثرونو نورې بڼې رانښوتې ، چې دغه ادبي مسایل د افغانستان د سیاسي خپلواکۍ په اخیستو سره نور هم ګړندي شول یعنې د نوې دورې په دویم پړاو کې له (۱۲۹۸) لیږ دي څخه تر (۱۳۰۸) لیږ دي پورې چې د غازي امان الله خان دوره ده په پښتو ژبه کې د نظم او نثر وده نه پیل شوه ، چې بیا هم زمونږ د هیواد د تاریخي دښمنانو پواسطه د (نهو) میاشتو لپاره ډېره ناوړه وقفه د سقاو قوې پواسطه رامینځ ته شوه چې دغه د شوګمارۍ او داړه مارۍ دوره هم تیره شوه ، خو بیا هم د نادر د کورنۍ په اوږده دوره کې ترنیمې پیړۍ پورې زمونږ ګران هېواد ډېر ساکن او وروسته پاتې وساتل شو چې دغه نیمه پیړۍ هم درې برخې لري لکه :

۱ـ د نادر د کورنۍ د سلطنتي استبداد او زورزیاتي دوره : له (۱۳۰۹ هـ ش څخه تر ۱۳۴۲ هـ شمسي) پورې .

۲ـ د ظاهرخان د تش په نامه دیموکراسۍ دوره : له (۱۳۴۲ هـ ش څخه تر ۱۳۵۲ هـ ش) پورې .

۳ـ د داؤد خان د تش په نامه جمهورۍ دوره : له (۱۳۵۲ هـ ش څخه تر ۱۳۵۷ هـ ش) پورې .

چې په دې هرپړاو کې د پښتو ادبیاتو بیلابیل فکري او ادبي پړاوونه تېر شوي دي یعنې په لومړي پړاو کې د مشروطه غوښتونکو ورپسې د ویښو ځلمیانو نهضت پیل شو ، چې ورو ورو یې وده وکړه او د پښتو ژبې ادیبانو ، مفکرینو او پوهو لیکوالانو هسته یې په نظم او نثر کې په نوې بڼه ایجاد کړه .

۴ـ معاصره یا اوسنۍ دوره له ۱۳۵۷ هـ ش څخه ترننه پورې چې د ثور انقلاب په ترسره کیدو سره په افغانستان کې واقعي وګړنۍ نظام ټینګ شو او بنسټ یا دې اوو ښتونو نه او بدلونونه په اقتصادي ، سیاسي ، اجتماعي او فرهنګي برخو په تولو مادي او معنوي اړخونو کې د خلکو په ګټه رامینځ ته شول ، او زمونږ د ادبیاتو په نظم او نثر کې د موضوع او شکل له مخې علمي او انقلابي آوو ښتو نونه او بدلونو نه د تاریخ له غوښتنو سره سم رامینځ ته شول .

اوس نو مونږ د نوې دورې له پیل څخه ترننه پورې په افغاني ټولنه کې د پښتو ژبې د ـ



ACKU

ادبیاتو د نظم او نثر بشپړتیا یې ووده په علمي توګه څېړو او په هغه کې په ځانګړي ډول سره د ( ادبي تړتو ) ونډه او ووده ګورو .

ما دمخه عرض کړل چې د پښتو ادبیاتو په نوې دوره کې د زمانې له غوښتنو سره سم د عمومي فرهنګ او کلتورپه تړ لو برخوکې په تیره د ادبیاتو او هغه هم د پښتو ژبې په هنري ادبیاتو کې نوې لارې په ابتکاري او تقلید ي ډول رامینځ ته شوې ، د خلکو د سیاسي شعور د لوړېد و په خاطر ، د ملي ازادۍ بخښوونکي نهضتا و د ملي ژغورتیا او خپلواکۍ لپاره که مسلحانه جګړې په سر و ډګر ونو کې روانه وه او د ډرې پلا یې انګیزانو ته ماتې ورکړه ، د غسې د قلم او فکر خاوندانو د عصري علومو او فنونو په استفاده په ژبه او ادب کې هم لوي لوی بڼکارونه وکړل ، انتقادي موضوعات ، شکایتونه او افسوس حماسي او جنګي نظمونه او نثرونه په اشاري ، کنایي او مستقیم ډول وینا وې ، خطابې ، او مقالې ولیکلې او وویلې شوې ، تراژیدي یا د بیاتو هم د حماسي ادبیاتو ترڅنګ وده وکړه ، عشقي او کمیدي برخې ، هم ساکتې نه وې او د ذوق خاوندانو یکې استعدادونه وازمایل .

که څه هم انګریزي استعمار چیانو او نورو ډېرکوششونه د خپلوتالي ختو او جاسوسانو او منشیانو او د رااستول شویو ختیز پوهانو په واسطه ډېرې و سیسې او لارې چارې وسنجولې چې د پښتنو لیکوالو او څېړونکو د فکرمسیر له واقعیتونو څخه خرافاتو ، روا یتي ، عنعنې او افسانې برخوته را وا ړوي او له ریالیستیکو برخو یې لرې وساتي مګرحق په خپله ځای ونیسي او پښتنو لیکوالو او سترګورو ډېر زور خپله د ملي ژغورتې لاره په ادبي برخه کې هم پیدا کړه ، د کابل شمس النهار او سراج الاخبار جریدې که مصادره هم شوې او بیا له کمپنۍ نشرېدلې خو اصلي لیکوالان یې د لته پاتې وو ، د یوسید اجمال الدین افغان شرلکید ل په هیواد کې ډېر نور راپیدا کړل چې د امیرشیرعلیخان د دورې کسات یې د امیرحبیب الله خان په د وره کې پوره واخیستې او د اد همغو لیکوالانو د فکربرکت وچې په سراج الاخبار کې د فکري ودې او سیاسي مسایلو او د هنري ادبیاتو اولیکنو مسئولین وو ، د مشروطه خواهی نهضت ته فکري میلان او د منورو افغانانو ، خصوصي ، علمي ، ادبي ، او سیاسي ټولې او مجلسونه د افغانستان له سیاسي خپلواکۍ سره ملګري وو .

د دغو ټو لو لیکوالانو او د فکر له خاوندانو څخه یو هم (د پښتو ژبې پیاوړي لیکوال او شاعر او مفکر ) غلام محی الدین افغان و ، دا په رښتیا سره د همدغو پیاوړو افغاني لیکوالو برکت و چې پښتو ژبه اوس په رنګارنګ موضوعاتو کې په بیلابیلو بڼو د نظم او نثر او شعر په ممدوحو کتابونه لري او مونږ د پښتو ژبې په ټولو هنري ادبیاتو کې د ( ادبي تړتو ونډه ) څېړو :

ادبي ټوټه: ادبي ټوټه په ژبه کې هغه خوږ نثري کلام ته وايي چې په ډېرو باريکو اوخوندوروا ولندو الفاظو کې جامع مطالب ځرګند وي ، يعنې د ويناطرز يې خورا ښکلئ او — هنري بڼه او ترکيب لري ، ادبي ټوټه ډېره اوږده نه وي او هره ول مطالب پکې راتلاي شي .

دادبي ټوټو بل نوم ( هنري ټوټې ، يا هنري لنډ نثر ) هم کېداي شي .

ادبي ټوټې د هنري کلام يا ادبياتو د موضوعاتو له مخې په (( EPPOSE )) ليکنو کې نثري برخه جوړ وي ، چې له ( داستان ، رمان اوناول ) ځخه يې نمواخې اوږ دوالی لږ وي — بلکه د هغو شيانو ، افرادو او قهرمانانو په پاره کې يا د موضوع په باره کې چې خبرې کېږي هم تعداد اوهم يې پېچلتيا لږه وي او ډېر مستقيم او نېغ په نېغ اړيکې ورسره لري او واقعي جنبه يې له خيالي ځخه ډېره وي . (١)

د ځينو پوهانو په نظر ادبي ټوټې ، عشقي ، بزمي او طنزي مطالب هم ځېږي ، ځکه پــه داسې موضوعاتو کې ادبي ټوټې ډېرې خوږې وي او مطالب يې هم په زړه پورې وي ، چې زه دا — ســې ادبي ټوټو ته دعشقي يا (( Liric )) ليکنو دنثر يا (( Prose )) برخـــه وايم .

مګر ځينو نورو پوهانو په نظر هره ول مطالب ګولئ شي چې په ادبي ټوټو کې راشي ، پـه دې شرط چې دافادې بڼه يې خوږه ، لنډه او جامعه وي او هنري ارزښت ولري .

په پښتو ژبه کې د دغه هنري نثري کلام ( ادبي ټوټې ) ځرګ د شلمې پېړۍ له اوايلـــو ځخه راپه دې خوا پيل شوي دي چې د همدې پېړۍ په نيمايي کې يې ډېره وده کړې ده ، او د پښتو ژبې له ليکوالانو ځخه ډېرو يا اوږ وادېبانو او د هنري نثر مينانو په دې برخه کې ځانونه ازمايلــي دي او مونږ ته يې په زړه پورې آثار پرېښي دي ، چې زه به پرې وروسته لنډه نظر واچوم .

او س ځکه له دې چې د ځينو پښتني ليکوالو او د هغوي پر ادبي ټوټو وغږېږم ، لازمه او — مناسبه وينم چې پخپله د هنري ادبياتو په باره کې او د هغې په ترڅ کې په ( ادبي ټوټه ) پــــه تار يخــي اوشکلي لحاظ يوڅو خبرې وکړم .

---

(١) — له خيالي ځخه مې د منځنيو پېړيو خيالي اوچ تخيل مراد نه دي بلکه د پښتو ادبياتــو په نوې دوره کې د نوي فکر هغه تخيل مراد دي چې په ټولنه کې حتماً په يوه ول د ولونو په مادي يا معنوي برخو کې موجود وي او د هغه واقعي انعکاس د ليکوال په فکر هم موجود وي يا وهغه يې د خوند اونېه د رګ په خاطر په هنري ول رنګ ورکوي .

په دې خبره مونږ ټول پوهیږو چې په هر مملکت کې ادبیات د افادې او بیان له مخې په دوه ډوله وي :

۱ـ هغه ادبیات چې په هنري ډول د لوستو ولیکو د خاوندانو او د ادب د پوهانو او نورو منورو پواسطه په مسلکي ډول ټولنې ته وړاندې کیږي یعنې ( لیکني ادبیات ) .

۲ـ هغه ادبیات چې د خلکو پواسطه په فولکلوري او عنعنوي ډول د عوامو پواسطه رامینځ ته کیږي یعنې ګړنی ادبیات .

زه په دغو دواړو ادبي ډولونو کې د ټولنیز ارزښت له مخې خبرې نه کوم ، ځکه په دواړو کې به داسې نثري او شعري کلامونه وي چې یواځې د ادب لپاره وي او یا د ژوند لپاره او یا به یوه کې د ادب برخه قوي وي او په بل کې ضعیفه او یا برعکس ، په شکلي او معنوي پرتله یې هم زه نه غږیږم ، زما مطلب اصلاً په دې دوو ادبي افادو کې په هنري افاده کې دی چې د زمانې له ایجاباتو سره سم د کیفیتونو د انعام او تفهیم لپاره د شلمې پېړۍ په سر کې په افغاني ادبیاتو کې د هنري ادبیاتو نوې بڼې رامنځته ، او س نو غواړم چې و بنیم د غه هنري ادبیات کوم دي او څه وخت په پښتو ژبه کې رواج شول او اوس یې په پښتو ادب کې د ریخ څه ډول دی او د هغوی له جملې څخه په پښتو ادبیاتو کې د ( ادبي ټوټو ) ونډه څه ډول وه او ده ؟

مونږ په هنري ادبیاتو کې د ریسټري ډول لرو :

۱ـ EPPOSE : چې په دې لړ هنري ادبیاتو کې د نثري لیکنو (داستان ، رمان ناول او ادبي ټوټه ) راځي .

۲ـ Lirics : چې په دې لړ هنري لیکنو کې د عشق و ینا وو او بزمیاتو ټولې نمونې راتلای شي .

۳ـ Drama : چې د هنري ادبیاتو په دې برخه کې ( tragedy ) او ( Comedy ) لیکنې راځي .

مونږ په شوق کې په عام ډول او په افغانستان کې په خاص ډول ، له دې ډول ادبیاتو څخه انکار نه کوو ځکه که په تاریخي لحاظ په ختیز کې له اساطیري ادبیاتو هغه هم له ( ویدیاو اوستایي ) او نورو تاریخي فولکلورونو څخه د دقیقه علمي څېړنې پیل کړو او یا په پښتو او دري ، پشه یي بلوچي او یا نورو لرغونو آریایي ژبو کې لټه وکوو د پورتنیو ادبي فورمونو بڼې مونږ لاس کیږي ، خو خبره دلته ده چې د هنري ادبیاتو هم دغه پورتني ذکر شوي بڼې او فورمونه له نوي محتوي سره د شلمې پېړۍ په اوایلو کې له لومړي نړیوال جنګ څخه وروسته د نړۍ د اقتصادي ، اجتماعي ، سیاسي او فرهنګي بدلونونو او آووښتونونو په نتیجه کې په اصطلاح

ACKU

له اروپايي تمدن سره ختيز ته مخه وکړه او داسې وانګېرل شوه چې په اروپا کې د رنسانس له پيل کېدو څخه وروسته د (يونان او روم) لرغوني فرهنګ ته په مادي او معنوي ساحو کې نوی اصلاحي رنګ ورکړل شو او د تخنيکي او صنعتي اروپا په واسطه نوی ژوند ورو بخښل شو چې په مرور د زمان سره يې ټولې نړۍ ته د پرمختللې اروپا د سوغات په توګه د نورو مادي او معنوي شيانو په لړ کې (هنري ادبيات) هم ورکړل.

دا خبره په ډېره درسته وي يا لږ، خو همدومره ويلی شم چې په ګران هيواد افغانستان کې د افغاني ټولنې له اړتيا او اوغوښتنو سره سم د لومړۍ نړۍ يوال جنګ څخه وروسته افغاني ادبياتو او په ځانګړي ډول په (پښتو او دري) کې پوره بدلون راغی او په تېره د پښتو ژبې د شعر او نظم په برخه کې په زاړه قالب کې ډېر نوي راز راز مطالب ورېل شول، او د نثر په برخه کې هم په لړه او بره پښتونخوا کې (اوږده او لنډ داستانونه، رمانونه، ناولونه، عشقي او بزمي کيسې، تراژيدي او کميدي ډرامونه، حماسي کيسې او انشاهي او اصلاحي کيسې، راز راز ادبي ټوټې) د ټولنې د اصلاح او د نوي هنري ادبي ټګ لارې د پرانيستلو په توګه رواج شول.

چې په دې ليکنو کې د خپل وخت د ټولنې اقتصادي، اجتماعي، سياسي او فرهنګي ژوند د تطبيقي او عملي خوا په نظر کې نيولو سره هنري ادبيات هم ځينې ابتکاري او ځينې نورې تقليدي او جعلي تړاو ارخونه لري.

همدا رنګه د وخت د سياستو نوا او قدرتونو په نظر کې نيولو سره د نثر او شعر بڼه هم په افغانستان کې هغه هم د شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د اسې لهجې غوره کړې ده چې د افادې په لحاظ کله د شکايت او انتقاد بڼه لري او کله بيا هم د نصيحت او اصلاح لپاره ويل شوې ده او کله کله په مستقيم ډول او ښکاره توګه ميدان ته راوتلې ده، خو دومره ويلی شم چې له سمبوليک اړخ څخه يې واقعي او ريا لستيکه خوا ډېره قوي او په زړه پورې ده.

مګر دغه خبره په رښتيا سره هم د اهميت وړ ده چې له لومړۍ نړيوالې جګړې څخه وروسته په افغانستان کې د کلاسيکې دورې د ادبياتو پرخلاف (نثر) له (نظم) څخه ډېره وده کړې ده او په نثر کې (نوی نثر) يا (هنري نثر) د (نوي شعر) په تناسب او پرتله په پښتو ژبه کې ډېره وده کړې ده حتی ويلی شو چې د نوي شعر ځای (ادبي ټوټو) نيولی دی او د هنري نثر او په ځانګړې توګه د (ادبي ټوټو) ژوند د شلمې ميلادي پېړۍ د دويمې نيمايي تر نيمايي او يا د دويمې نيمايي تر لومړي يوکلونو پورې په دريو برخو ويشلی شو:

۱ــ د ادبي ټوټو پيل د لومړۍ نړيوالې جګړې او د دويمې نړيوالې جګړې ترمنځ په پښتو ادبياتو کې.

۲ـ د ادبي تونو د قوت او پرمختګ دوره له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته .

۳ـ د ادبي تونو د خورېدا دوره او د نوي شعر د پرمختګ دوره مخصوصاً د شلمې پېړۍ د دویمې نیمايي په دویمه برخه یا په څلورمه ربع کې .

اوس په دې دریوارو مرحلو کې د ادبي تونو سیر او تکامل په پښتو ادبیاتو کې په تقریبي ډول ګورو او هڅه کوو چې د ځینو مهمو تونو په اړه لوسره د خپلو خبرو اثبات وکړو .

۱ـ له (۱۳۰۰ هـ . ش) څخه تر (۱۳۲۰ هـ . ش) پورې یا په بل عبارت او په لنډو ټکو سره له (۱۳۴۰ هـ . ق) څخه تر (۱۳۶۰ هـ . ق) پورې ـ یا له تأسیسه د (مرکه د پښتو) د (۱۹۱۹ ـ ۱۹۲۰ م) څخه تر (۱۹۴۳ م) د پښتو ټولنې تر تأسیسه پورې یا په بل عبارت د دوو نړیوالو ـ جګړو ترمینځ موده کې ، د ادبي تونو د نوې دورې او پیل دوره وه چې په دې وخت کې په افغانستان کې د (مشروطه خواهانو د اسلام د جان نثارانو ، اخوان افغان) او نورو افغاني منورو کسانو او ـ ډلو له خوا په ګران هېواد افغانستان کې د عمومي فکري او سیاسي ژوند د ژور بدلون لپاره ـ مټې بډ وهلې وې د سیاسي خپلواکۍ په اخیستو سره د خلکو عظیم ارمان ترسره شو او د وېروحي خجالت او د ملي شرم او مغلوب حالت څخه راوتل مرژواندي ساه ، تازه او قوي کړه ، د افغاني ـ لیکوالو او ادیبانو د (سراج الاخبار محتاط او محافظه کاره ژبه لوخه ، تېره او آزاده شوه او د (مرکه د پښتو) د انجمن په تأسیس سره د پښتو ژبې د منثورو او منظوم کلام لیکوالان نور هم غښتلي او ګړندي شول ، او سرهو نه یوازې د حبیبیې د مکتب پښتو ژبې لومړنۍ ، ښوونکي مولوي صالح محمد خان کندهاري او یا د سراج الاخبار پښتو ادیبانو ، بېرنور منور پښتانه روزلي وو بلکه پښتو ـ د ملي او رسمي ژبې په توګه تبارز وکړ ، د غلام محي الدین افغان منثورو او منظوم کلام او سوا م ـ شوی وا و ډېر غښتلي پښتانه لیکوالان یې په پښتو ژبه کې روزلي وو او په خلکو کې د وطن مینه یې ره ـ پارېدلې وه لکه چې غلام محي الدین افغان په یو شعر کې وایي :

زړه زما ګډ دئ له (بنې) مینې د وطن — خپل وطن ما ته عزیز دئ تر خپل تن
هر یو ګل مې د وطن پېر ما ډېر ګران دئ — تر کشمیره تر پاریسه تر لندن

چې د چا په سر سودا د وطن نه وي — سر د ده دئ مستحق د بریدن
چا په زړه کې چې جنون د وطن نه وي — هغه زړه دې خدای همیش لري غمجن
که څوک یرد یې په جهان کې عزتونه — ډېر عزت دئ په خدمت کې د وطن (۱)

سراج الاخبار (۱۳۳۳ هـ . ق) .

---

(۱) پښتانه شعراء ، دریم ټوک ، د (۹۰۷) مخ او (۹۰۸) مخ ضمیمه ، کال ۱۳۴۲ هـ . ش پښتو ټولنه کابل .

د انګرېزانو د لويې امپراتورۍ د بې چېمه قدرت او طاقت له ماتولو سره په تړلو لو نړۍ کې د افغانانو نوم د ټولو مظلومو او وطنپرستانو او د زورزياتي د مخالفينو او د حق د پلويانو له خوا په ډېر احترام يادېده ، د پښتو ژبې په ليکوالو کې د کاميابۍ او بريښنويې روح د دوي ژ بسې له د دويتوري تيري کړې او په لره او بره پښتو نخوا کې د آموا او آباسين ترمينځ او د هند په نيمه وچه کې د (خان ، پټهان ، پښتون او افغان ) نوم د منځنيو پېړيو د ( وفا ، توري ، همت او غيرت ) د صفاتو نوم او نښان نور هم قوي کړ او په پښتو ادبياتو کې له سياسي خپلواکۍ سره د نظم او نثر په برخه کې د موضوع او بڼې له مخې ډېر ښه هنري ادبيات او آثار رامينځ ته شول .

که څه هم په لره پښتو نخوا کې انګريزي استعمار په تندۍ سره د برتانوي هند د واکمنو له خوا په پښتنو تپل کېده او تحميلېده ، مګر د افغاني دولت خپلواکي او فکري قوت نه يوازې د هغه وخت د برتانيې هند د پښتنو او نورو مسلمانانو او هندوانو او نورو خلکو د آزادۍ او خپلواکۍ روحيه ژوندۍ کړه ، بلکه افغانستان او په ځانګړې توګه (کابل ) د ټينو هند د علمي ژغورونکو د پناه ځای هم شو ، په همدې دليل په پښتو ادبياتو کې ، په قوي روحيه هنري ادبيات رامينځ ته شول او د هغه په نثرکې ډېره ښه نمونه په ادبي ټوټو کې (د ډاکتر عبدالرحمن کاکړ) ليکنه په (۱۳۱۳) هـ ، ش کې په کوټه کې د ( پښتانه خويونه ) يو کتاب دی (۱) .

د تاريخ په دې حساسه مرحله ورپېښه کې چې د اماني نهضت او د وطن د خپلواکۍ په خوښه راروان وو د سقاو د زوي د (۹) مياشتني تيارې د وړپېښې د نادريکورنۍ د نيمې پېړۍ کم اوږده واکمني پيل کېږي ، او د وطن منورا او د رانه فکرخاوندان بيا لکه ( ويښ زلميان ) د وخت او زمان له غوښتنو سره سم د نويو او نورو ټولنيزو حقوقو او آزاديو لپاره په افغاني ټولنه کې يو بل ګام پورته کوي او د خپل فکرغوښتنې بيا په خپلو ژبو خاصه په پښتو او دريکې د وخت د قدرت او واکمنو په مقابل کې په خپلو ليکنو کې مستقيم او غيرمستقيم وړاندې کوي ، له مرګ ، بند او هيڅ ډول جزاوو څخه نه ډارېږي اوس د دوي شمېر پوره ډېر شوی وو ، په پټه او ښکاره يې د خپلو اجتماعي حقوقو غوښتنه کوله او د نړيوال مترقي فکر له جريان سره يې خپل غږ او آواز جوړ ، پورته کاوه ، سرله دې چې ټولنيزې د امپرياليزم او د غربي استعمار يو بل لوی جنګ ترو پورې لاندې راروانه وه ، مګر د شوروي اتحاد د اکتوبر د سترسوسياليستي انقلاب په عظيم فکري لاندې راروانه وه . مګر د شوروي اتحاد د اکتوبر –

---

(۱) – وګورئ – پښتو پانګه (۲) ټوک (۴۷۰) مخ . د حبيب الله رفيع تاليف پښتو ټولنه کابل ، کال (۱۳۵۶) هـ . ش .



ACKU

د ستر سوسیالیستي انقلاب په عظیم فکري او سیاسي تاثیر د ټولې نړۍ زحمتکشه اولسونه بیدار کړي وو او په ټولو هیوادونو کې روښانفکران او مظلوم انسانان د داخلي استبداد ونو او د ښکېلاک او ځبېښاک دنړیوال سیستم په مقابل کې خپل پوه والي ته ځان جوړاوه اود (نړۍ کارګرانو سره یوشئ) سور شعار د دوی د فکرونو او د ټولنیزو آزادیو د لارې سور چراغ وو. په پښتو ژبه کې پښتنو او پیاوړو لیکوالو هم دنړیوال مترقي نهضت اوفکر د تاثیر په پلوشو کې ځانونه لرینه وو پرېښي او پخپلو هنري او اجتماعي لیکنو کې یې خپلو خلکو ته نه یوازې د سیاسي شعور د رسوو کار اوه بلکه د وي یې پخپلو خوز و نشري ادبي تونو په (اجتماعي، انتقادي، اصلاحي او انتباهي) د رسونو ښځ په ښېغه یوه ګول او ښکلي ادبي اثار یې رامینځ ته کول چې په افغاني ادبي تاریخ کې نه ورکېدونکي آثار دي.

۲ـ له (۱۳۲۰ هـ ش) څخه تر (۱۳۴۰ هـ ش) یا ۱۳۴۲ هـ ش) پورې یا په لېږتو پیر سره له (۱۳۶۰ هـ ق) څخه تر (۱۳۸۰ هـ ق) پورې یعنې له (۱۹۴۳م) څخه تر (۶۳ـ۱۹۶۴)م پورې.

د پښتو ادبیاتو په نوې دوره کې دغه مرحله یا پړاو خوراغښتلې مرحله ده ځکه په لره او بره پښتونخوا کې یعنې په آزاد افغانستان کې (ویښ زلمیان) د ټولنیزو حقوقو لپاره په تیروژ بو او قلمونو د یو ګوزارونه کوی او په لره یا محکومه پښتونخواکې (خدایي خدمتګاران) د روښان پیر او خوشحال خان خټک د ملي ژغورنې پرګنده د خپلواکۍ لپاره جنګېږي او د پښتو ژبې ادبیات د (۱۴ هـ ش) پیړۍ په دریمه لسیزه کې په نظم اونثر کې د موضوع او بڼې له مخې ډېر ښه پرمختګ کوي او په تیره بیا نثر او په نثر کې (ادبي توټې) خورا ډېره وده کوي ځکه د همدې پیړۍ په همدې کلونو کې په افغانستان کې ډېرې مهمې ملي او ولسي جریدې مینځ ته راغلې لکه:

ا ـ انګار: د تاسیس کال د حوت (۹) ـ ۱۳۲۹ هـ ش (علمي، ادبي، اجتماعي سیاسي او ملي) جریده ده چې مرحوم فیض محمد (انګار) یې موسس د امتیاز خاوند او مسئول مدیر و.

۲ـ نداء خلق: د تاسیس کال :(۱۲) د حمل یا وري (۱۳۳۰) هـ ش چې (ملي، ادبي، سیاسي او اجتماعي) جریده وه. د امتیاز خاوند یې دوکتور عبدالرحمن محمودي او مسئول مدیر یې انجنیر ولي محمد عطایي و.

۳ـ ولس: د تاسیس کال ـ (۱۳۳۰) هـ ش چې (ادبي، سیاسي او اجتماعي) جریده وه. د امتیاز خاوند یې ـ ګل پاچا الفت، مسئول مدیر یې ـ علي محمد شینواري و.



ACKU

٤ـ وطـــن: د تاسیس کال ـ (۱۳۳۰) هـ ش (ادبي، سیاسي او اجتماعي) جریده وه. د امتیاز خاوند یې ـ میرغلام محمد (غبار) مسئول مدیر یې ـ میرمحمد صدیق فرهنګ و. (۱)

زما په نظر د نوې دورې د دغه مرحلې په حقیقت کې د ادبي ټوټو د پراوج او قوت دوره ده ځکه چه هم په دې وخت کې پښتو ټولنه هم په افغانستان کې د پښتو ژبې د علمي او فکري پرمختګ لپاره د پښتو ژبې او ادبیاتو د لیکوالانو لپاره په خدمت بوخته وه، مګر د پورتنیو ـ جریدو لیکنې په ملي او مترقي روحیه ولاړې او انتقادي، اصلاحي او سیاسي اړخ یې لا پرفوي و. او لا پرې بنې بنې نثري نمونې په تیره (ادبي ټوټې) یې نشرولې د دې جریدو د ادبي فعالیت ونډه په نظم او نثر کې هیڅ ځوک نه شي هیرولی، زمونږ په ځوړو برخو (نظم، شعر او نورو نثري لیکنو) او س نه غږیږم او یواځې په نثر کې پر ادبي ټوټو په مشخصه او ټاکلې دوره چې (د ویښ زلمیان) د نهضت ستره برخه جوړ وي خبرې کوم، رښتیا هم د دې دورې ادبي ټوټې په موضوع او بڼه کې په نوې رنګ وې او د نوي شعر ځای یې نیولی دی، د ادبي ټوټې، د ادبي ټوټو لیکوالانو مشعرونه هم لري مګر قالب یې زوړ دی (که څه هم معنا یې نوې ده) خو ادبي ټوټې لا پرسه بڼه او راز راز مطالب په خوږ قالب کې ټولنې ته وړاندې کوي په دې وخت کې د پښتو ژبې د لا پرو پیاوړو لیکوالانو په قطار کې مخصوصاً په افغانستان کې چې لا پرې خوږې اوله معنی ډکې ټوټې د ټولنې او خلکو په ګټه یې (ادبي ټوټې) په هنري ادبیاتو کې ایجاد کړې او ویلې دي د دې ټولو په سر کې (ګل پاچا الفت) دی. د د ملیکتي د همغه وخت په جریدو، ورځپاڼو او کتابونو کې خوندي دي او لا پرې بنې نمونې یې (غوره نثرونه) دي او د نمونې په توګه زه د الفت صاحب دغه (ادبي ټوټه) وړاندې کوم، دغه ټوټه له غوره نثرونو څخه آخیستل شوېده:

## نـــوي نســـل

له ځمکې نه بخار پورته شو، له بخار نه وریځ پیدا شوه، له وریځې نه باران وورید، له بارانه د پسرلي ګلونه پیدا شوه، له ګلونو خوشبویي پیدا شوه.

و ګورې مور او لور یا پلار او زوي څومره فرق لري.

هغه تفاوت چې د باران او ګلونو یا د ځمکې او بو تر مینځ وینئ د یوه او بل نسل تفاوت هم دغومره دئ.

که اولادونه میندو غوندې وای، له غرونو څخه به لعلونه نه پیدا کېده. له دریابونو څخه به مرغلرې نه راوتلې، له بشارنه به بریښنا نه راتله د پرند واولادونه به پرانده وو. لـه

(۱) ـ سد اټول جریدې په پښتو او دري ګډې نشرېدلې او د خپل وخت د ټولنیز تاریخ ښه انځورګري کوې او د افغاني ټولنې د لیکوالو د فکري جریان ښه ښکارند وې تر اوسه کېږي یې اوزه یې په خپل کتابتون کې کلکسیونونه لـــرم.

کتو نه بغکانه زیز پدل ۰

اوس پوه شوي چې نوي نسل اوزوړ نسل یورنګه نه وي !

که څوک خپل زلمي زوي ته زړه بوډۍ په نکاح اخلي یاخپله پیغله لوڼ تیاکلن بوډا ته ورکوي

بیا نه ګوي ۰

زړه ... اونوي نسل همدغسې وګڼی ۰ ۰

الفت صاحب د یري ادبي ټوټې لریاو ډیر خواږه نثر یکتابونه یې لیکلي دي چې د ده نوم به پښتو ادبیاتو کې د ادبیه د (ګل ) اود زړو نود (پا چا ) په څېر تل له (الفت ) څخه ګ وي ۰

دې ډیر اود نورو پښتنی لیکوالونو مونه چې په ادبي ټوټو کې یې ښکلې لیکنې کړي یدي په افغانستان کې (پوهاند عبدالحی حبیبی ، قیام الدین خادم ، عبدالروف بینوا ، پوهاند عبدالشکوررشاد پوهاند صدیق الله رښتین ، غلام نبی چکنوري ، پوهاند داکترحبیب الله تږي ، عبدالقدوس پرهیز ، عبد الله خدمتګار بختانی ، محمد ین ژواک ، عبدالمنان دردمن ، میراجان سیال ـ مومند ، سلیمان لایق )او په پښتونستان کې :(( مولوي احمد (۱) حافظ محمدادریس ، میر ـ مهدي شاه مهدي ، قلندرمومند ، حمزه شینواري ، سید نواز ، اجمل ختک ، قاضی عبدالسلام احمدجان ، سید اکبرصابر ، ارباب سکندرخان خلیل ، میان سنا الدین کاکاخیل ، محمد ایاز ـ خان )) اونور ۰

۳ ـ له ۱۳٤۲ هـ ، ش څخه وروسته په لره او برپښتو نخوا کې د بدلون ( سیاسي ، اجتماعي او اقتصادي ))بدلونو نو او آوو ښتونو نو سره چې د نثر یوال عمومي فرهنګ اود منطقې د فرهنګي ـ تعاملاتو په نتیجه کې چې په نړیوالو او سیمو الوینکاره علتونو پورې اړه یکې لري پرهنري ادبیاتو یې هم مستقیم تاثیر وکړ ، چې د دغو تاثیراتو په نتیجه کې [نوي شعرا ] د برقوتومومند اود مخکې کلونو پرخلاف د نثر برخه هغه هم د ( ادبي ټوټو ) برخه له پخوا څخه سسته شو ه او خپل ځایې ورو ورو (نوي شعرا ) ته ورکړ ۰

د نوي دورې په د ریمه مرحله کې د افغاني منورینوملي افکارو له پخوا څخه پره وده کړې وه ۰ اود پخوا نیو مشروطه خوا هانوا و ځینو زلمیانو افکارو په ملي دیموکراتیکو افکارو تکامل کړی وو یعنې د افغانستان خلق دیموکراتیک ګوند له تاسیس څخه وروسته د ( خلق ) او ( پرچم ) ـ ( ملي اودیموکراتیکو) جریدو پخپلو ملي دیموکراتیکو افکارو سره په افغاني جامعه کې د اجتماعي

---

(۱) ـ مولوي احمد د ګوزي پښتونخوا ډیر خوږ نثر لیکونکی دی چې په زماني لحاظ له نورو څخه د مخه تیر ـ شوی دی ۰

عدالت د تأمین او په مملکت کې د شاهي مستبد او فاسد وفیوډالي شرایطو د له منځه وړلو په خاطر په مترقي اووګړني نشراتو سره د مملکت په نوي فرهنګي او فکري ژوندکې تر ټولو لوړه ډېره فعاله ونډه او بریالۍ ونډه ترسره کړې وه ، او تر هغو پورې یې د ارسالت په پټه او ښکاره د ظاهرشاهي او داؤد شاهي استبدادونو په مقابل کې په غاړه منلۍ و چې د ثور بریالۍ انقلاب په ۱۳۵۷ هش کې ترسره شو او په ګران هیواد کې د خلکو په ګټه د دې ملي دیموکراتیک انقلاب پواسطه وګړنۍ نظام ټینګ شو . او د دې وګړني یعنې د افغانستان د ټولو خواریکښو په ګټه نظام پواسطه په ګران هیواد (افغانستان) هراړخیز مادي او معنوي بدلونونه او آوښتونونه په سیاسي ، اجتماعي ، اقتصادي او فرهنګي برخو کې رامینځ ته شول او په چټکه سره ورځ په ورځ پرمخ روان دي .

د یوې خبرې تذکر او کلکه یادونه پرځای بولم چې د پښتو ادبیاتو په نوې دوره کې یعنې د هجري شمسي سنې د (۱٤) پېړۍ (دریمه) لسیزه کې د وخت د شاهي شورۍ (اوومه) دوره او بیا د همدې سنې او پېړۍ په (څلورمه) لسیزه کې د وخت د شاهي دورې شورۍ په (یوولسمه) دوره کې د خلکو د آزادیو او ټولنیز عدالت د تأمین لپاره په زړه پورې مبارزې پسې مخ بیول شوي دي چې د دې مبارزو انعکاس او د افکارو ښکارندویې زمونږ په ادبیاتو کې د نظم او نثر په برخه کې په پوره ډول شوې ده .

ما دمخه هم وویل چې د نوې دورې په دې پېر اوکې د پښتو ژبې د هنري ادبیاتو په نثري برخه کې د (ادبي ټوټو) بازار سوړ شوی دی او د پخوا په نسبت یې قوت لږ ښکاري او ځای یې (نوي شعر) نیولی دی ، که څه هم د ادبي ټوټو د مخ پرزوړتیا دوره یې بللی شو مګر ادبي ټوټې بېخي له منځه تللي نه دي ، او په عمومي ډول د نثر بڼه آوښتې ده یعنې نوي (داستانونه ، رومانونه ناولونه ، لنډ داستانونه او لنډ یکیس ، ډرامونه ، رجیزي ، شمارونه ، ډیالوګونه ، انتهرکونه او نور) په انتقادي ، اصلاحي ، انتباهي او رازراز نورو اجتماعي او انساني مطالبو څخه ګټه په کمیدي او تراژیدي ځوونونو ، په حماسي ، عشقي او بزمي مفاهیمو رامینځ ته شوي دي ، ادبي ټوټو هم په نوي ډول تبارز وکړ د بڼې په لحاظ ساده ، ډېر ریالستیک او لنډ شول چې په افغانستان کې د دې لیکنو ډېر ښه لیکوالان (سلیمان لایق) پوهاند دکتور زیار ، محمد دین ژواک ، محمد جان فنا ، شپون ، صدیق کاوون طوفاني ، پوهنمل نور محمد غمجن تمیل ، او په پښتونستان کې (صاحبزاده نوروزاق ، محمد جعفر اڅکزي ، عبدالله جان مغموم ، سعدالله جان برق ، سید اکبر صابر او نور) دي ، په همدې پېر اوکې د دغې خبرې یادونه کوم چې د ادبي ټوټو پرځای د نثر په برخه کې یو ډول نوې تشرګ بڼه یعنې (کیسه ولله) چې په

دري کې ورته (قصه گونه) وايي لږ او ډېر رواج موندلی دی.

**٤ـ معاصره يا اوسنۍ دوره:** زما په نظر دغه دوره د پښتو په ادبياتو کې څلورمه دوره ده چې د ثور ملي ديموکراتيک انقلاب په پيل او بريالیتوب سره پيل کېږي او د نثري څېړنو ادبي ټوټو په برخه کې هم پر دې برخه مونږ په جلا ډول غږېږو.

څلورمه دوره چې له (١٣٥٧) هـ ش پيل کېږي او په گران هېواد کې هراړخيز مادي او معنوي آووښتونو ته راغې په پښتو ادبياتو کې هم دغه آوو ښتونونه په مستقيم ډول محسوس دي ځکه ژبه او ادب د هرې ټولنې د خلاقو او مهمو افکارو او فرهنگي مسايلو يا په عمومي ډول د انساني مدنيت او ژوند عراده ده د بشري تکامل او پوهې د انتقال ښه او آسانه وسيله د افهام او تفهيم هغه لومړنۍ وسيله ده چې خورا ډېر ارزښت لري، حتی د ځينو پوهانو په نظر ژبه فکر ده. زه نه غواړم چې لرې لاړ شم، ما ووېل چې د ثور ملي او ديموکراتيک انقلاب او په تېره د هغه د نوي ـ تکاملي پړاو په راتلو سره چې د ١٣٥٨ کال د جدي په (٦) نېټه ترسره شو زمونږ په هېواد کې د افغانستان خلک ديموکراتيک گوند اصلي او اصولي مسير او تگ لاره بېرته په ټينگو ښوله او په هېواد کې د فرهنگي ودې لپاره نه يوازې د (هنرمندانو، ژورنالستان، ليکوالانو او شاعرانو، ـ علماؤ او روحانيونو، پوهانو او استاذانو اتحاديې ايجادې شوې بلکه د هېواد په عمومي ښوونه او روزنه کې له لومړنيو تدريساتو څخه بيا آن ترمنځنيو، ثانويو، مسلکي، عالي او لوړو زده ـ کړو پورې ژور بنيادي بدلونونه او آووښتونونه د خلکو د فرهنگ په گټه او د وگړو ښوونې او روزنې د پالنې لپاره مينځ ته راغلل، او د هېواد د ورونو مليتونو په ژبو جرايد او راديويي نشرات د دوي د کلتور او ادبياتو د ودې او پرمختگ او ژوندي کېدو په خاطر هم پيل شول په پښتو او دري ژبو د ليکوالانو په اتحاديه کې د مترقي ادبياتو او هنري ادبياتو د رواجېدو په خاطر کورسونه د ځوان نسل د روزنې پر مفکوره ايجاد شول دا ټول هغه فعاليتونه دي چې مونږ شاهد وو يې په رڼا کې د پښتو ادبي داد بياتو او په تېره د نثري برخې د ٥ ادبي ټوټو) ونډه پکې څېړو او گورو چې دغه هنري نثر په دې دوره کې څه ډول د ريخ غوره کړيدي.

ادبي ټوټه په پښتو ادبياتو کې پس د ثور له انقلابه ډېره ورکه شوې نه ده او ځينې د ـ مخنورد ودې ليکوالان يې په مترقي طرز تفکر په پوره مينه پالي، مگر بيا هم نوي شعر ورځينې د مخه دي او اوس مونږ په پښتو ژبه کې ډېر محدود ليکوالان لرو چې ادبي ټوټې ليکي، خو په دې او اخروکې ځينو پښتنو ليکوالو دې خبرې ته پوره توجه کړې ده او هيله ده چې ادبي ټوټې بېرته په پښتو ژبه کې په نوي ډول د خلکو په گټه څېلکارا وهنري ادب د ثور د ملي او ديمو ـ کراتيک انقلاب او په تېره د هغه د نوي بشپړ تيا يې پړاو د اهدافو په دفاع کې د خدمت

مصدرشي او په دې وخت کې د ادبي ټوټو ليکوالان د نمونې په ډول د لاندې کسان يادوم :
( پوهاند دوکتورزيار ، محمدين ژواک ، محمد جان فنا ، ، پوهنمل نورمحمد غمجن ۰۰۰

نـــوټ : د شکل او بڼې په لحاظ ( ادبي ټوټې کله کله لويې او کله کله ورې وړې يعنې کله ( دوه ، درې ، څلور ) ياځنې زيات مخونه لري ، او کله هم ( يو ، دوه ياد رېمخه وي ) ياځنـــــې ( نيم مخ او کله يا له هغه څخه هم لږ وي او ديو ( کوچني پاراګراف ) په اندازه وي چې په عمومي توګه يې داسې وايو ( اوږدې ادبي ټوټې ) ( منځنۍ ادبي ټوټې ) او ( لنډې ادبي ټوټې ) چې دارزښت له پلوه هره بڼه يې داهميت وړ ده ۰

په ادبي ټوټو کې د ليکوال ( واقعي او رياليستيک اړخونه ) ډيرپه نظرکې وي ، او دلغاتو کلماتو ، اصطلاحاتو راوړنه ، اوبدنه او اوډنې ډيره هنريونې ، کله کله يې متلونه او اصطلاحات هم د دليل او اثبات لپاره په موضوع کې ځاي کړي وي ۰

په پښتو ژبه کې ادبي ټوټې زياتره د خپل وخت د ټولنې ښه ښکارندويي کوي ، سياسي او فکري برخه يې د ټولنې په روښانتيا کې ډيره ونډه لري ، انتقادي برخه يې خورا غښتلې او قوي ده ، داچې او سورڅخه ( نوي شعر ) ميدان ور يدې د وخت غوښتنه ده ، زمونږ د پښتو ژبې ادبي ټوټې به د تل لپاره ژوندۍ وي ، ځکه زياتره يې د ټولنې له زړه نه راوتلـــي دي ، دادځاوس يوڅو ادبي ټوټې وړاندې کوم ، او په پايکې د پښتو ادبياتو دځواد بي ټوټو مهم اثرونه د ماخذنو په توګه هم ليکم چې مينه وال يې دا ړتيا په وخت کې وګوري ۰
اوله ټوټه د (( الفت )) صاحب له غوره نثرونوڅخه :

د پـــردې خـــبـــرې

ترڅو چې د ښځو مخونه پټ وي ، خبرې به هم په پرده کې وي ځکه چې په پښتو کې خبره هم مونثه ده ، يواځې خبره لاڅه چې :(( ژبه ، وينا ، معنا ، خطابه ، مقالـــه ) هـــم د تانيث علامې لري ۰

هغه وينا چې ابتکار په کې وي د ادب پردې تعلاويرضرورت لري ۰
تاسې زما خبروته لږ غوږ ږدی بار يک شی ۰ !
د ادب او سياست خبره ډيره باريکه ده ۰

زه په ډيره نرۍ او باريکه لاره لاړم ، خداي دې وکړي چې ډيرباريک بين خلک په دغه لاره راشي او په ځير ځير وګوري ۰

ما اوښان نه دي بارکړي ، زما قافله د مچيو ده چې د ګلونو له پاڼو نه په هوا څه راوړي او عســـل جوړ وي ۰

ACKU

له دې قافلې سره د سباوږمو خوشبويي بارکړې ده . چې څوك يې په سترګونه وينــي مګر حساس دماغونه يې احساس کولی شي .

هو ! زما کار له احساس سره دی . زما خريدار بايد د بې حساس ويا د بې حساس شــي .

د بېله نمونه : د ښاغلي اجمل د (کچکول) له خوږ نثري کتاب له (۲۸–۲۹) مخونو څخــه :

نن پــه مــا سبــا پــه تــا

حاجت پده بلا ده . په سر ي داسې چاړې هم او کړ ي چې په خوب خاطر کې يــې نه راځي ما ګلکه اراده کړې وه . چې که دې دفترکې انجروت هم پراته وي هم به ورتــه بيارانه شم . ځکه چې د دې ځای بابو ګان د کبره چا سره په سمه خوله خبره نه کوي . ولــې نن دې مطلبي اشنا ته مجبور شوم او بيا ورغلم . بابو صاحب کرسۍ کې اوږ د اوږ پــروت و . سګرټ يې خوله کې نيولی و . او تري تري لوګي يې په ټخرو د چت په لور الوزاوه چې زه وروخامخ شوم . نه عليك سليك نه تپوس ، سترګې يې راواړولې . او غصه کې يې ماته ووې : (( بابــو معاف موکړه زه وزګار نه يم )) ما ويل ــ قربان يوه ډېر ضروري کاري دی . غصه يې زياته شــوه اووې ويل : (( بابا درته مې ويل چې وزګار نه يم )) ماوې بابو صاحب ! . . . ده مې د خولې نه خبرواخيسته . وې ويل : (( بابو نه آسمان درته وايم سرمې مه خوږوه څه خبله لاړ نيســه ماخه ويل غوښتل خوچې ځانته مې کتل نو بيا بو شاشتې غوندې چپړاسي د ېکو د يکـــو د دروازې نه بهر ويستی وم . څه ګورم چې دروازه کې يو بل زما غوندې حاجتی ولا ړ دی . چپړاسي د حاجتي سره هم انګشت پنګشت شو . هغه ورته وايي : (( د بابو صاحب سلام تــه مې پرېږده )) دی ورته وايي : بابا هغه وزګار نه دی . هغه ورته وايي : ما پرېږده ماته بــه وزګار شي . دی ورته وايي : دې وخت کې هغه پلار سره هم نه وينې نوته لاڅوڅ يې ! د هغــه اخوانه بابا صاحب غصه کې اواز وکړ و . فلانکيه داڅه شور موجوړ کړ ی دی . لرې کړه دا جاهلان د دفتر د مخ نه !

ماخو په ځان پرده واچوله ، غلی شوم ، خو حاجتی غلی نه شو ، اووې ويل : (( څــه ناکاره زمانه شوه . دې اوس موږ ته جاهلان وايي . هم په دې دفتر کې مې شل کالــه هم په دې کرسۍ تېر کړ ي دی . داسې جاهلان مو د دفترنه شـړلي هم نه دي پرېښي . اوس دي موږ ته جاهلان وايي )) .

ماچې حاجتي ماماته خيال وکړ نو رښتيا دا هم هغه پخواني بابو . چې څه موده مخکــې هم په دغه کرسۍ ناست و . نوزه يې د دفترنه په بې عزتي راويستی وم . او ماته يې دغه شان جاهل ويلي و ، لکه نن چې ده ته دې بابو ووې .



ACKU

ورننوځي شو. ماوې بابو صاحب خپه کېږه مه، دې زمانه کې باد داسې راالوتی دی چې ته په کرسۍ ناست وې نوستا هم سترګې په اسمان کې وې اوستا په اطلس فکر کې دا خبره نه راتله چې ته به هم یوه ورځ بلې ته حاجتمند کېږې. نن دا بابو صاحب ناست دی، نن دده تېزې بلې نه ماتېږي، دده نه هم دا هېر دي چې سبا به دی د دې کرسۍ نه او وزږېږي نو دده به هم دا حال وي.

حاجتي بابو چشمې په سترګو کړې، ماته یې وکتل، او خوله یې چینګه غوندې کړه وې ویل: (ملنګه رښتیا دې ووې! (( وروستیه عقله کمته ړومبی وای)) . دې کې د دفتر بابو راووته . وې ویل: ( رښتیانه دخره سر !)) ماوې: (( بچو! چې ته هم نحاجتي بابوغوندې د دې کرسۍ نمبطرې شې نو بیا به د رنه تپوس اوکړم، اوس خوته د هوا په نیلي سپرې ـ خپله برخه اسمان هم نه وینې )).

خلورم د پوهاند ( رشاد ) عبدالشکورکندهاري دکلام نمونه په ( ادبي توتو ) کې له (( پښتو نثرونه )) څېړو.

جګې ماڼۍ اوو ریښمیني جامې

نورخه نه و. صرف دبې واکو فقيرو چې ګلبدن نخا یوسېک مګرزړه پاخوونکې شرنګ اوکله به دخوږ ونغماتو یوه نرۍ په پردې نغښتي مګرزړه وروکې ازانګه هم پرې ګډېدله. دهوا څپې سره وږ دولی. هلته د دې عیش او طرب په شخول کې یو مړ ژواند یزګیروي چې کله به یې (خه یل لالی*) یعنې خیر راوړي پرېږد دید ونکی ږغ هم ورسره ود هوا څپو ته سپارل کېده. دا غونا شکی ( رمق اخرین حیات) د یوخوارژواکي وارمه ماشوم وي چې د تروږمې د تیرماخستن په توره د ر بیله له ساړه وګپني ( لرزه) اخیستي اوله ترغوني ما ښام څخه د یوې چې مړ ېکوس په نامراده هیله دجګې ماڼۍ په لوي تر لې وره پورې زنګېده دیتیم ماشوم ږغ د استرحام له دبرونا روڅخه د ر یدلی و اوا زیې ترخوله نه خوت.

د دوستی محل لپاره لوز ي او سر و مجبورکړه په داسې حال کې چې سترني یې له غریو دکاډکاکېده ماوساه یې په سینه کې نښته دخپل روستي ږغ (خه یل لالی*) سره یې لښه ګډه دجګې ماڼۍ په کلکۍ درشل و نښته.

په دې ترځ کې یو میوزله ښځه چې چتکو مګر بې سیکو (ناتوان) ګامو او پلتونکو مګروئخورو کتو یې یوجد يتلاش او طلب څرګند اوه. دغې خواته راورسیده له په خوراتپاک یې وروبخستل او هغه نیم بر بنډ لاس یې په ډېره مینه په خواپورې ونوچه مخ ته یې وکتل ناڅا په یې یو سوې کړ بږه ترخوله وختله او په داسې حال کې چې خوله یې لعزړ امرة مرة کېدله وویل:

ACKU

((خواره کونه کی مورد ې ترتاوګرځی • هغسی د ې ځان ترڅپلی معصوس ناپوهی جارګې چی سر ې د ې په جګړما شواوزړ ونه د ې په وریښمینو جامو کی پلتل )) •

پنځمه نمونه

د پوهاند ډاکتر( زیار) مجاوراحمد د اد بی توټی یوه نمونه : له ( وینه او مینــه) څخــه •

بایللــی زړ ه

هوتاله مانه د سترګو په جنګ کی زړ ه ولجه کړ •

ته د د وزړ ونو میرمن شوې •

او زیو مڅزه بی زړ ه پاتی شوم •

خواسرلځانه د اپوښتنګم • چی څنګه کیدا یشی • ته د ې د وعزړ ونه ولړیاوزه د ې یوهم نه • له همد ې کبله د رته د وسرموا یم چی که په رښتیا سرمتاته د غکارنا د ود یاو بی نیلــاوې پر یښی نوراشه په زړ ه وړ ونکی زړ ګوټی ترهغه مخکی چی زما پهرګوکی وینه و چه شی • اوینه می څوانیمرګه شـی • • • • • د مینی لعد ود سره سم راسره لعد ووکارونو څخه یوکاروکړ ماوهغه د اچی : (( یا د ې زړ ه په بد ل کی زړ ه راو بخښــه او یاس د رکړ ې زړ ه بیرته راکــړ ه)) •

شپږم : د پوهنمل غنچن نورمحمد د اد بی توټی یوه نمونه : د د ه لعقلی اثار وڅخه :

شــا تــــه وا یــــم !

کله مرضی بهانه شی اوکله له نوروسره د ملاقات وعد ې کله د ې پکورکی کاروي اوکله د ې په بازراکی • توله ورځ د ې خوشی تیر یږ ي • د یوه او بلکار په امید ژوند د ې په خبرو تیرشوسترګی د ې پهګتلو خرابی کړ ي • هد فد ې معلوم نه د ې عمرد ې په دامان لګمد ر ید ې په څوروژاوه • نه د اعقل د یاونه پوهه • نه د د ې شرایطو تقاضاد ه اونه د ې عصر ایجاب ! ځوانی د ې همداد ه اود کاراوژوند بهارد ې هم اوس د ې خوشګذ رانی هم حد لري ذ وقونه هم سرحد • داسی مه کوه • تا ته وا یم !

لږ څه ځان اوجهان ته وګوره ! زما وضعه جد ي اوسه اوقاطع • سلیقه اوخوشږ وق د ې لــه صمیمیت سره هم مکموه • خو په عین حال کی دکور • فامیل • وطن اوخلکو غم هم د رسره لګریکړ ه • سبا به د ې خپل ځان ژړ وي • د وستان به د ې ملامتوي • څوک به استفاد ه جوړولی اوچا ته بـــه غفا ینوایی • څوک به فاسد بولی او څینی به د نفسیاتو په مرض اخته بولی • خو نه پو هیږم ځان ته به څه ووا یی • تا ته وایم ! وجدانی محاکمه به وکړ ې اوکه نه ! خپل قضاوت خود ې برسخت ـ د ې • د و نی په څیر به خپله کوی چپل لاس اوخپل غرور به خپله قطع کړ ې اوکه نه •

ستا په جمال او جلال دې زوال نه وي سردې لکه د (تهمیل) په څیر لوړ اوسه د ښمن دې (غمجن) اوبخ په څور ، خپگان دې نه غواړم . اصلاح دې غواړم . تاته وایم ! خوشاله اوســــی !

اوم : دغنا . محمدجان دادبی توتو یوه نمونه :(( د دوي له قلمی آثارو څخه ))

تـــا دانــــی

ستا موسکازه هم موسکی کړم .

تاچه زما موسکاته وکتل په خندا شوې او ماهم وخندل . نه پو هیږم چی ولې زما پــــه خندا مروره شوې . خپلی منگولی دې له غاړې اوزما لاسونه دې له خپلی ملاته بهرته کـــړل اوولاړې . شاته چی دې راوکتل سترگی دې هم له اوښکو ډکی دې . حیف چی زه بیا وروسته ستا په ارزو او پخښنه گـناه او نادانی پوه شوم . چی ولی می تاته خولگی وانه خیسته .

اتـم : دکاوون توفانی محمدصدیق دادبی توتونـثـرې نمونه :(( د دوي له قلمی آثاروڅخـه))

ته به ښکلی شـــی ! ...

اې زما مقدسه هیواده !

ته زما دپاکی اوسپیڅلی مینی داورنی احساس منبع یې .

او زما د شاعرزړه د شاعرانه تخیل دنیا !

تالمانځم ! تالمانځم ځکه چی ته زما مینه یې !

ما ستا دمینی په ځلانده ایینه کی دراتلونکی ژوند انځورلیدلی دې .

دزیارایستونکی انسان دویاړ جن ژوند انځور .

ته به ښکلی شې ، تابه موږ په خپلو خولو اووینو ښکلی کړو .

او ستا دزیارایستونکی انسان دازاد ژوند جنهٔ به ورېږو .

ته راته گران یې !

تالمانځم !

اې زما مقدسه هیواده ! ........

((۹)) دمولوي احمد دادبی توتو نثرې نمونه . له (( گـنج پښتو)) څخه .

حکا یــت اول

پــــه یــو ځاي کــس یو عالـــــم و چـــی ډیـــرې زرې جمع ړې وې

پــی تولـــی کـــرې وې اویـــه پگړ ی خپلـــی کــی پی نغښتلی وې .

ظاهـــره خلکو ته څـــته پگـــرې ښکارېدلــــه اویکی پـــی له زرو جمع وشـــه

بل څه نه وو. یو وار په وخت د لوی سحرګی لا تیاره وه چې مدرسې ته روان شه د پاره د دې چې د خلکو نه څه حاصل کا. ناګهانه په ملارګې یو غل ولاړ و. عالم ته یې لا سوروا چوه پګړۍ یې تري وتښتوله. چې غل څه قدر لاړ شه نو عالم ورته اواز وکړ. ویل یې چې ځوان دغه پګړۍ ولټوه که پس له لټولو یې ورې نو پیشګ یې ورړه ما در بخښلې ده. غل په مړ اندې ځغلیده. لیکـــن هغه پګړۍ یې وسپړو د له که څه ګوري یو ګرکیږه پکې منبلې شان وخته نوري ټولې زړې چیر ړې وي. له قهر یې هغه ګرنکړه هم وغورځوله عالم ته یې وویل چې خدای دې خوار کړه. زه دې په دې زړو چیړو ولګاره وویستم د ومره نه شرمیږې چې په داسې ټګی سره دې زه وغولولم.

عالم ویل: چې ته ولې په دې خبره غم کوې لیکن د اکار ستا په حق کې لوی نصیحت شه چې ته پوه ـ شـــې چې د دنیا کارونه ټول د لباس او د ټګی دي او چې څوک په دنیا مینه کوي هم داسې به ـ غولیـــږي.

په پښتو ادبیاتو کې ځینې مهم اثرونه د نمونو په توګه چې د ((ادبی ټوټو)) لپاره مینه والو ته اسانـــه شي وړاندې کوم:

١ـ غوره نثرونه ـ د ګل پاچا الفت اثـــر.

٢ـ نوي سبک او نوي ادب. د ګل پاچا الفت اثر.

٣ـ بله نړیوه ـ د ګل پاچا الفت اثـــر.

٤ـ څه لیکل یا لیـــک پوهه ـ د ګل پاچا الفت اثر.

٥ـ ادبی بحثونه ـ د ګل پاچا الفت اثـــر.

٦ـ لوړ خیالونه او ژور فکرونه ـ د ګل پاچا الفت اثـــر.

٧ـ د زړه خوالـــه ـ د عبدالرؤف بینوا اثر.

٨ـ نوي ژوند ون ـ د قیام الدین خادم اثر.

٩ـ ګنج پښتـــو ـ د مولوي احمـــد اثـــر.

١٠ـ ګچکول ـ د اجمل ختک اثـــر.

١١ـ خیالي دنیا ـ د قیام الدین خادم اثـــر.

١٢ـ مرغلرې ـ د عبدالله بختاني خدمتګار اثر.

١٣ـ ادبی سوغات ـ د قاضی عبدالسلام اثـــر.

١٤ـ نوي خیال ـ د عبدالمنان دردمند اثـــر.

١٥ـ نوي رڼـــا ـ د قیام الدین خادم اثـــر.

١٦ـ یو اواز ـ د سید اکبر صابر ټولنـــه.

ACKU

۱۷ـ پښتو نڅونه ـ د محمد دین ژواک تولونه ۰

۱۸ـ شکورګلونه ـ ګـل کســـان ۰

۱۹ـ مراوي ګولنه ـ د سید نواز ۰

۲۰ـ ګلونه او ازغـي ـ د ارباب سکندرخان خلیل ۰

۲۱ـ بخـري ـ صاحبزاده نوررزاق ۰

۲۲ـ د خندا پلوشـې ـ محمد ناصرنصرت ۰

۲۳ـ د پښتنانه خویونه ـ ډاکترعبدالرحمن کاکړ ۰ او نورې زیاتو معلوماتو لپـاره
((پښتو پانګه)) دوه جلده د حبیب الله رفیع اثرونه وګورئ ۰

څېړندوی ادوست شینواری

# د پښتو او سنيو ترجمو ته يوه کتنه

هره ټولنه په خپل مادي او معنوي پرمختګ کې د نورو ټولنو له تجربو څخه استفادې ته ضرورت لري.

البته د ټولنو ترمنځ د تجربو د انتقال وسيله او لاره له يوې ژبې څخه بلې ته ترجمه ده. پښتو ژبې که د نړۍ د نورو ژبو ته په پرتله ورکړې دي نو له بلې خوا يې د نورو ليك، اولوست لرونکو ژبو په څېر د خپل تکامل په بېلو بېلو پړاوونو کې له نورو ګاونډيو ژبو (پارسي، اردو) او د نړۍ له نورو ژبو (عربي، روسي، انګليسي، ترکي او نورو) څخه د ترجمو له لارې ځان بډای کړی دی چې د اخوند درويزه له قصيدې بردې، د عبدالقادر خټك د ګلدستې او داسې نورو نه نيولې ترننه پورې يې د پرمثالونه وړاندې کولای شو.

له يوې ژبې نه بلې ته د ترجمې او په يوه ژبه کې د ابداع او تخليق ترمنځ يو لوی توپير دا دی چې مترجم بايد په دواړو ژبو تسلط ولري او ليکونکی (مبدع) بايد په هغه ژبه پوره تسلط ولري په کومه چې ليکنه کوي. له دې پرته د ژبې په لحاظ کومې کمزورۍ چې موږ يې په يوه ترجمه کې ليدلی شو - هماغه شان څه ابداع او ليکنه کې هم ليدل کېږي چې دا ټول د مربوط شخص د ژبني تسلط او استعداد پورې اړه لري.

په بل عبارت څومره کمزورۍ او کومې عبارتي غلطۍ چې موږ د يوه کمزوري ترجمان په ترجمه کې تشخيصولای شو هماغومره يې د يوه کمزوري ليکونکي (چې ليکوال نه شو ورته ويلای) په ليکنه کې هم تشخيصولای شو. د ساري په توګه د (چې) په ځای (ترڅو) عبارت د غلط او بې ځايه استعمال مورد يوازې د کمزوري ترجمان په ترجمه کې نه، بلکې د کمزوري ليکونکي په ليکنه کې هم ليدل کېږي، خو څرنګه چې دلته

ACKU

خبره د ترجمې په څنګوالي کې د هنو بايد خپلو خبر وته د ترجمې په برخه کې
دوام ورکړو .

د ترجمو په برخه کې د وه ډوله بوښتنې طرحه کولای شوو :

الف : ترجمه بايد ښکه وي ( نظري خوا )

ب : اوسنۍ ترجمې ښکه دي ( عملي خوا )

ترجمې بايد ښکه وي په دې برخه کې د وه افراطي او يوه منځنۍ نظريه
وجود لري :

۱- د يوې افراطي نظريې پيروان ترجيح ورکوي چې بهرنيو اود نورو ژبو د مادي
اومعنوي کلتور اصطلاحاتو ته کټ مټ په خپله ژبه کې ځای ورکړي . د وی يا اصلاً په
خپله ژبه پوره حاکميت او تسلط نه لري نود بهرنيو اصطلاحاتو اندول په خپله
ژبه کې نه شي پيدا کولای او يا خواستدلال کوي چې د خارجي ژبې د اصطلاح په
ځای بايد بين المللي ( عربي ، لاتيني ..... ) اصطلاح واخيستله شي چې
د دوی په عبارت ( عام فهمه ) وي . د وی ته د اتوپير نه لري چې د خپلې ژبې
ويونکي به پرې پوه شي اوکه نه خود نورو د پوهيد لو لپاره خوړلې دی . د دغه
نظريه د ژبې د نورمونو د ورانولو باره ډېره خطرناکه ده او د ترجمو د نيز
( سيلاو ) په مقابل کې د خپلې ژبې د پښتيو او د کود ټولوا وکمزوري کولو باره لاره
اواروي .

۲- بله خطرناکه او افراطي نظريه د دغې لومړۍ افراطي نظريې په مقابله
کې له برته ده . د دغې نظريې خاوندان تيار باسي چې د هرې بهرنۍ اصطلاح
له باره په خپله ژبه کې اندول که نه وي د وی يې خپله ورته جوړه کړي .
خطرناک پلويې دا دی چې د وی يې خپله شخصاً او د ژبې د نورو صلاحيت لرونکي
اهل سره له سلامشورې پرته ورته جوړ وي . د وی فکر کوي چې که د دوی له
خواجوړه شوې اصطلاح په لومړي سرکې نا آشنا اونامانو سه وي له څرګله تکرار نه
وروسته د ژبې اهل ور سره آشناکيږي اود غه نيمګړتيا له منځه ځي . له د وی سره اصلاً

په اصطلاح دژبې د تصفيې پوښتنه چې د نړۍ په هيڅ ژبه کې نه د ه عملي شوې او نه به عملـــي شي- طرحه د ه ·

۳- د ريمه داعتدال او منځنۍ نظريه د ه · د دغې نظريې له مخې د يـــوې ژبې ويې بانگـــــه داسې مثال لرې لکه د يوې ټولنې وگړي · په ټولنه کـــې هروگـــــــرى د استوگنې خپل قانوني حقوق لري · دا به پو فاشيستـــــي او صهيونيســــتي اقدام وي چې يووگـــــړى او يا يوه کورنۍ ځوك هلتـــــه د ژوند گولوله حقوقو څخه بې برخې کوي ، له بهره د بلې ټولنې بل فرد ،ياکورنـــۍ يې په بدل کې راولي اود هغه په ځای يې ميشته کوی اوضمناً دا به هـــــم پوتوبـــيرې او تبعيضـــــي اقدام وي چې د خپلې ټولنې ور د نورو ټولو پـــــه مخ کـــــلك وتړي اوهيچاته د ورننوتلواجازه ونه کـــــړي — ۱ ۹ حتى هغه ( د پرد يوژبو څخـــــه اخيستل شوي اصطلاحات ) چې د مهاجـــرو په توگهکلونه – کلونه يا پـــيړۍ پيړۍ پخواد لته استوگنې شوي اوحتى اوس د دغـــې ټولنې پيژنــــــد پانه ( تذکـــــره ) لري په دې نامه وشړل شي چې خته يـــې د دغې ټولنـــــې نه د ه ·

د دغې نظريې په حکم هغه څه چې په خپله ژبه کې موجود وي د هغـــــــو ځای د بلې ژبې اصـــطلاحتهاتوته خوشې کول اوخپله هغه دچلند لـــــــه يگــــره ويستل يونا روا کار د ی خود ضرورت په وخت کې د نورو استخد امول پـــو جايـــــز او روا کار د ی ·

د همدغې نظريې له مخې چــــي پواند ازه له محافظه کارۍ څخه نه د ه خلاصه د خپلو اصطلاحاتو اوکلموپه ځای د پرد يو اصطلاحاتو اوکلمو د استعمال د منلـــو اويامخنيوی له باره کوم زور اومانع اوجامع بريد ونه دې ټاکل شوي · د همدغـــې نظريې د پيروانوپه ژبه کې په پرځله داسې بهرنۍ کلمې اواصطلاحات ليد ل کيـــږي چې خپله ژبه يې لري ،خود هغوی د استعمال په څنگ کې بهرنۍ هم استعماليـــږي اوحتى د وی ورته د انتـــقاد گوته هم نه نيسي ، مثلاً د ټولنې په ځای جامعــــه،

د هیواد په ځای وطن ، د پکا رول په ځای استعمالول، د زغم په ځای حوصله او صبر، د پوهی په ځای علم ، پاساپهنی، د اروا پوهنی په ځای روحیات اوپا سایکالوژی ، د دغسی سلګونو او زرګونو په ځای په سلګونو او زرګونو کلمی که استعمال شی څوك ورته غلط او تیروتنه نه وایی له دغه ځایه ګورو چی په دی برخه کی عملاً کوم تاکلی مانع اوجامع حدود نشته خوپه نظری لحاظ د پرد یوږپوا اصطلاحاتوا و کلمو د منلو یامخنیوی په برخه کی په ګلکه توجه کیږی چی دغو په ځای دی ژوندی مروجه پښتو اصطلاح اوکلمه واخیستله شی - او که ژوندی مروجه اصطلاح یاکلمه نه وی نوپه هغه صورت کی ضرور ده :

۱- له مړواوله محاوری څخه د وتلیو اصطلاحاتو اوکلمو د بیارا ژوندی کولو له لاری دی کار واخیستل شی . لکه ( بخښنو ) د ( ارام ، ژغول شوی آزاد ، خلاص) په معنا .

خوشحال خټك د اکلمه داسی رواړی :( ۱ )

خوبه راشه ماوید ه کړه چی بخښنوشم په فراق کی به ژړاژړاکړمن یم (کلیات)

۲- بعضی کی دی له یوی لهجی اویوی سیمی څخه راواخیستل شی اوپه یادی عمومیت ورکړشی لکه ( بوتی ) د ( یادداشت کتابچه ) په معنا چی د پښتو تشریحی قاموس په وینا په لوید یځه لهجه کی ژوندیٔ ده او د پښتوپه کلاسیك ادب کی هم بکارول شوی ده . دلته یی د ملا ارزانی له قلمی نسخی څخه مثال وړاندی کوو :

دژبتها گفت دی موتیٔ موتی مه غواړه حوتیٔ
په خپل کورکی ربنتیا لوله د دی خپل زړه له بوتیٔ ( ۲ )

---

( ۱ ) پهلرغونو پښتو متونوکی یی څومثالونه :
چی د ابند لری له پښوکل سروری هلته ځان بخښنوکا ( د عبد القاد ریوسف او زلیخا )
ستاپه عشق کی ځکه مرګ غواړم د لبره ګوندی ستاله درد وغم شم بخښنو( نجیب )
( ۲ ) راتلونکی مخ .

۳- د اصطلاحاتو د جوړولو نو یولوګیـــــزم لاره :

بشری ټولنې مخ په تحول او د پرمختګ په حال کې وي . د ځینو ماد ي احتیاجاتـــو د لرې کولو له پاره زاړه شیان د تاریخ غېږې ته سپارې او په نویو نویو شیانـــــو د هغوی ځای ډکوي . له منځه د تللو شیانو نومونه د ارخایـــیزم ( که یوازې نـــوم له منځـــه تللی وي ) او د ایستوریزم ( که نوم او نومولی دواړه له منځه تللي وي) په جمله کې راځي او د نویو شیانو نومونه کله - کله داسې وي چې له یوې خوایـــې د ټولنې ژبات وګړي پېژني او ضمناً بین المللی نوم لري لکه رادیو ، تیلفـــون بانک او نور چې دغسې خارجي اصطلاحات معمولاً په ژبې کې منل کیږي . کلـــه داسې وي چې نه کومه بین المللی اصطلاح ولري او نه د ټولنې ژبات خلك ورســره اشنایي لري (مثلاً د موټر یاکوم ماشین ورې پرزه یوازې څوتنو کاسبانو ته معلومـــه وي): دغسې نومونه معمولاً د صادرونکو له ژبې څخه اخیستل کیـــږي .

ځینې نومونه داسې وي چې د وجود ، ایجاد ، یا صدور نسبت یې یوې خاصـــې خواته نه کیږي، نو معمولاً په بیلو - بیلو ژبو کې ورته خپل نومونه وضع کیږي لکـــه :

| پښتو | عربي | روسي | انګریزي |
| --- | --- | --- | --- |
| الوتکه | طیـــاره | سمه لیوت | ایرپلین |
| څارنوال | مدعی العموم | پروکورور | پره کوراتیر |
| پوهنځی | کلیـــــه | فاکولتیت | فاکولتـــي |
| نریوزخ | ســـل | چیخوتکـــه | توبرکلـــوز |

---

( ۲ ) نور مثالونه یې د ملا ارزاني له متن څخـــه :

صانع د هرجاتـــور - له اوبو کړی ته موتـــــر

ټول حرفونه د ې سبود لي - د مخفي ګنج "له بوتـــــر

د فقیر د ل موتـــــر - به یې نه مومي څوښتـــر

د ې فقیر د بینه راوړي - د د ې خپل زړه له بو تـــور

د ه خبره کړله درستـــه - چې یې د ابو تېرولوستـــه

ACKU

نوبه دغه توګه د هري بهرني اصطلاح اړول هم جواز نه لري اوهره اصطلاح منل هم روا کار نه دی، بلکې لازمه ده چې په دې باب د ژبې د واکمنو پوهانو اوعلمي مؤسسوتر منځه یوه مفاهمه وشي اوله هغې وروسته د یوې بهرنۍ اصطلاح د منلو او یاارو لو په برخه کې اقدام وشي . په تائید سره باید ووایو چې دا د یوه فرد کار نه دی ، بلکې په دې برخه کې پوهان او علمي موسسې اقدام کوي اوهراقدام چې وکړي هغه واجب الاحترام او واجب الاجرا دی .

زموږ د موضوع د ویمه برخه دا ده چې اوسنی ترجمې څنګه دي؟ د دې پوښتنې ته باید په ډیر تاسف ځواب ورکړو چې زموږ اوسنۍ ځینې ترجمې غالباً په روانه سلیسه اود خلکو په ژبه نه دي . زما په نظر د اخلل علتونه لري :

۱- د پښتو ترجمانانو بې واکې یې سترعلت دی .

په دې کې شك نشته چې د مفاهیمو د افادې له پاره هره ژبه خپل لغوی او ګرامری چوکاټ لري چې د بلې ژبې د افادې له چوکاټ سره توپیر پیدا کوي . خو پښتانه ترجمانان کله کله د ترجمې په برخه کې د ومسره بې واکه او بې صلاحیته وي چې ځان مجبور ګڼي او یا مجبور یږي د پښتو ترجمې افاده د بلې ژبې په چوکاټ کې ځای کړي .

د دې له پاره زه د شاهي مرتجع رژیم د وخت یومثال وړاندې کوم . هغه وخت به کله کله په دري ژبه مثلاً داسې خبرو:( ذات ملوکانه فارم غازی آباد رامعاینه کرد ند) پښتو ترجمه به یې داسې وه : (( ملوکانه ذات د غازي آباد فارم وکتل ). د لته د ( وکتل ) جمع فعل چې د ارکاتیف سیستم په حکم په هغه صورت کې امکان لري چې صریح مفعول جمع مذکر وي ، ( لکه ما احمد او محمود وکتل ) خود ( ذات ملوکانه ) د احترام له پاره مجبوراً د ژبې ټول ګرامري جوړښت او رغاونه تر پښولاندې کیده او مطلوب مفهوم هم نه افاده کیده . بل مثال به هغه وخت کې چې په جنوبي ویتنام کې د امریکا نپه ضو امپریالیزم اود هغه ګوداګي رژیم د ویتنام د اتل ملت په مقابل کې ماتې وخوړه او سیګون ( اوسنی د هوچي من ښار )

د دغو قهرمانانو په لاس ورغی دغه خبر په فتح عنوان باختر آژانس په دری ژبه په ( سیګون سقوط کرد ) تیر کړ چې په پښتو کې به ( سیګون ولوید ) ترجمه شوی و .

هغه وخت چې ما د باختر آژانس سره همکاري لرله مسئول شخص ته مې وویل چې ( سیګون ولوید ) سمه ترجمه نه ده چې دلته د ( لوید ل ) فعل کومه مناسبه معنا نه ورکوي . هغه وویل دا عنوان به نو څنګه ترجمه کړو ؟ ما ورته وویل : هره ژبه خپل قالب لري ، مونږ کولای شو چې ( د سیګون رژیم ماتې وخوړه ، سیګون د ویتنام د پوځونو لاس ته ورغی ، سیګون ونیول شو ، د ویتنام پوځونو سیګون ونیو ..... ) او که نه به داوي چې ولیکو ( سیګون سقوط وکړ )

هغه ښاغلی په قهر شو او یې ویل : پښتانه به ( سقوطه ، مقوط ) نه پوهیږي باید ترجمه شي ، اما د عبارت اړول یې زمونږ واک نه دی او مسئولیت لري ، مونږ به ناحقه د توپ خولې ته مه تیره ! ........

او په دغه صورت د کمزد ملا مسالهٔ ملا فاروق ونه منله .

دغسې مثالونه هر وخت لید لی او وراندې کولای شوو تر څو چې پښتانه ترجمانان واکمن او با صلاحیته نه وي دغسې نامطلوبې ترجمې به همیشه لید ل کیږي .

۲- ترجمه او تخنیکي نیمګړتیاوې :

په پر ځله مونږ اصل ترجمه نه وینو ، بلکې هغه کله په ټایپ شوی یا طبع شوی فورم کې وینو . بخوا نیو مترجمو رژیمونو چې اوسنی ټایپونه او طباعتي ماشینونه غالباً په هغه وخت کې وارد شوي دي د پښتو ځینو توروته ځای نه دی ورکړی . د مثال په توګه : د باختر آژانس هغه ټایپونه چې نشریاتي مؤسسو ته خبرونه تیروي د پښتو پوخاص توری هم نه لري . د هغو اثر کلمه د وینډ وی ( نطاق ) په افاده کې ښکاره شي او کله په چاپ کې ، مثلاً کله کله داسې خبروي .

( د امریکا امپریالیزم غواړي د ضیاء مرتجع رژیم په سیمه کې په مترقي قواو باندې د توپ په تخته واړوي ) . په پر ځله به دغسې خبر کې د ( توپ = خیز ) په ځای و ـ یند وی ( توپ ) افاده کوي ، چې اورېد ونکي یې په معنا حیران شي . دا ځکه چې

همداسی ناپب شوی وی .

د طباعتی ماشینونو خصوصاً د ( پاکانو په برخه کی ) هم دغسی حال وی چی زمور تول نشریات یکی غلط چاپیږی .

۳- د ترجمانانو کمزوری :

د دی د ټولو په څنګ د پښتو ترجمو زیاته کمزوری خپله د ترجمانانو د کمزوری زیږند ه اوڅرګند وی د ه . ترجمانان کله داسی وی چی په پښتو ژبه بوره مسلط نه وی اوبیا په هغه ژبه ښه نه پوهیږی ، لکه کومی چی ترجمه کوی ، نو ارومرو په روانه اود خلکوپه ژبه ترجمه نه شی کولای . د دوی په ترجموکی غالباً داسی ټکی ګورو پلانی خپل پولاس له لاسه ورکړ ، پوه پښه یی له لاسه ورکړه ( داسی ښکاری چی لاس او پښه یی په لاس کی نیولی وو ) اوبیا داچی احمد اومحمود سره تماس ونیو ، احمد راغی ترڅو تاوګوری ، داحمد څیره زلمی ته پاتی کیږی ، سرتاسری کنفرانس ( د سوا سری - یا سرترسری کنفرانس په ځای ) د اکار څو ورځی په برکی نیسی ، داداسی صورت مومی . موږ د یر ځله داسی خبراورو : ( هغه څوتنه جنایت کاران وتکول شول چی په غلااو داړه ماری یی لاس پوری کاوه ) د خبرله د ترجمی ښکاری چی هغوی لاغلا اوداړه ماری نه وه کړی ، بلکی لاس یی پری پوری کاوه ، یعنی په شکل کی یی ورخولاکړی یی نه وو . دلته د کمزوری ترجمان یومثال وړاندی کوم :

( سپی جان یوځلوکلن ماشوم له مرګه وژغوره ) زه دلته د ( سپی جان ) په معنا هیڅ پوه نه شوم په اصل کی داخبر داسی و :

( سگ جان یک طفل چارساله راازمرگ نجات داد )

٤- د همدغسی کمزورو ترجمانانو په ذریعه د پښتو ځینی ناسم عبارتونه هم ژبی ته راننوتی چی وروبه وروعام شوی او اوس یی تقریباً هرڅوک له تشخیصه پرته استعمالوی چی دلته یی دوه مثالونه وړاندی کوم :

ترڅو : د دغه مرکب عبارت استعمال دوه مورده لری :

الف : داستعمال سم مورد : لکه ( ترڅوچې امپرياليستي ګواښونه وجـــود لري ټري به تارامـــــه وي ٠)

ب : داستعمال غـلط عام شوی مورد چې زموږکمزورو ترجمانانو له خوابه داسـي موردکي عام شوی دی : ( احمد رافي ترڅو تاوګوری ) دغه ترجمانان بـــه دی برخه کي د ( دري - فارسي ) ( تا ، تاکه ) دمورد تراغيــزي لاندي راغلي دي پهدري کي وايي ( من آمدم تا ترابېــــينم ) ٠ په داسي ځايونوکي د پښتـــو ( چې ) کفايت کوي : ( زه راغلم چې تاوګورم ) هغه ځوك چې د دي پـــه ځای ( ترڅو ، ترڅو چې ) استعمالوی اصلاً دخپلي ژبي په نزاکتونو اومفاهيمونه پوهيږي ٠ دلته به د دغه مرکب عبارت په تحليل باندي لږ څه رڼا واچــــوو٠ دغه عبارت له دووتوکوجوړ دی :

الف : ( تر ) چې کله کله ( پوری ) هم ورسره راځي اومعمولاً دځای نهايـت ښيي لکه ( ترکابله ) اوکله د وخت لکه ( ترماښامه ) ياد نوروزنهايت لکه ( ترشلـو) اوکله د ( له ) په معنا راځي لکه ( د تراوږوغوږخول ، ترلاسه نيول ، ترزمکي لاندي اچول ) او داسي نوربه لوږي صورت کي د دري د ( تا ) په معنا راځي چـــي نهايت ترې مطلب وي خوبه دوهم صورت کي دغه معنا ښکاري نه ورکوي لکــــه ترلاسه نيول ، ترزمکي لاندي اچـــول ٠

ب : دوهم توکي يې ( څو ) دی چې په دغو معناووراځي٠

١- دڅومره په معنا چې سواليه ضميردي اوپه دري کي يې اندول ( چند ) دی لکه زلمی څو زامـــن لري ؟ څو بجې دي ؟

٢- د ( څه ) په معنالکه له څوورځي راهيسي ٠ په دغه معناخوشحال ختـــك داسي استعمال کـــړی ده٠

زه خوشحال په هغه کس پوری حيران يـــم
چې له ياره نه جداشي په څو ژواك کــــا

دمرکب عبارت ( ترڅو ) معنا هيڅ وخت د نـهايت علت ، سبب اوعامل نه ده ، بلکي دغه معنا پوازې په ( چې ) افاده کيږي ٠ مثلاً ( زه راغلم چې تاوګورم) خو زموږ

کمـــــزوری ترجمانان نه پوهیــــږی .

دویم مثال د ...... په اوږد وکــــی :

---

د غلط عام شوی عبارت بل مثال هم دلته وړاندی کوو ـ اوس په پښتو لیکنو او ترجمو کی داسی عبارت عام شوی دی :

( د ورځی په اوږد وکی ) ، ( د لاری په اوږد وکی ) او داسی نورچــــــی د دری د ( د رطول روز ) ،( در امتداد راه ) او داسی نورو ترجمه ده .

اصلاً دلته غلطی داده چی ( اوږده ) د صفت ( اود ) جمع مذکره ده نــــه داسی ترکیب په ژبه کی شته او نه ( طول ) او ( امتداد ) د ( اوږده په معنـــا دی د ( طول او امتداد ) معنا ( اوږد والی ) دی . البته داضرورنه ده چــــی ا ووموړ دی موږ طول او امتداد دکلمی په پښتو راوړواو یومصنوعی او د گرامرلـــــه مخی یوغــــلط عبارت عام کـــړو .

دلته په تا٘سف باید ووایو چی کله کله داسی هم وی چی د یوه چاپه غلــــــط ترجمه ( پالیکنه ) انتقاد وشی مقابله خوا په ډیره بی پروایی سره وایی ( څه بابا ! پښتو ژبه تراوسه کله معیاری شوی ده )

ځینی کسان داسی هم وي غواړی ځای ناځای خپله سیمه یزه لهجــه ځای کــړی .

د اعــــــتراض په ځواب کی دوی هم په پورته دول پلمه کوی .

دوی ته باید په ډاگه وویل شی پښتو معیاری ژبه ده . سنگارند وی او حمید ، احمــــد شاه بابا او خوشحال او هلته او دلته نورو پری پوشان لیکنی کړیدی . د دغــــــو لیکنو مراعـــات هم په ترجمه اوهم په لیکنه کی واجب دی .

څېړنوال عبدالرحیم خدران

# په پښتو کې لنډه کیسه

ادبي ډولونه د کرکټرونو د تشکل صحنو جوړولو او ژبې استعمال له کبله هر یو ځانته ځانګړي مشخصات لري . هر ډول ادبي محتوا باید د یو ډول ادبي آثارو په لړکې وړاندې شي . داسې ادبي آثار چې په ادبي ډولونو کې دي و نه شمېرل شي هېڅ نه شته د ادبي تاریخ په اوږده تاریخ او جریان کې د ادب ډول ډول ډولونه پیدا شوي دي . د ادب د دغو ډولونو څخه یوه هم لنډه کیسه ده . لنډه کیسه هم د نورو ادبي انواعو په څېر ځانته خاص ځانګړي مشخصات لري . د دغو مشخصاتو له مخې موږ کولی شو چې هغه د ادب د نورو ډولونو څخه جلا کړو . دلته لنډې کیسې په ټولو مشخصاتو باندې په تفصیل سره خبرې کولو څخه تېرېږو او یوازې د هغې په برخه کې په یو څو غوره یادونو سره بسنه کوو او بیا به وروسته له هغې خپلې اصلي موضوع ( پښتو کې لنډه کیسه ) ته را وګرزو .

د لنډې کیسې لومړي شرط د هغې لنډیز دي . په ټولنیز ژوند کې هرآن او هره ګړۍ څه نا څه پېښې څرګندېږي . ولې په لنډه کیسه کې دومره ګنجایښت نه شته چې هغه ټولې دې وړاندې کړي . په لنډه کیسه کې د لنډوالي سره یو ځای جامعیت هم وي . لنډه کیسه په یوه وخت کې د ژوند د زرهاوو اړخونو څخه په یوه داسې اړخ باندې رڼا اچوي کوم چې د هغې لیکونکی یې زیات متاثر کړی وي . په لنډه کیسه کې چې د کومې پېښې تصویر وړاندې کېږي هغه باید په خپل ځای د هر ډول بشپړ تاثیر څخه ډکه وي . د لنډې کیسې لیکونکی د خپل لوړ خیال ښکلې لیکې د الفاظو غوره ټاکنې او د جملو د غوره ارتباط په واسطه موضوع باید په داسې مهارت سره وړاندې کړي چې قاري یا لوستونکي ته د هغې د پیل څخه بیا تر پایه پورې دا موقع پیدا نه شي چې د کیسې د لوستلو څخه سر پورته کړي او یا یې پام بلې خواته واوړي .

لنډه داچې دلنډې کیسې موضوعات مختصر،صحنې یې لنډې پېښې یې ساده او اشخاص یې محدود او متمرکزوي . لنډه کیسه اکثراً د ترسیم له پاره ژوره تیپیکه واقعي صحنه ټاکي او په لوستلو کې د نیم ساعت څخه نیولې تریونیم ساعت وخت څخه زیات باید ونه نیسي . اوس به په دې باندې خبرې وکړو چې پښتو ته لنډه کیسه څنګه اوله کومې خوا راغله .

هسې خو په پښتو ادب کې کیسې او نکلونه ډېر اوږد تاریخ لري،د هغو د لوستلو له مخې سړي کولی شي چې د ځینو خاص تاریخي وخت او زمان معلوم کړي،په ځرا پطو او چاپېریال باندې یې خبرې وکړي . ولې ځینې کیسې او نکلونه بیا داسې دي چې کوم خاص وخت نه ترې څرګندېږي او داسې معلومېږي چې ډېر لرغوني او پخوا نی دي چې د یو نسل څخه بل او د بل څخه بیا بل ته د یوه غوره شفاهي ادبي میراث په توګه راپاتې شوي او ترموږه پورې را رسېدلي دي . ولې دغه ټولې زموږ د اولس د شفاهي ادب غوره شتمني او د کلتوریه زړه پورې پانګه ده چې د هغو په لوستلو او ویلو سره د پښتون ټبر د تېرژوند کړو وړو وجراتونو کارواییو سربېره نو بریالیتوبونو ودو نو او داسې نورو تیاره خوا وې روښانه کیږي . د همدې کبله دغه نکلونه د پښتون قوم د ټولنیز ژوند په زړه پورې منعکس کوونکي هینداره بلل کیږي .

په پښتو ادب کې یو شمېر نورې داسې کیسې شته چې هغه دې یا د فارسي ، اردو او یا دا چې د نورو ژبو څخه را ژباړل شوي وي چې اکثره یې د پښتنو لیکوالو له خوا په نظم او ځینې یې بیا په نثر سره لیکل شوي دي،په دغو کیسو کې د مافوق فطرت کارونو پوره لاس دي او ګله ګله داسې موضوعات او داسې کارونه په کې را منځ ته شي چې د پښتنیا دم ذهن د هغو د منلو څخه کړ انکار کوي او نه پوهېږي چې په دغه ځای کې دغه کار څنګه سرته ورسیده . په دغو کیسو کې د هیروګانو ځینې کارونه معجزو ته ورته دي . د دغو کیسو او د استانونو په لوستلو سره سړي فکر کوي چې ګوا کې په کومه بله داسې نړۍ کې دي چې یو لږ څه زموږ څخه لرې او بېله ده . ولې بیا هم هغه زموږ خپله نړۍ ده . دغو کیسو او داستانونو زموږ سره نیکۍ او بدۍ د ښکلا او بدرنګۍ په پېژندلو کې پوره مرسته کړې ده . تاسو به داسې کیسې او د استانونه لوستي وي چې په هغو کې د کوه قاف یادونه راغلې وي او د پېریانو د پو یانو ښاپیریانو تعجب آوره کړه وړه په کې بیان شوي وي . تاسو به ځینو نورو کتابونو کې دا هم لوستي وي چې

ACKU

سړي په قالبونو کښېوړ د سیندونو، بحرونو، او غرونو څخه تېرېږي، یا دا چې داسې راتجه په سترګو کوي چې په محکمه کې د تولو پټو خزانو پټه ورته لګېږي. په همدې ډول ځینې نورې د پټه ورته کېږي او داستانونه به موهم لوستي وي. څه وخت چې دا ډول داستانونه او کیسې لیکل کېدې هغه وخت نه الوتکې وې، نه موټرونه وو او نه خلکو ته د فن ورځې په شان تر معکې لاندې کانونو پټه وه. په دې بربسېره دوی د فن ورځې په شان په دریا بونو باندې د پلونو په جوړولو باندې هم نه پوهېدل. ولې دوی د خپلو راتلونکو کارونو پېو خوبونه لیدل. همدغه خوبونه ارمانونه ووچې انسان ته یې د فن ورځې ابتکارونو لکه الوتکو، کښتونو، موټرونو جوړولو او کانونو را ایستلو ته په ژوند کې عملي جنبه ورکړه. که چېرې د انسان سره دغه تصورات خیالات نه وای او دغه کیسې او داستانونه یې نه وای او رولی نو د دوی دماغ به هم د دومره غورو فکرکولو سره عادت نه وای موندلی. همدغه چرتونه او فکرونه وو چې بالاخره یې انسان ته د دې توان ورکړ چې خپل خوا هشات او غوښتنې په کرسره کښېنوي. زموږ د دغو او سنیو ادبي ډولونو جوړېښت وار دواره نه دي شوي، بلکه په همدغو کیسو او داستانونو باندې بنا او د اوسنی تولنیز ژوند د پوهې او شعوري اګاهانه درک په مرسته یې د ځینو صیقلونو، پرېښو د نوزیاتونوله کبله یې او سنی ډکا ملتره بڼه غوره کړي ده. دغه بڼه د وخت او زمان د اړتیا توغوښتنه وه. په بل عبارت څومره چې زمانه پرمخ تله په هغه اندازه د انسانانو ذهن انکشاف او وده موندله او علوم پرمختګ کاوه. نوي نوي انکشافات را منځ ته کېدل. دغو انکشافاتو او د علومو پرمختګ نورنو انسان ته دا اجازه نه ورکوله چې په هسې خبرو باور وکړي د پریانو او شاپېریانو خبرې اترې په هر ځای کې بیان کړي او د خیال په وزرو د کوه قاف نه هغې خوا ته تېر شي. د نیا ورځ په ورځ ماشیني کېده. تخنیک پرمختګ کاوه. د ژوند ساحه تنګه شوه. وخت ورځ په ورځ ارزښت پیدا کاوه او کارونه تخصصي کېدل. د اوږدو داستانونو لوستلو نورنو د خلکو حوصله تنګه کړه. دغې وضعې په اروپاکې ځینې لیکوالان د دې ته مجبور کړل چې د لنډو داستانونو په لیکلو پیل وکړي. عکسه چې نور نو چا دومره وخت نه درلود چې اوږده داستانونه او ناولونه ولولي. د همدې کبله وه چې لنډه کیسه په اروپا کې تر موږ اوږد تاریخ لري.

په پښتو ادب کې لنډه کیسه تقریباً د نوي وخت پیدا وار ده او د شلمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې پیدا شوه. دا هغه وخت دی چې په لره (کوزه) پښتونخوا کې هرېخوا ته ظالم منجاوز انګرېزي استعمار او استعمار ځپلي ځنبې کړې وې او غو ښتل یې

چې په هره توګه او هر ډول چال او نیرنګ سره چې کېږي په پښتنو او لسپا ندې خپل تسلط ټینګ کړي ، کلتوري ، اقتصادي ، سیاسي او تاریخي پانګه او شتمني یې ومروړي ، ترڅو په دې توګه سره وکولی شي په اسانۍ سره خپلو شومو اغراضو ته ښې غزونې ورکړي. ولې د دوی دا خوب او خیال ، که د هنر په نوروبو خوکې څه نا څه رېښتینی شو ، خو – بالمقابل په دغه منطقه او ځای کې یې کرټ غلط تعبیر او معنی ورکړ .

د شلمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې په صوبه سرحد کې د انګریز استعمار د – ظالمانه کړنو ، پیو ، نیرنګونو او فریبونو په خلاف د ازادۍ سخته مقابله روانه وه . ځوانان د هیواد ساتنې پالنې او ننګ ناموس په ډګر کې یو تربله د مخه کېدل . – دوی د خپل غیرت او پښتنې ننګ په ځای کولو او د تاریخ په اوږد جریان کې د خپلو تېرو اسلافو د هیواد او ازادۍ ساتلو په لاره کې د پښتنې هوډ په بنا یا دونو بېیا – تازه کولو په خاطر په سیالۍ سره سرونه ورکول . او بندیخانې یې قبلولې . د دغه – وخت په پښتو ادب باندې سیاسي روانو تحریکاتو په تېره بیا خدایي خدمتګار د ډېر – زیات او ژور تاثیر شیندلی وو . د دغه تحریک په بنا په پښتو ادب کې په نوي متر قي رنګ کې ډېرې په زړه پورې ادبي پانګې پیدا شوې . دغه تحریک د خلکو تیاره اذهان روښانه او دوی ته یې د هیواد پالنې ، یو موټې کېدو او په خپل ځان باندې د اتکا روحیه ورکړه . د استعمار او بردیو د دسیسو نه یې د چال او نیرنګ تورې پردې پورته کړې او زیاتې – ویو سته چې استعمار په خپله اصلي څېره او بڼه کې خلکو ته وروپېژنی . خدایي خدمتګا رو – په برا خه پیما نه خپله دنده او د وخت د شرایطو سره خپله فریضه په ځای کوله . د – خدایي خدمتګا رو مبارزې ډېر غوره ادیبان او لیکوال هم وروزل . دوی په ادبي – سیاسي او اجتماعي برخو کې په زړه پورې اثارونه وکړل . ځینو لیکوالو او ادیبانو – د لنډو کیسو په قالب کې د خلکو غوښتنې ، د ژوند ننګرتیاوې د او لسونو نا وړه دودونه او د بډا خو پښتنو پرګنو دغه آوازچې د استعمار په مقابل کې ټول سره یو موټي شي – او د ښمن ته خوله ما توونکی ځواب ورکړي منعکس کړ .

په لسره پښتو نخوا کې پښتو ته لنډه کیسه د نورو ژبو په څېر په سکه سېخه – توګه د انګریزي څخه داخله نه شوه بلکه د اردو ژبې څخه ورته راغله . دغه وخت په – اردو ژبه بر یم چند ځینې لنډې کیسې لیکلې . په دغو لنډو ځینو کیسو کې د ازادۍ تحریک او د پردي استعمار او ظلم زیاتې څخه د ځان خلاصون موضوعا تو ته پوره برخه ورکړ شوې وه .

په پښتو خوږه ژبه کې هغه چا چې د لومړي ځل له پاره د لنډې کیسې د لیکلو له پاره قلم ته ګوتې کړې، هغه د پښتو ژبې مشهور ادیب غوره لیکوال او شاعر مرحوم استاد سید راحت زاخیلی دي. د راحت صاحب لومړۍ لنډه کیسه کوچنۍ نجلۍ نومیږي. نوموړې خپله دغه کیسه په ۱۹۱۷ ع کال کې ولیکله. دغه کیسه د کیسې د فن له مخې دومره پخه ده چې د هغې په لوستلو سړی ته دا فکر ور پیدا کیږي چې ګواکې ادبي دغې نوعې په پښتو کې پوره او زړه تاریخ تیر کړی دی.

راحت صاحب په خپله دغه لنډه کیسه کې د خپل چاپیریال د خلکو ورمدودونه او ظالمانه کړه وړه په ښه توګه څرګند کړي دي. ده دا هم په ګوته کړې ده چې ښکلې ښځې د انسان د نورو د نا روا خوا هشا تو او ناوړه آرزوګا نو قربا نۍ کیږي. په دغه کیسه کې استاد د خپل وخت چاپیریال په نا وړه غیرعا دلا نه کړو وړو په خلاف قلم را پورته کړی او هغه یې تکولی او ټکنده کړي. د استاد د راحت دوهمه لنډه کیسه شلیدلی پښه نومیږي. ده دغه کیسه په ۱۹۱۹ ع کال کې خپره کړه. د دغه پوه د پېوړي بلې لنډې کیسې نوم د شریف خان شیخی دي. په دې برسېره لیکوال نورې پېړې لنډې کیسې هم لیکلې او خپرې کړې دي. دي په دغه برخه کې د پېړو آثارو څښتن او په پښتو کې د دغې لارې لومړی مشعل لګوونکی دی. په دې پسې او تر ده وروسته نورو لیکوا لو او ادیبا نو هم د ادب په دغه نوعه ګوتې پورې کړې. د ادب دغې نوعې لکه څنګه چې په نورو نړۍ کې په بېړه سره لوستونکی او خو ښیدونکي پیدا مو ندل د لته یې هم زر زر ډېر خپل اثر وښیند. هر څومره چې موږ د پښتو لنډو کیسو د مبدا ته مخ پرګښته را شو او په دغه برخه کې خپله ژوره مطالعه پرمخ بوزو په همغه اندازه به په دې حقیقت وپوهیږو چې په پښتو ادب کې لنډه کیسه د خپل ارتقا یې پړا و خواته ځي. او س مطلوره پښتو نثر کې د ادب د دغې نوعې زیات فني لیکوا لان او علاقمندان شته. د ځینو پښتنو ته په ځان ها ور او اتکا په ځینو نورو کې د اصلاح او اخلا قي کمزوریو او نیمګړ تیاوو د سمون څرګند مطالب ځای شوي دي. ولسي ځینو نور بیا په خپلو لنډو کیسو د پردیو استعما رچیا نو ظا لما نو پر ضد پښتنو ته دغه خبر دا ری چې ((پا یه بو کیږو که ورکیږو)) ځای ورکړي دي. ځینو بیا د دا خلي غیو یا لا نو سرمایه دارو د پردیو په لاس ناوړه ولاړو نوکرا نو او استعما رچیا نو سره د مبارزې روح او کرکه په ډېر مهارت سره په خپلو لنډو کیسو کې ځای کړی دی. او س په لره پښتو نخوا کې پښتو لنډې کیسې په عمومي توګه سره ریالیستي بڼه غوره کړې او په دغه لاره پرمخ ځي نن ورځ په لره پښتو نخوا کې د

ACKU

د پښتو لنډو کیسو بته تر بل هر وخت څخه ډیره غــــوره د ه.دد ي خبرې څخه زموږ په عا مه توګه سره د ي نه په خا صه توګه ۰

هلته لنډ ې کیسې اوس د شکل او فورم او همدارنګه د غا یې او مضمون له مخــــې د نړ ۍ په او چتو کیسو کې را ځي ۰ هره کیسه د پښتوژبې د لوړ ادب او ترقــي فکــر څرګند ه نما یند ګي کوي ۰ د لنډ ې کیسې لیکلو په برخه کې زموږ د پښتو نملیت د هغې برخې لا ندینې کسان چې هر یوه یې په دغه فن کې په مختلفو موضوعا تــو په زړه پورې لیکنې کړ ې او د پښتون قوم د ټولنیزژوند یو اړخ څرګند کړ ي دي د زیا تي یا د ونې وړ دي :ــ عبدالــخا لق خلیق ــ فضل حق شیدا ــ ماسترکریم عبدالکریم مظلوم ــ عبدا له جان اسیر ــ اجمل ختټک ــ رضا همدا نی ــ صاحب زاده محمد ادریس ــ نادرخان بزمی ــ مهدي شاه مهدي ــ قلندر مومند ــ سید رسول رسا ــ ارباب رشید احمد ــ همیش خلیل ــ ګل افضل خان ــ مراد شینواري ایوب صابــــر ــ عبدا له جام مغموم ــ اشراف حسیـــن احمد ــ سر دار خان فنــا افضل رضا ــ سا غر افریدي ــ طا هر اثــر افریدي ــ ایا ز دا ود زي ــ جان محمد زلمی ــ محمد اعظم اعظم ــ ډا کتر حسن خا ن سوز ــ اطهر سحرا یی ــ سحرسو بانی هما یومن هما ــ را قم الحروف عبدالکافی ادیب ــ زیتون با نو ــ سیده قا نته ــ سیده نا زجا وید ــ شمیم او دا س نور ۰۰۰

د دغو لیکوا لو لنډ ې کیسې ځینې په ټیټ او پرك توګه او ځینې نورې بیا د یوې ــ مجموعې په توګه خپرې شوي دي ۰ د مجموعې په توګه د دغو لا ندنیو کسا نـــو ځینې لنډ ې کیسې چې تر اوسه پورې خپرې شوي دي دا دي :

کجري د قلندر مومند ــ لا له ګلو نه او نشان د مهدي شاه مهدي ــ رنګا رنګ ګلو نه د سید رسول رسا ــ کبري د صا حب زاده محمد ادریس ــ خوږ ژوندون د ــ خلیق ــ انګا زې د ارباب رشید احمد ــ چا رګل د همیش خلیل ــ شینډ ي ګل د ــ اشرف ــ لښی د محمد اعظم اعظم ــ لمبې د هدایت اله ختټک ــ دبی بی نورې په نوم لیکو نه د زیتون بانو ــ خواږه ترخه د عبدا له جان مغموم ــ پښتو افسا نې په ارد و ژبه د ښا غلی رضاهمدا نی د ځینو کیسو ژبا ړه ۰

په افغا نستان کې پښتو ته لنډه کیسه د شلمې پیړ ۍ د لومړ ۍ خلوریې په ــ وروستیو کلو نوکې را غلی ده ۰ دا هغه وخت دي چې دلته د ویښو زلمیا نو نهضت په خپل ټول قوت او جوش خروش سره روان و ــ دغه نهضت په خپل وخت کې دد ي ــ

هیواد د پراخو برګو د ګټو په خاطر په بوره ایما نداري . او سربښندنې سره خپله دنده سرته رسوله . دوي د افغانستان خلکو ته د سیاسي فکر ورکولو او خپلو حقوقو ته متوجه کولو په برخه کې پوره پوره کارکړي دي. دد ې نهضت غړي د افغانستان د پېر تکړه لیکوالان په هیواد او هیوادوالو مین شاعران او د سیاسي پوهې درولودونکي کسان وو . دوي د افغانستان د خلکو له پاره د ژوند په هره برخه کې په زړه پورې لیکنې کړي دي . په دوي کې ځینې کسانو خارجي هیوادونو ته تللي او لیدلي وو په نورو ژبو پوهېدل او په خارجي ژبو کښې د مطالعې سره پوره بلدوو . دغه کار ددې سبب شو چې پښتو ژبې ته د ادب ځینې نوې نوعې دا خلې شي . ترکومه ځا یه پورې چې ما ته معلومه ده دلته د لنډې کیسې ادبي نوعه دلرې پښتو نخوا په خیر دارد ونه ده را غلې بلکه سکه سیخه د انګریزي نسه ورته را ننوتلې ده . کله چې موږ دلته په پښتو کې د لنډې کیسې په تاریخي سیر با ندې نظر اچوونو وینو چې په لومړي سر کې د ادب ددغې نوعې پرمخ تګ ډېر بطئ دي . ولې په را وروسته کې د ادبي دغې نوعې زیا ت لیکوالان پیدا شوي دي چې ښا یسته زیا تې لنډې کیسې یې په پښتو کې لیکلې دي . دا سې معلومېږي چې هرڅا چې د لومړي ځل له پاره دلیکوالو په نیت قلم پورته کړي نو د لنډې کیسې په نوم یې هرڅه په هر ډول او هرې خوا ته چې زړه غوښتي یې جلبه آس زغلولی دي . دوي په دې پسې سرنه دي ګرزولي چې لنډه کیسه هم کوم خاص ادبي ځانګړي اصول او قواعد لري که نه . د همدغو نه معلوما تو لرلو د کبله ده چې دلته د پښتو لنډې کیسې څه نا څه بې خونده شوي . په دوي کې ځینو کسانو هغه څه چې باید د کیسې په پای کې را ډېر ل شي حتی په عنوان کې راوړي ، چې دغه کار ددې سبب شوي چې لوستونکي یوازې د کیسې د عنوان په لیدلو سره بسنه کوي او د ټولې کیسې تر پا یه پورې د لوستلو له پا ره کوم حا جت نه پا تې کېږي . ځینو نورو بیا هغه څه چې لوستونکي باید په هغو با ندې د کیسې د متن لوستلو په لړ کې پرې پوه او بدرګه شي حتی د کیسې په لومړیو څو کرښو کې را وړي چې دغه کار هم په خپله د ادبي دغې نوعې د فني خوا وو سره دلیکونکي اشنا یې نه درلود لو له کبله را پیدا شوي او د کیسې د لوستونکي علاقه یې د هغې سره کمه کړې ده . لنډه کیسه یو ادبي نثر دي . د ادبي نثر په باید ډېره خوږه جملې یې روا نې کلمات یې یو له بله سره تړلي او الفا ظ یې غوره وي . د بده مرغه چې زموږ د پښتو یو شمیر لنډو کیسو لیکوالا نو لیکنې د دغو او دا سې نورو او صافو نه تشې دي . دغه تشې وا لی د پښتو او سنیو ځینو کیسه لیکونکو د کیسو کیف



ACKU

او خوند د منلو وړ دی . په دې بر سیره پوښمیر نور لیکوالان په خپلو لنډو کیسو کې خپل طرز تفکر نغښتی توګه نه بلکه په څرګنده او په زوره سره په خپلو هرو وړو کیسو کې ځای کړی دی چې د لنډو کیسو د لیکلو د اصولو په چوکاټ کې د غه کار ته بیخي ځای نه شته . دوی باید خپل هدف او مطلب په کیسه کې داسې ونغاړي چې لوستونکی د کیسې تر پایه پورې په هغه پوه نشي او په پای کې په خپله د اصلي روح تر تاثیر لاندې راشي او هغه ومني . دا او داسې نورې ډېرې نیمګړتیاوې زموږ د پښتو ژبې د لنډو کیسو په شکل او مضمون کې شته . زه یوازې په همدغو یو څو یا دوو باندې همدلته بسنه کوم . هیله کېږي چې د پښتو لیکوالان به په دغه برخه کې پوره مطالعه وکړي او بیا هغو باندې په پوهېدو سره به زموږ د ژبې د ادبي دغې نوعې نیمګړتیاوې لرې کړي دغه یا دونې د دې معنا نه لري چې ګواکې دلته د پښتو لنډو کیسو غوره او وتلي لیکوالان نه شته . په افغانستان کې د پښتو لنډو کیسو په زړه پورې لیکوالان شته . دوی هر یوه په دغه برخه کې چوپړ د زیاتې قدردانۍ وړ دی . د مثال په توګه ترکی، سلیمان لایق، سید احسان الله ځیر، عبدالله بختانی، کبرا مظهري، ژواک، افغان پور، او داسې نور هغه کسان دي چې په خپلو پښتو لنډو کیسو کې یې زموږ د ټولنې د ناخوالو ناوړه دودونو او کړو وړو په زړه پورې انځورونه کښلي دي . د ترکي د غوايي لاندې تر سرلیک لاندې کیسه د کابل مجلې په ۲۸۰ ګڼه کې خپره شوې ده . د نوموړي د بزګر لور او یو شمېر نورې — کیسې هم په کابل مجله کې خپرې شوې دي . د نوموړي په کیسو کې زموږ د ټولنې نیمګړتیاوې منعکس شوي دي او د وخت د ظالمو حکومتونو او نیو د الانو څېره ښودلې ده .

د سلیمان لایق ګډې نوې کیسه په ۱۳۵۱ کال کې د وږمې مجلې د سلواغې او کب میاشتې په ګڼه کې خپره شوې ده . دغه کیسه په رښتیا هم چې د پښتو لنډو کیسو یوه په زړه پورې غوره نمونه ده . دغه کیسه هم د شکل او هم د مضمون له مخې ډېره ښه ده . د کیسې نثر د ادبي نوعې له پلوه ډېر ښکلی او مطلب په کې په ډېره ښکلې توګه ځای شوی دی . کله چې سړی د کیسې په لوستلو پیل کوي نو بیا د دې موقع نه ورته پیدا کېږي چې سر دې ترې پورته کړي . نوموړی پښتو پیاوړی شاعر او لیکوال هم دی . بله لنډه کیسه لامبوزن ده چې د هره پلوه یوه په زړه پورې غوره کیسه ده . همدا رنګه یو شمېر نورې لنډې کیسې هم لیکلي دي چې د هېواد د مطبوعاتو په مختلفو خپرونو کې چاپ شوې دي .

د سید احسان الله هیر د رنځور په نوم اثر کې د پښتو څو لنډۍ کیسې خپرې شوې دي . دغه کتاب د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی . د کتاب هره لنډه کیسه موږ ته د خپل وخت د ظالمانو او مفتخورو له مخې پرده پورته کوي، د نومړي په لنډو کیسو کې د دې هیواد د مظلومو او بې وزلو کسانو څېره د وخت د ټولنیزو نادودو سره له ورایه ښکاري .

په پښتوکې د لنډو کیسو یوه بله مجموعه د پښتنې پت په نوم د عبدالله بختانی ده . په دغه کتاب کې د محترم لیکوال ډېرې غوره لنډۍ کیسې راټولې شوې دي . د نومړي د زوړ حاکم کیسه د پښتو د غوره لنډو کیسو څخه شمېرل کېدای شي . د ده نورې کیسې هم ډېرې خوږې او د پښتو ژبې په زړه پورې پانګه ده. د توان وروستۍ شپې تر سرلیک لاندې د ژواک لنډه کیسه هم ډېره غوره او زموږ د لنډو کیسو یوه ښه نمونه ده . د افغانیور کیسې هم په پښتو ژبه کې ښه مقام لري د کبرا مظهري لنډو کیسو د پښتو ژبې ادبي پانګه شتمنه کړې ده . د ارمان په نوم د قتیل خوږیانی د لنډو کیسو یو کتاب هم خپور شوی دی، په دغه اثر کې قتیل صاحب څو لنډۍ کیسې یو ځای خپرې کړې دي . د لنډو کیسو د لیکلو په لړ کې د نومړي دغه کار هم د قدر وړ دی .



ACKU

زرین انځور

# غلام محی الدین افغان

## او په سراج الاخبار کې د یوه شعر په باب څرګندونه

مولوي غلام محی الدین افغان شاعر و لیکوال وعالم و استاد و او د دې په څنګ کې هغه د وطن یو داسې قدرمن شخصیت وچې د مشروطه غوښتنې (دلومړی) غورځنګ د لومړنیو هلو ځلو ویاړ ورته د نورو ملي او مترقي مشروطه غوښتونکو په څنګ کې ور بـه برخه دي ۰

((سـراج الاخبار افغانیه)) په حقیقت کې د خپل وخت د دغو مترقـي او آزادي غوښتونکو افکارو یوه خبرونه وه او غلام محی الدین افغان د سراج الاخبـار یو لیکوال و او یو شاعر داسې لیکوال او شاعر چې لیکنې او شعرونه یې د نهضت دېیاوړ تیا له پاره سخت اغیزمن شول او د پښتو ژبې او ادبیاتو له پاره یوه ګټور ۰ افغان په ــ دغه نهضت کې د ستر ې ونډې لرونکې وېنه لومړنی مشروطیت کې د دویم مشروطیت پـه سلسلو کې او د هغه کلـب په جوړیدو کې یې به څرګنده یوه تفریحي او ذوقي بڼه لرله خو په حقیقت کې یې سیاسي هلې ځلې تنظیمولې (۲)

سراج الاخبار د دغه ډول فعالیتونو یوه نمونه ده په هغه وختو کې په سراج الاخبار کې مولوي غلام محی الدین افغان د یوه ځانګړي دریځ لیکوال او شاعر دي همدارنګـه د پښتو ژبې او ادبیاتو په برخه کې د مولوي صالح محمد خان مستغني عبدالهادي ــ پریشان (داوي) عبدالرحمن لودین او نورو د نومونو د یادونې وړ بریښي او د غـو تولو هر یوه په خپل خپل ځای کې د مطبوعاتو له لارې خپلې ژبې او د خپلې ژبې شعـر او ادب ته جوبړ کـړي دي ۰

---

(۱) د بشیر و معلوماتو له پاره وګورئ!
جنبش مشروطه خواهی در افغانستان سید سعد الدین هاشمی (اثر علمی) د کابل ــ پوهنتون کتابتون ۱۳۵۴ ش د لومړي او دویم مشروطیت فصلونه



ACKU

دلته که له نورو خبرورا تیر شو د ((سراج الاخبار افغانیه)) د یوه مشهور پښتو شعر په باب خبروته را گرځو ۰ یوه دا سې شعرته چې باید دگېل شوي شاعر (غلام محی الدین افغان) په هکله یې یو بیا عملی نظر وشي ۰ او را ځو په دې باب د خبرو تفصیل ته :

سراج الاخبار افغانیه په یوه گڼه کې دغه پښتو شعر چاپ شوي وي :

شکر شکر باغ موخېل باغبان موخېل دي
گل موخېل بهار موخېل بوستان موخېل دي
سرو خېله بلبل خېل چمن موخېل دي
لاله خېل ارغوان خېل داما ن موخېل دي
نشه خېله خمار خېل بیا له موخېله
بزم خېل ساقي موخېل دوران موخېل دي
کلي چېل بازار موخېل وطن موخېل دي
زمکه خېله رود موخېل دهقان موخېل دي
شه موخېل گدا موخېل قاضی موخېل دي
سپه موخېل رعیت موخېل دیوان موخېل دي
غل موخېل قاتل موخېل مقتول موخېل دي
عسس خېل مفتي موخېل زندان موخېل دي
پردي نشته گردمخېل یو شکر بس وکی
ملک خېل افسر خېل سلطان موخېل دي
شکر شکر بېگانه په میان کې نشته
مدیر خېل اخبار موخېل دوران موخېل دي
عجب عصر دي افغانه نظر وکه
زړه خېله قلم خېل بیان موخېل دي(۱)

لکه چې لیدل کیږي د شعر په مقطع کې ((افغان)) راغلی دي او دهمدې نوم پاتخلص پر بنسټ د محققینو او لیکوا لو له خوا دغه شعر دیپا وړي شاعر غلام محی-

---

(۱) سراج الاخبار ۱۲۹۳ هـ ش کال د میزان ۱۲ (۹) م ۰

غلام محی الدین افغان گڼل شوي دي ۰ دلته د یو څو هغو آثا رو یا دونه کوو چــــی شعرېه کې د غلام محی الدین افغان گڼل شوي دي او بیا به خپل هغه دلایل راوړو ـ چې د هغو پربنا با ید شعر د مولوي صا لح محمد خان وگڼل شی نه دغلام محی‌الدین افغان :

۱ـ(د پښتو ادب لنډ تاریخ )) په نا مه په تدریسی یا دد ښتونو کی د غلام محی الدین افغان په باب د خبرو په لړ کی دغه یاد شوي شعر د نوموړ ي گڼل شوي دي ـ هلته لیکل شوي :

(( ۰۰۰ په ۱۳۳۲ هـ ق کال ده یو شعر ویلی دي چی د ازادۍ او ملیت‌خصوصی جـنډ به لري ۰ دي له هندوستان‌نه چی د انگریز ا نو تر اسارت لاندې وخپل وطن ته راستون شو دلته که څه هم خارجی استقلال موجود نه و مگر د افغا نستان خلکو دا خلی چارې په خپل اختیار کی لرلی ۰ ده دغه حال غنیمت وباله او شکر یې پر کا وه مگر د ـ افغا نستا ن د کا مل استقلال له پاره یې هم ددې ځاي له نو رو منو رو خلکوسره یو ځا ي کو ښښ‌شروع‌کړ او دخپلی سعی نتیجه یې هم د افغا نستان د استقلال په اخیستلو کـی ولیدله ا و له دنیا څخه ولا ړ ۰ دي په یوه غزله کی دغه حال داسی بیا نوي :

شکر شکر با غ‌موخپل با غبان موخپل دی

گل موخپل بهارموخپل بوستان موخپل دي ۰۰۰(۱)

۲ـ ((دپښتو معا صرو ادبیا تو تا ریخ )) په نا مه اثر کی هم دغه شعر د ـ دغلام محی الدین افغان گڼل شوي دي ۰ په دغه اثرکی یو ځاي کښل شوي :

(( ۰۰۰ دلته دده د شعر هغه نمونه را وړو چی د افغا نستان د ازادۍ ـ اخیستلو څخه ( ) یې ویلی ده (

شکر شکر با غ‌موخـــــــپل با غبان موخپل دي ۰۰الخ ( ۲ )

۳ـ (( دپښتو ادبیا تو تاریخ اوسنی دوره )) په دغه کتاب کی هم یو ځاي داسی لولو :

(( ۰۰۰ افغان د افغا نســــــتان د پښتو ې خپلوا کۍ له پاره د نو رو منوروا و وطن دوستو خلکو سره څنگ په څنگ هلې ځلې او کو ښــښ‌کړ ي او د زیار او کو ښــښ

---

(۱) دپښتو ادب‌لنډ تاریخ پوها ند عبدالحی حبیبی (تدریس یا دداشتونه )۰ د ـ ادبیا تو او انسا نی علو مو د پوهنځی خپرونه ۱۳۴۷ ش‌کال ( ۲۳ـ۲۲) مخ

(۲) دپښتو معا صرو ادبیا تو تا ریخ پوهنمل ظا هرعلمی ، د پوهنتون مطبعه ۱۳۵۷ ش ( ۱۹ ) مخ

نتیجه یې د افغانستان نخپلواکۍ او استقلال اخیستلو په برخه کې په خپل ژوندلیدلی ده . په دې باب د ده یو شعر د سراج الاخبار د څلورم کال په دویمه ګڼه کې خپور شوی دی . په دې ډول :

شکر شکر باغ موخپـــــل باغبان موخپل دی ...الخ (۱)

۲ـ دوکتور روان فرهادي په خپله هغه لیکنه کې چې (( خدمت سراج الاخبار در پیشرفت پښتو )) نومیږي د دغه زموږ د بحث لاندې شعر په یوه برخه کې تصحیح کړې او د مولوي صالح محمد خان یې ګڼلی ده نو د همدغې مقالې په یو بله برخه کې یې بیا همدغه شعر د غلام محی الدین افغان ګڼلی دی (۲)

دلته په جوته توګه د دې خبرې ګول لازمې ګڼل کیږي چې په سراج الاخبار کې دغه چاپ شوی شعر د مولوي صالح محمد خان دی نه د غلام محی الدین افغان او په ځینو آثارو کې یې د غلام محی الدین افغان ګڼل یوه تیروتنه بریښي . (۳) او دا هم په دغه برخه کې زموږ راغونډ شوي دلیلونه ا :

۱ـ په (( سراج الاخبار افغانیه ))[1] کې چې دا شعر خپور شوی دی نو په څرګند ډول ورته د چا بشپړ نوم نه دی کښل شوی خو د شعر په پای کې داسې لیکل شوي دي :

(( جمعه نونسمه د کچنی اختر ۱۳۳۲ ق ))

(( ص ـ م ))

په سراج الاخبار کې د ((ص ـ م )) په لیکلو او چاپیدلو سره سړي ویلی شي چې دا شعر باید د ( صالح محمد ) وي . په نورو جریده کې د مخففونو سونو اوتورو لیکل خونو رخا یه هم لیـــدل کیږي .

۲ـ د سراج الاخبار لومړنی پښتو شعر هم د مولوي صالح محمد دی د هغه شعر یو څو بیته دا دي :

---

(۱) د پښتو ادب لنډ تاریـــخ ـ او سنۍ دوره . پوهندوي ډاکټر زیور د کابل پوهنتون مطبعه ۱۳٦۰ ش ( ٦۹) م .
(۲) پښتو چاپي آثار . (په دوو وروستیو پېړیو کې د پښتو د چاپ شوو آثارو سپیناړ د مقالو مجموعه ) ۱۳۵۷ ش کال چاپ د دوکتور روان فرهادي مقاله(د خدمت سراج الاخبار در پیشرفت پښتو )
(۳) لیکونکی د کابل مجلې د ۱۳۵٦ ش کال د لومړۍ ګڼې په ( ۱۰۱ ـ ۱۰٦ ) مخونوکې په سراج الاخبار یوه مقاله لیکلې وه هلته دغه شعر د مولوي صالح محمد خان ګڼل شوی ولــه له خپریدو وروسته زما ځینو ملګرو او ادبي دوستانو پر ما انتقاد وکړ چې دغه شعر ولې د مولوي صالح محمد خان ګڼل شوی دغه اوسنۍ لیکنه هم د موضوع د بشپړې څرګندونې لپاره لازمه وګڼله شوه .

دا څه عجب دوران دي | چې راغلی پر افغان دي
رنګا رنګ ترقی دي | څه عجب محبوب عنوان دي
ته سراج اخبارته ګوره | چې د ملك په تن کی جان دي
ته یې مدیر صاحب ته ګوره | محمود بیګ طرزي افغان دي
ښه شیرینه پښتو واوره | چې مضمون یې ډیر اسان دي ...الخ (۱)

دا ډیره اوږده دعا ئیه قصیده ده او (۲۷) بیته کیږي . دغه قصیده او زموږ د بحث وړ شعر د مضمون له پلوه ډیر ورته وا لی لري ورته څیر شئ د یوه مضمون لرونکی دي چې باید د یوه شاعر یا ناظم د ذهن او قلم محصول وي .

۳ــ د افغان د تخلص په هکله هم یوه موضوع د یادونی وړ ده په دې تو ګه چې د دغه شعر په پاې کی د ((افغان)) د نوم یا تخلص لیکلو او چاپېدلو داسی فکر پیدا کړی دي چې ګوندې شعر به د غلام محی الدین افغان وي ځکه چې د مولوي صالح محمد خان تخلص ((افغان)) نه و . خو لکه چې لیدل کیږي مولوي صالح محمد هم کله کله په شعرونو کی خپل ځانته ((افغان)) لیکلی دي . له یاد شوي شعر څخه چې را تیر شو عینی نورې بیلګی لرو چې هم پکی د افغان تخلص راغل شوي او هم ــ ورته بیخی په څرګند ډول لیکل شوي دي چې شعر د مولوي صالح محمد دي . د سراج الاخبار د څلورم کال په اته ګڼه کی داسی راغلی دي :

غزل افغانی کلام صالح محمد خان از معلمان مدرسه حبیبیه

(دصندلۍ غزل)

په کابل کی چې اوسیږي بار بوږي دصندلۍ
که له لوږي هلا کیږي غم به خوري دصندلۍ
که دې څه هم دستار نوي او په پښو دې پیزار نوي
خو را ښه او لوي تلتك به رغوي دصندلی
که دې څه خونه کوچنۍ وي لویشت پعلو پښتهدا ګګۍ وي
لرپه لرکی لوي نخري به جوړ وي دصندلۍ
له اوله به د قوس ترا خره د حمل
پنځه میاشتی به کامل تعظیم کوي دصندلی

(۱) سراج الاخبار ۱۲۹۳ ش کال د اسد (۲) ګڼه
(۲) سراج الاخبار ۱۲۹۳ هـ ش د قوس (۲۷) ګڼه (۲ــ ۵) م م

شکوه مه کوه افغا نه صندلی عظیم نعمت دي

څه بنه خوند که تو دي شپی او مرکی دصندلی (۱)

په همدي توګه د سراج الاخبا ر په یوه بله ګڼه کی هم دا سی یوه نمو نه ، ده چی شعر ته په پاي کی د ((صالح محمد )) نوم لیکل شوي دي او هم یی په مقطع کی د افغان تخلص را غلی دي . د دغه شعر یوا زې یوه لنډه برخه لیکو :

ته زلفی د یا رمشك وعنبر بولی په دا چین کی به خطا کوي ترکمه

یا چی شونډي د یا رلعل ویاقوت بولی ـ روانه کی ناروا کوي ترکمه

بیا می مخ د دلبر شمس وقمر بولی په تخمین به دا سو دا کوي ترکمه

لمر په دووګو توهیڅ نعدي ترکمه کړي ـ ته به دا د حق اخفا کړه ترکمه

را شه را شه سترګی زموږ ه بیدا رشه ـ د نرګس په تماشا کوي ترکمه

نه څوك غو ږ ه نه په پند اخلی افغانه ـ چپ شه ته به دا ویناکوي ترکمه (۲)

۴ـ د سراج الاخبار په یوه ګڼه کی پر همدغه زمونږ تر بحث لا ندي شعر د میرزا عبدالرحیم له خوا یو مخمس هم جوړ شوي اوچاپ شوي دي . یوه برخه یی دا سی ده :

ږ یرتنا د خیبل مو لا کوم چی او طان م اخیل دي

که خیبر دي که کنړ دي که لمقان م اخیل دي

قند ها ر مزا ر هرات هم بدخشان م اخیل دي

شکر شکر با غم اخیل باغبان م اخیل دي

کلام اخیل بهارم اخیل بسام اخیل دي ... الخ (۳)

هلته د مخمس په پیل کی لیکل شوي : (( مخمس میرزا عبدالرحیم برغزل افغان تخلص )) څرنګه چی په مقابل کی ورسره د صالح محمد خان یو خپل مخمس چی د خو شحال خان ختك پر شعر یی لیکلی خپور شوي دي له همدې کبله یی شا ید په دوو مقابلو مخونو کی دوه ځلی د صالح محمد خان د نوم ذکر لا زم نه وي ګڼلی که شعر د غلام محی الدین افغان واي خو باید د لته یې هم په څرګنده نوم ورسره لیکل شوي واي .

---

(۱) سراج الاخبار ۱۲۹۳ هـ ش دقوس (۲۷) نیته (۲ـ ۵) م م
(۲) سراج الاخبار ۱۲۹۵ هـ ش د دلو (۵) نیته (۶ـ ۷) م م
(۳) سراج الاخبا ر ۱۲۹۵ ش (۸) سنبله (۲ـ ۵) م م

۵ـ له استا د عبدالهادي دا وي نه چې په هغه وخت کې د سراج الاخبار ـ افغانیه (محرر) و په دې هکله یو بښتنه وشوه ۰ استا د لیکونکی ته په یوه کاغذ کې ولیکل : (( زما په یاد یا ته نه دي غالباً د مرحوم صالح محمد خان شعردي ۰۰۰ ))

همدا رنګه استا د عبدالهادي دا وي لیکونکی ته خپل یو دا سې شعر هم ورکړ چې زموږ له بحث وړ شعر سره ورته والی لري ۰ د استا د دا وي د شعر یوه لنډه برخه دلته را وړم :

مسافر نه یو که څه هم لحو یه لارې — مزل خپل را حله خپله یا رموخپل دي ۰

له یا میرڅخه تمرباسه پتعباقچه‌ده — میوه خپله ګل موخپل دي‌خارموخپل دي

ما مورخپل مدیر موخپه رئیس‌موخپل دي ــ افسرخپل‌سپاه موخپل‌سا لار موخپل دي

په غوږ وکی موپرد ي ږغونه نشته — ژبه خپله بیان خپل اخبار موخپل دي

د هقان‌خپل زمیندارخپل همسایه خپل دي ـــ محکمخپله تخم‌خپل‌دي زیارموخپل‌دي

د دغو ټکو او لنډو څرګندونو په باب کی سا تلو سره باید یاد شوي شعر یانظم د مولوي صالح محمد خان وګڼل شي نه د غلام محی الدین افغان ۰ او که محترم محققین او لیکوال یا هم په دې باب د یا دونې کوم بل نظر لري امید دي چې د موضوع‌د پوره راسپړلو له پاره خپل نظر ولیکی او د پښتو د معاصرو ادبیا تو دغه د اختلاف وړټکی نور هم روښانه کړي ۰

خو له دغو خبرو او په یاد شوي مشخص شعرله خبرو چې را تیرشو باید و وایو چې غلام محی الدین افغان د سراج الاخبا ر افغا نیه په پا نو کی په پښتو ژبه دا سې خوا ږه له خوندو ډك او هڅوونکی شعرونه ویلی دي چې د پښتو معاصرو ادبیا تو د تاریخ د یوه جلاڅپرکی په جوړ یدو کی یې د نوي شعر دتحقیق له پا ره خیږونکو ته پیر موا د ور اندې کړي دي ۰

هغه دا ستاد بینوا خبره :

(( ۰۰۰۰ د افغان افکارتول نوي وو په خپلو اشعا روکی یې د وطن نوي ـ ارتیا وي څرګندولی او د مینی او محبت سندرې یې ویلی ۰۰۰ (۱) د افغان په شعرکی استفادي او اصلاحی خوا وې لیدلی کیږي او په شعرکی یې د وطن د مینی جذبات په ولولو دي ۰ (۲)

---

(۱) اوسنی لیکوال (لومړي توك) عبدالروف بینوا کابل ۱۳۴۰ (۶۸ـ۷۳)م م

(۲) دپښتو ادب په لنډ تاریخ پوهاند عبدالحی حبیبی کابل ۱۳۲۷ش (۲۳) م

د هغه د شعر او ليكو لو ړ والى په د ې كى د ي چى افغان يو عالم شخصيت و
له چى ... يو محقق ليكى هغه له زيا تو ژبو لكه پښتو فارسى عربى اردو سنسكرت او
شا ستري سره اشنا يى لرله . ( ١ ) چى دې موضوع د غلام محى الدين افغان په ــ
ذهنى اوعلمى او هنري او ادبى بيا ور تيا كى بوره مرسته كړ ې ده . په پښتا نه شعرا
كى د افغان په باب يو ځاي لو لو :

(( ... مو لوي غلام محى الدين افغان تر يوه او ږ ده ادبى علمى اوسيا سى جد و
جهد وروسته مو فق شو چى په وطن كى ډ ير فكري اوعلمى ملگري و مو مى او دخپلو نــــو
افكا رو په رڼا كى ډ ير دما غونه منـو ر كړ ي )) نو ځكه د افغا نستان د تجدد په نهضت
كى لو يه برخه لري ... )) ( ٢ )

او په ځاي كى با يد ووا يو چى غلام محى الدين افغان د هيواد يو دا سى رو ــ
ښنفكرعا لم و چى خپله ټو له بو هه يى د وطن د خلكو خد مت ته خپل شعر يى د ــ
وخت د نهضت بيا ور تيا ته اوخپلى ټو لى هلى ځلى يى د وطن د خپلوا كـــى
او ترقۍ هيلو ته وقف كړ ي وې . خپل ټول استعدا د يى د هيوا د د بجو د رو زنى ــ
ته او خپله ټو له ذهنى او فكري شتمنى يى د پښتو ژبى او ادبيا تو خد مت تـــــه
استخدام كړ ې وه . ځكه خو به د هغه ويا ړ لى يا د د تل له پاره ژو ندي وي او د هغه
نـــوم هـــــم !

---

(١) فرهنگ زبان وا دبيات پښتو " زلمى هيوا دمل " وزارت تعليم و تر بيه رياســـت تاليف و ترجمه ١٣٥٦ ش ( ١ / ٢١ ) م

(٢) پښتا نه شعراء ( دريم توك ) پښتو ټولنه ١٣٢٢ ش ( ٧٧٥ ــ ٧٧٦ ) م . م

پوهنیار لطیف بهاند

# په پښتو ادب کې نوې شعر

باغوانه

خومره هوسېږم دې تازه تازه ګلانو ته
دې نویو ګوانانو ته
ګوره اې باغوانه چې دتند ې طاقت نه لري
تاندې ډېر نازکې دي

. . . .

ساته یې خاطر ترخو چې لوې شي غوټۍ وسپړي
لاندې رېبنې وترې
مینه دچمن یې په رګوپلو کې پلنه شي
بیا ګوره توفان درنګ

. . . .

خوانه یې پلوشې او لفزې او مو ځان لرې که
دا دښمنان لرې که
پرېږده چې آزاده هوا چم دجلوې وښیې
دې ښکو ګلانو ته

. . . .

کله چې دګلو په ځېو کې چمن وخاندي
یعنې وطن وخاندي !
بیا دې زمانه په موږ هرڅه چې کوي ـ کوي .
بل ارمان به نه لرو . (۱)

۱ یا یو رتنیو کړنو ته څه وېلاې شم دا به دخندا خبره هم وي چې موږ دا یو ښتنه وکړو . مګر مخکه مو وکړه چې معینې خلك دهمدې عینې وا قعیت څخه سترګې پټوي
۱

او وایي چې د نوي (مقصد بې قافیې شعر) شعر په نامه څه شی نشته خو موږ یې وینو شته نو دا دې غواړو د هغه دي مطلب او په پښتو ژبه کښې د دې په دې په باب څه وواېو!

که د نولسمې پېړۍ د یوه ستر او پیاوړي فیلسوف دا خبره رښتیا وي چې ټولنیزه هستي د ټولنیز شعور ټاکونکې ده. نو دا هم باید پخو شه تو که ومنو چې زموږ پېړۍ کمزلونه د ستومان خوبیا ریدلې انسان د رسیدلو د پاڅید او او تکل پېړۍ ده. د هر څه بندېزونو څخه د انسان د غاړې د خلاصېدوا و په دې اکه دحق غوښتلو د نارو پېړۍ نو د دې چارو محل (انعکاس) به د هغه شاعر په پیل شوېو امیلونوکې لټهوو. چې ځان تاریخ ته د امیلونو د جوړولو مشغول وګنې. نو شعرچې د ټولنیزې زیږ نده یوه برخه ده چې د دې محل څخه لرې پاتې کیدای نشي. ځکه ټولنیز شعور (د هغه دي ټولنې چې په واک مینو وا کمنانو هغې ته د جامد یدو او یخ وهلو د پاره د طلسم تومنه وراچولې ده) محصول دي او شعر هم د اسې دي مقاله کې هم د هغه دي شعر په باب غږیږو او د معاصر شاعر رحمت شاه (سائل) هغه خبري دلته څومره په ځای دي. چې د خپل لومړنی شعري اثر په پېش کې یې د سریزي په ځای لیکلی دي (په کومه خاوره چې ماخړ پوسی (ځا پوړي) کړیدي کوشش کړي دي چې د هغې د زړه د رزا واورم. کوم اولس او کوم ما حول چې زما شعور اوذ هن ته هر څه را ښېلي دي کوشش کړی دي چې د هغه ټول څه بیرته ور وا پس کړم چې ما ته یې را کړي وو. یعنې د خپل ما حول تیاري او رڼا ګانې سلګۍ ا را دې ما یوسی او ر جا ثیت هر څه ور اندې کړم)) ۲ او د سائل د زړه د رزا څه د رزا.

ولولې

د زړه د رزا نه به
نغمې د انقلاب جوړوم
ستا د ظلمونو له کیسو نه به
کتاب جوړ وم.
حلاتوي چې مې په پته خوله
په پخو جړو
دغه نظام ته به له خپل ځانه قصاب جوړوم.

۲



ACKU

نو ویښو چې او اورو چې او وایو چې نوي شعر د نوي زماني نوي غوښتنو او نویو
را سیبړل شویو ارمانو نو نویو اړتیا ده. هغه اړتیا چې هرو مرو باید
پوره شي. چې پښتو ژبه کې دا اړتیا په شعر کې تریوي تا روغې وروسته سر را
هسکوي او خپل حالت بدلوي. د پښتو ژبې شعر وروسته له پیړۍ پیړیو
پیړیو لوړي خپله محتوا بدلوي. خپله ژبه بدلوي او دا کار یې لا پېر
ښوا کړي او هغه هم د هیواد له سیاسي استقلال څخه مخکې. او هغه هم
د سیاسي استقلال له پاره دیوې وسیلې په توګه. چې باید د ټولني ویده شوي انسان
وهڅوي خلکو ته پوه شوي ور وبښي. هغه څوك ور وبښي. چې د ده د خپه
کولو له پاره یې لا سرله لستوڼي دا ستعمار (عمر) ودانۍ په نامه را غځولي دي

افغانستان خلك زمري دي په انکار به شي

خیالات د بدو ورته مګر ه نکون سار به شي

افغانستان خلك قائم په دولت ملت دي

صبر په خپلو غرو کوي مانع د بل د ملك دي

ننګ و نا موس و ملت سا تني موشوي عين ايمان

که نزدیکت د بدو وکړي په سنك سار به شي

د پښتو ژبې شاعر څومره د ویاړ شاعر دي. ځکه هغه خرڅ شوي ندي (٤)
هغه چېه خوله نه کيني هغه د مجرد و مفاهیم ځا نګړي فردي ګټو د پاره د شعار کو کې
نه هسکوي که هغه هر څومره وپکول شي. بیا هم دادبیاتو له ځا ودانۍ
وسیلې (سمبولونو) څخه کټه اخلي. وکوري څومره ښکلي رموز شاعر بیا تراوسه
محتوا ته زیاته توجه کوي. خبره دا ده چې قالب لا زوړ دي او محتوا
معاصره:

ما څه لیدلي دي

اوربل یې ما په خوب کې پریشان لیدلي دي

ستا بخت خومي رقیبه هغه شان لیدلي دي

د ګلو ها رپه غاړه محبوبا شوه را حضوره

بلبله دا وطن مې ګلستان لیدلي دي

زاغان به پکې نه وي بلبلان به پکې او سي

باغونه به معمور وي ما باغوان لیدلي دي

د اتوره شپه به خداي کا ندي پموزړ با ندي سبا

سپین مخ مې چې سبا غوندې روښان لیدلي دي

٣



ACKU

تعبیرېی کړي مـا په ظالمانو به جبه شـی
چېه کاکل می خوب کی دجانان لیدلـی دي
مجاربه دي په پوزه شی دسرو زرو خاوند ه
په سروشونډ ياسـه می پېزوان لیدلی دي
زه پتې سترګی نه یم پـه هر څه او می پوهېږم
پـه خلاصو سترګو باندي ما جـهـان لیدلیدي
له دامـه که دي خلاص کړم په قفس کی دي ایسار کړم
صیاد ه ما خوشحورنګه زنـدان لیدلی دي
عمل چی وي ازاد او انتقاد پـه ګوبند ي وي
ماهلتـه دظلمونو سخـت طـوفـان لیدلی دي
کـه هرڅو را نه وژنی خیال اوفکرمی مه وژنه
وطن ته می په دي کی لوي تاوان لیدلی دي ( ۵ )
دپښتو ژبی په شعراو شاعري کی لومړ ي اوښتون بدلون اونوي والـــی
تولنیزدي ۰ موضوعډه اوتم اوله بده مرغه دعاطفی او احساس لږ کمی چـی
هماغه زا ړ ه او کلاسیک قالب کی معاصري‌غوښتنی ارمانونه هنیلی خیالونـه
اوتخیلات را سپړي اورانغاړ ي ۰ خوپه دي طوفانی اونه ایلید ونـکـی
بهیرکی داسی شپه را رسیږي داسی مضامین اوتر کیبونه شاعر راهستوي
چی نورنشی کیداي چه هغه دا فاعیلواونورو لرغونو بندونواوچوکاټـونـو
کـی نـه پوا زي شاعرته خوند نه ورکوي بلکه په‌هغو قالبونوکی ځاییدلاي نشی
نوشاعرمیتکراو خلاق شاعر ) شاعرپادوم دي ته اړ وزي چی‌نـه یـوازي نوي
قالب جوړ وي ۰ بلکه کیداي شی دنویوزنونویادونه او ښکارونـه هـم
وکړي او په دي نوي وزن کی چی دلرغونو وزنونو نوي کړي ده لږ آزاد ه اوخپل
واکه کړ ي ۰ باید دشعرپه نامه احساس تخیل اوواقعیت‌ووېل شی ادا شـی
لکه څنګه چی شوید ي ۰

ته دزور ظلم میراث‌یې زه دنوي عدل زیري ۰
ته دتوري شپی تیاره یی زه استازي د سحریم ۰
ته دشګو ودانې یـی زه بهیرد اباسین یـم
ته بېړه یی ګوبنه شونـی
زه راویښ دکور خاوند یم ۰

٤

ته دې خوږمخو مېلمه شې      زه به تل همدلته پاتې يم ...
ته به ولاړ شې ختم به شي
زه دې نښه د بقا يم
ته به تښتې زه به درومم . ته به يې زه به پاتې يم
نور ته چېرته او زه چېرته
اې په دوا ړو سترګو ړوند ه .
ته به څنګه راته تم شې
ستا نېکه ما تښتولای
په پښتو مې دې قسم وي اې دوښمنه د پښتون
ته پښتون نشې وژلای ـ (٦)

شعر که د ناخود آګاهۍ نه د اند يښنو د خلاصون دريڅه وګڼو . شعر کې د ناخود آګاهۍ او تخيل په څپاند سيند کې د نويو او ښکلو څېرو هستېدل وګڼو شعر کې په واقعيت سره د زړورو طفو او تخيلاتو د تومنې نوې تصوير وګڼو نو هغه د عاطفې او احساس په ښکلې بڼه کې د خام فکر روزنه هم ګڼلی شو چې د کليمو له پيلوا و ذهني انځورونو له نخا څخه جوړ يږي چې البته تجربې او د انسان غوره انديښنې هغو ته انسانې ژوند وربښي چې د غه انسانې هنري څېره د هنري ښکلا په مرسته د خلکو زړ ونو ته لاره پيداکوي هلته استوګن کيږي او د هغوي په رګونو او مرانډو کې خوځيږي او هغه هڅېدو ته رابولي او دا چاري روغ شعر کولی شي . نه نا روغ شعر .

د پښتو ژبې د شعر تنګ لوري لکه د پښتو د ژوند په څېر بېرې لوړې ځوړ ې تيندکونه لويدل او هسکيدل ليدلې دي او پوښه والې ئې دا دي چې د فرد ستاينه او نما ئخنه يې نه ده کړې او تل يې قهرمان (موږ) دې . نه (زه) دې مقاله کې د پښتو ژبې د شعر او شاعري په هکله برخې خبرې کيږي چې په نوې بڼه او نوي وزن او نوي آهنګ سره يې د غه لوړ ي ژوري ليدلې دي چې تر او سه پورې د (آزاد) سپين او (نوي) د ولونو تر څو پېړلا زموږ په ژبه کې شاعرانو په پوره توګه نه دي عملي کړي او سردي برخه کې د نوي او پانې قافيې شعر تر نامه لاندې پرې غږيږو . خو دا روغ شعر دي . موږ د روغ شعر خبرې کوو د ا د نا روغ انسان د رغېدو د زېرې شعر دي او د دغه راز قافيوالې شاعري د لارې تلونکې دي .

٥

((رواج د دارجی چی دمنصور نسل ته پروزیږ اوه
جی په دا رونه شوه په دارپا بندي ولګیده ))
داد هغه شاعري ده چی د هغه احساس او عاطفی ته مخاطیرونه نه یوازی څه
تاوان نه شی رسولای بلکی هغه هڅیدوته لمسوي ۰ د دي کار پهل د پښتو
ژبی شاعر پر دغو بدلونونو سره پیل کوي :
الف : شعر کی سمبولونه بدلیږي ۰ ځکه دعاطفی او احساس نه سربیره پوتا کلی
تاریخی واقعیت او تخیل راسپړي ۰ داسی پونوي سمبول چی تراوسه
کارول شوي نه دي او سولی دلی نه دي اوداوریدونکو په غوږ بتنسه لګیږي
او احساسات یی نښوي ۰
ب : شاعر نوي ژبه جوړوي دژبی پانګی ته نوي ترکیبونه نوي کلمات نوي جملی
او نوي بیتونه ور زیاتوي ۰ شاعر دهغه په اصلی معنی سره نه
د سیاسی طلسمونو او وهمونو شاعر وګوري دا ترکیبونه او کلمات :
د احساس ګل یی موسکی شو ۰ زاره چاودي تیښد کونه ۰ دګنا هونو سیښد
یاغی شوي نظر د احساس په تنورکی می آتشینی نغمی سوځی څوک چی
د وخت تقاضی باغی کوي ۰ دچاچی توده وینه تاریخ شفق رنګ کوي په
پنجروکی وزرماتی شنه طوطیان د زولنو شرنګهارته ګډا اویا هم دا بیت :

زړ ګیه چپ ګوره دستور د پښتومات نکړي
د حق خبري د دارونو په سرونو کیږي

ج : شاعر ځانته نوي قالب جوړ وي او نوي وزن هستوي د ساري په توګه دا
شعر به وګوري ۰

((دا اوږدي اوږدي مزلی ۰
په ځوزانو په اغزوکی
د وچ خوږ په غاره ناست انتظارونه ۰
سرګردانه ګرځیدل شړ و میروکی
څه د پاره چا د پاره
ګوندي نه چی هغه ورکه نا معلومه لټوو مه
هغه ورکه نامعلومه چی هر ان را نه ورکیږي
زما خپله بی دردردي کی
د دشت دکلکوکا نو وچ اغزو په بی مهري کی ۰

ددي غرو بې پرواېږښو په سختۍ کې ٠
څه شوه څه شوه دژوندون چينه مې څه شوه ٠
چې هرکال به پري اختر دپسرلي و
طبيعت به ځان ښکاره کړ و ٠
تورتورغرونه توردیوا ن دا هسې شه وه ٠
شنې جا مې د ښا پیروې وي په ځا ن کې
شنه لمن د زمرد و ٠
سروگلونو رنګا رنګ به
سررا پورته کړ و له خاورو
قافلې درنګ او بو ي هم بيا رواني به هرخوا شو ي ٠
درمندونه به دمشکو دلونګو
په دښتو وچو ميرووو ٠
څه شوه څه شوه دژوندون هغه چينه اوس
چې دخوږ په وچ بسترکې به بې روا ن کړ ل
مست رو دونه ٠
د سيند غاړ ې وي آبا د ي
د ستوما نه دمه ځا ي و
دوري دوري هيوا دونه ٠

تږي ستړ ي مسافر په دوړ و پټ دلته را تلل دمه کيد ل )) ( ٦ )

ددي جوليزبدلون او او ښتون سره سم دشعرهره کلمه مردکې ګرځي کر که کيږ ي ، نفرت ښيې ، خشم دي قهردي ، مستي ده د ريږ د نه د ه منده ده ، تکل د ي اودمستبد په سرکې دناصور دا نو د ه انسا نې غوره مينه دتخيل او احسا س سپړ نه ده سنت ما توونکې د ه او سنت ا يښنوه دونکې سپړ ل د ي ښودل د ي اورا برسيره کول هم چې دا را سپړ ل اورا برسيره کول زموږ ا ړ تيا ده دچا خبره شعرهم دهري اړ تيا په څير د خيل محا ل اوچا پيريا ل اوما دي احوا ل پېژندنه ده اوزموږ ا ړ تيا زموږ دخلکواړ تيا ٠٠٠٠ اوزموږ دشعر اړ تيا دژوند جوړ ولو ا ړ تيا دژوند ا نه دلا ري اوا رول ٠٠٠ دهغو لیا ره چې بې سترګې پټې شوي اودما غزو او لا سونو زيږ نده بې دپل چا په لا س ورغلي ( ٨ ) نو دلته
٧

ACKU

دي چې وا يو ، نوي شعر دهغان ښودني او ښکلاد ستاینې لوبه نه ده او د يوه نوي شاعر په ژبه ، نوي شعر دهوسرله مخې يوتفنن نه دي اوداسې دي ونه انګيرل شي چې دخوږتنو وهوسبازو شاعرانو طبعي ددې شي دمخ ته راوړلو له پاره لاس پوري کړي دي ) ځکه شعر خبرتيا ده پوهه ده د معاصر دوران کې ښو دنه ده ښکارونه ده انشا کړي ده ، او دپيړ يو دطلسمو نو ماتونه د فرعونانو مغرورانو غضد نه ده نه ستاينه ګونګی نه دي خفه شوي فرياد دي .

۱ـ دلايق د يو شعر تفسير :

هغه خفه شوي فرياد چې پيړۍ پسې پيړۍ په ستونوکې خفه ساتل شوي وچې دا يو ستر بدلون دي اواوښتون چې دا اوښتون دجولي له پلوه د پښتوا دب لا له پېدا ښت څخه په برخه وچې هغه دپښتو ژبې د ځينو ملسي وزنونه دي چې غوره برخه يې ليندۍ دي دا هغه برخه ده ځناځيرو نه اوچوکاټ نه لري او نه منې اونه دچا دا قاعيلو په تمه د چاکوخوکې ګرځي د ساري په توګه به يې ولولو :

په سر دي کوم جلات ولاړ دي ـ چې دي زما له ياري واخيسته لاسونه

ته چې زما په غيږ کې ريږ دي ـ هلته به څه کړي چې د توروبريښنا وينه

قبرسوري شو ځښتي ماتي ـ په خماري سترګو يې پريوتل ګردونه

راځه چې دوا ړه سره کېنو ـ عمردژ مې مازديګر دې تېر به شينه

بله بېلګه هم دپښتو ادب شفاهي برخه کې موند لی شو هغه هم دا ناره چې د افغان اولس دآزادي په سپېڅلي ډ ګرکې د باغي او سرکښه انسان د طوفاني کېدو د پاره په ډ ير آزاد ډ ول ويل شوي ده :

فرنګ لاړ شه په قهر

اختيار کوي د جنګ

نو ځونه يې کړه جمع

په کابل کې شه حصار ـ خاوندکه تاربه تار (۹)

چې په شفاهي ادبيا توکې دا بېلګې زيا تې ليدلا ي شوچې اوس ليکل شوي ادبيا تو او په هغه کې دنوي شعرتګلوري را څېړو .

دپښتو ژبې ددې پېل اويا ستربدلون په باب پوهاند عبدالحی حبيبي څه کم پنځوس کاله پخوا وليکل :

((دا دې نو یوالي دوره له هغه وخت څخه را پیل کېږي چې له اروپا څخه د مدنیت نښې نښانې دې خاورې ته را رسېدلې چې د ختیځو اولسونو په ژوند اند پښتو او تفکر په ډول کې یې بې ساري اوښتون را وست چې دغه تدریجي اوښتون زموږ پښتو ژبه له د ووخوا وترا څېړي لاندې را وستې ده او هغه ته یې نوي رنګ ورکړ.

الف: د وزن، عروض او قافیې په څنګ د جو لېز لیکلو ډول او صادي اسلوب

ب: د مضمون محتوا او هغو احساساتو او عواطفو او افکارو له پلوه چې په شعر کې نغښتل شوي دي... چې موږ د نوي والي په دوره کې د دوه ډوله ویونکي لرو.

لرغوني: کلاسيك قالب کې.

نوي: په نوي قالب کې..!

په دې توګه په برالاتوګه په پښتو ژبه کې د همدې شېبو څخه د نوي جولۍ (شکل) خبرې پیل کېږي. که دا ووایو چې د نورو ډېرو ژباړو څخه کې چې بېلګې یې په طلوع افغان کې خورا ډېرې دي او یا ویل شوي د نوي شعر د پیاره یو تکل پیل کېږي یې تا په خبره به موږه وي کړې. ځکه که زموږ شاعر ته هغه وخت د نوي یا بې قافیې شعر یو ښتنی په مخه ورغلې وای. نو هرومرو خپلو هغو آثارو ته چې د ((منظور شعرا)) تر کلیشې لاندې خپرېدل یا م کوه خو بیا هم د ډېرو نورو تر څنګ داسې بېلګې هغه وخت کې موندلای شو.

د ما او ستا پښتو به څنګه شي.
خوږه مینه!
لږ وماته وګوره..
د زړه سره
دسترګو توره
د تېږې ځيګر نکوره — اې چې ځما د زړه طوطی
لږ وماته وګوره — ستا د مینې په دام ګیر
اوستا د عشق په لمبو وبلی
ترتا جار شم
لږ خو ماته وګوره (۱۱)

۹

خو له بده مرغه نه د ژبا ړي اونه د ابتکارا و تخليق وخت کی دنوي شعر جولی نه چا پام کړي چی له همدي کبله په محینو برخه کی نیمگرتیا وي له و را په بریښی . دا سی به ووا یو چی پورتنی شعرښا یی دوزن له پلوه نیمگړي وي کمزوري وي د تحیل شوي ا نسان په خوله کی دترانی وزن و نه لري خو بیا هم د امو لیږ نی گا مو نه دي او لومړي گا م خو هر څو ا ک اخیسلا ي نشی .

دد ي نیمگرتیا علت هم برا لا و . هغه دا چی پښتو شعرله ډ یرو وختو نو را هیس نا روغ و دا ځکه چی شرا یط اوچا پیریال یی نا روغه و او د مخه هم یا ده شوه چی نا روغ شرا یط نا روغه زو کړه کوي . نو ځکه یو شاعر یو وخت ویلی و (( را ځی ترهرڅه دمخه چا پیر یا ل ا نسا نی کړو ))

او دپښتو ژبی دنا روغی په با ب لا شل کا له پخوا یو محقق ولیکل :

(( پښتو شعرنا روغ و . له دوه تیرو پیړ یو را هیس نا روغ و . نه یی څوك پو ښتنی ته راغی ا و نه چا رغید و ته وهڅا وه . ورو ورو له پښتو پا تی شو . خودگر ځیدو او ځغا ستی هغه پخوا نی شور اوهڅه یی لا په زړه کی وه او چی خپله یی پښی شلی وي نو ( دي ته اړ وچی ) دپخوا نو پلرو نـــو اونیکه گا نو په کیسو به یی ځا ن مشغو لا وه )) ( ١٢ )

هوا پښتو شعر نا روغ و اودي نا روغی درمل غـو ښتل اودرمل خوهم یی تشخیص او سالم درك غخه نا روغ و ژ نی . په تیره بیا هغه ناروغی چی پیړ یۍ پیړ یۍ نا روغ یري اخته وي . هغه هم په نا روغوشرا یطو کی اونا روغ شرا یط خو :

نا روغ شرا یط خو هغه شرا یط دي چی په هغه کی هیڅوك د بـد مـرغـۍ اومرثیتوب په با ب نه غږ یږ ي . تول د خو ښی اونیکمرغۍ سندري بو لـی پـه دا سی حال کی چـی همدا سندر غا ړ ي پا په خپله بد مرغه دي او پـا صلاً د بد مرغی او مرثیتوب دد ود لو د وا کمنا نو لا س پوڅی د ي .

ددي نا روغی ډ ا کتر مسئول شا عر . اودرمل یی مسئول شعردي چی مسئول اومتعهد شا عر خو هغه شا عر د ي چی شعر او شا عري یی دنا روغو شرا یطو په وړا ندي ودریږ ي کلمه کلمه ترکیب ترکیب جمله جمله او وزن

اود پښتو ژبی شا عر ددي کړښی په لومړي کرښی ولاړ دي ((البتـه شا عر پا د و و )) چی د دي درا نده مسئولیت دبوره اوژور درك دپاره لا زمه وه چـی

١٠

زموږ شاعر زموږ دا ولس نا ره زموږ ادبي بصير اوددي دواړ وغوښتني پـه دي معا نگرو تولنيزو شرا يطو کې درك کړاي اويري پوه شوي واي . لکه هغه شان چې ښو شاعرانو دا کارکـړي دي . محکه د دغو خو لاندينيــو خبرو درك اوعملي کول ددي تا روغي دتشخيص اودرمل له پاره ضرور دي .

لومړي : په دي پوه وي چې ((دبشري تولنې دتاريخ په کوم پړاو اودخپـل قام دتاريخ په کوم پړاو کې ژوند کوي اودهغه قام اواولس په هغو پنځو س شپېتوکلونو کې چې دي ( شاعر ) ژوندي دي له هغه نه څه غواړي . دا پـه د بشري تولنې ملت اوقام په وړاندي دشاعر تاريخي اوزماني رسالت وګڼو دوهم : په دي پوه وي چې څه شيزونه دهغه چاپيريال جوړ کړي . دا پـه دي معنـى چې شاعر په دي وپوهيږي چې په کومه محکه ولاړ دي اوددهـ ي خاورينې کړي دنورو کومو سيمو سره اړيکې لرلاي شي . چې دا بـه د شاعر جغرافيا وي اوسيميز رسالت اوتعهد دهغه خاوري په وړاندي وګڼو چې د تولنې کړي پوه برخه جوړوي . او دده ته نيژدي ده ) .

دريم : دخپلې تولنې اوچاپيريال دڅوري پيژند نې له مخې بايد خپـل طبقاتـې دريځ تينګ ولاړ وي . او په دي برخه کې پرته له ژوري کتنـې اوپيژند نې بله لاره غوره نکړي . هيڅ ډول تعصب اوانحراف ته غاړه ـ کيږي دي . دآزادي اوخپلواکۍ پلوي واوسي . په ډېر سرکش اوياغي غرور سره د ( سياسي سوداګري ) او (مرداري ګړيو) مخالف واوســي او هيڅکلـه انسان دوجو وجو کا تونو او مجرد ذهني اوبې وخته فلسفي اجتماعي مکتبونوته راونه بولي . چې دا به دشاعرد تولنيزي ايډيالوژي رســا لت وبو لــو .

څلورم : په دي پوه وي چې دخپل اولس داادبي تاريخ په کومې دوري او پړاو کې ژوند کوي . هغه بايد دخپل وخت دريښتينو او ( انســا نـي ) ادبيا تو جامع اوکامل استازي وي . هم دجو لې (قالب) هم د مضمون معنـې موضوع اوتم . او په دي لاره کې هرډول بدلون چې د عصـــر دغوښتنو سره په شعر اوشاعري کې ښه وبولي . بنسټ يې کيږدي اود هغه د ښې توب لپاره مټې راونغاړي هرهغه مضمون چې دخان دپاره دتهـو لنې د پوه غړي په توګه د تولنې لپاره ښه وګڼي يې له ويري په کلمــو او ترکيبونوکې ونغاړي . په ښکلو اوزړه وړونکو الفاظو سره يې دخلکو غوږ ته

۱۱

ورسوي چې نا اوریدلي واوري ۰ چې دا په دخپل اولس اودجهان په وړاندي د شاعر اد بي رسالت وګڼو ۰

چې په دي تولوکي یوه بیلګه اومطلب ډېر مهم دي اوهغه دا وچې شاعر خومره د خپل وخت اوزماني سړي دي ۱۳

چې زموږ معاصر شعر هم دي خبري ته سخت اړتیا لري دا سې اړتیا چې د شاعر زړ ګی یې ویني او هوا نه لري ۰

خوله بده مرغه د ویري په طلسمو نو دعقیدي په کوڅو زموږ ویده ګرل شوي شاعردا خبره هیره کړي وه یا ورا یو نه یوي پوهیده ۰ دي د شعر په درو نا ر وغو پېړ یوکي په دي نه پوهیده چې عینیت دعاطفي اواحساس په ملګرتیا سره د شاعري دخوږ هیواد میلمه کړ ي ۰ هغه لـه بر سیره طبیعت ا و تفکر ته شاعرانـه دنیا ورو ښئي ۰ شاعرانه هماغه دوا قعیت سره داحسا س اوعاطفـې ملګرتیا ده که بیا په له شعرنه شعار (لکه چې جوړ دي) اویا کومه سیا سي اجتماعي دنیا اومضمون جوړ وي ) خوزموږ ویښ شاعر داکارکـړ ي ۰ خپله ئېه دا سې جوړ ه کړ ي ده (

د پښتو سترګوا شنا یې
نه لیدلي
نه کتلي
نه مې پیژ ند ۰
نه مېې ایژ ند
نه پوهیږ م چې
له آسما نه و
که لـه خمکي
له کومه لوري را پیدا شو
او په خلاغلا را سره
لکه ځل دلا ر ي مل شو ۰ ۰ ۰ ۰
۰ ۰ ۰ ۰ زیار ۰/۰ ۰ ۰

اوپاهم دا ترکیبونه چې هغوکي تولنیزو اند ونو (مفاهیمو) عما ي نیو لي د ي د چرګی په شان بې وخت ازا نونه کوي ۰سترګی ترې شي خوړ ند یږي نه ) سحر دپلوشو په شان په شاکیدا ي نشي ۰ په خو لـــر ي شــــا ن
۱۲

چاپیریال کی دزړگو نو قتلونو شاهد پاتی کیدل . ددغه راز خبر و شاعر د شپې تکې توري پرده ي څیري او د سبا د ستوري په په څیر دد ي لمنې راوزي . دا شاعر دخپلې تاریخ وهلی تولنې له پاره سپوږمۍ نه وي . څکه پوهیږ ي چې سپوږمۍ د بل شاعر د خبري سره سم خپله تودوخه دلمر نه په زاریو غواړ ي . سوال کوي دا شاعر باید لمر وي چې و کولی شی دا سې دپیر یو یخ وهلی اوبه کړ ي . هغه هم پاکې او روانې اوبه نه ولاړ ي .

د پښتو ژبې شاعر دا کارکوي . هغه دزلفو او دهغه د جال مینه پریږدي بغاوت کوي څکه دا یوه اړ تیا ده دچاپیریال په سره تنا ره کې د مین مینه د سرو شونډو وخوږ ي ژبې سره اننگو او شرابی سرو سترگو مینه نه ده . دا مینه ددغې مینې نه بغاوت د ي .

بغاوت :

دخماري ملالو سترگوڼیا قاتلې ــ زمانا زکی محبوبا زما دزړ ه غندلی

زما گیر چاپیر افز ي ته ي مینه نه پیژنم

ما نه دوخت په سورتنور کی مینه نشی کیدي

دا ما شوم زړه را ته خفه دي په سرو وینو ژاړ ي

که زه دي نه غواړم خودي (دي) خپله خوا کی غواړ ي

خوددي زړه دملك واکمنی ته خفه چی نشی

دخپل مجبور مین په دي اندا ز غصه چی نشی

زما نه گیر چاپیر ازغی د ي مینه نه پیژنم

ما نه د وخت په سورتنورکی مینه نشی کیدا ي (١٤)

د پښتو ژ بې په شعراو شاعري کی دنوي شعرپیلدا سی کیږي چې شاعر نه غواړي دخپل شعرپا اثرته نوي پانی قافیی شعر و وا یی . بلکې هغه منثور شعر بولي . دساري په توگه وروسته له هغه چی په کال ١٣٢٠ ش کی کابل مجله د ا ستقلال گډی چی توله په پښتو ژبې خپره شی . ز موږ شاعر او لیکوا ل د نورو هیوا د و شاعرا نو داشعارو ژباړ ې ته مخی را نغاړ ې لاندي عنوا نو نه دکابل مجلی د دغو کلونو (١٣٢٠ــ١٣٢١ــ١٣٢٢) له گنو څخه را خوښ کړ ي د ي . (شور شعر) (دنوروادب زموږ په ژبه) (دنورو اشعا ر زموږ په ژبه) چی یوه بیلگه یې دلته لولو !

١٣

د هوا مرغـه

یورت او یو رته ...
لکه داورلو گی ...
د محکی څخه لوړ ...
لکه چی ستوري په ورځ نه ښکاري .
سور شفق هم ستا دالوتو لپی ته الو یږي
یورته الوزي او سر ورکوي .
سر ورکوي اویورته پس الو زي .
او س خو نښکا ر یږ ي
خوږ غ د ي ا روم
. . . .
ستا غیږ پر محکه او هوا
لکه چی په تو ره شپـه د سپو ږ مۍ وړ ا نگی
خپویږ ي هره خوا ..
شاعر هم هره خوا
زه خوستا سرور ته لیو نی شوم
محکه نو وا یم
چی ما هم په خپل سرور پوه که
خپله پښا نی خو شا لی را که
چی زما غږ ته هم :
(( خلك حیرا ن شی ))

(( شیلی )) ١٥

زموږ شا عرگه لږ څه څیرشوا ي واي (که څه هم وا یم چی پوه به او قلم دي برکت‌وي اوزن ته یې نورهم پام کړي وا ي . اوسپه ددي شعروزن لږ تیـا وي نـه درلود ي .

ښه مرگ

ژړیا په محند ..
پرهرچا به مرگی را سی ...
خوهغه مرگـی
١٤

چې د نیکو د خاورې له پاره وي
چې خدای پرې ستاینې :
ترهغه نوښه مرګ
نشته ...

((باید وویل شي چې دا اشعار په همدې بڼې هغه چاپ شوي دي . ))

ځکه دلته وایو چې موږ اوس د دې اشعارو او طرحو په باب په زوره نه وایو چې دا شعر دې بلکې غټ پرې لیکل شوې دي . دلاره مکالې شیلي پسا شکسپیر د شعر ژباړه .

څرنګه چې د پښتو ژبې نوي شعر چې ځینې هغه آزاد شعر بولي . ما شوم وخیل ښه او بد یې نه پیژندل . نوي ګام اخیستلو راغلي وا و پښې یې سمې پرځکې نه لګیدلې . نو ځکه یې نیمګرتیاوې له ورایه ښکاریدلې . دې هم علت درلود . علت یې هم دا و چې زموږ شاعر دادبي تحو لو تې د هغه وخت ما لګینې ښکلا په ځان مین کړي و . کاشکې دا مینه وصل شوي وای چې زموږ شاعر ژر په لنډ وکیسو او نو یو اشعارو پیل کړي وای او څو مره ښه به ځای زموږ یو ادیب لیکلي و .

(( ادبي توتې په ځای کیسې ولیکئ )) ۱۶

ځکه هغه طرح پښه څیړه او قهرمان چې دادبي توتې په ویسوا و غونډ ولو (کلمو او جملاتو) کې هستیږي با څیزې او یون کوي . ښه به داوي چې د نوي الحور په شعرکښې را وځلیږي او په هغو کلو لوکې داد بې تو تو لیکلو زموږ لیکوال له دې لوې کار څخه خوا وس را ځولوي شعر ته . هغه شعر ته چې هر څوك شعر ورته ویلای شي . دا شعر ( نوي ) — د زمانې او وخت د نظم ( نبض ) له درکه نه وروسته باید وویل شي شاعر باید شپې شپې ورځې ورځې میاشتې میاشتې ان کلونه کلونه نوي په موضوع تخیل او احساس وګرځي . ښه شاعر باید د نورو په پس خوردې شخو لډ وله ونه وهي . لیکه یې ابتکاري وي شعر ولیکي ور ځینې سولیدلې نظمونه په مسئولیت سره ځموږ له ادبیاتو ووك کړي . شعر ولیکې شعر . دا به کوم شاعروي . څنګه شعر :

دلوڅو لغړو شاعر . دتالډ ودژړیدلو شاعر . دهغو خلکو شاعر.

۱۵ ...۳م

چې په خپل پراخ هیوادکې یې څوک شریک نه بولي د لر وهلو شاعر
د شپې د تورې تیارې هیو لاکې د استبدادلو د اصل ښېرې ترسیموونکی شاعر
هغه شاعر چې د پېریو د ښونو ناوې سینگاروي او د ناصورو ښکرولو
ښکرعلاجوي . د دې برسېره په نور شاعرانه او ماهرانه توگه قانیه ماتوي
د سکندرزې انساني سکندریانو ته پرېږدي . د پښتوانې شعر په نوي نیم
زرکلنه پانگه پاندې د زیاتو اړتیا نوي لاره پرانیزي . دلته به وگورو چې
څومره شاعرانه او عاشقانه د مینې پوه شیبه په خپل شعر کې ځلوي . دا هم
د هغو زړگولو پېښو او شیبو ځنځه چې داسې یو شاعر ابدې کړي د بېلگې
په توگه لولو :

رسوا مینه

سپوږمۍ دلوړوغرو له شانه راخته راخته
سپینه رڼا یې لوبو د ښتو خورېده خورېده .
وږمې دگلو له عطرونو سره
شپې دشپنو له آوازونو سره
لشي د میو له جامونو سره
زما لاسو کې عشقبرونه دگناه اچول
توبه وه ماته .

– – – –

زه دنشې له پېچو تا به اوبنتم آوبنتم
دادې مچکوله گرمیو تا وېده تا وېده
ما له عصیان اوگناهونو سره
دې له مستۍ او هوسونو سره
ساقي له ډېر کوگېلاسونو سره
لالۍ د مینې د وفا او د مستۍ کولې
حیا وېده وه

– – – –

دا په مستۍ کې زما له ځېږې رنگېده رنگېده
زه به هوسیاو په گناه کې ډوبېدم ډوبېدم
له تږیو تږیو ارمانونو سره
١٦

له ښکلو ښکلو غذا بونه سره
د زلمیتوب له کړاوونو سره
د سبا وون رڼا دستر پردې وشیرله
مینه رسوا شوه

لایق (۱۷)

موږ ووېل د پښتو ژبې شعر د محتوا له پلوه بدلېږي او وروسته د جوړېږ پلوه او اوس د شعر نوی هغې برخې ته را رسیدلی یو چې نوي شعر اړتیا ده، یو ضرورت دی تولنه پاخېدلې خلک ویښ شوي، نوي ادیب، نوي سلاح او نوي توری ته اړتیا لري. تقلید له پښتو لوېدلی او پښتو شعر ابتکار او نوښت پړاو ته رسېږي. دا سې شاعران سرراهسکوي ـ که ژبه غوښېږي لا تیرېږي دا سې شاعران چې رنګیلي نشې یې ویده کولی نشي دا سې شاعران چې باتري توبه کوي. پامان پري خوري خوله لیوانو سره نه کورکېږي )) ۱۸ هغه شاعران چې د خوشال د نغري سره بغري دي او د اولس د سوکالۍ په مینه مست دي او د اولس د پساره شعرونه لیکي دزاړه قالب تر څنګ نوي قالب کې شعرونه لیکي. څوک که غواړي که نه غواړي دا نوي شعرخپرونو ته لاره پیدا کوي.
هغه شان لاره چې او به یې دسختو کمرونو او غرونو په زړونو کې لاره پیدا کوي. دې نه مې خلک یې ورغواړي. دا شعر د سپاس او اداري قدرت په زور سره نه دی. بلکې دا د هغه دي شعر ادبي قدرت او خلاقیت نوښت او معاصریت دی چې ورځپانو، جرایدو، راډیو، مجلو او کتابو لسوته ورغوبښتل. چاپېږي مشاعرو کې جایزه اخلي د کال شعر کېږي ولولئ دا هم داسې یو شعر :

ګناه

څوک یې
دغه څوک یې، چې مې هره شپه خاري
پرېږده لورې پرېږده لورې ته یو مه ځوروه
سپوږمۍ خو مې قسه یې.
زه په دغه ښه نه یم.
مه را پسې ګرځه تور وخپله لیاره کوه.
۱۲

ACKU

شپه ستړې ستومانه دکېږي د پاسه پرېوزم
خوب مې په شيبو شيبو له ځانه هېروي
ښه چې خوږ ويده شم
ستا وېرژړ لې څېره ګورم
پس دغه لېدن دې په ما شپه سبا کوي
. . . . . . . . . . . . .
چا ته ويلې نشم چې يو سيوري را پسې دي
ځه مې هم ټوکې هم مې ګناه ته لمسوي
دا شاعر زړګی مې له کوګل نه را وباسي
تش جام را ته ښيي
او يو رنګ بې کړ نګوي
. . . . . .
زه هره مصرع لکه ابداره توره کاږم
چه پرې د مظلومو سينه ګڼ څېرې کوي
زه ورته ښايسته پښتنې ګډه په سرې ړک کړم
چه يې دلذت د پاره
پېرته ورشکوي
شپه چې ښه پخه شي
تاريکي شي
چو پايې شي
هار دا رزوګانو په قلم باندې پېيم
زړه وايي شپه
هغه غوټه دې اوس نشته
لېرې چېرې ژغ شي چې شپونکي بام کړه م
. . . .
کله کله وايم چې وړوکی يم
بې باکه . . .
شګو باندې ناست يم
١٨

عا نته غلی جوړ دم
ښځو با ندي دوړ ي په غومبورو با ندي خاوري
تولو کا ینا تو با ندي امر چلوم
. . . .
بیا می عا نته پام شی
چی لوي شوي یم زلمی یم
لا سره ږ یره را کا ږ م او سر وښو روم
جګ شم د یوا له ته
په هینداره کی عا ق ګورم
عان وینم
هیندا ره ما توم . ( ۱۹ )
یوبل شاعرچی زیات نثرونه یی لیکلی ادبی توتی یی لیکلی او همدا کار
د د ي سبب شو چی هغه دآزاد شعر له ویلو څخه پاتی کړي
خودده دا شعر د نوي شعر په بهیر کی د پام وړ دي .
لا لـی
زما توبه ستا توبه څه ده
دا چی توبه وا یی تل
لا لـی !
دا ستا ګنا ه ما ته ثواب ښکاري ...
څـه !
زړ ه شریک ښه
نه چی بیل وي سره
. . . .
ګوري خو ته هم ما ته غلی غلی ...
هروخت د زړه په سلا .
ګـرا نـی !
ما ته همدومره اجازه راکړه ...
ښـه ده !
۱۹

د د یدن غلا په پټه نورو څخه
. . . .
داچی له تا سره یی بیره شته تل
نه چی رسوا نشم .
منسم !
د گناه خیال هم زړه ته یر ساتی
یوه شه !
کتاب د مینی دا جواز منی . . .
. . . .
چی لا س تر غاړ ي دوه مین وي سره
د مینـی و کړ ي ا ظهار
د ا ده !
بنه ماله د مینی وي سه
هرڅه !
د زهیرو زړو سلاته سپاره . . . (۲۰)
. . . .

په پښتو ژبه کښی د نورو ژبو په خلاف دنوي شعر ویونکی په دوو لا رو نه لاړل هغوي یوه لاره ونیوله . هغه داچی پخوانی ادبی پانگی ته درناوي د دغی پانگی څخه په ځاي گټه او کاروونه .

د پښتو ژبی نوي شعر دخپل عصر اوزمانی ځانگړ تیا وي ، دوکی ، لوتماري سیاسی سوداگري اوچشم بندي خلاصه تول هغه څه را سپړي ، تغیروي تحلیلوي اوانشا کوي چی باید وشی . زموږ نوي شعر دمخینو پـو رتنیـو د ستورو نو اوپښتو په وړاندي یوه دریځ نه ده . یوه انسانـــی پاخید نه یوړښتینی دریځ نه دمکان اوزمان په لوښت لوښت او شیبه شیبه کی د یوه عینی او ریښتینی واقعیت د را سپړ ولو له پاره دژوند د تسخیر ولو له پاره . دمرگ په وړاند دژوند دریځ نه اودمرگ دا ستا ذو په وړاندي دریځ نه هغه مرگ چی نوم یی استعمار دي اواوس اکثراً — د اقتصاد او فرهنگ جامه کی راځی . نو زموږ د ژبی اگاه شاعر و ر تـــه په پراگه وایی !

۲۰

ته د بوال پسی ورستیږ لسی
هره ورځ پسی نږدې کیږې .
زه پښتون یم تینګ ولاړ یم
هره ورځ پسی تینګیږم
ته ناورین د بد مرغۍ یې
تا نه تول خلك بېزاره دي
زه سند ره د ژوندون یم په خوږو نو به لګیږم
ته دوکه یې رسوا شوې زه رښتیا یم رښتیا شوې
ته د ویرې تورلحد یې زه د هیلو شین چمن یم
ته د مړوهډ یره یې زه تا توبې د ژوندون یم
ته سرولړه کفن یې زه سرولړه وطن یم
خوږوهیږ ې :
په انسان مې د ې قسم وي اې د ښمنه د انسان
ته انسان نشې تر لاې ( ۲۱ )
((په پښتوکې د نوېو شعرو ځا نګړ تیا دا دې چې زوړ طرز تفکر لکه دروغجنې مبالغې په خیال کې تر ډوو غوزو نوډ ویډل • غوري مالې او پې ځایه ستا ینې غیرمنطقې استعاري اوداسې نورېوچ مطالب شړ ې اونه یې منې . بلکه ددې په ځاي دژوند زوان واقعیتونوته فکرمتوجه وي . . تبصره وربا ندې کوي او تعبیر وي )) (۲۲)
نوې دام نوې صیاد دې
نوې چل نوې بیداد دې
نوې اه نوې فریاد دې
هوښیاري صید لره بویه
بدل شوې د دانې رنګ
غلې شا نه انقلاب دې
بدلوې د زمانې رنګ ( ۲۳ )
د لن و رمې د شعر اصلې ا ړ خ د شعرو ترسیم د ې چې شعرکې شعري شعور ول جوړ یږ ي . شعور ول هستې پیداکوي . خه ول ژوند پیدا کیږ ي شعور ول خوښیدلو تصلا تر ي .دا خوښیدا کیم لوري ته ده
۲۱

چیري دریږي ، چا ته ګوري ، ولې دریږي ، ولې ګوري ، د دې ښېر ي دژوند هدف څه دي ، او په پای کې دا چې دچاسره د چا په وړ انـدي ولاړه ده دخپلې زمانې دپاره‌دا څه کولې شي ایا دا خپـره ټیکـه ده که نه او که مصنوعي ایا په شعر کې لغړه ده که احساسها طفـه او تخیل ملګرتیـا ورسره کوي که یوازې کومه سیاسي یا انتباهي وینا ده ، وګوري د لټـه څه ښه ښېره په تولنیزه وله جوړ یږي ٠

زه شاعریم د دې خلکو
زه د دوی سندرې وایم
چې ښښتن دي د دې خاورې
دهغوی سندرې وایم ٠

لکه څنګه چې وینو د پښتونږي نوي‌شعر دهنري ښېرو پـه تر سیم کې هغـه شا ن لوی لاس لري لکه چې یو پښـتون یې د دښمن په وړ اندې د تـوري پـه استعمال کې لـري ٠ په تیره بیا دمتضا دو اړ خونو په ښودنـه او تـرسیم کې چې زغرد ه په ډ اګـه اودرنګ پیـلې کوي ٠ او د پرخوا ږ ه او نا زك حا لتونه را و لي چې په هغه کې دخپل توان اودخپل دښمن دد ؤ کـه ما ر ي ښودنه کوي ٠ یا س او نا امیدي نه منې او دا ښې یرې ورد ا نـګې لکه لیوه مور چې دخپل زړ ه کتره چیري دا استبداد چنارې په کرښو د مـرګ شـیـبـو تـه سـتـر ګـې په لاره وویـنـې او دا ئی خلا صولو ته هڅه کوي ٠ دا شعرولولـئ او په هغه کې دژوند د ښېنو شیبو رنګینې شیبې ووینئ ا و ا حسا س کړ ي :

٠ ٠ ٠ ٠ ٠ ٠ به مې ړ نګ کې کوراوکلي
په لمبو به مې ایرې کړي دغنمو درمنـد ونه
له انګړه به مې ورك کې شورماشور دماشومانو
د ما ښام په تنا ره کې به مې پرې نږدي اوږونه
په آسونو به غو بل کړ ي هدیرې مې دنیکونو
پـه دیروکې به مـې مړه کې د علمیانو آوا زونـه
په ګودربـه مې د نجونو مکیزونه هوا ئی مرګ کړ ي
په ناوړین به مې بدل کړ ي د مېنو سلامونه
خـو یـو هـیـزږ ه :
پـه ژوندون مې د ې قسم اې دښمنه د ژوند ون

٢٢

تــه پښتون نښی وژلای ۰۰۰

په پښتوس د ي قسم وي اي د ښمځه د پښتو ن ۰۰۰

ته پښتون نښی وژلای (۲٤)

د پښتو په نوي شعرکی دا س نوي خیري وینو چی‌گرد سره تـرا و سه بلـه ژبه کی لیدل شوي نه د ي دا خیري هنري د ي د ا خیري د عیـل شو ي ستوما ن ا و په ځناځیرکی اچول شوي ا نسـا ن د ي ۰ دلتمینه بله مینـه ده دا هغه مینه ده چی دمین د پاره نه بلکه دزو ریدو د پاره ) د ستو ما نی د ژړید و د ایسا رولو لپا ره ۰ په پا ي کی دهرځه نه دخلا صیدولـه پا ره راتـــی ا و وګورئ دیوه پښتون شاعر دا ترسیم اوهنر ي خیري جوړ و نه چی غو لو نکی ښکلا ځخه برا لا کوي ۰ هغه ښکلا چی یوا زي پزوریدو د پا ره وي تراو سه پوري په ادبیات‌کی استبدلونه ده ۰ دلته یی ولولـئ :

خما رو نه د ي منـم

په ا ننګـو کی

خو زموږ یی نصیب‌نشو په ځکو

کـــی

ستا ښا پست‌را ته دخپل وطن

نظا م شو

وز ي`تزي‌مي سا تی

پـه زولنو کی ۰

د پښتوژبي نوي شعر په یوه شیبه کی په یوه وخت‌کی دوخت‌زمان ا وتـو لنــی غو ښتنه دهغه د شا عر پـه قدرت‌سره د ي سرحد ته رسیږ ي ۰ هغه‌شاعر چی ژوره اندیښنه لري ۰ پـه ژبی پو هیږ ي ۰ نور تقلید جوړیو یږ د ي ۰ د ابتکارحا لت‌ته رسیږي د نوي‌و وزنونو د را منځ ته کیدو په تکل‌کیږي او په دي کا رکی بریا لی کیږي اودا قوا نین په ځانګړو نور مو نو کی لو ستو نکـــو او خیرونکوته ور ا ند ي کوي ۰ وبه یی لولو ۰ چی‌دي شاعربیاهم پـه خپـــل د ي ابتکارکی دپښتو ژبی له شفا هی ا دب ځخه کار اخیستی دي هغه اد ب چی هغه ته دپښتوژبی ښه ادب ویلی شو ۰ دخلکوادب ۰ د پرګنـو ا د ب دا ولسو ا دب هغه ادب‌چی په هغه کی (کوتی ۰ کنډ والی دا لا نــو نـــه خوجـلی انګړ و نه باغچی باغونه کلی با ند ي دري غرو نـه

۲۳

با غونه په‌غرونوکی کیږد یه‌په کیږد یه‌کی د ربد ره بی خبره کوچیا ن البدونه کتا رونه زلمیا ن ، اتنړونه ، جنگ جگړي ، تر بورگلوي ښا ر ښا رونه ښا ریا ن ، هیواد هیوا د ، هیوا د وا ل ) خاوري آو به خاوري موکښی با غی مست سیند ونه ۰ او دهغوليونی مینه له ورایه ځلیږي ۰ ځینی وخت ګډ ا کوي او زموږ شاعر همدا حا لیتونه هنري کوي خپل ناسپړ لی ارمانونه په همد ي ځا یوکی را سپړ ي :

کـــد ي

څوکیږ د ي څو پېڅو ل وو
ا ړ ولی و څوکه و
ځنګ په ځنګ په یوه مینه ۰ ۰ ۰ ښی په مینه او سید لی

— — —

د ا ددي خا وري ځښتن دي
د ا ددي هیوا د مین د ي
دهیواد په خپل وا کی کی دوي دي وینی بحولی ۰۰
((رلیع ))

اوبـا دا چـی ۰

او س ښه شو چی دشپی کو ه شوه با ره
اوس زما او ستا دمینی یوه لا ره شوه اوا ره ۰ ۰ ۰
اوس‌ښه شو چی دیوال به ړ نګېدو شو ۰۰
د سولی اوړوند دځوا ن او دمینی د ښمنان سره خواره شول ۰۰
ځان سا تی ۰
ځان سوچه ۰
ځان خو ښی ۰
او ځان ګټی ړ لی ما ته وبهلد له ۰
او س‌ښه شو په شا لا ړ ل په شا تلونکی ۰
(( دژوند انځور ))

یا دا چـی :

وا وره

وا وره وریږي

٢٤

پتی د وا وروالاندي پټ‌دي .
څاروي بهرته پوول کېږي .
پښتاوي نشته .
هریو په خپل کورکی ایسارد ي .
اوا ز د پاستو بوي د لاندو
ویده له خوبه ویښوي
تیاره سحار دي .
آوازد پاستو بوي دلا ندو
هاغه تیاره خونه کی نشته
یمه یې په پوزکی چانه ورکړي
اوره یې مخکې تمام کړ ي .
ما شوم دوخته را ویښ شوي
زاره سوکړك تـه هوسېږي
خونن تنورلا هسې سوړ دي
ادي په خنګ کی
ورته نا سته ده ژړ یږي
واوري وريږي : زما په هغو سلام وا یه
چې‌د ما بنام‌د ودیه‌له او ښکو سره خوریږي

( ۲۵ )

د پښتو شعر پښتو نوي شعر گام په گام او وزن په وزن د پرمختګ او پیدا ورې تهـا یه لور د روس اودښکلا دشوکو لورته مخان ورسوي . نو ځکه ځینې شـاعـرا ن ځا نته دا حق ورکوي چې دنوي شعرد پاره د نوي وزن بنسټ کېـږد ي ا و دخپل کتاب په سریزه کی ولیکي :

((... اونوي‌شعرووتـه ویلاي شو ... ددي‌ څوکاټ په جوړښت کـې د پښتـو دشفاهي ادب د ځینې اشکالو څخه اود‌پښتو ا د ب د ځینـې ز ړ و لټرولو څخه الهام اخیستل شویدي . اوکه څوك د تکوڅخ ا و ځارا تو سـم تلفـظ تـه دقت وکړ ي . نو دا مجموعه به سرتر پا یه دنیـوه سا ده روا ن ا و آ زا د شعر په شا ن ولوستلاي شي ... ځکه هغه شویده چې په ځا رتونو کـې یې هیڅ سکتګی نه وي او هره جمله به یا په (٤) یا په (٨) یا په (١٢) یا په (١٦)

سیلا بونو دربیږي د (ښامار) دسندري اصلی او ښیا دي وزن خلور سیلابی موزونه جمله ده چی ښیا څلور سیلا به پوري اچول کیږي چی کله تري اته سیلا به کله دوولس سیلابی او کله هم شپاړس سیلابی جمله تري جوړیږي .
دا وزن چی لیکونکی ورته اوس ((دښاما رسبك)) وایی دپښتوژبی یو پیاوړي ادیب او شاعر دومره خوښ کړ و چی په همدې یی یوه قطعه اوږد شعر ووایه . ښاغلی بینوا ((دښامار)) په وزن ((دکلورنخوور)) تر عنوان لاندې یو شعر چاپ کړي دي چی داسی شروع کیږي :
((هاخوا دي خوا (۴ سیلا به)
غخیدلی هسك دنګ غرونه (۸ سیلا به)
ښکلوي دا سمان شونډي (۸ سیلا به)
په سرو یی پکی سپینی سپینی وا وري (۱۲سیلا به)
پټ په زړ وکی یی لعلونه (۸ سیلا به)
شنی تالی شنی یی لمنی وي دسروغا تولوړ کی (۱٦ سیلا به)
هیله لروچی دخوا نو شاعرانو د پام وړ وګرځی .
ددي سبك شاعرخپل اشعار په پښتوژبه کی دانسان د زور طبیعت دتمرد اوعصیان پبیان کی ملاوړي دی :
بیلګی به یی ولولو :

زه حیـــران یم
ښاریان ولی نه بوګیږي نه ویښیږي
کلی اوري د ویښ زړه په غوږونـــو
پیغا مونه پټ پرا ته په انسا نوکی
د دي خصخی ژور تل کی
یو پیغام را بورته کیږي
خو د ددوي ورته غوږونه کا نه کیږي
او ریدلی به د وي نه وي .
چی په تیرو زما نوکی یولوي ښارو
دښا ریا نوله غفلته
یو ښا ما رپري مسلط شو
چی خوراك یی انسانان وو.

د ښا یسته ښا رنه بی جوړه کړه وا له کړه
ادمیا ن بی کړه د ننسه په خپل ځا ن کی

(ځانځا نی ښا ماړ)

اوپه دې توگه دپښتوژبی د پاره نوې ترکیبونه اوداسی جملی اوبیتونه چی مخکی چا نه وې لوستلی دې کتاب کی ځا ې شویدې · نوځکه بینوا هغه مقدس بغا وت گنی اووا یی !

«مقدس بغا وت ځکه ورته وا یم چی لیکوال دځا نځا نی دهغه فا سد ، غلط کاذ-ب اوپه عین حا ل کی غضبنا ك ، بیبا ك ،، ړا روونکی اوپرځا ن مین اقتدار پرضد بغا وت کړ ې دې چی ځینی نا پوه اوخود خوا ه انسا ن بی دوربینو د چینجیو په شا ن په خپل واك له خپلو ځا نو څخه زیږ وې اوبیا دا سی ځا نونه په کی نغاړ ي چی بی له خپلو ځا نوڅخه بل څه نه وینی اوهــــر یو ه څخه د ( زه ) بڼه جوړ شی اونا ري وهی :

((زه یم زه ! دستا ینځاونا نځنی وړ، را ته په گونډ و شی ! اوپه پټو سترگو زما نما نځنـه وکړ ې ! کنبه نه وې نو نه یا ست !)) ۲٦

تا سو وا یا ست زه به څوك یم ؟
زه څوزه ، زه (( ایگو)) یم ،
درست نړ ې کی پهلوا ن یم ·
لوې فا تح د ټول جنگونو دجهان یم
له دې وروسته ستا سو ښار زما تا بع د ې
تا سی ټول دقهرمان تر فرمان لا ند ې
که هر څوك زما فرمان ته غاړ ه نه ږدي
نو سزا به بی په دم اوپه هر دم ·
هم په دې نیزه وژ ول وې ځپرول وې ·
هغه څوك چی می فرما ن وړ ې په سر سترگو ·
هغه ټول به په اما ن وې ·
زه د دوې په سروسیـو ر ې ·
زه د دوې دژوند سا تونکی )) ۲۷

په دې توگه وینو چی دا یوځا نگړ ې او نوې سبك دې چی پیاوړ تیا اوفرریجی رموز د ژبی اوشا عري د پا ره بی گنی نه د ې · اوددې شاعرد شــا عـر

۲۷

اوزمانی دشعر زمانه تمفر به هم ولولو !

زمانه

اي شاعره لیونیه !
زمانوم دي زمانه ۰
ماته وايي دعمرونو پیمانه ،
ځواني مي بي زواله
ښکلا مي بي مثاله
زه ساقي یم ۰
خوساقي دمرګ اوژوند زړو شرابو
خوهرچاته په هرځاي اوپه هروخت کي نا اشنا یم
خو یو واري څکل کیږي ۰
دژوندون سند ره ته یره پخوانۍ ده ۰
خوهرچاته په هرځاي اوپه هروخت کي نوي ښکاري ۰
ځکه یو وار ویل کیږي
دژوند اومرګ رښتیا سند ري
پخواني که اوسني وي
تل به نه نوي نه اشناوي
د ژوند اومرګ رښتیا سند ري
پخواني که اوسني وي
تل به وي دعشق دسوز سند ري
راشه واوره افسانې دژوند اومرګ څو ۰
جاویدانه ترانې دعشق اومینې ۲۷
کله کله زموږ شاعرانو دقافیه وال اوغیرقافیه وال شعر ویل ګډیږي اوپه
ځانګړي سبک رامنځ ته کوي دا شعر ولولئ !

<u>زه شاعرنه یم یارانو</u>

شاعرانو شاعرانو !
اي دخوږ ژبي یارانو
زه شاعر نه یم دسوي زړه نارې یم ۰
زه دمراوو مراوو هیلو انګازه یم
۲۸

که شاعر دتو ژو سترګو سودا یی ده
زه د سترګو سترګو او ښکو جنا زه یم ・
که شاعر دسپینی خولی په رنګ اخته د ي
زه دوچو وچو شونډو انډ ینښه یم
زه ساقی نه دبیا، لو درویزه نه کړ م
دترخوجا مونو کړ نکه یم
زه شاعرنه یم یا را نو
زه د سرو وینوغور محنګ یم
— — — —
چی زرګو نو وچو شونډ وته خند ا شم ،
ما دسرو شونډ وخندا ده هیره کړ ي ،
زه دسرو شونډ و خندا بشپړ ومه ،
زه دخیا ل په سره ډ ولوړکی ،
ارما نونه لیږ دومـه ،
زه دسترګو په ښکا کی نوي هیلی زیږومه
زه دژوند هوسا کوڅې ته شوګیریم
ما په خپله زولنی په ښا ن اغوستی
زه دخپل سلوك مرید یم
زه دخپلی خونبی پیریم
ما سینګار دزما نی بی خوند ه کړ ي
زه له رنګه بی پروا یم
زه په مینه کی رسوا یم
. . . .
شا عرا ن په خلا کومـه
زه کیدون رښتیا کومه ،
زه ارما ن بشپړ ومـه،
زه د لا ر ي د خنډ و نو ښینی سر نه ټکومه
غرونه که خنډ ونه په مخ را ښی
زه دغرونو پو ونده یم خپله لا ر اوارومه
۲۹

زه په خپله خپله لار یم
زه په خپله خپله منزل یم
چې سبا سره خان یو کړم
د بېرون دلاري مل یم
چې د ننه پوله او ړم
په بېرون باندي یرغل یم
زه غو ښتنه دژوندون یم
زه پیغام دا و ښتون یم
زه ویاړنه د پښتو یم زه ستاینه د مرچل یم
ژه اتل د زماني یم
زماني سره په جنګ یم
زه شاعر نه یم یارانو
زه د سرو وینو غورزنګ یم ! ! (۲۸)

په دې وروستیو کلونوکی چې چاریات کاربه دې برخه کې کړې دي هم سلیمان لایق د پښتو درما نو شاعر دي هغه شاعر چې انسانی مینی شاعر دي. هغه شاعر چې په مالو جوکی لعبی کړي ، هغه شاعر چې د پښتو ژبې په شعر او شاعري کی ما ښین د روي ، دما شین تر ځنګ انسان هستی ته خوي ، هغه چې په باروتو کی اورنه لیکی ، هغه شاعر چې د خونی باد څپیړو تر ز ر کرته بر برمبخ وهلی ، خودي ورته تېښک شوي دوزخ بې داولس په خاطر تر جنګه بنه ګڼلی ، هغه ساعر چې کا نوته حواس ورکوي ، هغه شاعر چې خلکو نشه بیعت نه غواړي بلکه خلکو ته بیعت ورکوي ، کوم شاعر ( دافغانستان دخلکو دملی سرود شاعر ) نو په ځاي دي چې دهیوا د پیاوړي محقق پوهاند عبد الحی حبیبی دهغه په باب ولیکل . (( له دي ډ ی ځخه سلیمان لایق دخاص استعداد او ادبی ذوق خاوند دي او دده نوي کلام د پښتو شعر د نوي غورځنګ شمله ده . هم فکري ښکلا لري . هم دفورم او آهنګ په ایجاد کی ګړندي ښکاري ( لایق ځکه نوي زلمی چې دي ، افکار یې هم زلمی دي کوم هیجان او تلاطم او غورځنګ او نڅا وي چې دده په اشعارو کی د اورینو احساساتو سره ښکاري ، دده دشعر او نوي نورم او اهنګ سره او ږه په اوږه ځی . اوزه داسی ګمان کوم چې دا راموزو او ارامو احساساتو
۳۰

خاوندان به هسم له خپله شعره سره خوځوي او په خپله شعري ننداکۍ بې له ځانه سره ملګري کوي»( ۲۹ ) نو په دي توګه دا په مسئولیت سره ویلی شو چې دنوي شعر د ښه شاعر ویاړ به سلیمان لایق ګټي ۰ دا هم د ده یو شعر ۰

دملګري شاعر ځواب

. ګوره شاعره، تاستا یلی یمه ،

زه دستا یلونه یم ،
د یادولونه یم
زه یو اسیر یم ،اسیر
دتد بیرونو اسیر
دځنځیرونو اسیر
زوړ بند یوان په نوي بنه غاښ چیچونه کوي
موږ ته ګوا ښونه کوي
په تیاره شپه کې په لارو یو یرغلونه کوي
زه ورته ګورم
زه ورته ګورم زنې سترګې مې سپلونه کوي
لاس مې تړلی
خوله مې بند ه
یوبس دمس شاعر
یو دزړو منسوخو شویو قد رتونو اسیر
د ځنځیرونو اسیر
او دخپلو ملونو اسیر

— — — —

ما دلایق په نوم کې،
ددي سرکشی نه منو نکی ګګري لپاره
دټول جهان له رنګینونځوګلونه جوړ کړه
په دي ګلونوکی مې خپله خودخوا هی ونغښته
له دي ترکیبه مې یوځو تا وده شعرونه جوړ کړه
په ځان عاشق شوم
دغه ځان ته مې عرشونه جوړ کړه
۳۱



ACKU

غلط مين شوم
خپلو ښوته مې دا موږنه جوړ کړه
نو زه لا پخوا يم ښو بيد لی
ښو يوي مې ولی
وا يا د وي مې ولی ٠
— — — —
زه که شاعر يم که ساحر يم ٠
د اوړيو نه يم
ما تش کاغذ کی دجګرو سنګرونه جوړ کړه
ما له شعرونو اوحرفونونه نوموونه جوړ کړه
په ترانوکی مې مزدورته جنتونه جوړ کړه
خو لا تر اوړلا ندي مرجل ته روان شوي نه يم
ځا ځکی يم ځا ځکی ٠
توفان شوي نه يم ٠
زه لا دخلکو په ننګوکی قربان شوي نه يم
— — — —
زه غواړم تولو ته ځان لوڅ کړم او په خلاصه ژبه
د زيار ايستوکی مخکی
له خپله ځان سره جنګ وکړم ٠
له ځانه ووزم او په خلکو باندي ننګ وکړم
بيخی آزاد شم آزاد
دا سی آزاد شم چی په کښلی توره
دکبرجن شعر په عرش باندي غورځنګ وکړم
نوستنوي مې ولی
اوزما له ساړه زغلی نه ولی ولی
دزړ دشت اورغواړي
رسوا کوي مې ولی
او دا شرموي مې ولی ؟
— — — —

که زه مظبوط شومه ·
تکیه شوم
او خطا نشوم .
په توفانونو کې لاروکی اوجلا نشوم
د لوی ارمان له پاره
د سره انسان له پاره
په تیریدونکو سرو شپوکی ورخطا نشوم ·
او د زیار ایستونکو له سنگره را په شا نشوم ·
بیا به د پرخی څانګی نه یم توفان به یم
نوي جهان به یم ·
— — — —
که توفان نشوم جهان نشوم ·
یوه قطره خوبه شم ·
داوزده فصل دانسان یوه نقطه خوبه شم
یوه اسره خو به شم
دسختو لارو دکاروان یوه نغمه خوبه شم
دجنگیالو یوه نغمه خو به شم
له خپله ځانه خوبه ووزم وا رسته خوبه شم
ځکه دي څاڅکی شم ·
— — —
څاڅکی دي شم ، شم دي ،
خو څاڅکی دتوفان دي شم
له لوي دریاب سره به یوشم اوروان به شم
جزدجهان به شم
دخلکو لارکی به منظورشم اوقربان به شم
خولا تراوسه یو ری
زه یو اسیریم ، اسیر،
دتد بیرونو اسیر
د ځنځیرونو اسیر ، ۲۹ر۱۱ر۱۳۵۴ — کابل
۳۳

رموز بل تکړه او بیا وړ شاعر چې غوا ړي دنوي شعر ادبي جزیان ته وده ورکړي . نور شاعران دې جولۍ ته وهڅوي او خپله هم په دې برخه کې زیاتې کار وکړي . هغه پښتو هاند دکتور زیار دی . که څه هم د ده په سیاست لړلي اشعار د احساس او عاطفې اړخ نه څه ښې خونده بسر- ینی . خو بیا هم هغه د نوي شعر په ویلو کې لوی لاس لري . چې د ده دوه وروستني چاپ شوي اثار رموز د دې خبرو تائید کوي . دې دانځورو- نو او طرحو په نامه بنه مطالب را نغاړي او ژړې داورېدونکو او ویونکو غوږ ته رسوي :

سپینې غلي
غلچکې شانې کتو دي .
غلچکې د سپینې خولې کړم ....
که تا وسوم په سترګو
ما هم زړه درباندې یې کړ ....
غل خوهسې وي کنه !
غل خوهسې وي کنه ! !
اویا داچې ! (۳۱)

<u>دا غلی زړه</u>

د سرو شونډو په سکروټو
کړه مې څېړ یکې لړې غلې
د بېلتون دا غلی زړه ...
چې بې اوره نه رغیږي .
دا اورسوي داغونه ! !
( ۳۲ )

حبیب‌الله رفیع د پښتو ژبې بل تکړه شاعر هم کله کله دخپل زړ ګې ناسېړلي ارمانونه هیلې ، احساساتو او عواطفو په نویو جولوکې اچوي او هغه چا ته یې وړښيي چې بري پسې هیږي .

د رفیع احساساتو او غوښتنو هم دقافیې ږولنې لکه دنورو په یرو دسا تیرو د ږولنو په څیر ورمات کړې ، یاغی شوې او نوي شعر توم یې ګټلي چې په لوستل یې هرومرود هر با احساس انسان رګ رګ کې ارزوګانې پڅنغاکیږي :

۳۲

نخښزي

دهیواد دلوېشتی لوېشتی
خاوره مینه س رګ رګ کی
په نخا وه ·
په‌ګـډا ده ·
په غور ځنګ ده
نه سرېږي ·
— — —
خوجی زه یم ·
خوجی ژوندي یم
خوجی وینه وي تن کی
په خدمت‌کی د وطن یم
تل خوښیږي او نخښږي ·
( ۳۳ )

او یا هم !

دژوندون سندري

ځوانه یا شه
لیچی نغاړه
تـه چی غوا ړي

پرمختیا ٭ لوړ تیا دمیني !

دغه کار یی مینی نشی
تاتـه سترګی د اولسردي
دهیواد په مینه یا یه
دملت دردونه بنا یه ·
د وګړ و قوت ستا یه ·

ته هم یا ښیږه شاعره
دژوند ون سندري وایه
( ۳۳ )
اودا شعر هم دنویو اشعا روځخه د لوستلو وړ دي :
۳۵

پـه څه نا زیږي اشنا

په څه نا زیږي اشنا
په شوخو سترګو طلایي ویښتانو
په نري وروځو او په سرو شونډو اونو
که په پراخ تندي دي
او یا په دي چي صدفي غوندي غاښونه لري ۰
په څه نا زیږي اشنا ؟
اشنا په دي چي باڼوګان دي خنجري غوندي دي
یا چي نوکان دي سره ګلګون او اتشي غوندي دي
که په نري ونه دي ۰
اویا په دي چي هرقدم کي مکیزونه لري ۰
په څه نا زیږي اشنا ؟
دا چي په مستو شرابي شونډو خندنګوي
دا چي په نازاوکرشمو باندي کتل کوي
که په لنډۍ ي زنه دي
یا که په دي باندي چي سپین لوغ مروند ونه لري
پـه څه نا زیږي اشنا ؟
په دي چي پټ تر شونډ ولاندي مسکیدل دي زده
یا چي په مبهمه کي دزړه کیا بیدلي دي زده
که په وړه خولګی دي
یاکه په غاړه قیمتي غوندي لعلونه لري
په څه نا زیږي اشنا
په څه نا زیږي اشنا
ـــ دلومړي برخي پاي ـــ
یادښت : دا مقاله دوهمه برخه هم لري ۰

ا- لا یق چو نغر ۱۰۵ مخ

۲ـ سا ئل رحمت شا ه دویر یه جم کی وار دمضمون د ي ۱۱ مخ

۳ـ رر رر رر رر ۱۳ مخ

۴ـ سراج الاخبار ـ شپږم کا ل نحمه گڼه ۴ ـ مخ

۵ـ الفت ـ افکار جرید ه اومړ ي کا ل لومړ ي گڼه ۳ ـ مخ

٦ـ دژوند انځور پښتو ټولنه ۱۳۵۷ ۹۲ـ مخ

۷ ـ ځانځا نی ښا ما ر دژبی اوادب پوهنځی ۱۳۵٦ ۴۱ مخ

۸ـ دژوند انځور پښتو ټولنه ۱۳۵۷ مخ

۹ ـ

۱۰ ـ طلو ع افغا ن قند ها ر ۱۳۱۴ ۲ مخ

۱۱ ـ رر رر رر ۱۳۱۴ دلیندۍلومړ يگڼه ۲ مخ

۱۲ ـ کا بل مجله پښتو ټولنه ۱۳۴۱ شپږ مه گڼه ۲۱ مخ

۱۳ ـ طلا درمس

۱۴ تو ده وینه پښتو ټولنه ۱۳۵٦ ۳٦ مخ

۱۵ ـ کا بل مجله رر ۱۳۲۰ ۲ گڼه ۲۷ رر

۱٦ ـ دژوند انځور رر ۱۳۵۷ ۱۱۵ رر

۱۷ـ رچو نغر رر ـ ۱۱۸ رر

۱۸ ـ دا جمله ځینو اشعا رو تفسیر ____________

۱۹ ـ نوي شعرونه دمطبوعا تو مستقل ریا ست ۱۳۲۱ ۱۱ مخ

۲۰ ـ کا بل مجله پښتو ټولنه ۱۳۲۱ رر

۲۱ ـ دژوند انځور رر ۱۳۵۷ ۹۳ رر

۲۲ـ کا بل مجله رر ۱۳۲۱ ٦گڼه ۲۷ رر

۲۳ـ نوي شعرونه دمطبوعا تومستقل ریا ست ۱۳۲۱ ۲ رر

۲۴ ـ دژوند انځور پښتو ټولنه ۱۳۵۷ ۹۱ رر

۲۵ ـ رر رر ۱۳۵۷ ۳٦ رر

۲٦ ځا نځا نی ښا ما ر دادبیاتو پوهنځی ۳۵٦ ۲ رر

۲۷ وږ مـی مجله رر ۱۳۵۲ ۳ـ۴ گڼه ۸۹ رر

۲۸ـ رر رر ۱۳۵٤ ۱ گڼه ۱۰۵ رر

۳۷

ACKU

۲۹ ـ په پښتو شعرکی د ژوند نوې څپې دافغانستان دعلوموا کا دمی ۱۳۶۰ ۳۲ مخ

۳۰ ـ یا د وته درمندونه دولتی مطبعه ۱۳۵۷ ۲۷۲ ,,

۳۱ ـ وینه اومینه ۱۳۶۰ ۹۰ ,,

۳۲ ـ ,, ,, ۱۳۶۰ ۸۰ ,,

۳۳ ـ اې هیوا ده اې هیوا ده پښتوټولنه ۱۳۵۶ ۸ ,,

۳۴ ـ ,, ,, ,, ,, ۱۰ ,,

۳۸

دکتابو کتنه

څېړنيار واجد

# په اوسني پښتو شعر کې د ژوند څپې

لیکوال: پوهاند عبدالحی حبیبی، خپرونکی د افغانستان دعلومواکاډمۍ دژبو او ادبیاتو علمی او تحقیقی مرکز (پښتوټولنه) کابل مجله، دخپرېدو کال: ۱۳۶۰ کچه: ۱۵ X ۲۱ سانتي متره مخونه: ۴۰ دچاپ ځاي: دولتي مطبعه.

څرنګه چې هرمټولنه دوخت دتېرېدو په جریان کې تکامل کوي او پرمخ ځي. نو دهمدې تکامل په اساس دهرې ټولنې په ټولوکړو وړوکې هم تحول اوتکامل پېښېږي او ددغسې تکامل سره جوخت په ژبه کې هم تحول اوتکامل رامنځ ته کېږي.

کله چې په ژبه کې تحول اوتکامل پېښ شي نو ددې تحول اوتکامل سره سم په شعر او شاعرۍ کې هم دنوي فکر او نوي بدلون نښې نښانې راڅرګندې شي.

پورتنی مطلب په (اوسنی پښتو شعر کې دژوند څپې) نومې اثرکې په پرېنه څرګند شوي دي. نوموړي اثر چې د پرېنکلي قطع اونه صحافت لري دشېخ بستان برېخ دمرېنی دخلورسومې کالیزې په وياړ دعلومو اکاډمۍ دژبو او ادبیاتو په علمي او تحقیقي مرکز کې دکابل مجلې له خوا چاپ شوي دي. دغه کتاب په پوره پېره علمي اوبه زړه پورې سريزه پاندې پيل کېږي. چې په دغه علمي سريزه کې لیکوال پورتني مطلب ته داسې اشاره کړې ده:

((په دې خبره کې هيڅ شك نشته چې دپښتو ويونکو خلکو ژوند اوس داوښتن او تحول په حال کې دي او موږ دجهاني پرمخ تلونکي پوړ به سېرکي دنوو مفکورو او نوو غورځنګونو سره مخامخ کېږو او زموږ ژبه او ادب او دژوندانه ټولې کلتوري خواوې هم ورسره اوړي او داپسو داسې څپې او تکړه جريان دې چې موږ بې له حتمي اغېزو څخه ځان په هيڅ توګه نه سوخوندي کولای په دغه روان غورځنګ او خوځند بهيرکې زموږ ادب اوژبه هم بې اثره نسي پاتېدای اوتاسې داخبره ومنئ چې ژبه پوره کلکه او نه ماتېدونکي پرېښه نه ده چې منجمده اوشړه له پرځای پاتې سي بلکه دشاوخوا پر اثرونه مني، او اغېزې بې سمې اودزماني له پوښه سره ځان سموي)).

استاد د سریزې په پای کی د زلمی هیوادمل هغه ستونزې اوبیړ ونه چی د دې اثـــر په ترتیبولو او چاپولو کی یې په مخ ان منلی د ې هم په خپل وارسره ستاینې اود قدر وړ یـــې گـنلی دې . د سریزې نه وروسته دکـتاب اصلی متن شروع کیږ ي .

د دغه اثر محترم لیکوال په خپل اثرکی په اوسنی اوپخوانی ادب غږیدلی د ې . د شعر او شاعرۍ اجتماعی ښیگـنی یې بیان کړ ې د ې . چی د پخوانی ادب څخه یې د رحمان بابا ، خوشحال خان ، حمید اوشیدا اشعار د نمونی په توگه مقابله اومقایسه کړ ي د ې .

د د ې مطلب په ارتباط د اثر په دریم مخ کی لیکی : (( رحمن بابا دغه حیاتـی متـاع د ما د ې له چارچوبه یو آسمانی او روحانی فضاته ورسوله . شیدا اوحمید د لفاظۍ اونازکخیالۍ او ادبی هوسناکۍ په چاپیرکی سره را د ې خوا اوهغی خواته کړه . اوحـتی ځینوخلکـــو خوارکی ادب د مضغی او استنشاق اواستنجا په احکامو کی هم راونغښت )) .

په بره لیکـنه کی د کـتاب محـترم لیکوال یوازې او یوازې د پخوانی ادب څخه د رحمن بابا ، حمید بابا اوشیدا د اشعار و کره وړه ، تنگه لاره او طرز بیان کړ ي او ښودلی د ې او هر یوه بیله بیله نمونه یې راوړ ې ده د مثال په توگه لیکی : (( رحمن خو پخپله اقرار کوي چـــی د هی خودی خپولاهوکړ ې د ې او نه پو هیږ ي چی دغه جذبه او کشش له کومی خــوا د ي)) . لکه چی وایی :

زه د اهسی دیوانه اومجنون چا کـــړم ! له رواجه له رسومه بیرون چاکـــړم !
نه پوهیږ م چی د اچارې په ماخوك کـــا ! لیونی د خپل نگاه په افسون چا کړم !
رحمن هیڅ له خپله څانه خبرنـــــــه م ! چی د اهسی رنگ زبون اومحزون چاکړم !

همدا ډول یې د حمید بابا اوشیدا اشعار د لفاظۍ اونازکخیالۍ له خوا د یوصنعت کا ر په توگه بدنه د ې گـنلی د دوې شعر د شعر د پاره گـڼلی شوي د ې اوبس.

خوشحال هم د پخوانی ادب یوبزبی شاعرد ې خود ده په اشعارو کی تولنیز ژوند خپلـــه څیره هم ښکاره کوي او اشعاریی بې هدفه نه د ې . هدف لـري . رحمن بابا هم بې هدفـه نه د ې ښودل شوي خواشعاریی یوڅه آسمانی رنگ لري . شیدا اوحمید خوصنعت کـــاران ښود ل شوي د ې اود دوې هنر د هنرد پاره د ې . لیکوال د پورتنۍ موضوع په ارتباط لیکـــی : ( د شیدا اوحمید نازکخیالۍ اولفاظۍ خود یوه صنعت کار په ډول بدې نه وي مگر د دوي شعـــر د شعر له پاره واوکم لږ هدف اوعالی موخه نه لري) . بیاهم د د ې وخت د نامتوشاعـــــر خوشحال بابا په هکله خپل نظرد اسی وړ اندې کوي :

(( خوشحال خو هم د غسی بزمی اشعار لري اوکله د خالص فنان جوله موبی مگرژوند اواجتما ع هم د ده په شعر کی خپله څیره ښکاره کوي اود مقصد پټ لوری ته متمایل کیږ ي . رحمن بابا هـم

مقصد لري خو هغه به لږ څه لاهوتي او آسماني وي مګر د شیدا او حمید هنر د هنر د پاره دي . دوي صنعت کاران دي ! دوګاښکلي اورنګین لوښي جوړ وي مګر داسي لوښي چي د ژوندانه په چارو کي نه بکاریږي او هغه چیني لوښي دي . چي فقط د تزئین له پاره یې په سالون کي د هوس اواني خوندله پاره ایښوولاي سو . شیدا په شاعرانه تخیل کي د ځان د پاره د ماښام او هلال منظره داسي جوړوي :

تل په داخمو ابرو په شهلا سترګو دخپل یارشام وهلاله راشـــه ګښېنه

وروسته د شیدا قناعت په خپله ناکخیالۍ داسي ښېئتوي :

نازکي د یار د طبع کړه موزونه اي شیدا ناکخیاله راشـــه ګښېنه

په همدي توګه د حمید بابا د نازکخیالۍ د تمثیل د پاره د ده خپل شعر د نمونې په توګه راوړي :

دایې ښاغ د ګل سره ښېګلوارپېکړ که لعزره سره مي ترکولړمون وکیـــښ

داهرلیکوال په خپل کتاب کي د پښتو ادب په منځنۍ دوره کي شعر او شاعري ټوله نازکخیالي او آسماني خواته متوجه ګڼلي ده . خوکله چي نونسمې پېړۍ ته راځـــي دي . نو یې پښتو ادب بېرته داجتماعي ژوندون خواته متمایل ښودلی دي او داځکه چي پښتون قام یو ژوندي قام دي او تل یې د استعمار په ضد مبارزه کړې ده خصوصاً په نونسمه پېړۍ کي دي قام د استعمار په ضد نه یخلاکېدونکي او نه ماتېدونکي مبارزه کړې ده او د خپل دښمن سره یې سختي ډغري وهلي دي نو په دغه وخت کي په پښتو ادب کي داجتماعي ژوند مسایل هم داخل شوي ده ې او پښتو ادب بېرته خپل ټولنیز مسیرته راګرځېدلی دي او اوادې د ژوند د پاره ګټورل شوي دي . او د فن تازیو په عوض ادب د قومي ژوند او آزادۍ غوښتلو خواته تمایل پیدا کړي دي . څرنګه چي په نونسمه پېړۍ کي د پښتو ادب د ژوندانه خپل اصلي مسیرته راوګرځېد همدارنګه په نونسمه پېړۍ کي د طباعت او صحافت فن په پښتونخواکي رواج پیدا کړ . او په نوي ادب کي هوس او خیالبافي ځېل ځاي واقعیت او فکرته پرېښود دامطلب داثر لیکوال په خپل اثرکي دارنګه افاده کړي دي :

((په نونسم قرن کي د طباعت او صحافت فن هم په پښتونخواکي رواج ومونډ . نثر او نظم دواړه خپاره سول او پښتو د پښتوله نهضت سره یو ځاي د نوي ادب او نوي ژوند په ډګرکي په وده او پرورښت ګښېوته . دلته هوس او خیالبافۍ خپل ځاي واقعیت اوفکرته ورکــړ . لیکوال او شاعر دواړه د ژوند واقعي مسایلوته متوجه سول د لاهوت او آسماني فکرپرځاي د اباسین او خیبر او ارغنداب مناظرود پېدل د ښې اوزلف وکاکل پرځاي د قومي ژوندانه خبري ... سوي . د ... په پښتو ادب کي ... جبر ... راوپوسته د پیوحمد

ACKU

او شمس‌الدین پرتحاي بی مخلص او الفت د رول درحمان بابا او حمید پرقولی بی اجمل او طوفان میشته کړل )) ۰

په کتاب کی دا هم ویل شوي دي چی پښتو ادب او دري ادب اوږه په اوږه مخ په وړاندې روان دي لکه څنګه چی په پښتو ادب کی تحول او تغیر پیښیږي او پیښ شوي دي همدا ډول دري ادب هم د دې تحول او تغیر څخه بی برخی نه دي دمثال په توګه د دې اثر لیکونکی دپخوانی دري ادب څخه دنمونی په توګه دسعدي یو شعر راوړي دي :

( اي مرغ سحر ! عشق زپروانه بیاموز    کان سوخته راجان شد واواز نیامد )

د دې بیت نه وروسته داسی لیکی :

(( ترسعدي دمخه لا دارباعی عمر خیام ته منسوبه وه مثلاً :

دانی که سفیده‌دم خروس سحري    هرلحظه چراهمی کند نوحه ګري
یعنی که نمودند درآئینه صبح    کزعمر شبی ګذشت وتوبی خبري

مګر همدغه پخوانی شاعري داوښتون په حالت کی په نوي بڼه په نوي ادب کی دارنګه واوښتله :

اي مرغ سحر ! بناله دوړ رادوړ    بیهوده مکن توخویشتن رنجور
زین سان که ګرفته خواب‌ظلمت مارا    بیدارنمی شویم تا نفخه صور

دکتاب په اوم مخ کی دهمدغو موضوع په ارتباط دنوي ادب څخه دنمونی په توګه لیکی :

(( داحمد شاه بابا ـ ۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶ هـ ق )) معاصر شاعر اخوند ګدا ویلی وو :

دسحر چرګه خوږ شی په کوکی    چی تاتاري کړي دلبری دروکی
یوی دلبری بل رانه زړه وړي    زړه می په دا وړي چی دلبرنه‌سی

په همدغه ارتباط یوه نمونه دارنګه راوړي :

دسحر چرګه ! کوکی دي خوږ شه    پرمادي لښاده دوصل شپه کړه
بنایسته ملاله ، په میوستـه وه    چی تا را ز غ کړه دادي خپه کړه

داخلویښه دخدایرحیم اکاخیل قندهاري ده چی او یا اتیاکاله پخوا ویل شوي ده ۰

یو بل شاعر دچرګه داذان څخه دارنګه الهام اخیستی دي : نمونه :

ولاړ یږه هڅه کړه چی شپه شوه تیره    سهیدی‌یوجا ودی‌یاتوارپی‌راخپریږي
رڼا بی دوړمی سولسه راپرېږیوه

همدارنګه د دې اثر لیکوال دموضوع په ارتباط دنوي ادب د یو نامتو او مبارز شاعر اجمل خټک دشعر یوه نمونه هم راوړي ده چی شاعر رښتیا هم په خپل شعر کی دخپل قوم دمحرومیت نقشه راکاږي او په خپل شعر کی دخیال پوستنه څخه دواقعیت خواته دروي دشعر نمونه یې

داده : دي دميري چرګ ته وايي :

تاته به سحرښکاري خوبام ګوري ماښام نشي      ته به يې اغازګني خوبام ګوري انجام نشي
ته به څه مستي ګوري بې وخته راغوا نکړي يې      ته به چايه با دوړې سولی روان کړي يې

نو اي دميري چرګه
په ماښام بانګونه مه وايه

دامنم چې تاسره څانګونه ښه درانه شته دي      دامنم چې ستاد وه خاروګان پاخه زاړه شته دي
دامنم چې ستا اوازترلرې هرسېدي شي نن      دامنم چې ستا په کرکره به څوك غولېدې شي نن
يادکړه داځانګونه ګوري ستاد الوټونه دي      ستا د الوي اوازبه ګوري تاته مصيبت وي بيا
ستا داکرکري به دې هم تاته لوي آفت وي بيا

نواي دميري چرګه په ماښام بانګونه مه وايه

همدارنګه دپښتو داوسني ادب دليکوالو اوشاعرانو څخه يو ملاعبدالباقي افغان کندهاري ګڼل شوي دي چې ده خپل کتاب تبيين الواجبات دامير عبدالرحمن خان په عصر کې پيل کړي دي اود سراج الملة والدين امير حبيب الله په نامه يې ختم کړي دي اووايي :

دضيا په نور روښان وم ، مقتبس سوم له سراجه
را اخيستي مې قلم دي ، بيلوم دين له رواجه

استاد حبيبي دنوي فکر دروزلو اصلي مکتب سراج الاخبار ګڼلی دي اود دې مکتب شاګردان يې په خپل وارسره داسې معرفي کړي دي :

((په سراجي دوره کې شپيته کاله دمخه دغه دفکر مکتب سراج الاخبار وروزه ٠ دمولوي غلام محي الدين افغان او مولوي صالح محمد او مستغنی او سيد محسن کندهاري او عبدالهادي پريشان ( داوي) په پر اشعار او آثاردعصر اوزمان په رنګ رنګيدلی او سولولی سوي دي چې وروسته حاجي ولي محمد مخلص او بينوا او خادم او الفت او رښتين زمريالی او جلالی او سليمي او مجروح او نورو هم خپل ادب او هنر دژوند سره ونښلاوه او اوس څونږ د پرخه داسې پښتو آثار لرو چې داوسنی ژوند تجليات په ښکاره ول پکې بريښي ٠ فضل حق شيدا د دې مکتب پوتکړه استاد دي ٠ ده دپرش کاله پخوا ددغه ادبي تحول اودژوندانه دترجمانۍ له پاره خپل اشعار داسې پيودلی دي ٠ اودزمانې نوي شان يې په دې ډول ښودلی وو :

زلميه په وطن قربانېدل زده کړه بل شان      دمرګ چل دي خطاد يې مکېدل زده کړه بل شان
چې مړ شي نو بيوې ته فايده ورسيده څه !      پتنګه ته په شمع سوز بدل زده کړه بل شان
هرڅيز چې نوږ شي خوندنه کړي ، زړې خندادې پرېږده
بلبل له اي ګلابه خندېدل زده کړه بل شان ٠٠٠ ))

دکتاب په لسم مخ کی ((په اوسنی پښتو شعرکی نوي حرکت)) پو روښانه عنوان لیدل کیږي چی تردې عنوان لاندې دادب په ښکلیتوب بنه مفصل اوږده پوره بحث شوي دي او ادب دانسانی ژوند دیوې ښکلی پدیدې په حیث چی دانسان دژوند اوښتون سره یوځای تحول پکی رامنځ ګڼل شوي او ادب دهر وخت او زمانی دشاعرانو اوادیبانو دفکر تابع بلل شوي دي محکه چی دد شاعرانو او ادیبانو فکر دزمانی اووخت دنوو تحولاتو بیرو او نوو اندیښنو تابع دي اودا یو تاریخی جبر ګڼل شوي دي . لیکوال پخپله ددغی ادعا داثبات له پاره داتاریخی دلیل راوړي دي :

(( دمثال په توګه به دفارسی ادب تحول ته وګورو چی لومړۍ مرحله اودسامانیانو دوره کی الفاظ ، ادا ، دکلماتو تلفیق معانی او فکري اړ خ بالکل دسنایی یامولوي څخه بیل دي)) بیالیکی : (( دپښتو شعر هم داسلامی دورې له ابتدا څخه مختلفی مرحلی تیرې کړي دي . خو داخلورقرنه د ( ۹۰۰ هـ ق ) راپدې خوا ادبی تسلسل لري اودپیر روښان تر ادبی اجتهاده وروسته دخوشحالخان اودختکو ادبی نهضت شروع شوي و چی دادي لین یی او سمونږ ته رارسیږي)) . په دولسم مخ کی ( نوي یعنی څه) عنوان راغلی دي اودنوي کلمه داسی څیړل شوي ده :

(( کله چی دنوي صفت پر شعر باندې تطبیق کیږي نوزما په خیال تردوومقولو لاندې راتلاي سی :

اول ـ دشعر معنوي اړ خ او دتخیل چاپیر او هغه څه چی شاعری دخپل شعر شعري ګنی او ددې دهنر اصل او موضوع وي چی په فرانسوي یی فون ( Fond ) بولی .

دوهم ـ دشعرلفظی اړ خ او ظاهري چوکاټ چی قدما وو به دبلاغت اصول ګڼل اویی بدیع عروض او قافیه کی به یی بیاتول او دغه برخه په نوې اصطلاح فورم ( Form ) بولی .

دلومړي عمومی جنګ نه وروسته چی په شرقی ملتونو کی دآزادۍ جنګونه داستعمار ځپانو سره پیل او دیوال شکلونو شروع شوي وو اوبه ګران افغانستان کی داستقلال دبیامومندلو مبارزه په کامیابۍ سره ختمیدله ددې وخت دشاعرانو په اشعاروکی هم یوڅه بدلون راغلی و .

دمثال په توګه ددې کتاب لیکوال لیکی : (( ددغو شاعرانو څخه چی زمونږ په ادبی حرکت کی پیشقدمان دي دمثال په توګه غلام محی الدین افغان ، عبدالهادي پریشان اوسید محسن کندهاري ، سید حسن اومخلص کندهاري ، غلام محمد پوپلزي ، سیداحت زاخیلی او میان احمد شاه فضل محمودمخفی او امیر نواز جلیا او فضل احمد غرا او هلالی نومونه را وړلاي سواي . دې ډلی خوبه ادبی حرکت کی غته بخوبرخه اخیستی ده اماله قدیموزولنو او روا یاتو یی ځان ژغورلی یا ایرکټ او نیغ خپل مقصد ته ورغلی دي اوبه هنر نمایی اوابداعی

مرحله کې یې پل نه دي ایښی )) ۰

دي د هلالي یو شعر راوړي چې دغه شعر رښتیاهم دمضمون له پلوه نوي او د پرګتـــور دي خو د څرګندونې شکل یې زوړ اومستقیم ګڼلی دي :

ارمــان یـــو

ای پښتنو یوه شی ، دي ستاسونوم نښان یو ـ خانګی بیلی بیلی دي ستاسود ذات شان یـــو
دایوسف زیی ، ختك ، بارك ، احمدزي مهمند ـ داغلجي ، شینواري ، افریدي دي خاندان یو ...))

په څوارلسم مخ کې یو عنوان راغلی : (( په پښتو کې نوي هنري حرکت څنګه شروع شو ! ))
او بیا نوتر دې عنوان لاندې په لږه اوږده پښتو نثرواکی د دې حرکت پیلامه داسی ښیـــــی :
(( دافغانستان داستقلال جنګ داپشیا په دې برخه کی یوه ویښوونکی او خوځوونکی پیښه وه لکه په ډیرو اجتماعی اوسیاسی او مدنی چارو کی چې تحول راغی ۰ دغس هم دفکــري او ادبی اړ خه یوه مثمره او اغیزه ناکه حادثه وه ۰

دپښتونخوا ځینیزو برخو کی چیرې چې کله دخوشحال اورحمن بابا اوشیدا غونـــد ې بلبلانو څوازه زغونه او ویدل سوي وو اوس هم دپښتو شعر نشوو نمـا بیاموندله او دادبـــی تجدد مکتب لومړ ۍ پلا هلته ویرانست سو اود ادپښتونخوا هغه ښکلی سیمه ده چې شیـــدا په زاړه نامه بګرام داسی ستایله :

دبګرام خطــه دلکشـــــه ـ دبهار دخاطـــــر خوښـــــه
سرتربایه رنګ امیـــــزدي ـ رنګینه خیال انګیـــــز دي
په بهارکـــــی پـــــی دګلـــو ـ ناري اوري دبلبلـــــــو

د دې ښکلی ادب خیزې سیمی زلمو له اروپایی مترقی ادبه سره اشنایی وموندله او په پښتـــو شاعرۍ کی یې نوي افکار ، نوي الهامات او نوي اسالیب رواج کړل او د دې ډلی سر لاري داسی معرفی کوي :
سیدرسول رسا ، فضل حق شیدا ، برق کاکاخیل ، سمندر ، غنی ، بیزاري ، طوفان ، اجمـــل اوسلیم غوندې شاعران دي)) ۰ او همدارنګه دلته دپښتودنوي ادب دبوستان رنګین ګلونــه ( الفت ) بینوا ، لایق ، رشاد ، ریدي ، محمود اویسرلی لرو ۰

دلته نو لیکوال دالفت نثر او نظم دواړ و ته دقدر په سترګه داسی اشاره کوې اووایی :
(( نوو شاعرانو دخپل هنرفورم او فون دواړ ه نوي کړ ل اوکه یې هم کله دپخوانوقوالب اوهنـــري اسالیب وسائل په هغو کی یې لاس وواهه اوبه نوي ګـنه او نوي پسول یې ویګلل اوبه دې ډله کی دالفت ابتکار داوچی نثرته یې کټ مټ دمنظوم اوبیودلی شعر رنګینی ورکړه ، او زه چې د ده منثورې ډیرې توټـــی لولم ۰ ګمان کوم چې نثرنه دي بلکه دیوه څوارږه اوبیو دلی

کلام په ښیرخوند کوي )) ۰

همدارنګه دکتاب محترم لیکوال د سیدرسول رسا یونوي شعرچې خلوېښت کاله پخوایې ویلی دي راخلی :

داوینکوسترګی خون فواري وي
ګرد وغباروي، توري ایسري وي
په تندرسوي، سري اري وي

ریزي ریزي وي، اوتر اوتر وي
یوچې په غیږکی مې ښکلی دلبر وي

بید یاوي، تري، هولناك غرونه
تاوده بادونه سوي ریګونه
ناست په غرموکی ۰ سره وي یاګونه

شونډې مې مې وچې ۰ سوي ځیګروي
یوچې په غیږکی مې ښکلی دلبر وي

تردې وروسته دکتاب په شلم مخ کی دپښتو دنوي ادب یوه پرعلاندستوري اجمل خټك ته رارسیږي اود ده د شعر دښکلاپادونې ترڅنګ د ده دوینانمونه راوړي :

دخوشحال له خاورې پورته یوه نغمه یم      یل مشال په اباسین او تاتره یم
سرې یوه شو ! دغیرت چڅمسوراوریم      چی تاخوبره رانغز دلم سره لمبه شوم

پهمدې ډول دکتاب په دوویشتم مخ کی ( پښتونوي شعرپه افغانستان کی ) عنوان راغلی دي چی دعنوان لاندې یې دامیرشیرعلیخان، سیدجمال الدین افغان ددوري ادب اوددې ادب مکتب شمس النهارته اشاره شوې ده او ورپسی دسراج الاخبار دجریدې دقلمی همکارانو لکه عبدالعلی مستغنی ، غلام محی الدین افغان، پریشان، او مولوي صالح محمد او ملامحمد افغانی نویس اشعاروته هم اشاره شوې ده ۰

په اوو ویشتم مخ کی ( ترینامه ویشت کلن سیرووسته ) عنوان راغلی دي اوتردغه عنوان لاندې ویل شوي دي : (( په پښتو شعرکی دنوي فکر تحول نوې دوره له ۱۳۱۰ څخه پیل شوې ده چی تر۱۳۳۵ پورې رسیږي چی دغه دوره دپښتو دکلاسیك شعر اونوي غورځنګ ترمینځ دیوې منځنۍ دورې حیثیت لري ۰ اودمقایسې اوپرتلنې لپاره دپیرمحمدکاکړ

یوشعر را اخلی :

هجران انبار کړه په ما خونه ضعیف نحیف سوم په تن ژوندنه
اوس بیابل سو دزړه په خونه کله ژړ اکړ م کله اهونه
اوښکې می څاڅي له ځیگرخونه رنځ می زیاتیږي له دې تاخونه

او بیانو وایی چې په همداسې یوه زاړه قالب کې ښاغلی الفت نوي فکرونه پاولوایی :

گرانه وطنه خوره زیبایې جنت دعکس زړه د دنیا یې
ښاغلی تاج ته داپښا یې ور دستایلو ته په رښتیا یې
لعل وگوهر شته ستا بدخشان کې تمدن خورشوستا په جهان کې

همداډول دکتاب په پای کې دپښتو داوسنی شعر دتنکی بن بل غوړیدلی گل دکتور زیار نبی اود شعرنمونه یې راوړې :

توپو داسوپولوسی ، گناهونه کړه راتاند
دسرواوښکونیزوی ، دوزخونه کړه راتاند
مالگینی ښنکلاواخیست، رانه هسی خپل کساټ
زمایی دعمرونو پرهرونه کړه راتاند . . . ) )

په نتیجه کې ویلای شوچې دارساله که څه هم دپانو اوحجم له مخې کوچنۍ ده خو دمطالبو اوبحث له پلوه ډیره ارزښتناکه رساله ده چې دنوي ادب دخپرنې په برخه کې علاقمندانو ته دادب څېړونکو ته نوې لارې پرانیزي اودپښتو دمعاصر ادب په څېړنه کې کارترې اخیستل کیدای شي .

نظام الدین سلیمانخیل

# د پښتو د معاصر شعر هنري او انقلابي ارزښتونه

ادب او هنري پدیدې د یوه کام د ژوندانه د سېر د اسې یوه هنداره ده چې په هغې کې د هغه ملت سیاسي کلتوري ، مذهبي او ټولنیز بدلونونه د ورایه ښکاریږي . هنرمندان او شاعران تر ټولو څخه زیات د زماني تحولاتو او نویو پدیدو ته ژر پاملرنه کوي نو ځکه وائي چې د وي د پرحساسې زړونه او ځیرک غوږونه لري .

هرملت د اسې شاعران روزلي دي چې د خپل اولس د ژوند اصلي بڼه ئې په خپلو اشعارو کې منعکسه کړې ده . د ټولنې ژوند له شعر او شاعرۍ سره تړلی دی . د اسې یوه ټولنه نه پخوا چېرته موجوده وه او نه بهوروسته راپیدا شي . په کومه کې چې ملي شاعران خپلې خبرې ونه ښيي .

د پښتو ادبیاتو په تکاملي سېر کې د پر ادبي ستوري او شاعران راپورته شوي دي . د وي د خپل سیاسي او اجتماعي چاپېریال سره برابر په یوه پایل رنګ . د واکمنانو یا د محکومو اولسونو په ګټه خپل غږونه جګ کړیدي . څوک د تصوف او ابهام پرستۍ په لوري تللي دي او چا د خپل اولس د ر ښتونې ژوند سره پیوند پیدا کړیدی . ځینې نوربیا د زلفو او اوربل په دام کې ګېر دي او د ښکلیو ستاینه کوي .

د دې ټولو سره په پښتو ادبیاتو کې د اسې شاعران د پرشته دي چې د وي زموږ د خلکو غوښتنې او هیلې څرګندې کړې او ځانونه ئې له دوي سره درد منډ ښودلي دي .

په دې مقالــه کې به زه کوشش وکړم چې د پښتو معاصر شعر له شروع څخه تر دې اوسنۍ وختــه پورې په خو مخونو کې معرفي کړم او د هرې دورې د پیاخو ټنو نماینده ګانو د کلام په خصوصیت باندې لنډې خبرې وکړم .

د پښتو شعر پخواله دې چې د ې اوسنۍ معیارته ځان ورسوي د یرو اټنونه وهلي دي . د پښتو شعر په دې اوږده موده کې کله غوره هنري خصوصیات ښوولي دي او کله هم بیا بـــه نسبتاً ټیټه زینه کې واقع دي د پښتو ادبیاتو د یو شمېر پوهانو په عقیده د د ې ژبې بـــه شعر کې نوې مرحله د دغې پېړۍ له شروع سره یوځای پیل کیږي .

د نوي شعر په ایجاد کې کومه مشخصه څېره او یا په ځانګړې توګه کـــوم عامل رول نلري .

بلکه د امرحلې د وخت د یوشمیر شاعرانو او لیکوالانو د هنري فعالیتونو نتیجه ده . د دوي د اجتماعي سیاسي چاپیریال او د جهاني وضعې څخه متاثره کیږي او نوي مفاهیم او مفکورې د شعر په جامه کې وړاندې کوي .

دا هغه وخت دي چې د انګریزانو واکمني او زور د دې هیواد څخه د یوره نه د مپوړته شوې او افغانستان لاخپله ملي خپلواکه څیزه نه ده ترلاسه کړې . په داخله کې هم په فیودالي واکدارانو پورې تړلي رژیم ، دکلتور په ساحه کې د یر وروسته پاتې فکرونه او نساوړه اجتماعي دودونو د اولس په ژوند باندې سخت زور اچولی وه . له دغو موازینو سره برابر شعر او ادب هم مسخ پرمخ وه . خو دغې نامساعدې وضعې د پردوام ونکړ او د خلکو ملي شعور د پردیو د تسلط په مقابل کې په راز راز شکلونو کې ښکاره کیده . ادیبانو او شاعرانو هم ورو ورو په کار پیل وکړ او په خپلو شعرونو کې ئې د خلکو د ملي ازادۍ غوښتنې او احتیاجات منعکس کړل .

د استعمار په مقابل کې د افغانانو د مقاومت سره یوځای په پښتو ادب کې د نوي شعر ځینې هم خپرې شوې . د سراج الاخبار (۱۹۱۱ــ۱۹۱۹) د جریدې د دریم کال په شلمه ګڼه کې د لومړي ځل لپاره مولوي صالح محمد په پښتو ژبه شعر خپور کړ . دغه سلسله له دې ګڼې وروسته د نورو پښتنو شاعرانو لکه غلام محی الدین افغان ، عبد الهادي داوي او مستغني له خوا جاري وساتل شوه . غلام محی الدین افغان د دغو مبارزینو له کې یوه وتلې څیره ده . د ده په شعر کې د ملي ترقي او ملي هویت پخه ارزښته ده . د دغو پښتنو شاعرانو په کلام کې د ملي نیکبختي او د افغان اولس د ازادۍ مفکورې نغښتې دي . وروسته له دې پړه وخته د پښتو شعر په رسمي جریدو کې چاپیږي او هغه هم د هغه وخت د سیاسي او اجتماعي شرایطو په سختوشپوا وورځو کې د وطن د اعتلا فکر . نوي سیاسي خیالونه او ملي دردونه بیانوي . د دوي شعر د اجتماعي او سیاسي ارزښت له پلوه په پښتو ادبیاتو کې له دې پړه وخته وروسته یو ګام پرمخ اخیستی دي او یو نوي دوران ئې پرانست .

د شعر په تحلیل کې لازمې خبره داده چې هغه باید له ټولو خواوو څخه په غور وکتل شي . موږ د دغې دلې شاعرانو د شعر سیاسي او اجتماعي ارزښت وښود . خو که چیرې د دغه شعر هنري او فني خواوې مطالعه شي او له هم دغې زاویې څخه هغه ته وکتل شي . نو د هغه

ځینې کمزورې جهتونه موږ ته معلومیدای شي.

د دغې دورې شعر د اوسنیو پښتنو شاعرانو او له دوینه د پخوا وختونو (خوشحال او رحمن) د شعر څخه توپیر لري. د وي پخوانی شکل تینګ ساتلی او نوي افکار یې په پخوانی قالب کې غورځوي. د الفاظو او کلماتو استعمال او انتخاب ئې د هنري سلیقې او ذوق څخه بې برخې دي. هغه څه چې د وئی غوارې د شعر په قالب کې نوروته ورانتقال کړي په داسې وچ کلک او بې روحه الفاظو سره ئې بیانوي چې هغه د ورځنیو او جې محاورې سره څه زیات توپیر نلري. یعنې د الفاظو ترکیب ئې بې خونده دئ او د شعر جوړښت او ظاهري بڼه ئې لیږ څه مبتذله ښکاري. د شاعري هنر دادی چې د ی خپل مطلب په مضمون معناګانو او غیرصریح ډول سره اظهاروي. دغه ډول شعر د ویونکي په ذهن او حواسو باندې سنګینې کوي. او دغه کیفیت د دوي په شعر کې د اوسنیو شاعرانو په پرتله نه لیدل کیږي.

د مولوي صالح محمد دې شعرته پاملرنه وکړئ:

| | |
|---|---|
| دا څه عجب د وران دی | چې راغلی پر افغان دی |
| رنګارنګه ترقـــــــــی دی | څه عجب محبوب عنوان دی |
| وقت د علم و د هنـــــر دې | بې قیمت رایګان دې |
| قسما قسم معـــارف دی | نور د علم درخشـــان دی |
| .......... | ........... |

د دغو نیمګړتیاوو سره چې یادې موکړې دغه دوره د پښتو په شعر کې نوې دوره ګڼل شویده. او د دې علت هم دادی چې د وئید سکوت له یوې مرحلې څخه وروسته د پښتو شعر بیا ډاډوندې کړې دی.

دغه سلسله د وخت د سیاسي او اجتماعي تحولاتو په توپان کې نوره هم پسې پخه شوه او پښتنو شاعرانو د ویښو محلیانو د جنبش سره یوځاي پښتو شعرته د محتوي او شکل په لحاظ نوره هم وده ورکړه او پښتو شعرته ئې نوي افکار او نوي کلتوري پدیدې ورننه ایستلې.

دغه جنبش چې د آزادئ د اخستلو څخه څو کاله وروسته پیل شو. د داسې پښتنو شاعرانو پاملرنه ځانته ور واړوله لکه خادم، بینوا، الفت، جواد او ځینې نور. دغه شاعران د دغه سیاسي - ادبي جریان په دایره کې ورګیر شول او د هومانیزم پرابلمونو دوی سخت اند یښمن کړل.

افغانستان په دغه وخت کې د یوه مستقل ملت په حیث ځانته څیره لوڼي او افغانان په خپلو کې دیوالی او ورورې احساسوي. پښتانه شاعران دغه احساس لیږې تینګوي او خلـــک

وحدت او پیوستون ته وردعوت کوي. دوی په خپلو هنري فعالیتونو کې د وخت مستبد رژیم، اجتماعي ناخوالیو، رشوت، اختلاس او نورو فسادونو په غندلو په پوره قوت شروع وکړه. د دغې ډلې شاعرانو په شعرونو کې د هیواد د هغه انسان څیره له ورایه ښکاري چې د ټولنیزو بې عدالتیو او فسادونو په دام کې ګیر شوی وي.

د دغو شاعرانو ژوند او د افکارو بحرله تضادونو او جهشونو څخه ډک دی. ګیدای شي چې د هر یوه شعر د هنري پخوالي له مخې په څو مرحلو ویشل شي. خو که سړی د دوی د شعر بهیر ته یو عمومي نظر واچوي، نو هلته دغه یوه ارزو چې افغانان له خوبه را ویښ او د ژوند او تمدن لوري ته مخه کړي، د دوی په سري لیکې په ښکاره له ورایه بریښي.

الفت چې د دغه ریفورم غوښتونکي ادبي جریان یو نماینده دی د وینو ځلمیانو د جنبش څخه په را وروسته کلونو کې ډیر شعرونه ویلي دي. که د ده د دغه لاندې شعر د مولوي صالح محمد له هغه شعر سره چې مخکې مو ولوست مقایسه شي، نو معلومیږي چې د الفت شعر د هنري خوند او د الفاظو د ترکیب له مخې ډیره رنګیني لري. د ده په شعرکې د پښتو شعر پیاخوږ والی او جذبه ترلاسه کیږي:

زه یې پیژنم شاعر دی بل څوک نه دی
چې د الوي جهان ورکړي ورته ښکاري
..................

طوفاني دریاب کې د مظلوم او ښکي
د دنیا بحر ډنډوکي ورته ښکاري

چې خپل نفس نه شي وژلی که سل وژني
نا توانه ویرنه دوکي ورته ښکاري
..........................
..........................

یوه بله خبره چې د یادو لوړونه هغه داده چې د دغې ډلې شاعرانو د هنر او هنر لپاره مفکوره پرا ښیي ده. د دوی په وړاندې هنرمندان نه دي پاڼي تې شوي بلکه د ادب او اجتماعي ژوند په منځ کې رابطه ټینګوي. شعر د ژوند او ټولنې څخه بیل کوم شی نه دی. شعر نور آسماني هدفونه نه تعقیبوي او نه شعر خپل هدف په خپل ځان کې ویني. شعر د ټولنې او د انسان په خدمت کې کارول شوی او همدغه ئې غایه ده. خادم وائي:

چې د اروپه کې د قام دخوږ و نه وي
تف په دا سې شاعري او په هنر شه
..........................

په افغانستان کې سیاسی ژوند ډیر رنګ بدلوي . اقتصادي او اجتماعي نوښتونه پیل کیږي . نوي عقیدې ، نوي جریانونه په اجتماعي او کلتوري ژوند باندې تاثیر غورځوي . له دي سره سم دهنر او ادب دانکشاف لپاره مناسب شرایط برابریږي . د پښتنو شاعرانو شمیر زیاتیږي . د دوي لپاره نوي انګیزې او نوي موضوعات په اجتماعي ژوند کې رابیداکیږي . دغه جریانونه له ۱۹۴۰ کاله راهیسې نورهم تیټګښت پسې موي . اود پښتو په نوي شعر کې نوري نوي څیري رابیداکیږي چې د وي د پښتو د شعر برمخ تللی عنعنه نوره هم پسې رنګینه کوي .

د دغې دورې د پښتنو شاعرانو په لړ کې زه یوازې څو کسانو نیمونه اخلم او د دغې دورې د شعر په خصوصیاتو باندې لنډې خبري کوم . ځکه که د دغه وخت د ټولو پښتنو شاعرانو د کلام په خرنګوالي باندې وغږیږو نو دغه کاربه د دغې مقالې له حدود و څخه ووزي .

د نوي شعر د دغه وخت وتلي نماینده ګان سلیمان لایق ، اجمل خټک ، مجاور احمدزیا ر او ځینی نورد ي چې د وي هریو که څه هم ځانګړي خصوصیات اود وتونه لري خوسره د د ې فردي مشخصاتو د وي بیاهم له یوې ګډې چینې څخه اوبه څښي . هغه مشترکه یوله چې د د وي د ژوند اومبارزې په تګ لاره کې له ورایه بریښي هغه داده چې د د وي د شعر محتوي اود فکر سلسله د علمي تر ی لیډبرینسټ باندې ولاړه ده . د وي د جهان او ټولنې ستونځوته د دغې علمي تیوری ترپلوشو لاندې ګوري او تحلیل کوي ئې . په دې موقع کې به زه یوازې د سلیمان لایق د شعر په خصوصیاتو باندې څو لنډې خبري وکړم .

لایق د اوسنی دوران یو متعهد شاعردي . د ده شعر له څو جهتونو څخه د پام وړ دي . لایق د ډیل طبیعی او اجتماعي محیط څخه الهام اخلي او په هغه یوري تر لو پرابلمونو او حقایقوته په ډیل شعرکې ځاي ورکوي اود هغوي د حل لپاره پیشنهادونه او پیشګوئي ګانې کوي . د لایق شعر د محتوي له پلوه په لمړیو وختونو کې ملي اوتاریخي یادونه په لمنه کې نیس او وروسته د ده شعر د معنی په لحاظ د هیواد له حدود وڅخه وزي اود واقعي هوسانیزم پراخه انساني ارزو تمثیلوي . دي په ډیل شعرکې د هیواد د پوونده وولو ژوند څخه نهولی بیا د چونځوترلوړ و څو کو ، د ګیلو تر ځنګلونو . د سالنګ ترپرښو . د هندوکش او پامیر ترڅوکانونو اود کنړ ترمسته سیندونو یوري په وار وار یادوي . د ده په شعر کې د جابره واکمنانو ناپاکه هوسونه او غرور له یوې خوا اود خوارې کښانو ستومانه اوید مرغه ژوند له بلې پلوه په مقایسوي ډول تمثیلیږي . لایق د خوشحال د وخت یادونه ، د پښتنو ملي شعور اود ظلم په مقابل کې ملي قیامونه او د دغه وخت سیاسي افکار او تحولات په عجیب قوت سره تمثیلوي .

دي دپښتودشعر شکل ته په خلاق ډول تکامل ورکوي اودپرمختګ په لوري ئې بيايي. دالفاظوترکيب ئې که سا ده وي خو بې خونده اوبې مزي نه دي . په عين سادګۍ کې لوړ تيا اوجذبه لري .

لايق دټولنې دروابطواوکاروبار په مقابل کې بې تفاوته نه پاتې کيږي . دي ويونکي پوه تکل ته . پوه پاځون ته رابولي . لايق له يوې مرحلې وروسته په خپلوشعرونوکې داجتماعي ژوند دبدلون تخيني اوپلانونه خوندي ساتلي دي . اودغه دده دشعر يوبل خصوصيت دي .

په پاي کې دلايق دشعر يوې نمونې ته پاملرنه وکړي :

نوي زمان راغی ماتوي زاړه بتان
نشته دي امان
نشته دي امان
پاځيږي زمنور رنځونو دغمونو
پاځوي ، بازان دخپل هيوادله لوړ وغرونو
نه پاسي اور دسري څمکې په رګونو
داوطن راويښ کړي دبيرېوله خوبونو
دي په ښ سرلوړي دسبالو دجهان
خلك به ودان
خلك به ودان
. . . . . . . . .
. . . . . . . . .

# په افغانستان کې اوسنی انقلابي پړاو د ټېر ملي او دیموکراتیکو غورځنگونو د یوه بشپړتیایي پړاو په توگه

ځینې لنډواك اولنډ اندي چې له نوي منلي علمي نړۍ لید او لید توگــــــی څخه سترگې پټوي اوټوله نړۍ اوپېداښت یې له ټولو پېښو اوپدیدو سره نااوښتونکی ناپېکن او یوډوله انگیري - هر څه ورته تکراري اوتصادفي برېښي او په دې توگــه یې هر راز ورمند ( قضاوت ) ناسم اوبې سروپوله وي .

د همدغې ناپوهې اوناکارېدلو له کبله د رواني پېرېدد هیښند ه علمي او تخنیکي پرمختگونو تر څنگه ټول ژغورنده ملي ټولنیز او پانگېز انقلابونه د اوکتوبر ستــــر سوسیالیستي انقلاب ( هسې تشې پېښې ،کابېدا او صادرات ) انگېرلې کېــږي او په څېله هغه ستر انقلاب د څوبلشویکانو د ( ځواك غوښتنې او واك غوښتنې ) پېږه اوزیــږنده ،حال داچې هغه او وربــــې نور اتلونکي پاڅونونه غورځنگونه او انقلابونه د ټولنیزې ودې او بشپړتیا د عام او عیني د وینو ( قوانینو ) او پیاد هري اړوندې — ټولنې د د ننیواوذهني آړونو ( شرایطو ) اود ننی اړیخونو سولنیزه او منطقي پایله اونتیجـــــه ده .

د نوي علمي الواك اُنوي نړۍ لید ټولنپو هاند اوتاریخپو هاند هیڅ یوه ټولنیزه پدیده په گوښه او مجرده بڼه نه څېړي بلکې هر اوښتون اوانقلاب ته له تېــــرمه مهال اوو سمهال او ټولوذهني او عیني شرایطو سره اړیکې ورکوي اود توکمـــزد یالکتیك په رڼاکې یې دعمومي ټولنو تېز ( اجتماعي —اقتصادي ) رغاونې پېمرپه توگـــــه د بشرله لومړنې گډ ټولنېزږوند څخه راپیلوي برله ښتنې اوبرله پېلې یې څېړي اولکه یوه کړیدیې هغه اوږده بشپړتیایي ځنځیر یوري ورنېلوي نوهله یې بیا څېړي سپړي شننې ، ارزونه ، ورمند نه او پایلېوي یې کوي د همدې لید توگې له مخې د تاریـــــخ هغه پخواني پېژند ( تعریف ) نورله دوده لوېدلی ،چې وېل به یې تاریــــــخ د یولـــږ خنده او ناپېرو پېښو او پوځونو شاهانو او تلانو د کارنامو خونــــــدی

کوونکی اوښکارندوی دی حال داچی په رښتینه ماناد برله پېلو ناځیزو شخړو او جنګ جګړو برته بل څه نه دی ۰

همداسی زموږ ملی اوډیموکراتیك انقلاب درواخله چی دنوی علمی تــړی لپد سرغاړی اومنکــران یی دیوه یادوه ( اتلانو ) (نبوغ ) او ( قوماندانــی ) زړرنده بولی اوپاخوپی یوه ناڅاپی یا ( تجارتی ) بیسه ۰ بی له دی چـــی لږ شانه وګوری اودغه اوسنی انقلابی افغانستان بولنی څېرګی هرمـــــرو بیرته له سترګو تیرکړی تش د همدی روانی بیړی له لومړیوشپو ورڅوڅخــه چی زموږهیواد د زمان دارزښت په بتهرکی ورتیید ه اونیټی کیده اروپایــــــی پانګوالی او پانګواکی یوخوابه خپل منځ کی سره کېل او ورسره ور سره تری خپــــل پاڅیږد ښمن لاړولود ن ورك کړی او بل خوا ورته په د وه ګونولوپووچو ( آسیا اوافریقا ) کی د خپلو لاسکتوپوا و لاسلاند یوولسونو ښکیلاګــری اوځپښاکګری کارمنی ( آزملدی ) د زهروپرګوټ بدلی کـــړی دی ۰

نوپه دی لړکی زموږ آزاد لوښی ننګیا لی اوجنګیالی ولس چی دکورنی خونړی ـــ عبدالرحمن خان اوګوډاګی حبیب الله خان تر زور واکی لاندی په نیم ښکیلـــی توګه داروپایی ښکیلاګګری پانګوالی او پانګواکی تر پخواره استا زی ( انګریـــز ) د بلوسنو تاتارونو اوناخوالوتر خوپی سانوره هم ستونی ته راوستی وه ، ونه شوکړای همافی د منځڼوبپړوبه درانه خوب ویده پاتی شی ۰

همڅوی راپاڅیدل اوپه غبرګونی مبارزه یی لاس پوری کړ یوخوانه دخاوری ـــ د بشپړی آزادی لپاره له انګرېزی بلو سګری پانګواکی ( متجاوز امپریالیـــــزم ) اوبل خوا دشاهی زورواکی اوحکمواکی ( فیوډالیزم ) له ژغ څخه دژغوړنی لپــاره ۰ داهماغه اتلواله ژغورنده ملی او دیموکراتیکه مبارزه وه چی ښکیلاګری انګریــــزی پانګوالی اودشاهی زورواکی آوحکمواکی دساتندوی امیرته یی دسرپه کاسه کــی اوبه ورکړی او دملی خپلواکی برمختګ اوامن وامان توپلواك ته یی واك اوځواك ولېږه داوه ، همدغه ( دځوانانو ) ولسواکی وه چی له خپل تاریخی بلــوسګـــر څخه یی خپله خپلواکی ترلاسه کړه اوزموږ اسیایی استبداد خپلی او وروسته پاتــی

ټولنه یې نوی نړیوال پرمختللی بهیر ته سمه سیخه کړه. خوځنګ چې بشري بشپړتیایي بهیر د سمندري څپو غوندې مدوجزرلري او له وړاندې تګ سره سره له لوړ او ځوړ وسره هم مخامخیږي نو همغه بېل کړی ژغورنده ملي او دیموکراتیک پاڅون تر همغه پوره جوت غورځنګ وروسته بیا د کورنۍ ارتجاع او بهرني بلوسنی په زغومی او ځرخوبی کې راښکیل شو او په نوي غولوونکې بڼه کې زموږ ملي واك او ځواك د نړیوال ارتجاعي ځمکوالې او پانګوالې ګوډاګیانو تر ګوتو لاندې نیمه پېړۍ زندۍ او زنداني پاتې شو. ترڅو د نړیوالو ژغورنده ښکېلاك ضد او پانګېز ضد پاڅونونو او غورځنګونو په تېره په ستر شپاړلي ګاونډي هېواد کې د اوکتوبر ستر سوسیالیستي انقلاب ځلاندې پلوشو تورو تیارو زندانونو ته لاروکړه په زندۍ شوي او زنداني شوي پوه کالبوتونو کې یې د نوي ژوند ساه پرته راتانه کړه او هغوی خپلې زنګ وهلې درستي له تېکو راوایستې هغه یې سوان او تېرې کړې او له نویو چمونو سره یې پوکار واچولې. د شورا او وچې د وړې ځلمیان راوپېښ کړل لیکوالو، شاعرانو، استادانو، شاګردانو، محصلانو، اکترانو او نورو روښاندانو او هېوادپالو دین پېروانو وملایانو سره لاسونه یوکړل او یوځل یې بیا د قلابي مشروط ټولواکۍ په وړاندې ګوندونه او سازمانونه جوړ کړل.

هغه پړاو که څه هم ټولواکنی ( مشروطه ) پړاو زیات پرمختللی او پیاوړی وخو پاټکیز او ایډیولوژیك د ښمن هم زیات سمبال او درسته وال واووېی کړای شول هغه هم پوه لسیزه زندۍ او زنداني کړي، مګر له دې ناخبره چې ټولنیز بشپړتیایي بهیر هېڅکله پرشا نه ځي او سیالنی غلیاني د پوه نوي لا پیاوړي او پرمختللي غورځنګ لپاره د نوي سا اخیستې ماتالري هغه ووچې زموږ د ملي او دیموکراتیك مبارزو ویاړلي تاریخ پرخپل دریم پړاو ورګډ شو او د مهال په نوي علمي درسته سمبال هېوادپال سر تېري او ځانتېري روښاندان یې سره پرلا زیات پوه نوي ډول پاخه سنګر راټول کړل. د افغانستان د خلکو دیموکراتیك ویاړلی ګوند جوړ شو هغه د هېواد د کارګرو او ټولو زیارکښانو مخکښ ویاړلی ګوند چې له کورنۍ ارتجاع پانګه‌زوو ماوالو، فیوډالو او پېرخواره جهاني امپریالیزم سره یې یې

أمانه جګړه یې له هرې ول زړخي اوخرخښي پرمخ بوتله اوهغه یې د بری ترپړیده ،

ورسوله ، سیاسي څواك اوواك یې ترلاسه کړ او لګیادی د شور انقلاب له ملي اودیموکراتیك نیود الي ضد اوامپریالیستي ضد ماهیت اوموخي سره د مظلومونو زیارکښو انسانانو په ګټه شپه او ورځ کار کوي اود هماغه په ننګه اوملاتړ کارو زیار دیوی نوی پتمني نیمګرغي اونیاومني افغاني ټولنی د ودانوني په لارکي ګړندی ګامونه اخلي .

د اهم کومه هېښند ، خبره نه ده چی زموږ د خاوری اوخلکو کورني اوبهرني ـ د ښمنان ، څه د ناپوهي له پلوه اوڅه د شومو غرضونوله پلوه له دغو ټولو واقعیتونو څخصسترګی پټوی اود اهڅه کوی چی زموږ اوسني ملي اودیموکراتیك انقلاب (( بوه بهرني د وکتورین اود یکته !)) وښیی اومنځ ته راوړ ونکی مخکښ ( ا ۰خ ۰ د ۰ګ ) کوندیلی (( د هماغود وکتورین اود یکته والا وولا سوځي او بیېځي ! )) هغه و که په ریښتیا سره دغو بر ویاګند چیانو له ناپوهي اوناکاری څخه کارنه اخیستای او ـ خپل شوم غرض پراند ، کانه کړی نه وای نود وبره سوچ اوتول خوبیه یې کړی وای چی د امیرشیرعلي خان له سمونونو اوپرمختیاونوڅخه رانیولي بیاد سراجیه پېرله مشروطه غوښتني اود امانیه پېرد آزاد ی غوښتني اوملي پرمختیاونو او اوریمي د شورااووسی د وری د وېښ ځلمیانو اود افغانستان د خلکو د یموکراتیك ګوند د مخه نورټول ملي اود یموکراتیك غورځنګونه له کوم بهرني ځواك اوهیواد څخه سرچینه اخیسته !

ریښتیا چی د وی د غرض خاوند ان د ی او لیوتیان د ی همدغه تاریخ ازمایلي اوجوت کړی واقعیتونه هم مسخ کوی لکه څنګه یې چی مخکښنو ( اسلافو ) هماغه ملي غورځنګونه پرخپل خپل وخت همداسی بد نامول اوتورنول ۰ مشر وطه غورځنګ یې په هندی مهاجرو پوری تاړه اوامانیه هغه خوبي ګرد سره په کافرواو بید ینو پوری که هغه مهال بوه نه وواوس خو بنه بوه شوی چی هغه سوچه افغاني ملي اود یموکراتیك او اصلاحي غورځنګونه اوګوند ونه وو ۰

مګر چی به لوی لاس څسانونه ناکاره اچوی د هغو د بوه منطقي پایڅوړ ( د نباله ) په توګه براوسني انقلابي ګوند اوغورځنګ هماغه تورونه لګوي ۰

د لومړی مشروطه غوښتنی په باب د دغه ملی غورځنګ یوه مخکښ غړی میرسید قاسم

پهخبری بوی بوه کیسه د ه چی وایی ( کاروان د ۱۳۵۱ د چنګاښ اتلسمه ګڼه )

هغه مهال له یوه ځو روښاند انو برته نورځوك د ( د یموکراسیٔ ) او —

( مشروطه غوښتنی ) له نومونو سره بلد نه وو او ځکه چی د نو موړی غورځنګ

زیاتره غړی د حبیبیه ښوونځی ښوونکی اومد یر د اکتر عبد الغنی هندی و ښو

بندیان یی د عبد الغنی د فقری په نامه یاد ید ل اوهرکله به چی د ځیرنـــــی

ګروپـونی لپاره غوښتل کید ل ، په هغه د ی نامه به یی پری غـږ کاوه • په همـــد ی

توګـــه یوه ورځ بند یوانـانو غـــږوکړ چی د غنی د فقری والا د ی را ووځـــــی •

ځوتنه له ځونور اووتـــل مګر نومیالـــی مبارز کاکا سید احمد پری هیڅ غوږ ونـه

ږیــاوه او کله چی تری پوښتنـــــه وشوه ( ته خوهم د غنی په فقره کی یی ! )

هغه هماغه یوه کوټه کی له غنی سره و سخت وپارید اوویی ویل او زه په خپلـــه

یکـــره کی بند ی یـــم •))

کله چی میرسید قاسم پر ۱۳۱۹- لمر یزکال له هغی پینسی ځخه د ود یرش کاله

وروسته د د ریم ځل لپاره له زند انه آزاد شو، د غه کیسه یی ربښتیا وبلله اوزیاتـــه

یی کړه چی (( د مشروطه غوښتنی غورځنګ په د اکتر غنی پوری هیڅ اړه نه د رلود ه

بلکی هغه زموږ د خپلو جنګیالو ځوانانو غورځنګ او یو افغانی ملی یون و •

د اخبری چی ګوند ی مشروط غورځنګ افغانی بنسټ نه د رلود اوغنی له هنـــد

ځخه له ځان سره راوړی و له هغو انګروز و او برو باګند وځخه را پید ا شوی وی

چی د خپل وخت د ښمنانو په نوست منځ ته راغلی وی اود خلکو د یموکراتیــــــك

ګوند د ربښتنی خبرونی اورګان ( بیرچم ) ترڅنګه په کاروان اونورو ارتجاعی شاهــی

پالو آزاد واخـــبارونوکی خپرید لــــــی •

حال د اچی مولوی محمد سرور الکوزی کند هاری واصف و چی د حبیبیه ښوونځی

تر تاٌ سیس ( ۱۹۰۳ ) اوترهغه مخکی چی عبد الغنی خان افغانستان تـــه

راشی د ۱۳۲۷ سپوږمیز کال د صفری پر ۱۶ د د غه غورځنګ بنسټ ایښی و •

په مرکزی شو راکی ورسره د میرسید قاسم ، مولوی غلام محی الد ین افغــــان

